د اطلاعاتو او کلتور وزارت

# په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه

محمد کاظم آهنګ، حبیب الله رفیع

Property of ACKU

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032299 9

داطلاعاتواو کلتور وزارت
دتاریخ ټولنی دخپرونو
پر له‌پسی نومره «۱۱۸»

# په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه

لومړی ټوک

له پیلېدو تر ۱۳۰۸ ش

د
محمد کاظم آهنگ
لیکنه

PROPERTY OF
ACKU
32299

Property of ACKU

د
حبیب الله رفیع
ژباړنه ، سمونه اوزیاتو نه

د
تا ریخ ټولنی
خپرو نه

۱۳۵۶

دپښتنی او متن خطاطی
دمحمد مکمل رؤیا
اومحمد روحانی رؤیا

Property of ACKU

# يادونه:

په افغانستان کې د مطبوعاتو ژوند او سوابق تر يوه پېړۍ اوړي او ددې پېړۍ په اوږدو کې ډېر څه ليکل شوي او خپاره شوي دي چې د دې ټولو کتابو، رسالو، مجلو، ورځپاڼو، جريدو او نورو راغونډول او معرفي کول د اطلاعاتو او کلتور د وزارت يوه مهمه وظيفه ده.

«په افغانستان کې د ژورنالېزم تاريخچه» د دې مخو يو ګام دی چې څو کاله وړاندې ښاغلي محمد کاظم آهنګ د «ژورنالېزم د افغانستان» په نامه په دري کښلې وه او ښاغلي حبيب الله رفيع له لازمو زياتونو او سمونو سره په پښتو واړوله او دادی په دوو وروستيو پېړيو کې د پښتو د چاپي آثارو د سيمينار په وياړ خپريږي. هيله ده چې علاقه لرونکي به په زړه پورې استفاده ترې وکړي.

پوهاند دکتور نوين
د اطلاعاتو او کلتور وزير

Property of ACKU

# فهرست

یادونه: داطلاعاتو او کلتور دوزیر پوهاند دکتور رنوین راهین خوا


سریزه                مخ

لومړی څپرکی :

شمس النهار کابل

دوهم څپرکی :

دامیر حبیب‌الله خان دوخت خپرونې    ۲۹

قیمی اخبارنامه    ۳۲

سراج الاخبار افغانستان    ۳۹

سراج الاخبار    ۵۱

سراج اطفال    ۹۵

سرلاری    ۱۰۳

دریم څپرکی :

دژورنالیزم پراختیا    ۱۲۱

امان افغان    ۱۲۷

اتحادمشرقی    ۱۶۹

غازی    ۱۷۵

معرف معارف    ۱۹۳

اتفاق اسلام    ۱۹۳


Property of ACKU

| سرلیکونه | مخ |
| --- | --- |
| ستارهٔ افغان | ۲۱۰ |
| افغان | ۲۱۵ |
| طلوع افغان | ۲۲۷ |
| اتحاد اسلام | ۲۳۳ |
| اصلاح | ۲۵۵ |
| ابلاغ | ۲۶۷ |
| ارشادالنسوان | ۲۷۹ |
| مجموعهٔ عسکریه | ۲۸۹ |
| حقیقت | ۲۹۳ |
| ثروت | ۳۰۵ |
| آئینهٔ عرفان | ۳۱۳ |
| مجموعهٔ صحیه | ۳۱۷ |
| پښتون ږغ | ۳۲۰ |
| جریدهٔ مکتب | ۳۲۹ |
| څلورم څپرکی : | |
| خصوصي جریدې | ۳۳۱ |
| انیس | ۳۳۷ |
| نسیم سحر | |
| نوروز | |
| پنځم څپرکی : | |
| حبـــا لاسلام | ۳۶۹ |


Property of ACKU

# د سر خبرې

ماله ډیرپخوا څخه مینه درلوده چې دافغانستان دمطبوعاتو په باب معلومات ترلاسه کړم ، خو په دې باب ډیرلږ کارشوی او هغه هم لنډ ګڼه چې دسړي تنده یې نشوی ماتولای، نو ځکه مې دهیو اد دخپرونو په باره کې داسنادو راغونډولو ته لاس اوږدکړ، کله چې په ۱۳۴۸ کال کې ښاغلی کاظم اهنګ دآریانا او افغانستان په مجلو کې د«میرژور نالیزم در افغانستان» سلسله پیل کړه خیال راته پیدا کړ چې اسنادمې دوی ته ورکړل چې په ۱۳۴۹ کال کې داسلسله د کتاب په بڼه خپره شوه .

د کتاب تر خپرید و وروسته مې دهیو اد د لرغونو خپرونو په باب ډیر نور اوبهم سندونه وموندل چې ددې سندو له مخې د کتاب ډیرې غلطې سمیدلې

Property of ACKU

او زیري نیمګړې برخې یې بشپړېدلې نوځکه مې په آریانا مجله کې ټکه ټکه پرې و کښله.

داوخت د تاریخ ټولنې رئیس استاد پوهاند عبدالحی حبیبیؤ نو، د دې له پاره چې دا کتاب په بشپړ ډول خپور کړی وی، دوی او د کتاب مؤلف ښاغلی محمد کاظم آهنګ ته وویل چې زه «سیرژورنالیزم درافغانستان» په پښتو واړوم او نوی معلومات هم ځای په ځای پکې زیات کړم . کار مې په همغه وخت کې ترسره کړ، خو د تاریخ ټولنې په اداري بدلون کې د کتاب خپرېدو له پاره تګلوونه شو. اوس چې په دوو وروستیو پېړیو کې د پښتو د چاپ شوو آثا رو د سیمینار علمي کمیسیون د دې کتاب د خپرېدو سپارښتنه وکړه، د تاریخ ټولنې مشر دوکتور محمد یعقوب واحدی د کتاب مسوده یو ځل بیا را کړه ، او ما هم نوی ترلاسه شوی مواد یو ځل بیا پکې ور زیات کړل په دی اساس د کتاب مطالب تقریبا یو په دوه شول او تر لومړی چاپ نه یې حجم دوه برابره شو .

زه بیا هم اعتراف کوم چې شایی په کتاب کې دېری نیمګړ تیاوې موجو د وي خو څرنګه چې په دې برخه کې لا تر اوسه هم ډېرو نورو اسناد ومو ندل کېدلو ته اړه ده، نو ځکه یو ځل بیا له محترمو لوستو نکو څخه د هر راز تیرو تنو او تیند کونو ښښنه غو اړم !

په ښښنه


حبیب الله رفیع

کابل ، باغ بالامینه

۱۳۵۶/۵/۱۳

Property of ACKU

## لومړی څپرکی



# د ژورنالیزم
# لمرڅرک

Property of ACKU


کاری که بر توکل تو کردم ابتدا
یارب بفضل خویش رسانش بانتها
مطبوع ... پانزدهم شهر ذیحجة الحرام سنه
نقشهٔ اشتهار واجب الاظهار شمس النهار
شرح قیمت اخبار در صورت ... شش ...
قیمت اخبار متفرق فی اخبار ... ده آنه
هرکسی که سوای دادن زرقیمت اخبار بنام خود اخبار ...
اداکنند قیمت اخبار ... محسوب شده ...
وتفصیل قیمت اخبار که درنقشه مندرج است امرای کامکار و روسای نامدار و نوابان
راجه کان و والیان ملک ... فیض
رسانی موافق شان و شوکت ... عطا و مرحمت فرمایند زیبا و شایان ...

د شمس النهار دلومړی کال دلسمی گڼی لومړی مخ

Property of ACKU

Property of ACKU

# شمس النهار کابل

افغانستان دختیځ او لویدیځ مدنیتونو دیوځای کېدو د مرکزي ټکي او د تاریخي او تاریخ نه وړاندې مدنیتونو د زانګو او په پای کې د هند د نیمې وچې، د چین د ارت هېواد او د مدیترانې بحیرې ته ورخېرمه هېوادونو د تجارت د لوی مرکز په توګه د خپل څو زره کلن تاریخ په اوږدو کې د نړۍ د بېلو بېلو جهانکشایانو او یرغلګرو د یرغلونو او تېریو په اثر زیات اقتصادي، اجتماعي او کلتوري زیانونه زغملي دي. هغه وروستني وارونه چې د دې خاورې په کمزورۍ او پاشلي وجود وشول، د انګریزي استعمار ګوزارونه وو؛ دا کار د نولسمې پېړۍ په پیلېدو سره په داسې حال کې شروع شو چې افغانستان د بې اتفاقیو او کورنیو جګړو په لمبو کې سوځېده؛ خو منلې خبره داده چې په دې وخت کې مرکزي

قدرت د محمد زايي کورنۍ د مشر امیر دوست محمد خان په لاس کې ؤ. د افغان او انګریز لومړۍ جګړه له ۱۸۳۸ ع نه تر ۱۸۴۲ ع پورې او دوهمه او دوهمې جګړې له ۱۸۷۸ ع تر ۱۸۸۰ ع پورې دوام وکړ.

د افغان او انګریز د دوهمې جګړې نه څه موده مخکې په افغانستان کې د کومې جریدې یا ورځپاڼې د خپرېدو هیڅ پته نشته؛ خو ځینې کسان عقیده لري چې په دې وخت کې د «کابل» په نامه یوه خپره نه د سید جمال الدین افغان تر نظر لاندې او د ده په مدیریت خپریدله؛ چې ښاغلی مایل د خپل «معرفی روزنامه ها، جراید و مجلات» (پروان، دولتی مطبعه، ۱۳۴۱) رسالې په «ج» مخ کې هم هغې یادونه کړېده؛ همدا راز ښاغلی عبدالرؤف بینوا د «شمس النهار» تر عنوان لاندې مضمون کې (آریانا، نهم کال، څلورمه ګڼه) دال، بګدانوف له خولې د اسلامیک کلچر لیکنه راوړې چې د ۱۸۷۸ ع کال په پای او د امیر شیر علی خان د سلطنت په موده کې د کابل په نامه اخبار خپریده؛ خو په همدې مضمون کې ښاغلی بینوا لیکلي څرنګه چې ددې اخبار د کومې ګڼې نسخه په لاس کې نشته، نو ځکه بې له هغې له تبصرې څخه ډډه کړې ده.

په دې برخه کې د زیاتو معلوماتو په غرض لومړی کتنه د اسلامیک کلچر لیکنه را اخلم: «دلته د کابل په باب چې د امیر شیر علي خان تر ټولو ورکې په وروستیو شپږو میاشتو (د ۱۸۷۸ ع کال پای) کې خپرېده یادونه وشوه... وروسته له هغې له ۳۳ کلونه زیات په افغانستان کې کوم اخبار نه ؤ.» (۱)

---

(۱) بګدانوف، ال، اسلامیک کلچر، جنوري، ۱۹۲۹، (د ۱۲۷ مخ حاشیه) اصل مقاله ۱۲۶ — ۵۶ مخونه.

له پورتنۍ ليکنې څخه پوهېږ لای شو چې لومړی کډد کابل په نامه کوم اخبار موجود نو ثابتېږي چې بايد دشمس النهار سره په يوه وخت کې خپرېده او ياله هغه وروسته؛ سربېره له دې چې دشمس‌النهار ګڼې زيا تې لېدلې شوې او س‌هم‌شته‌خو د کابل په‌نامه داخبار کوم نښه‌تر او سه‌نه ده تر لاسه شوې. دوهم‌د ۳۳ کالو وقفې يادونه تريوه حده له واقعيت څخه ليرې ده ځکه کله شمس‌النهار نه وروسته‌د مولوي عبدالرؤف په مديريت‌دسراج ـ الاخبارافغا نستان جريده چې په ۱۹۰۶ ع کال خپرېده، په نظر کې و نيسو نو ۳۳ کاله نه‌دي‌او ۲۸ کاله کېږي، او که‌دسراج‌الاخبار افغا نيه خپرېدلو ته اعتبار ورکړو‌نو بياد پروفيسر بګدانوف‌خبر سمه‌ده؛ خود سراج الاخبار افغا نستان‌خپرېدل څرګند او ثابته خبره ده‌او سره له دې چې يوازې يوه ګڼه‌خپره شوې‌ده‌هم مونږ يې دګران هېواد د خپرونو په ډله کې شمېرو؛ نو د شمس‌النهار او سراج الأخبار افغانستان ترمنځ ۲۸ کلنه وقفه را غلې نه ۳۳ کلنه.

پوهاند عبدالحي حبيبي‌هم دا مير شير علي‌خان‌ياله هغه‌نه وړاندې وخت کې د کابل په نامه جريدې يااخبارله موجوديت سره موافق نه‌دی.

ليکونکي هم چې‌څه موده کېږي‌دهېواددنشراتو په باب دليکل شو يو اسنا دو او مدارکو په لټه کې دی،داسې کوم‌مستند اثر نه‌دی موندلی چې ددې‌اخبارمو جوديت يې‌تأييد کړی وي،بنا يې‌ددې‌سوءتفاهم علت همداوي چې په لاندې کرښو کې به يې‌څه‌نه څه روښانه کړم:

دشمس‌النهار دلومړي کال‌په‌لسمه‌او يوو لسمه ګڼه‌کې د دې‌جريدې نوم «شمس النهار کابل» ليکل شوی‌نو د جريدې‌له‌نامه سره يوځای‌د کابل کلمې‌خپرېدل‌به‌ددې‌باعث‌شوې‌وي‌چې خلک يې‌داصل نامه (شمس النهار) سره

Property of ACKU

ځای د« کابل اخبار » یاد کابل جریده و بولي او په نتیجه کې به په راورو سته کلونو کې د دې غلط استعمال په سبب د محققانو سره دافکر پیدا شوی وي چې د کابل په نامه هم اخبار خپریده(۲). په هر حال که د کابل په نامه اخبار خپریده که نه خو داسلامیک کلچر دلیکني په نظر کې نیولو سره د منلو وړ نه ده چې له شمس النهار نه مخکې دې خپور شوی وي.

له شمس النهار نه مخکې خبرونه او په زړه پورې خبرونې تر ډیره حده دافواهاتو په ډول خوریدلې او له یوه ځای نه بل ځای ته د خبرونو پسه وړلو کې کاروانونو، تاجرانو، کوچیانو، زیارت کوونکو، عسکرو او طالب علمانو لویه برخه درلوده اوله دې پرته په محلي ډلو او کلیو الو ټولنو کې د خبرونو د خوریدلو نور ډېر وسایل هم موندل کیدای شي. ترهر څه نه مخکې جوماتونه د هغو ځایونو له ډلې څخه دي چې په عمومي توګه به خلکو هلته د خلکو د علاقې وړ خبرونه او مطالب یو بل ته اوړول، چې په ډېرو ځایونو کې دا کار اوس هم لیدل کیږي؛ د بازارونو ورځې هم د خبرونو د خوریدو یو بله ذریعه ده ځکه په دې ورځو کې د کلیو او بازارته لنډو ځایونو خلک دا ړتیاوړ شیزونو داخیستلو او د خپل خرڅ نه زیاتو موادو د پلورلو له پاره په یوه ځای کې سره راټولیږي او دلته خوامخوا خپلې نوې او ریدلې خبرې خپلو دوستانو او اشنایانو ته کوي

(۲) لکه څرنګه چې دابلاغ په باب هم د« اخبار مفت دیواری »او« اخبار رایګان »جملو خلک دې ته اړا یستلی چې دابلاغ ورځپانه په دې پورتنیو نومونو مشهوره کړي چې اړ و اسناد جوړ یا هم په ابلاغ سربیره داقوسونه ورته اخلي. «رقیع ».

چې داهم په خپل ذات کې دخبرونو دخوربدو وسیله ده؛ اولسي جرګې هم (چې دافغانستان دخلکو د عنعنوي شوری حیثیت لري )د اطلاعاتو او خبرونو په تیتو لو کې بې اغیزې نه دي. جشنونه، ودونه او نوراو لسي اودیني دودونه او مراسم هر یوه په خپل ځای دخبرونو دخورولو له پاره په زړه پورې زمینه برابره کړي ده.

په دې ترتیب لیدل کیږي چې دافغانستان د خلکو تر منځ دخبرونو مبادله او مفاهمه په بېلو بېلو دولونو موجوده وه خو دخبرونو خپرېدل په ننني ډول (دورځپانو ، خپرندو او مجلو په وسیله) په هیڅ ډول نه لیدل کیږي.

ځرنګه چې دافغانستان زیات شمیر خلک له لیک لوست نه بې برخې وو نو رسمي دولتي فرمانونه او ابلاغیې به په اصطلاح د « جارچیانو » په وسیله خلکو ته ابلاغیدلې او هم په هغه وخت کې له یو شمیر کسانو څخه پرته نور تول خلک بې سواده وونو خکه پوستر (۳) هم داطلاع دوسیلې په حیث بلل شوی نه دي. داهم باید یاده کړو چې زموږ په ګران هیواد کې د اجتماعي کارونو دتر سره کو لو په غرض دخلکو دخبریدو له پاره له ډول نه هم کار اخیستل کیده او دم به دډول ددې کار له پاره یو مخصوص ډول سره واهه(۴).

(۳) هغو چاپي پانو ته وایي چې په ښارونو یا کلیو کې د خلکو دخبر تیا په غرض په دیوالونو یا لګښتونو باندې ځړولي کیږي.

(۴) له ډول نه دخبر یدو دو سیلې په حیث کار اخیستل په افریقایي هیوادو کې هم رواج لري او د « تم‌تم‌درم » په نامه یادیږي. ( دافغانستان په کلیو کې اوس هم ډول دخبریدو مهمه وسیله ده. « رفیع ».)

Property of ACKU

په هر حال د زماني تير بدل انسانان له بدوي او لومړني حالت نه د پر مختګ او بدلون په لور بيا يي او له دې تغيير سره سم د بشر د ژوند بېل ـ بېل اړخونه هم تغيير او بدلون مومي. د نولسمې پېړۍ په شلو ورو ستيو کلونو کې افغانستان او د هغه او سيدونکي له يو زيات شمېر بدلونو سره مخامخ شول ، داتحولات دامير شير على خان دسلطنت خصوصاً دنوموړي د تولوا کۍ په دوهمه دوره کې (١٨٦٨-١٨٧٨ع) په ښه شان ليدل کېږي ، نوموړي تولواک دهېواد دداخلي اصلاحاتو او ريفورم په لور مترقي ګامونه واخيستل؛ هو ! همدا و خت دتوپ او ټوپکو دجوړولو فابريکه جوړه شوه، يوه منظمه عسکري قوه چې له شپېتو زرو تر يو لکه تنو پورې رسېده منځ ته راغله چې داقوه دوخت په عصري وسلو سنباله وه ؛ دهمدې اصلاحاتو او پراختيا په بر خه کې ددې له پاره چې امير شير على خان وکړای شي خپل ريفورم او اصلاحات پراخه کړي يو اخبار هم تأسيس او له هغه سره يو ځای يي يوه مطبعه هم جوړه کړه (٥) .

لومړني اخبار:

امير شير علي خان دامير دوست محمد خان دريم زوی په ١٨٦٣ ع کال دخپل پلار په ځای دافغانستان پاچاوټاکل شو. نوموړي تاج او تخت دتر لاسه کولو نه وروسته هغه کو له چې يو مو ټی ، خپلواکه او پرمختللی افغانستان جوړ کړي خو دوروڼو مخالفت يي اړ يوست چې څه موده له پاچايي څخه ګوښه شي. کله چې دوهم ځل بيا دافغانستان د تخت او تاج

(٥) رښتيا، سيد قاسم، په نولسمه پېړۍ کې افغانستان (پښتو ترجمه )، تاريخ ټولنه ،دولتي مطبعه ، ١٣٤١ هش، ٣٣٧ — ٣٣٩ مخونه .

Property of ACKU

پەتر گوتو کولو بریا لی شو نو دخپلو انکشافی هڅو دتر سره کولو پـه غرض یې دلوسری‌ځل لەپاره دشمس النهار په نامه یو اخبار تأسیس کړ؛ شمس‌النهار په ۱۲۹۰ ھ / ۱۸۷۳ ع کال منځ‌ته‌راغی او د شمس النهار پـه مطبعه کې خپریده؛ داهم باید یاده کړ وچې هغه‌وخت دچاپ چارې‌دډبرین ماشین (لیتوگرافی) پەوسیلەتر سره کېد لې .

مرحوم‌جویا لیکی‌چې دشمس‌النهار‌مدیر عبدالقادرخان‌نومیده، (۶)؛ سایل له نو موړی نوم سره‌د«پیښبوری، یوسفزی » جملې هم زیاتې کړې دي(۷)؛خوپښنواعقیده لری‌چې نوموړي اخبارپەدې نامه مدیرنه درلوداو د چاپ چارې‌بەیې‌د« میرزاعبدالعلی نومی‌په اهتمام» تر سره کېدلې (۸) ؛تر کومه ځایه چې داسوضوع‌ته لیکوونکې‌سره اړه لري، تر هر څه نه مخکې د جریدې دنامه‌پەمخ یاکوم بل مخ کې داسې نوم نه لید ل کېږي چې دنوموړي‌اخبارمدیر، محرر او یاسرمحرروي خو ددوهم‌کال په لسمه گڼه کې‌په څلورو ځایونو کې دمیرزاعبدالعلی نوم لیدل کېږي چې پـه دې‌اخبار کې‌یې‌دیوه‌با صلاحیت‌اومقتدر سړي‌په‌حیث کار کاوه او دده له نامه سره‌یو ازې‌دمهتمم کلمه‌لیکله‌شوې ده. دمیرزاعبدالعلی نوم‌لو سړی د

(۶) جویا ، سرور؛ مطبوعات‌ونشریات‌ما، کابل مجله، دوهم کال ، دوهمه گڼه ،۶۷مخ .

(۷) سایل ؛ معرفی روزنامه‌ها، جراید و مجلات ،دپروان دولتی مطبعه، ۱۹۶۲ ؛ ۹۲-۹۷مخونه.

(۸) بېنوا ، عبدالرؤف ؛ شمس النهار( دافغانستان لومړنی ورځپاڼه) ، آریانامجله، تاریخ‌ټولنه، ۳گڼه، نهم کال ۱۰-۷مخونه .

Property of ACKU

«اشتهار» تر عنوان لاندې مضمون کې چې په دوهم مخ کې خپور شوی په دې ډول راغلی دی:«... لهذا اقل العباد میرزا عبدالعلی حسب الفرمایش احباب اخبار صدق آثار مسمی به شمس النهار را در مطبع کابل جاری نموده ...» په همدې مضمون کې په دریم مخ کې په دې ډول یاد شوی:«... گرامی نامه منظوری خود را اسمی اقل العباد میرزا عبدالعلی مهتمم مطبع شمس النهار کابل ارسال دارند...» دریم ځل د «اطلاع ضروری» تر عنوان لاندې دنو موړې نوم داسې لیکل شوی:«...بوساطت او شان به نزد میرزا عبدالعلی مهتمم مطبع شمس النهار کابل برسد ...» او څلورم ځل د جریدې په پای (۱۶ مخ کې) دده نوم په دې عبارتو لوستل کېږي:« اشتهار اخبار شمس النهار کابل به اهتمام میرزا عبد العلی حاوی طبع پوشید. » له پورتنیو عباراتو څخه په ښه ډول څرگندېږي چې نوموړی سربېره پردې چې د جریدې د مهتمم په حیث کار کاوه د مطبعې د اهتمام چارې یې هم په غاړه وې .

عادت دی چې لیکونه عموماً د اخبار د مدیر په نامه ځي او له پورتنی پتې څخه په واضح ډول ښکاري چې لیکونه د میرزا عبدالعلی په نامه را استول کېدل نو که مدیر یې درلودای خوا مخوا به لیکونه او پته د هغه په نامه وو .دا هم باید ووایو چې داپته د«اطلاع ضروریه» تر عنوان لاندې راغلې او په دې اطلاع کې د شمس النهار دکتور اخبارله اخیستو نکو څخه هیله شوې چې که یې داخبار دبیې له باره پیسې را استولې په پورتنۍ پته دې را اولېږي(۹) په پورتنیو دلایلو سربېره کله چې ښاغلی کهگدای د عبدالقادر خان په هکله یادونه کوي،لیکي چې :عبدالقادر خان یوازې دامیر

(۹ )پښتوا ، شمس النهار ، آریانا ، ۳ مخ .

شیر علی‌خان منشي ؤ او کله ـ کله یي شمس ا لنها رته هم مضمو نو نه ایکل (۱۰).

په هر حال‌دیو ه‌اخبار دخپر ېدلو مفکو ره‌دیو ه اصلاحي پر و گرا م‌په‌سلتیا پخوالا سید جمال‌الدین افغان‌له خوا امیر شیر علی‌خان‌ته و ړاند ي شوې وه او نوموړي امیر هم ددې پر و گر ام دنو ر و مو ادو په ترڅ کې د ا خبار د خپر ېد لو سره‌هم موافقه و کړه چې په نتیجه کې شمس النها ر په خپرو نو پیل و کړ (۱۱).

ښاغلی‌بېنوا لیکي‌چې دا اخبار هر ه هفته‌په شپاړ سو مخو نو کې خپر یده ؛ مایل ي ي‌هم۱۶ مخو نه تأئید کړي او ز یا توي چې په اوله کې په سیا شتنی ډول‌خو بیاو رو سته په‌میاشت کې دوه ځلې‌خپر یده ؛ جو یا عقیده لري چې شمس‌النهار اساساً په د و و پا نو کې خپر یدو خو کله ـ کله شپا ړسو مخو نو ته هم‌لو ړ یده(۱۲). څر نگه چې نو مو ړی اخبار له یوې خو انسبتاً ( تــــر و ر ځپا نې‌نه)په یوه او ږ ده مو ده کې‌خپر یده نود ا فکر چې په دو و پانو کې خپر یده‌لږ څه کمزو ری ښکاري‌او له بلې خوا ښې ۱۶ مخو نه ز یا تــــو محققینو تأئید کړي نو په‌دې کې هیڅ شک نشته چې‌شپاړسمخو نه یي‌درلو دل خو په د ې کې چې ا و و نی ( او و ه‌و رځنی ) یا پنځلس و رځنی او میاشتنی ؤ لږ څه غو ر په کار دی.

(۱۰) کهگدای،نو ر محمد؛ اسنادو یاد داشتهای تار یخی، آر یا نا مجله ، در پیمه کنه، دربیم کال .

(۱۱)بېنوا ؛ شمس‌النهار ، ... آر یانا . .

(۱۲) مایل، معرفی، ....بېنوا ، شمس النهار ، ... جو یا ، مطبو عات ..

Property of ACKU

داجریده لکه څرنگه چې دلسمې او یوولسمې گڼې څخه ښکاري ۱۶ مخیزه وه او دادښاغلي بېنوا له لیکنې سره سمه ده (۱۳) دشمس النهار پهیوه مضمون کې د «اشتهار» تر عنوان لاندې لو مړی داخبار د گڼو نپه هکله څو خبرې شوې او پس له یکې هر څوک چې داخبار اخیستلو ارزو لري: «تا منه منظوری خود را اسمی میرزا عبدالعلی بفرستند ... تااسم شریف او شان درج رجستر گردیده هفته وار یك پارچه اخبار پر بهار شمس النهار ارسال خدمت مبارك شان گردد ...» (۱۴).

پهدې برخه کې سربېره پر دې د ښاغلي کهگدای د لیکنې په رڼا کې (۱۵) یو بل تحلیل هم وړاندې کوم:

نو موړې د شمس النهار ۱۶ - او - ۱۷ گڼې د خپلې لیکنې د مرجع او سند په حیث ښودلې او دنو موړو گڼو د خپرېدو نېټې یې د ۱۸۷۳ ع کال د مارچ ۲۹ او داپریل ۲۳ ر اوړی، څرنگه چې داد واړو گڼو تر اله پسې خپرې شوې نو ددواړو تر منځ فاصله تر دوو هفتو نه زیاته ده، څو د همدې لیکنې په بل ځای کې دنو موړي اخبار پنځمه او اتمه گڼه د سند په توگه وړاندې کوي او دخپرېدو نېټې یې د ۱۲۹۰ ه کال د روژې د میاشتې ۵ او د کوچنی اختر (شوال) ۲۲ نېټې ښودلې دي ، دلته وینو چې د پنځمې او اتمې گڼې

---

(۱۳) بېنوا: شمس النهار، ...

(۱۴) مایل: معرفی...، ۹۶-۹۷ مخونه .

(۱۵) کهگدای: اسنادو یادداشتهای تاریخی، آریانا، ۷ کال ، ۷ گڼه ، ۱- ۲ مخونـــــه .

فاصله او وه و پښتو رځې ده او داښکاروي چې نوموړي اخبار په هفته کې یو ځل خپرېده او په نتیجه کې به کومه فرضیه چې لەدې تحلیل نه لاس ته راځي داوی چې ښایی شمس النهار لومړی په هفته کې خوبیا وروسته په هرو پنځلسو ورځو یایوه میاشت کې یو ځل خپرېده.

دشمس النهار کچه ۸×۱۲ انچه ده او متن يې په یوه (٥نیم) انچې سورور او (.۱) انچه اوږده ستون کې خپورشوی دی.

ښاغلی پیتو الیکلي چې دشمس النهار په لومړی مخ کې د دوو زمرو یا نو ځېرې چې دواړو په یوه‌یوه لاس کې توري او په بل لاس کې د « شمس النهار کابل» لیکنه نیولې، لیدلې کېږي او څلور وخوا ؤته يې څلورلاندېنې بیتونه لیکل شوی(۱۶)(داسو څلوردوه هم کال لەلسمي او یوولسمي گڼې څخه هم څرگندیږي) :

« کاری که بر توکل تو کردم ابتدا — یارب به فضل خویش رسانش با نتها»

« ای نام تو راحت دل وجان — سوما گل فرحت فراوان »

« هر سبزه که از زمین برآید — بر وحدت تو زبان کشاید »

« ذات تو به روزگار پیدا — چون شمس النهار آشکارا »

نوموړي لیکلي چې داخبار 'هنامه او تاریخ نه وروسته چې په قمري حساب لیکل شوي (په هغو گڼو کې چې دده په لاس کې وې) په عمومي توگه لاندېنی سرلیکونه (عناوین) لیدل کېږي :

'ومړی په اومړیومخونو کې د«نقشهٔ اشتهار و اجب اظهار شمس النهار» تر عنوان لاندې د گڼون بیه ذکر شوې ده، داخبار د گڼون بیه که په سختکیني

(۱۶) پیتو ا: شمس النهار، آریانا.

Property of ACKU

(پیشکي) ډول ورکول کېده له شل شاهي روپۍ وې او که به سخکیني ډول نه ورکول کېده نو بیا به پنځه ویشت روپۍ کېدلې، په همدې ډول یې د ښهر میاشتنۍ ګڼون پیسې لس روپۍ وه او یوې ګڼې یې لس انې بیه درلوده.

داخبار په دوهم مخ کې د «اشتهار» په نامه یو سر لیک لیدل کېږي، ښاغلي پښوا لیکلي چه تر دې عنوان لاندې مطالبو د سر مقالې بڼه درلوده او په هغه ګڼو کې چې ما کتلي وې د اخبار د مرام او د خپرېدو د ډول په باب د اخبار د مهتمم په قلم یوه مقاله خپره شوې ده چې دلته د دې مقالې (پنځلسمه ګڼه، د ۱۲۹۰ د روژې میاشت /۱۸۷۳ ع) د مطلب ټکي راندې کوم:

په دې مقاله کې وروسته له دې چې په هېواد کې د امن او امنیت د قایمولو او د خلکو د هوساینې په سبب د امیر شیرعلي خان ستاینه کوي، یاده شوې چې د دې امن او امان په سیوري کې د دې هېواد او سېدونکو او اشرافو د علم او کمال لور ته مخه کړې، د اخبارونو د لوستلو او له هغې څخه د ګټې اخیستلو مینه پکې پیدا شوې نو ځکه «اقل العباد میرزا عبدالعلي» د فرمایش سره سم د ترکستان، بدخشان، بخارا، هرات، روس، کندهار او نورو خبرونه له سرکاري دفترونو څخه ترلاسه کړي او په دې اخبار کې به خپرېږي. په دې لیکنه کې زیاته شوې چې په شمس النهار کې به پوچ او بازاري خبرونه خپاره نشي(۱۷).

مایل لیکلي چې شمس النهار د لوستونکو له پاره له خارج او داخل څخه خبرونه ترلاسه کول، ربښتیا چې دا ادعا د ځینو ولایاتو او خارجي هېوادو له نومونو څخه هم (چې په پورتنۍ برخه کې یاد شول) ثابتېږي. خو کوم موضوع

(۱۷) پښتوا: شمس النهار، آریانا.

Property of ACKU

چې نه‌سایل یاده کړې او نه‌بېنوا، داده‌چې خارجي خبرونه‌یې په‌څه ډول ترلاسه کړول ؟ تر هر څه نه مخکې هغه څه چې د منلو وړدي دادي چې خارجي خبرونه‌غالباً دپوستې په وسیله‌چې داس‌په سور لي‌تر سره کېده (۱۸) راتلو لېدل څکه چې دپوستې رسولو پروګرام داس په وسیله وڅو په ۲۲ ورځو کال کې په‌سوتر بدل شو؛ دخبرونو داخیستلو او خپر یدو په برخه کې له خارجي‌مجلو او ورځپانو څخه اخیستنې کېدلې څکه‌دا کار هغه وخت‌چې دافغانستان دوهم‌اخبار (۱۹). په خپرونو پیل کوي پـه ښکاره‌توګه‌ویینو چې خبرونه او څینې‌مطالب به یې‌له انګلیسي، عربي،اردو ترکي‌او نورو ورځپانو څخه اخیستل‌او ژباړل او هم د شمس النهار پـه لسمه‌او یوولسمه ګڼه کې د څینې‌خبرونو په څنګ کې‌د: اخبار راجپوتانه، اخبار عالم، اخبار عام‌لاهور، اخبار انجمن‌پنجاب، اخبار کوه نور، سیدالاخبار، طلسم‌حیرت، لوح‌محفوظ او نورو نوسونه لیدل کېږي. خو دداخلي اطلاعاتو دمنبع په‌هکله‌داهم‌باید ووایو چې په‌یو ولسمه ګڼه کې د بدخشان یو خبر خپور شوی چې‌داخبر دبدخشان‌دخبر یال (چې داخبار په متن کې د «کار-سپاندنت» یعنی دانګلیسي کارسپاندنت‌په لفظ راغلی)له‌خوا لیکلی‌او را لېږل شوی دی‌او داخر ګند وي چې دشمس النهار جریدې لکه‌دبدخشان غوندې دهېواد په‌نورو ولایاتو کې هم‌خبر یالان‌درلودل .

داخبار متن په‌ښکلی‌نستعلیق خط لیکل کېده او په‌سپین کاغذد‌بر ین‌چاپ پد

(۱۸) افغانستان: لرغوني هېواد په‌عصري‌بهه ، (انګلیسي)، ۸۰ مخ .

(۱۹) دسراج الاخبار افغانستان‌دخپریدو په اسر اخیستو یوزې سر بوطه دوسیه . (په دو هم خپر کي کې‌به ښه‌پړې خبري پرې وکړو . )

وسیله خپرېده او دېبلو ـ بېلو مطالبو د سرېبلو لو په برخه کې په عنا وینو سرپېر له ځینې خط کشیو او هنري کارونو څخه هم کار اخیستل کېده، خصوصاً لومړی مخ بې تول پهیو ډول هنری کارونو چې کلونه، پانې او نورې پرې رسم کېدل، د کتشوی دی .

تکی ، کامې ، نقو سونه، سوالیې او نورې نښې بې په متن کې نه لیدلې کېږي یوازې د هر مطلب په پای کې څلور تکی په داسې ډول ایښودل شوي چې که داتکی سره وصل کړو یوه کړمربع ترې جوړېږي، دانښه د ځینې مطالبو په متن کې هم کله کله لیدله کېږي .

په شمس النهار کې دیوه اعلان څخه رشوی متن ښکاروي چې دې اخبار د برتانوي هند په ځینې برخو او د پښتو نستان په سیمه کې هم لوستونکې درلودل، په نوموړي اعلان کې د «اطلاع ضروری» تر عنوان لاندې داسې لیکل شوي دي :

«به خدمت صاحبان خریدار ان اخبار پر بهار شمس النهار کابل و اضح باد که از جهت قیمت اخبار هر گاه مبلغ عنایت نماینده به ذریعهٔ هندوی به دو کان چیله ـ رام شکار پوري که دو کان اصل وی در امرتسر و گماشتهٔ وی یاری دو شنی ارسال فرمایند و بر سر نامهٔ خط تحریر فرمایند که خط هذاد ر بالا حصار کابل در مطابع شمس النهار کابل برسد و چونکه به فرستادن مبلغ هندوی به کابل جهت بعضی صاحبان ذی شان هندوستان دشوار به نظر می آید و نوت سرکار انگلیسی بهادر درین ملک فروش ندارد بنا بر آن به لحاظ سهولت احباب خریداران اخبار پر بهار شمس ـ النهار کابل عرض کرده میشود که عالیجاه حاجی حسن خان صاحب مهتمم داکخانهٔ کابل مقیم پشاور را اجنت مطبع مقرر گردید... خریداران اخبار ... شمس النهار هر وقت

Property of ACKU

خط و کتابت یا ارسال هندوی یا نوت که مطلوب داشته باشند به سر نامهٔ خط خو د اینقدر عبارت درج کرده باشند که خط هذا در پشاور در داک خانهٔ کابل به نزد عالیجاه حاجی حسن خان مهتمم داک خانهٔ کابل برسد...» (۲۰) .

کوبل مطلب چې په دې اخبار کې خپور شوی په ښکاره تو ګه د شمس النهار د مدیر یا لیکو نکي ملیت خواهي او وطن پرستي ښيي ، په دې مضمون کې لیکل شوي چې د افغانستان خلک د پنبې په کرلو سره زیات تاوان ګالي ځکه چې دوی پنبه د «فرنګستان» په خلکو باندې ارزانه پلوري او په بدل کې یې ډول ډول رختونه په ډېر لوړه بیه پیري او د دې کار علت دادی چې زموږ خلک په خپله علم او کمال نه لري، هم یې داو بدلو وسایل په لاس کې نشته او هم خپلو اولسي صنایعو ته پاملرنه نه کوي(۲۱) .

د شمس النهار د ۱۲۹۰ ه کال د دوشنبې په ګڼه کې د «حالات کابل» تر عنوان لاندې یو مضمون خپور شوی چې په هغه کې د هېواد د سولې او امنیت په هکله د امیر شیر علیخان د زیاتې توجه یادونه او ستاینه شوې او هم په دې باب لیکي چې د پېلو ـ بېلو قامو نو مشرانو هم داموضوع تأیید کړې او ویلې یې دي چې دا سوله او هو سا یي یې له دې نه مخکې نه وه لیدلې . په همدې مضمون کې د شاهزاده عبدالله د ولیعهدۍ موضوع هم خپره او یاده شوې چې د دې کار له پاره امیر د بار کزایي ، محمد زایي ، د کوهستان غلزایي، قزلباش او کابلي مشرانو یوه غونډه هم جوړه کړه ، خو له دوی سره په دې بر خه کې سلاو کړي. په دې مقاله کې ویل شوي چې د نو مو ړو

(۲۰) سایل؛ ... معرفی جراید ...

(۲۱) بېنوا؛ شمس‌النهار ، آریانا .

ږو مو نو دمشرانو شمېر یو ز ر کسانو ته رسېده(۲۲)،له دې مقالې نه په ښکاره توګه سلاا و مشورې ته اهمیت او ر کول ښکاري او هم د خلکو سلا او فکر ته په احترام کول لو سره داسې شیر علی خان یو دیمو کراتیک عمل خر ګندوي.

یو بل خبر چې د «اخبار کابل» تر عنوان لاندې خپو ر شوی هم د یاد ښت وړ دی . په دې خبر کې د کابل حالات د هوا د سړو الی له پلوه په ښېړه او مشرحه توګه او تقریباً په عصري ډبکه او د( Interpretive )په دول لیکل شو دی،سره له دې چې پارا ګرافو ته یې لکه دعصري خبر یالی غوندې سره یې ل نه دي خو که د دې خبر لو مړی جملې ته په غور سره و ګورو ر ښتیا هم د او سنی سر لیکنې (افتتاحیه نو یسی) روح ترې ښکاري، نو مو ږ یې جمله په دې دول ده:« مو سم سر دی باو جو د ګذشتن ایام سر ما به شدت است راههای قند هار و تر کستان یک قلم مسدو د است...» په دې خبر کې دخو را کې موادو د بیې له او ړو الی نه نیو لې د سو لو تر موادواو دخلکو تر بیکاری پو رې تو ل په مفصل دول خبر ل شوي دي؛ د موضوع د ضمنی تبار او په غرض حتی د کا بل او لو کر د سیند و نو کنګل کیدل هم یاد شوي او زیاته شوې چې خاروي له باره سره په دې کنګل باندې تېر یږي(۲۳) .

دشمس النهار دجر یدې دمطالبو په هکله داو سړي کال دلسمې ګڼې په کتلو سره باید د ا سې و و یل شي چې :

۱— دمتن یو ه بر خه یې هغه مقالې دي چې اساسی مقصداو هدف یې رسمي

---

(۲۲) نهګدا ی؛ (اسناد و یاد داشتهای تاریخی ) آریانا، ۳ کال ، ۱ ګڼه ۳— ۵ مخونه .

(۲۳) همدا پو رتنی اخځ.

Property of ACKU

ابلاغیې او خبرونې دي؛ لوسړی مقاله د« اشتهار» تر عنوان لاندې خپره شوې چې په هغه کې د امیر شیر علی خان دپاچهۍ په موده کې د «اخبار پر بهار شمس النهار» دخپرېدو په باب خبرورکړ شوی او هم یې دګڼون په باب خبرې شوې دي. دو هم مطلب یې یو اعلان دی چې د «اطلاع ضروری» تر عنوان لاندې خپور شوی، دریم مطلب یې هم د «اشتهار ضروری مفید عام» تر عنوان لاندې دخلورګونو ژبو: عربی، دری، انګلیسی او اردو دژدهـ کړې په باب دیوه کتاب اعلان دی .

۲—دمتن دو هم برخه یې دیاندنې خبرونه دي لکه څرنګه چې لوسړی خبر یې د«خبر لندن» تر عنوان لاندې راغلی او نور خبرونه یې د: «خبر امریکا یعنی دنیای نو، طریقهٔ شناخت نسل انسان، خبر پروشیه، خبر مستر سلو ل صاحب، مقاد اذاجاء نصر الله، خبر چین و روس، خبر طایف، خبر مراد آباد، خبر سلطان روم» تر سر لیکونو لاندې خپاره شوي دي، دا چه د«طریقهٔ شناخت نسل انسان» تر عنوان لاندې خبر چې جالب او په زړه پوري دی دلته یې په توګه وړاندې کوم:

«از ملاحظهٔ اخبار عام لاهور واضح گردید که در کتاب حکمت چین یک عجیب و غریب نقل شناخت نسل انسان تحریر شده است که مردم چین قطرهٔ خون او لادراو قدری خون پدر را در یک ظرفی که در آن آب باشد می اندازند، اگر خون فرزند و پدر باهم مختلط گردید پس میدانند که اولاد حلال است و فرزند هم ازان پدر است و اگر احیاناً خون های هر دو باهم مختلط نگردیدند وجوش نخوردند پس او شان یقین میکنند که این فرزند هیچگونه رشته همراه این پدر ندارد. »

۳— د ر ېیمه برخه د و ه خبر و نه دي چې یو یې د بدخشان او بل یې د کابل دی ، د بدخشان خبر د متن او اطلاع له مخې ډېر په زړه پورې دی او د تورستان د خلکو د و اده د دو د و نو یوه برخه رو ښانوي .

په نتیجه کې د لسمې ګڼې د متن په رڼا کې د دې جریدې متن دری ډوله مطالب لري: یعنی د خبر و نو او خبر و تو تهیه کول ، یوه اندازه تلقین او فکر ور کول او د اعلان خپرول .

په هر حال تر کومه ځایه چې د جریدې د متن له خپرونې څخه څر ګندیږي، و یلای شو چې کم لوستي یا نیم لوستي کسان د دې اخبار د مطالبو له پو هېدلو څخه بې برخې و و (۲۳). د خبر لیکنې دول یې غالباً مفصل او مشرح ؤ او د یوې موضوع ټولې خو اوې په تفصیل سره لیکلې کېدلې . ما یل لیکي چې داخبار مدیر به خبري مطلبونه عموماً په یوه بیت شروع کول او اد بي تو تې به یې هم خپر ولې او په پای کې باید و منو چې د لو ستو نکو شمېر یې کم او محد و د ؤ .

د شمس النهار ګڼې او تبادلې :

(*) ارواښاد حافظ نور محمد کهګدای کاږي چې: «د شمس النهار لو مړنۍ ګڼه د ۱۲۹۰ هق کال د شعبان په پنځلسمه نیټه خپره شوه او د ی پسې زیاتوي چې : « د شمس النهار د لومړی ټوک په شپږ مه ګڼه کې لیکل شوي: د شمس النهار پر بهار اخبار چې له د و و نیمو میاشتو را هیسې خپرېږي تر او سه لا ندنیو اخبارو سره تبادله لري :

(۲۳) ما یل هم دا خبره تأئید کړې ده(معر فی ر و ز نامه ها، جر اید ومجلات).
(*) له دې نه و ر و سته د شمس النهار د بحث تر پایه پورې مطالب د ژباړو نکی له خوا و ر زیات شوي دی.

Property of ACKU

۱— اخبار عالم .

۲— اخبار طلسم حیرت .

۳—اخبار مفرح القلوب .

۴—اخبار سندی تایمز .

۵—اخبار او دها کسلیتر .

۶—اخبار اجهر تا نه .

۷—اخبار عام لاهور .

۸—اخبار انجمن پنجاب لاهور .

۹—اخبار کوه نور .

۱۰—اخبار سیدالاخبار دهلی .

۱۱—اخبار لوح محفوظ منطبعه مراد آباد .

۱۲—استر یجی گزیت .

۱۳—اخبار سنت پطرز بورگ .

۱۴—اخبار اوده .

۱۵—اخبار بمبئی گزیت .

۱۶—اخبار لیاقت.

۱۷—اخبار استر تیت لندن نیوز .

۱۸—اخبار ایران منطبعهٔ دار الخلافهٔ طهران .» (۲۵).

نو سوری ار و ابناد د شمس النهار دنور و خصوصیاتو په باب په یوه بله سر که کېږو ایي:

(۲۵) ژوندون، ۳۴ گڼه، د ۱۳۵۰ کال دسلواغی دوهم، ۲۸ مخ ( دحافظ نور محمد کهگدای سر که) .

Property of ACKU

«۱— دشمس‌النهار نشر اتی کال دسحر م په لومړي‌نیټه‌یعنی دمیاشتې کال په‌نوي کیدو سره پیلېده .

۲ـشمس‌النهار د ګڼې په‌ځای«نومره» او دنشر اتی کال په‌ځای«جلد» کاروي.

۳— لومړي یې‌دهر کال‌په پیلېدو سره‌له‌سرهنه را نیولې کېدلې بلکه پرله پسې راغلې دي .

۴— ددې‌جریدې دز یاتو ګڼو په‌پای کې دسطبعې ،چاپو ونکي او مهتمم نو مونه‌راغلي دي .

۵—په‌یوه ګڼه کې یې دسیداحمد شاه پېښوری«پرس مین» نوم‌او داخبار د مهتمم میر زاعبدالعلی نوم‌نه‌راغلی دي.» (۲۶)

نو مو ړې‌ښاغلی‌دخپلو یادداشتو نو دشمېرتو کټله ۱۷ ۳سخ څخه دهغو ګڼو فهرست‌او د سطا لبولنې یز و ړاندې کوي چې ده لیدلې دي او سو ږ همله دې کبله چې دشمس النهار ګڼې چا ته نه رسیږي‌د نوموړي ار وا ښاد دا ګټو ر فهرست دلته راخلو :

۱— یې نو مر ي‌او یې جلده ګڼه،جمعه، دروژی ۱۰ ۲۹ ۱ هق ،۲۰سخه،په ۱۶ مخ کې یې د«واردات» ترسر لیک لاندې دتخت شاه په‌غږه کې‌دیوې ښځې دوژ نې خبر خپور کړی دی .

۲—۵ ګڼه، لوسړی‌جلد،دو شنبه،درو ژی‌ه ۱، ۲۹۰ ۱ هق ،۲۰ مخه،په‌دې ګڼه کې دصدارت دجوړېدلو او دعبدالله‌خان‌دو لیعهدی له پاره درایې اخیستلو خبرخپور شوی دی .

۳—۶ ګڼه،لوسړی‌جلد، شنبه،دکو چنی‌اختر لو سړی، ۱۲۹۰ هق، ۲ ۳مخه،

(۲۶)ژوندون ، ۵ ۳ ګڼه، د ۱۳۰۰ کال دسلواغی ۹، ۶ ۳مخ.

په‌دې گڼه کې دعبد الله‌خان دولیعهدی په جلسه رڼا اچول شوې ده.

۳—۷ گڼه، لومړی جلد، جمعه، د کوچني اختر ۱۵، ۱۲۹۰، ۱۶ مخه، دا گڼه د سیاست‌مدن په‌باب یوه مقاله لري.

۵—۸ گڼه، لومړی جلد، یکشنبه، د کوچني اختر ۲۲، ۱۲۹۰ ه ق، ۱۶ مخه. د ولیعهدی په باب ددبیر الملک واصل بولله یکې راغلې‌ده.

۶—۹ گڼه لومړی جلد، دوشنبه، دلوی اختر ۷، ۱۲۹۰ ه‌ق، ۱۶ مخه. دامیـــر صاحب (امیر شیرعلیخان) دهغې لوړ ینې شرح ده‌چې دروېز گروتـــه یې جاسې او پوستینونه ورکړي‌دي.

۷—۱۰ گڼه، لومړی‌جلد، پنجشنبه، دلوی اختر ۱۵، ۱۲۹۰ ه ق، ۱۶ مخه. د دې گڼې په پنځلسم او شپاړسم مخ کې د کابل خبرونه دلوستلو وړدي.

۸—۱۱ گڼه، لومړی جلد، پنجشنبه، دلوی اختر ۲۲، ۱۲۹۰ ه‌ق، ۱۶ مخه، په ۱۳ مخ کې د«سیاست‌مدن» په‌باب مقاله لري.

۹—۱۲ نـومره، دوهم‌جلد، پنجشنبه، دمحرم لومړی، ۱۲۹۱ ه‌ق (کال یې نوی شوی‌دی) ۱۶ مخه. دولیعهد په‌باب دباجوړ دخان او دډیر دخان میارکې یکې خبرې شوې دي.

۱۰—۱۳ نومره، دوهم جلد، پنجشنبه، دمحرم ۱۵، ۱۲۹۱ ه‌ق / دمارچ ۵، ۱۸۷۴ ع، ۱۶ مخه. دروس او دبخارا د پاچاتړون یکې خبرې شوی دی.

۱۱—۱۴ نومره، ۲ جلد، دوشنبه، دمحرم ۲۲، ۱۲۹۱ ه‌ق/دمارچ ۱۳، ۱۸۷۴ ع ۱۶ مخه. د ورتیا او تهذیب داسبابو په‌باب مقاله‌لري (پنځلسمه گڼه په لیدل شوو کلکسیونو کې نشته).

Property of ACKU

۱۲-۱۶ نومره، ۲ جلد، دخېرې (صفر) ۱۰ (ورځ يې نه ده لیکلې) ۱۲۹۱ هق/ د مارچ ۲۹، ۱۸۷۴ ع ۱۶، مخه. په دې گڼه کې دولیعهدی په باب دسردار محمد عزیز خان بوللهٔ، د کابل خبر، د کابل سیندگه، ترسر ایکونو لاندې مطالب راغلي.

۱۳-۱۷ نومره، ۲ جلد، پنجشنبه، دلومړی خور ۶، ۱۲۹۱ هق/ داپریل ۲۳ ۱۸۷۴ ع ۱۶، مخه. په دې گڼه کې دولیعهدی بولله، دفارس او روم خبره، د ۳ پاچاهانو مړخولیتوب، د کابل سیند طغیان، راغلي دي.

۱۴-۱۸ نومره، ۲ جلد، سه‌شنبه، دلومړی خور ۱۸، ۱۲۹۱ هق/ دمی ۵، ۱۸۷۴ ع د لغمان، هیلمند، کابل او کاکاب خبرونه پکې راغلي دي.

۱۵-۱۹ نومره، ۲ جلد، شنبه، دلومړی خور ۲۲، ۱۲۹۱ هق/ دمی ۹، ۱۸۷۴ ع ۱۶ مخه. دقاضي عبدالقادر پېښوري وعظ پکې خپور شوی دی.

۱۶-۲۰ نومره، ۲ جلد، جمعه، ددوهمې خور ۱۳، ۱۲۹۱ ه ق/ دمی ۲۹، ۱۸۷۴ ع ۱۶، مخه. په دې گڼه کې: د کوهستان خبر، د کابل خبر، د نار و غیو په باب او دقطغن دمیرانو په باب مطالب خپاره شوي دي. (۲۱ گڼه په لیدل شوو کلکسیونو کې نه وه.)

۱۷-۲۲ نومره، ۲ جلد، سه شنبه، ددریمې خور لومړی، ۱۲۹۱ هق/ دجون ۱۶، ۱۸۷۴ ع، ۱۶ مخه. دپوځونو خبر، د میر الفت د ولیعهدی بولله، د عجیب خلقت خبر په دې گڼه کې راغلي دي.

۱۸-نومره نه لري، ۲ جلد، شنبه، ددریمې خور ۱۲، سنه نه لري، ۱۶ مخه، دا گڼه د امطالب لري: د کوهستان خبر، سیر لی او لبوه، دشمس النهار مطبعې ته د امیر شیرعلیخان تلل.

۱۹-۳-۲نو سره، ۲جلد، پنجشنبه، ددر یمې‌خو ر ۲۳،۱۲۹۱هق /دجو لای ۹،۱۸۷۳ع ،۱۶سخه. په‌دې‌گڼه کې: عجیب‌خبر، شهاب ثا قب ،د کابل خبر او دعلی‌رضاد کو ر دغلاخبر ،خپاره شوي‌دي.

۲۰-۴-۲نو سره، ۲ جلد ،چار شنبه،دو ر و ستی‌خو ر ۸،۱۲۹۱هق /دجو لای ۲۳،۱۸۷۳ع ، ۱۶سخه.په دې‌گڼه کې دلو یناب‌نایب‌محمد علم خان‌در اتگ خبر خپور شوی دی.

۲۱-۵-۲نوسره،۲جلد، دو شنبه، دو ر و ستی‌خو ر ۲۰،۱۲۹۱هق / داگست ۴،۱۸۷۳ع، ۱۶سخه. دزرست‌خبر ،دو هم خبر، د کابل خبر.

۲۲-۶-۲نو سره، ۲جلد، جمعه،دخدای‌دمیاشتی لومړی ،۱۲۹۱هق /داگست ۳،۱۸۷۳ع، ۱۶ سخه. دبامیان بدخشان، زرست‌او کا بل خبر و نه، او د اخبار د اشتراک په‌باب داخبار دمهتمم بیان پکې خپاره شوي دي.

۲۳-۸-۲نو سره ،۲جلد، چارشنبه،دخدای دمیاشتی ۲۰،۱۲۹۱هق / دستمبر ۲،۱۸۷۳ع ، ۱۶سخه. د کابل خبر، سو سمی تیږه عجیب خبر، دبد خشان خبر پکی خپاره شوی دي.(۲۷نو مره نشته) .

۲۴-۳-نو سره‌نه لري،۲جلد، پنجشنبه دبرات‌دمیاشتی ۲،۱۲۹۱هق/ دستمبر ۲۳،۱۸۷۳ع، ۱۶سخه. د کابل‌خبر، داخبار مطبعې‌ته دسر دار محمد کریم خا ن دراتللو خبر پکې را غلي‌دي.

۲۵-۳۰-۲نو سره، ۲جلد، سه‌شنبه،درو ژې‌لومړی، ۱۲۹۱هق /دا کتو بر ۱۳، ۱۸۷۳ع ،۱۶ سخه.د کابل لو مړی خبر، کتین، د کابل دو هم خبر، ددربار خبر، د کابل دسپوږ‌خبر، د کار خانو خبر ،پکې را غلي‌دي.

۲۶-۳۱-۲نو سره، ۲جلد ،شنبه‌درو ژې ۱۵/دا کتو بر ۲۷، ۱۸۷۳ع، ۱۶سخه.

Property of ACKU

۲۷-۳۲نومره، ۲جلد، سه‌شنبه، دروژې ۲۲/دنوسبر ۳، ۱۸۷۳ع، ۱۶مخه. د پاسیان خبر، د کابل د زلزلې خبر پکې راغلې دي .

۲۸-۳۳نومره، ۲جلد، ۵شنبه، د کوچنی اختر ۱۵، ۱۲۹۱هق /دنومبر ۲۶، ۱۸۷۳ع، ۱۶مخه. د کابل خبر، د اختر غونډه، پکې راغلي دي.

۲۹-۳۴نومره ، ۲جلد، پنجشنبه ،دمیاني ۷، ۱۲۹۱هق /ددسمبر ۱۷، ۱۸۷۳ ع ، ۱۶مخه .

۳۰-۳۵ نومره ، ۲جلد ، یکشنبه ، دلوی اختر لومړی ، ۱۲۹۱هق/ د جنوری ۱۰، ۱۸۷۵ع ، ۱۶مخه. هرات ته د سپهسالار له پاره وعظنامه، د کابل خبر د پاچا وینا ، دز رمت خبر ، سعدالله خان. ددې گڼې ځینې مطالب دي.

۳۱-۳۹نومره، ۳جلد ،چارشنبه، دثور ۱۵/ دمارچ ۱۳، ۱۸۷۵ع، ۱۶مخه. ( ۳۶، ۳۷، ۳۸ گڼې کمې دي) .

۳۲ - ۴۰ نومره ۳ جلد ، ۳شنبه ، دلومړی خور ۱۳، ۱۲۹۲ هق /داپریل ۲۰، ۱۸۷۵ع ۱۶ مخه .

۳۳-۴۳ نومره ،۳ جلد، سه شنبه، دخدای‌دسیا شتې ۱۵، ۱۲۹۲ هق/داگست ۱۷، ۱۸۷۵ع ، ۱۶مخه . (۴۱، ۴۲ گڼې کمې دي ) .

۳۴-۴۴ نومره ،۳جلد، پنجشنبه، دبرات ۸، ۱۲۹۲ هق/دستمبر ۹، ۱۸۷۵ع ۱۶ مخه .

۳۵-۴۵نومره ،۳جلد،شنبه، دبرات ۲۲، ۱۲۹۲هق/ دستمبر ۲۵، ۱۸۷۵ع، ۱۶ مخه .

۳۶-۴۶ نومره ، ۲جلد، دوشنبه، د کوچنی اختر ۷، ۱۲۹۲هق /دنومبر ۷، ۱۸۷۵ع ، ۱۶مخه.

Property of ACKU

۳۷-۳۷نومره ،۳جلد، شنبه، د کوچنی اختر ۲۰ ۱۲۹۲هق/دنومبر ۲۱،
۱۸۷۵ع ، ۱۶مخه. (۲۷).

پورتنی فهرست داهم روښانوي چې دشمس النهار خپرېدلو ټاکلې ورځ نه درلوده ، کله د پنځو ورځو په فاصله کې خپور شوی، کله دلسو ، کله دپنځلسو او کله ان دشلو او پنځو پښتو ورځو واټن لري ، همدا راز مخونه يې هم کله ـ کله تغيير کوی خو معمولاً شپاړس مخيز خپور شوی دی .

دشمس النهار څو په زړه پورې مطالب:

ارواښاد کهگدای د خپلې مرکې په يوه بله برخه کې څرګنده کړې : څرنګه چې له يده مرغه دشمس النهار داګڼې او س زما په واک کې نشته نو ځکه نشم کولای چې زيات مطالب يې راواخلم ، يوازې دا څو په زړه پورې مطلبونه يې د نمونې په توګه وړاندې کوم .

لومړی: دهغې سختې زلزلې خبر دی چې په ۱۲۹۱ هق کال دروژې په ۷ ورځ دماسپښين په وخت وشوه او دا ټکان لسو څخه زيات دوولس زره کسان يوازې په کوهدامن او کوهستان کې ووژل ، د دې زلزلې په وخت کې په کابل کې هم ځينې کورونه وران شول ، دباسو سنجونه ولوېدل او دآسمايي او شير دروازې له غرونو نه دوسره ډبرې راولوېدې چې دلانګ راتګ لارې يې بندې کړې ، تر زلزلې څو دقيقې وړاندې الوتونکي او

(۲۷)ژوندون، ۵۳ کڼه، ۱۳۵۰،دسلواغې ۹،دحافظ نورمحمد کهگدای مرکه ،۴،۶ ۳۷مخونه.

سرغان‌وار خطا او په بیره هره خوا الوتل او چغېدل، ور پسې ځمکه
وربېردیده او تقریباً لس دقیقې یې دوام وکړ، ټولو خلکو د «اذا زلزلت
الارض زلزالها» مبارکه سوره لوستله او خدای ته یې زارۍ کولې، په
پروان کې څو باغونه د ځمکې زړه ته ژوندي ننوتل چې یوازې د ونو
برنۍ پاڼې یې لیدلې کېدلې، د رجب خان پروانی د زوی سرور خان کلا یې
له بېخه ونړوله...

دوهم: د کابل سیند د توپانې کېدلو خبر دی چې په ۱۲۹۱ هق کال د ثور
په یوه ماښام کې توپاني شوی، اندرابۍ یې له بېخه وړي او د سیند په څنډو کې
یې ډېرو ځایو ته زیان رسولی دی. زیاتو کسان خصوصاً هغه خلک چې په
اندرابیو کې یې کورونه وو، اسمایي غره ته ختلي، یوازې ځانونه یې
خلاص کړي او نور د کور شته یې اوبو وړي دي.

په اخبار کې زیاته شوې ده چې د امیر شیر علیخان بهادر او د سپهسالار
حسین علیخان په زیار د هغې وخت عسکرو په زرګونو ځوانانو ته شګې
او په خروارونو تیږې له غرو څخه راوړې او د کابل سیند دیوالونه او
ډکې یې پرې کلکې کړې دي. لکه چې د اعسکر په لوښي او دوه همه شپه
ګرد سره ویده نه شول او د خدمت له پاره له یوه ساه او کلکو نو سره د سیند
په څنډو ګرځېدل، د اوبو د زیاتوالي او کموالي او د عسکرو دفعاليت
خبرونه پرله پسې امیر صاحب ته ورکول کېدل.

Property of ACKU

دریمم: دگولدسمت او دسیستان دپولې جوړولو په باب خبرې یکې شوې دهیأتونو درئیسانو نومونه او کومې خبرې چې ددوی دنمایندګانو ترمنځ شوې یکې راغلې او فکر کیږی چې درئیسانو نومونه به یې داوو:

ـ دافغانستان له پلوه اروا ښاد سید نورمحمد شاه.

ـ دایران له خوا میرزا معصوم.

ـ دانګلستان له لوری جنرال ګولد سمیت.

میرآخور احمد خان اسحق زی دجلال آباد حاکم دافغانی هیأت یو غړی او جنرال پالک دانګلیسی هیأت یو غړی ؤ.

څلورم: دشهزاده عبدالله خان دولیعهدی دجشن خبر یکې خپور شوی، په خبر کې ویل شوي چې او وه شپې ورځې کابل ښراغونه ؤ، دې جشن ته دافغانستان له بېلو بېلو برخو څخه پښتنه لکه تنه مخور او سپین ږیری راغو ښتل شوي وو او دجشن او ښراغونو په ورځو کې به پاد شاهی «شیلان» کې ډوډۍ ورکوله کېدله. لومړیخل داسمایی او شیر دروازې دغرو تاریخی د یوالونه په همدې وخت کې ښراغان شوي وو او ددې جشن په موده کې یوه ورځ ۳۳م پیاده پوځو نه د پاچا، سپلمنو او د کابل د خلکو په مخه کې درسم ګذشت په توګه تېر شول او دښادی ډزې یې وکړې چې د توپخانی دچمن (اوسنی حضوری چمن) سیمه څو سا عته تو رو دودو نونیوا یې وه. دوخت شاعرانو لکه میرزا محمد نبی خان واصل، میر

مجتبی الفت ، سردار غلام محمد خان طرزي او سردار محمد عزیزخان عزیز دد ې جشن په مناسبت بوللې و کښلې چې وار په وار په شمس النهار کې خپرې شوې دي داجشن د ۱۲۹۰ هق کال د کوچنی اختر په میاشت کې نیول شوی ؤ (۲۸) .


دشمس النهار کتو راخبار په پای کې د ۱۸۸۷ ع کال دانگلیسانو له یرغلو نو سره یو ځای په منځه ولاړ او یو کال و روسته یې مؤسس امیر شیر علیخان هم له نړۍ څخه سترګې پټې کړې .

Property of ACKU

PROPERTY OF ACKU 32299

(۲۸) ژوندون ، ۳۶ ګڼه ، ۱۳۵۰ ، دسلواغې ۱۶ ، دارو اښاد کهګدای مرکه ، ۳ مخ .

دوهم څپرکی



# د امیر حبیب الله خان دوخت خپرونې

Property of ACKU

# دامیر حبیب الله خان دوخت خپرونې

دامیر شیر علی‌خان له مړینې نه وروسته د هغه زوی یعقوب خان په تخت کېناست او دا درست هغه وخت و چې دانگریزانو دوهم تجاوز او تیري یو ځل بیا هم افغانستان ولړزاوه او بې نظمي، ګډوډي او کورنۍ شخړې یې رامنځ ته کړې. د یعقوب خان د سلطنت موده ډېره لنډه وه او له یوه کال نه لږ زیات یې دوام و نه کړ، له ده نه وروسته امیر عبدالرحمن خان د افغانستان پاچاهي تاج او تخت تر لاسه کړل. یعقوب خان او عبدالرحمن خان د خپل سلطنت په موده کې یوه هم کوم اخبار تأسیس نه کړ خو بیا هم د عبدالرحمن خان د پاچاهۍ په موده کې د «مطبعهٔ دارالسلطنه» په نامه یوه مطبعه موجوده وه چې هلته مکتوبونه، جدولونه، ځینې کتابونه او نور خپرېدل. د هغې کتابو له ډلې څخه چې په دې وخت کې خپاره شوي یو هم «پندنامهٔ دنیا و دین»

Property of ACKU

دي چې په خپله امیر عبدالرحمن خان تألیف کړی او. ۱۳ مخونه لري او همدارازپه دې وخت کې دعایشه درانی داشعارو دیوان، رهنمای قضات دمولوی احمدجان الکوزی تألیف، د لومړی ناپلیون تزکره، دعبدالقادرخان خټک یوسف زلیخا او نور کتابونه خپاره شوی دي. له دې کتابونو نه پرته د«امیرعبدالرحمن خان د ژوندانه» په نامه یو کتاب په انګلیسي ژبه دامیر له خوا د میرمنشی سلطان محمد خان په وسیله په ۱۹۰۰م په لندن کې خپور شو چې د هغه دري ژباړه د«تاج التواریخ» په نامه په بمبئی کې خپره شوه؛ امیر په دې کتاب کې وایي«له مانه مخکې په افغانستان کې کومه مطبعه او تعلیمونه او ساوغو ښتل چه په ټول هیواد کې د پرش تنه کاتبان نه وو، سم، له دې شمیر نه یو ازې دری تنه پیدا شول چه په کتابت بلد وو خواوس ـ او س ز رګونه کسان کولای شي چې ولولی او ولیکی او په زرګونو توکه کتابونه په کابل کې خپاره شول.» (۱) په همدې مخ کې لیکل شوي چې نومړی امیر د یوه نیمه رسمي اخبار دخپرېدو اسره هم ور کړه خوداسې کوم اخبار نشته نشته.

(*) دافغانستان دژورنالیزم په تاریخ کې داچې: «دشمس النهار کابل دخپرېدې له سقوطنه وروسته په افغانستان کې داخبارو طبعه په څه ډول اجرا کېدله؟» یو مهم بحث دی او خصوصاً دامیر عبد الرحمن خان له دې یادونې څخه چې«...به اهالی کابل حکم داده که اتفاق نموده روزنامهٔ نیم رسمی

(۱) امیرعبدالرحمن خان، تاج التواریخ (طباعت او تعلیم، ۱۳۳مخ دوهم توک).

(*) دا برخه دقلمی اخبار نامې تر سرلیک لاندې د ژباړونکې له خوا زیاته شوې ده.

Property of ACKU

در کابل طبع و نشر نمایند.»(۲) داسو دالا پسې زیاتیږي چې آیادامیر عبدالرحمن خان په وخت کې په دداسې ورځپاڼې دخپرېدلو او وېشلو زمینه په څه ډول مساعده شوې وې، په چاپي ډول او که په قلمي؟ د چاپي اخبار په هکله خوتراوسه کوم سند په لاس کې نشته او هم کلک باور دی چې داسې کومه ورځپانه نه ده خپره شوې خو په دې برخه کې چې بایي داورځپانه به قلمي او خصوصي وه د بحث ځای شته خصوصاً کله چې دامیر حبیب الله خان په وخت کې قلمي اخبارنامه موجوده وه (وروسته به خبرې پرې وکړو) نو داموضوع لا د توجه او غور وړ ګرځي او بیاخصوصاً دامیر عبدالرحمن خان دوخت دمطبعې د کارونو دلاس ته راغلو راپورونو (۳) داتکې چې: «میرزا تاج محمد روزنامچه نوشته بدفتر رفت» دا اتکل لا پسې قوي کوي چې ممکن داهم داخبار نامهٔ قلمي په شان داسې لیکنې وې چې د امیر یانورو دپاره تهیه کېدلې.

داراپورونه چې دمطبعې دادارې له خوا په هره هفته کې په ښکلی خط تهیه

---

(۲) عبدالرحمن خان، امیر، تاج التواریخ، دوهم ټوک ۵ مخ.

(۳) له ماسره دشپږو بیلو بیلو هفتو راپورونه موجود دي چې لومړنی راپور يې د ۱۳۰۹ هـ ق کال دجمادی الثانی (غلورمې خور) د «۱» نیټې نه راوروسته او وروستنی راپور يې د ۱۳۱۰ هـ ق کال دمحرم الحرام په «۳» ختمیږی چې په دې سربیره دافغانستان دمطبعو خصوصاً دامیر عبدالرحمن خان د وخت دسر کاري مطبعې د کارکوونکو اوماشینو نوشمیر هم رابیي او هم موږ د دې مطبعې د کار د طرزاو دهغو موادوسره چې پکې چاپیدل، اشنا کوي.

Property of ACKU

شوي او «دلوی سردار صاحب په نامه» (۴) لیکل شوي او وړاندې شوي دي ثابتوي چې هره ورځ د مطبعې دادارې له خوا ورزنامچه لیکله شوې او دفتر (۵) ته وړله شوې ده چې حتی ددې کار له پاره یو ځانګړی نفر مؤظف ؤ.

په هر حال دامیر عبدالرحمن خان سلطنت دسولې ، امنیت او یوه ټینګ مرکزي حکومت په هیله او هڅه کې په ۱۹۰۱م کال پای ته ورسېداو دده زوی امیر حبیب الله خان دده په ځای کېناست.

## قلمی اخبار نامه

مخکې هم وویل شول چې دامیر حبیب الله خان دسلطنت په شپږم کال د سراج الاخبار افغانستان په نامه یوه جریده تأسیس شوه خو له هغې نه مخکې دهېواد او دهېوادنه دباندې خبرونه په یوه خاص او په زړه پورې ډول سره دامیر او یاهم دځینې مهمو رسمي او حکومتي اشخاصو له پاره برابرېدل په دې ډول چې دعلاقې وړ خبرونه له خارجي جریدو څخه تر جمه او دخطاط په وسیله لیکل کېدل چې دامیر دخبر تیاله پاره به یې وړ ول.

ددې اخبارنامو (۶) له ډلې څخه په دې وروستیو وختونو کې یوه ګڼه زما لاس ته راغله او په لاندې ډول یې معرفي کوم:


---

(۴) ښایي دلوی سردار نه سردار حبیب الله خان مرادوي ځکه دامیر عبدالرحمن خان د سلطنت اری زیات شمیر کارونه ده ته سپارلي وو چې دتاج التواریخ په دوهم ټوک کې په خپله په دې باب مفصل غږ یدلی دی.

(۵) ښایي له دفتر نه مراد دسردار حبیب الله خان دفتر وی .

(۶) څرنګه چې کوم نوم او عنوان نه پکې لیدل کېږي نو ځکه ماد (اخبار نامهٔ قلمی) په نامه یاد ه کړه .

Property of ACKU




از جبار وکیل

... ۱۹۰۶ عیسوی


دقلمي اخبارنامې يوه برخه

Property of ACKU




Property of ACKU

دقلمي اخبار نامې يوه برخه




دقلمي اخبار نامې یوه برخه

Property of ACKU



دقلمی اخبارنامی یوه برخه

Property of ACKU



دقلمي اخبارنامې یوه برخه

Property of ACKU

د اخبار نوم او شهرت ته لري او یو ازې د خبرو نو ځای (سرجع) او نیټه پکې ښودل شوي دي، او پوده یې (د هغې ګڼې چې له لیکونکی سره وه) «۴۵» انچه او سور یې «۶ نیم» انچه دی، څلور لوی سرلیکونه په ښکلی نستعلیق خط پکې لوستل کېږي. لومړی سرلیک یې له: «ترجمهٔ هدا ازاخبار عام تحریر شده است.» دوهم عنوان یې: «ازاخبار وکیل» دریم سرلیک یې: «ازاخبار وطن» او څلورم عنوان یې: «از اخبار شحنهٔ هند» څخه عبارت دی.

تر دې سرلیکونو لاندې خوخبرونه د بېلو-بېلو موضوعاتو په باب لیکل شوي دي.

د نمونې په توګه تر لومړي عنوان لاندې دا مطالب راغلي دي: «اطلاع یوسیهٔ زار روس راجع به حالات جنگ، اموات مرض طاعون در هند، فرستادن جو انان «امریکن» (امریکایی) در کوریا، بیرون کردن اجنبی ها توسط روسها از عشق آباد، جنگ جاپان و روس، توجه امیر صاحب کابل برای درستی افواج، تصمیم پارلمان انګلستان برای دادن اختیار زیاد به شاه قیصر در مصرف پول، ګرفتاری فوج روس در پولند، غرغرهٔ انقلاب پسندان در کوه قاف» او نور. نوموړي خبرونه او خبروني په دوو، دریو یا څو کرښو کې لیکل شوي دي. خو د روس او جاپان د جنګ په هکله د خبرونو له یو ځای کېدونه پوره تفصیلات تر لاسه کېږي، په دې ترتیب چې نوموړي خبرونه په څو اره واره ډول تر پایه پورې موجود دي نو که سره یو ځای یې کړو او پر له پسې یې ولیکو مفصل خبر ترې جوړېږي.

په همدې ډول تر نورو سرلیکونو لاندې بېل-بېل مطلبونه موجود دي

چې هر مطلب یې له مخکینې او وروستنې مطلب نه دلومړی کرښې د پاسه د یوه لنډ خط په وسیله بېلېږي، داخط کولای شو چې د هغه وخت د پاراګراف نښه وبولو او داسې ( ـــ ) شکل یې درلود.

دااخبارنامه په ښکلي او روښانه نستعلیق خط دحافظ حیدر علی احراري پـه قلم لیکله شوې ده. دلیکلو سبک او ډول یې له سر نه تر پایه پوره یو راز دی او یدلون نه یکې لیدل کېږي، یوازې سر لیکونه یې په لوی او ډېر ښه خـط لیکل شوي دي، ددې اخبار ناسې په پای کې دلیکونکي لاسلیک په دې ډول راغلی دی: «فدوی جانفشان حافظ حید رعلی احراری»؛ دخبرونو نیټې د هغه اخبارله نامه نه وروسته چې تر یو ژبارل شوي داسې لیکل شوې: «مورخه یوم دوشنبه ۲۸ مارچ سنه ۱۹۰۳ عیسوی مطابق دهم محرم الحرام سنه ۱۳۲۲ هجری »، تر دوهم عنوان لاندې: «مورخه یوم دوشنبه پانزدهم شهر محرم ـ الحرام سنه ۱۳۲۲ هجری مطابق دوم اپریل سنه ۱۹۰۳ عیسوی » او په همدې ډول تر نورو سر لیکونو لاندې دخبرونو نیټه لیکله کېدله.

په دې اخبار نامه کې سربېره پردې چې یو شمېر عربي لغات راغلي خینې انګلیسي اصطلاحات هم یکې لیدل کېږي، دعربي کلمو راتلل یـو ضروري کار ؤ خو انګلیسي اصطلاحات ښایي دژباړونکي دنه پوهېدو په اثر په همغه شکل راوړل شوي وي، لکه «امر یکن » چې کېدلای شوای هغه یې «امریکایی» کړی وای، یا «پورت» چې کېدای شوای دهغه په ځای «بندر» راغلی وای، او یا «ریلوی » داورګاډی در ید ځای، «کماندر، تارپېډو، پارلمینت، هسپتال، فرنج » او نور.

یو رنتې کلمې د انتقاد او ګوتې نیولو په غرض یادې نه شوې بلکه یوازې

Property of ACKU

دسپکښو دلوله پاره راوړل شوي خو بیا یې هم ساده او د پوهېدو وړ عبارات درلودل .

داهم باید وواېو چې ددې اخبارنامې دلیکلو او دهغه دموجودیت سره سره بیاهم دیوې جریدې یاورځپاڼې کار نه ترې اخیستل کېده او څرنګه چې په لاس لیکله کېدله نو ځکه یې شمېر له څو نسخو نه زیاتېده خو د هغې داسې ښکلې او روښانه لیکل، په دې ښکلې او زړه راښکونکې ډول ترتیبول، د کرښو په وسیله دهغه دموضوعاتو سره بېلول، دهر بېل خبر او مطلب له پاره بېل ـ بېل پاراګرافونه درلودل، داټول دهغه موضوعات دي چې داخبار او جریدې دنه درلودو په صورت کې دې کارته خاصه بیه او ارزښت وربښي .

ګرانو لوستونکو ته ددې اخبارنامې دنمونې ورښودلو په غرض د لته د هغې عکسونه راوړو څرنګه چې اخبارنامه ډېره اوږده وه او نه شوه کېدای چې پوره یې عکس واخیستل شي نو ځکه یې په بېلو ـ بېلو ټوټو او مخونو کې وړاندې کوو . او هم یې کټ مټ څو هغه خبرونه چې په افغانستان پورې اړه لري دنمونې په توګه لیکم ، ځکه دافغانستان د صحافت(۷) په تاریخ ،دادبیاتو په تاریخ ،دسبکوتو اود ترجمې د شروع کېدو په برخه کې ددې ټکي یادول ګټور ،مهم او دیاد داشت وړدي .

په افغانستان پورې مربوط خبرونه یې دادي :

---

(۷) دې اصطلاح پښتو د کتاب ګنډلو (جلدسازي) معنی درلوده، اوس هم په افغانستان کې په همدې معنی استعمالېږي خو په عربي ژبه کې دورځپاڼې لیکنې په معنی ویله کېږي.

Property of ACKU

۱ــ «این خبر به تحقیق رسیده که روسیها از نواح عشق‌آباد تمام مردم اجنبی و افغانان باشندهٔ آنجا را بیرون کرده است.»

۲ــ «جناب امیر صاحب کابل بدرستی افواج خود متوجه میباشد و خیال سامان باربرداری نیز دارند از تاشکند کراچی های باربرداری بطور نمونه طلب کرده پسند فرموده‌اند و موافق آن در کابل تیار کرده خواهد شد.»

۳ــ «از جلال‌آباد خبر رسیده‌است که جنرال ایوانوف گورنر صفحهٔ ترکستان بنام رعایای آنجا اعلان شایع کرده است که اگر سپاه روس از قلعجات آنجا بطرف سرحد فرغانه و پامیر و کاشغر فرستاده شود. شماها ملک را خالی یا فته مایل فتنه و فساد نشوید و برین اعلان قسما قسم چه میگویند گفته و بیان کرده میشوند اینکه کسی میگوید که روس بر یارکند تصرف کردنیست و کسی میگوید که به ترکستان افغانی بر سرحد چترال حمله آوردنی.»

۴ــ «از قندهار بدینمضمون خطوط رسیده‌اند که از حکم جناب امیر صاحب کابل دو توپخانه و دو رجمنت(۸) فوج پیاده از قندهار عنقریب به علاقهٔ افغانی لاش وجوین که به سرحد شمالی سیستان ملحق میشود روانه شدنیست و برای کمان‌افسر (۹) غزنین هم احکام رسیده‌است که او هم فوج متعدد را از آنجا بطرف صوبهٔ قندهار روانه دارد. غالباً جناب امیر صاحب به خیال این اجرایــن احکامات جاری فرموده‌اند که شاید روس در وسط ایشیا متصل شرق سرحد ایران اگر شرارت کند کمک رسانی افواج تهانهای خود را اقربین مصلحت

(۸) عسکری اصطلاح ده د کنډک په معنی.

(۹) اصلاً «کماندینګ افیسر» او انګلیسی جمله ده.

Property of ACKU

تصور رفر سوده اند ، تاحال در ین تهانهاچند چند نفر ازسپاه معدود در آنجا مأمور میباشد .»

۵- «کشاکش روس وانگلستان اگر چه به همین قسم روبه ترقی بماند زود تر معاملهٔ هندوستان و عجم(۱) و افغانستان مابه النزاع گردیده در حالت این ملکها تغیر و انقلاب کلان پیدا خواهد شد .»

باید ووایو چې بورتني خبرونه په پرله پسې توگه ندي را غلي بلکه یویو یې دنورو مطالبو په ترڅ کې لیکل شوي دي .

(*) په نتیجه کې دامیر حبیب الله خان دوخت د دې قلمي ورځپا ڼې او دامیر عبدالرحمن خان دوخت د مطبعې دراپورله غبر گون نه د الاندې ټکی ترلاسه کېږي :

۱- د شمس النهار له سقوط نه راورو سته په افغانستان کې د قلمي روزنامچې په وسیله خبرونه دامیر او یا نورولویو خلکو د پاره تهیه کېدل .

۲- دارو زنامچه دامیر عبدالرحمن خان په وخت کې هم هوروځ دسر کاري مطبعې له خوا د یوه موظف او مسئول سړي په وسیله په شکلي خط لیکله کېدله .

۳- نوم یې « روزنامچه » ؤ .

۴- په ۹ ۱۳۰-۱ هق کال د دې قلمي روزنامچې لیکوونکی میرزا تاج محمد او په ۱۳۲۲ ه.ق کال حافظ حیدرعلی احراري ؤ .

(۱) نننی ایران ته ویل کیده .

(*) دا برخه د بحث تر پایه پوري دژباړونکي له خوا زیاته شوې او لیکل شوي ده .

Property of ACKU

۵– سرکاري مطبعو په نورو کارونو سربېره د روزنامې لیکل او دفتر ته رسول هم په غاړه درلودل.

۶– داچې یو تن یوازې د روزنامې د لیکلو له پاره مؤظف و ښکاري چې روزنامه په څو کاپیو کې لیکله کېدله.

۷– لکه څرنګه چې ددو همنمونه یې خبرنه څرګندېږي چې خبر په خپله دامیر دامر له بابت دي او دامیر له پاره دداسې خبر لیکل بې کټې وو نو حتماً به دا روزنامه ډېرو خلکو ته رسېدله.

۸– داکار غالباً دامیر عبدالرحمن خان په دوره کې شروع شوی او حتی تر نژدې وختو پورې یې داخبار مقامات (۱) په نامه دوام درلود.

۹– خبرونه دامیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان په وخت کې دڅو کسو ترجمانانو له خوا له خارجي اخبارو څخه اقتباس او ترجمه کېدل دمثال په توګه مولوي عبدالرؤف کندهاري دامیر عبدالرحمن خان په وخت کې داکار کاوه او پخپله محمود طرزي دامیر حبیب الله خان په دوره کې یو څه وخت داکار په غاړه درلود.

(۱) اخبار مقامات دباختر آژانس له خوا تهیه کیدل او مقاماتو ته وړاندې کیدل.

Property of ACKU

Property of ACKU

# سراج الاخبار افغانستان

دخبر او خبر لیکنې په نړی کې له ۲۸ کلنې تیارې شخه وروسته (چې له ۱۸۷۹ کال تر ۱۹۰۶ع پورې او ږده شوه) یوه نوې دوره پیل شوه او دا دوره دسراج الاخبار افغانستان (چې ربنتیا هم دافغانستان د خبر لیکنې په نړی کې یوه دوامداره رڼا بلله کیږي) خپریدل وو. نوموړی اخبار د ۱۹۰۶ع کال د جنوری په ۱۱/د ۱۳۲۳هق کال دمیاشتې (ذیقعدة الحرام) په ښتخسمه نیټه په خپرونو پیل وکړ، دسراج الاخبار افغانستان چلوونکی دشاهی مدرسې مدرس مولوي عبدالرؤف خان ؤ؛ له بده مرغه دانګلیس دمداخلې په اثر نوموړی اخبار له لومړی ګڼې نه وروسته بند شو او له هغه وروسته تر شپږو نورو کلو (تر ۱۹۱۲ کال) پورې کوم بل اخبار نه ؤ؛ خو په ۱۹۱۲ع کال دافغانستان دژورنالیزم دپلار محمود طرزي دهڅو او بیا-

بیاغوښتنو په اثر سراج الاخبار په نوي نوم او نوې څېره بیا منځ ته راغی.

د محمود طرزي په مدیریت باندې د سراج الاخبار پېژندنه پېل بحث ته پرېږدو او اوس باید وڅېړو چې: سراج الاخبار افغانستان څنګه منځ ته راغی؟ څه ډول خپرونې یې کولې؟ او کوم کسانو په هغې کې کار کاوه؟.

د سراج الاخبار افغانستان د اجازې اخیستلو له دوسیې څخه ښکاري چې د لومړي ځل له پاره مولوي عبدالرؤف خان د نوموړي اخبار خپرېدل وغوښتل (۱) نوموړی غوښتنلیک په یوه لیسو ماده وکې د اعتماد الدوله سردار عبدالقدوس خان حضور ته وړاندې شوی ؤ، د علاقمندانو د زیاتو معلوماتو په غرض دادی نوموړي مواد په لاندې ډول وړاندې کوو:

۱) د اخبار نوم دې سراج الاخبار وي چې د اخبار په لومړي مخ دې په لوی لیک.... لیکل کیږي.

۲) د مطالبو د اخیستلو له پاره خو ضروري اخبارونه سربېره پر هغو اخبارونو چې اوس کابل ته راځي او نور مواد د لکه تذکرې، جغرافیه، لغت کتابونه چې د اخبار د کار له پاره لازم وي د حضور له امر نه وروسته دې راوغوښتل شي او د پېښور د اسلامیه ډاګ خانې د سررشته دار په نامه دې فرمان صادر شي چې کتابونه او اخبارونه دې د لست له مخې واخلي او راو یې لېږي:

(۱) د لته لازم ګڼم چې یو ځاند حبیبي ته د هغې سرستې په اثر چې د سراج الاخبار افغانستان سربوطه دوسیه او د سراج الاخبار افغانستان یوازینی ګڼه یې را کړه، د زړه له کومي کورودانۍ ووایم او په حقیقت کې زما د دې لیکنې سرچینه همدا دوسیه او ګڼه دي.

دضرورت وړعربي اخبارونه: الظاهر، نبراس، المشارقه والمغاربه، مستشار.
د ضرورت وړ انگريزي اخبارونه: اسلاميه کالج منتهاي لاهور - دلاهور داسلاميه مطبعې چاپ او نور کي دضرورت وړ اخبارونه.
دارتياوړ اردو اخبارونه: بمبئي گزت، دهلي گزت، کرزن گزت، نصرت الاخبار، مهرد رخشان، اخبار سود اگر.

په فارسي ژبه لوبې رو غني نقشې: دمځکې کره، براعظمونه.

مرآة الارض، دلاهور د اسلاميه مطبعې چاپ.

په فارسي ژبه اطلس دلاهور د مفيد عام طبع.

دفارسي اوعربي دلغاتو کتابونه له هر ډول نه يو - يو ټوک.

۳) د «دارالسلطنة» خبرونه دې د کوتوالۍ په وسيله خاصې «بيت الشورى» ته ورسول شي اوله هغې وروسته دې د جرگې د غړو د خوښې په اساس د خپرېدووړ پېښې د اخبار مطبعې ته واستولې شي خو د اخبار مديران دې جملې سمې کړي اوپاک نويس ليکونکي ته يې وسپاري.

۴) دمضامينو او عباراتو له سمون نه وروسته دې د مطبعې مهتمم د اخبار د مديرانو په خوښه مضمونونه ترتيب او کاپي ليکونکو کاتبانو ته يې دې وسپاري او تل دې دا کار په نظر کې نيسي. خو تر وسه وسه دې له اختلاف في سماً لو خخه ځان وساتل شي ... خو دټولو مسلمانانو ترمنځ ... وروري ټينگه شي.

۵) هغه پېښې او مضمونونه چې عموماً په اخبار کې خپرېږي دا به وي:
«۱» ديني مسألې. «۲» اشتهارونه چې وخت په وخت د خلکو د هوسايي او دهېواد د نېکمرغۍ له پاره د دولت له خوا خپرېږي. «۳» خارجي خبرونه

Property of ACKU

«۴» د افغانستان پېښې. «۵» مقامي یعنې د دارالسلطنة خبرونه «۶» د غلې بیه او نور. «۷» د هېواد د بېلو بېلو برخو د مو سمونو حالات. «۸» شعرونه او وینا وې د مدیرانو له خوا نه ورو سته. «۹» د تجربه شویو دارو ګانو نسخې او د روغتیا چارې. «۱۰» د تا جرانو اعلانونه. «۱۱» د دا تو، د بازار کسبګرو او الا وحالونه او حرکتونه لکه په جشنونو، رسمي دربارونو، د پوځونو کتلو او نورو وختو کې.

۶) د اخبار کچه دې په داسې ډول وي چې کاغذ ضایع نشي او که د «حبل المتین» (۲) په اندازه وي ښه ده.

۷) په اوله کې دې اخبار په سیاست کې د وه خلې خپورشي.

۸) او س دې اخبار له اتو پاڼو نه زیات نه وي او د اخبار د نسخو شمېر دې د دولت د منصبدارانو، ملکي او نظامي خدمتګارانو په شمیر وي او مل نسخې دې زیات خپورشي او د اخبار د چاپېدو ورځ دې چارشنبه وي.

۹) د اخبار دو پښلو چارې د ه اګ خانې کار کوونکو ته سپارلې کېږي او د ه اګ خانې د پیادګانو شمېر دا ړتیا سره سم زیاتیږي.

۱۰) که کورني او باندني خبرونه او بېل بېل مضمونونه چې د اخبار له خپرېدو نه مخکې مطبعې ته رارسیدلي وي د اخبار ... تا کلي پاڼې ډکې نه کړای شي، پاتې مخونه به د ځینې نادرو کتابونو نه لکه تاریخ افغانی او نورچې لا تر اوسه نه دي خپاره شوي، ډکېږي او په اخبار کې به «عجیب او غریب» کتابونه رانقل او لکه د کتاب غوندې به چاپېږي.

(۲) حبل المتین یو اخبار ؤ چې هغه وخت به کلکته کې په دري ژبه خپرېده او مدیر یې یو تن ایراني ؤ چې مؤیدالاسلام نومېده.

Property of ACKU

(۱۱)اخبار به اډیټر ، سب اډیټر ، محرر ، ترجمان ، مهتمم، دارد و تر جمې سر ستیالان، رو ښانه لیکونکی محرر ، دلیکلو کاتبان، سمو و نکی، تحویلدار او محاسب و لری.او اډیټر یعنی عنوان ایښود ونکی چې دمضا مینو تصحیح او ترتیب په غاړه‌لري، په خپله سو لو ي‌عبدالر ؤف خان ؤ .

په دې ترتیب په پو ر تنیو یو و لسو ما د و کې د ننه دنـو سو ړي اخبار دخپر بدو اجازه‌لیک و رانديې شو او د خپر بدو او خو ر بد و (طبع او نشر) ا مر يې دسر دار عبدالقدوس اعتماد الد و له له خوا و ر کړ شو .

د پو ر تنی پیشنهاد له مادو څخه یوکاري‌چې خا رجي خبر و نه او مطالب غالباً له خا رجي اخبارونو څخه چې په انگر یزي ، عر بي ، ارد و او نو رو ژ بو په سر بوطوهیوا د و نوکې خپر بد ل ، اخیستل کېد ل ا و ځو نگه چې دو رځپانو رالېږل او لېږ ل لکه ننځو ندې په چټکی‌سره نه شوی کېدای نو په یقیني ډول و یلای شو چې په را اخیستل شوېو خبرو نو کې تازه‌والی نه پا تې کېده خو بیاهم څرنگه چې په دې‌هیواد کې له دې نه مخکې داسې وسیله نه وه‌چې‌له‌په ز ړه‌پو رې او علاقې و ړ خبرو نو نه خلک خبر کړي‌نو ځکه لاهم تازه او نوي ګڼل کېدل .

دسمو ن ، تدوین او داختلاف و ړ مسا یلو رفع کو ل مهم ټکل شوي او د سنجو ل شو یو مطالبو په و ېش کې د رسمي ېښو او دا خلي خبرو نو پسه تر څ کې د انسا ني نژ دې علاقې‌و ړ مطا لب لکه دغلي بیه ، سو سمو نه چې له هغو نه مطلب‌دځلکو حاصلات او عايدات دي، د د اروګا نو نسخې ، د روغتیاچارې‌او نو ر داډ ول مطالب ځای شوي چې دایه خپله له ننني و رځپا نه لیکني سر ه نژ دېوالی پیدا کوي.

Property of ACKU

ښکاري چې نوموړی اخبار به په عمومي توګه په عسکري منصبدارانو او ملکي مامورینو باندې پلورل کېده او ښايي چې اجباري بڼه به یې هم درلوده.

داویې (اوس داخبار مدیر) اصطلاح دعنوان اینښودو نکي، سموونکي او ترتیب ورکوونکي په معنی راغلې او څرنګه چې یو ځای «اډیټران» لیکل شوي نو ښايي چې عنوان اینښودل به دیوه او سمون او ترتیب به د نورو کسانو وظیفه وه، لکه څرنګه چې د اکاراوس ـ اوس هم دخبر لیکنې په عصري اداروکې دود دی.

(په مخامخ پاڼه کې کېښت د سراج الأخبار افغانستان دخپرېدو دوسیه داعتما د الدوله سردار عبدالقدوس خان دامر اولا سلیک سره یوځای وړاندې کوو.)

په هر حال په دې ترتیب او شرایطو «سراج الاخبار افغانستان» د ۱۳۲۳ هق کال دمیا نې په ۱۵/د ۱۹۰۶ ع کال د جنورۍ په ۱۱ نیټه د پنجشنبې په ورځ لومړی ځل خپور شو؛ د نوموړي اخبار مدیر او مؤلف د شاهي مدرسې مدرس مولوي عبدالرؤف خان ؤ او د «دارالسلطنة کابل» په مطبعه کې خپرېده.

داخبار په لومړي مخ کې د «سراج الاخبار افغانستان» نوم په عربي ثلث خط لیکل شوی او په برنۍ برخه کې یې دالاندې دوه بیتونه لیکل شوي:

این لوح مقدس بدل آګه بین از نقطه زبان قلمم کو ته بین

دیباچه لا اله الا الله خوان عنوان محمدا لرسول الله بین

داخبار دنامه ښې خوا ته د مدیر او مهتمم نوم، مطبعه، دخپرېدو نیټه او داخبار دبیې موضوع چې ویل شوي: «بیشتر نزد مهتمم اخبار ارسال دارند» خپاره

Property of ACKU

شوي او کیږي خوا ته دا خبار یه په دې ډول لو ستله کیږي :

| «سالانه | ششماهه |
|---|---|
| دار السلطنت کابل ـ هشت رو پیهٔ پختهٔ کابلی | پنج رو پیهٔ پختهٔ کابلی |
| ممالک محروسهٔ دولت افغانستان ـ ده رو پیهٔ پخته کابلی | شش رو پیهٔ پختهٔ کابلی |
| ممالک متفرق دول خارجه ـ بیست وچهار رو پیهٔ پختهٔ کابلی | سیز ده رو پیهٔ پختهٔ کابلی |
| قیمت یک قطعه اخبار | یک عباسی کابل میباشد.» |

تر نامه نه لاندې دا عبارات لو ستل کیږي: « اخبار نامهٔ حکمیه ، سیاسیه ، شرعیه یکماه دو دفعه چهاپ و تقسیم میشود. »

له نامه، نیټې او دګڼو ن له بیې نه و روسته دوې لا ندې دوه ستو نه کرښې لو ستلي کیږي :

«هر کسی از علماء ودانا یان داخلهٔ مملکت افغا نستا ن و مما لک خا رجه هرگاه مصلحت ملتی یاد و لتی یا مسألهٔ شر عیه را بخاطر داشته باشد و مکتوب برای مدیر ار سال دارد ، مکتو ب او را قبو ل نمو ده هر گاه پسندیدیم داخل اخبار هذا نمو ده میشو د . »

په لو مړي ستو ن کې مخکې له دې چې مدیر خپله مقاله شروع کړي د اخبار د مطالبو یو فهرست د «فهرست مطالب مضا مین اخبار » تر سر لیک لاندې لو ستل کیږي ، په دې فهرست کې دا مطالب راغلي : خطابهٔ تمهید، مو عظهٔ حسنهٔ سیاسیه، ملخص احوال جنگ جاپا ن و روس ، حو ادث مملکت رو م و مصر ، حو ادث مملکت رو س،عبرة للناظر ین، حواد ث مملکت ا نګلیس، حو ادث ممالک متفرقه ، حو ادث داخلهٔ مملکت افغا نستان . »

داخبار مدیر په خپله سر مقاله کې له حمداونعمت نه و رو سته لیکي :

Property of ACKU

«و اقعیت و اطلاع بر کیفیت کار عالم و خبر داری بصورت معیشت و بودوباش طوایف بنی آدم از جمله ارکان سعادت دوجهانی و اجزاء بهبود د مصلحت شخصی و ترقی عمومی نوع انسانیست.» نو موږ دخپلې دې ادعا دثبوت له پاره لیکي چې تقریباً پنځمه برخه قرآن دپخوانیو خلکو کیسو او حکایاتو نیولې خو دهغوی له حالنه د محمد (ص) است عبرت او پند واخلي ، پسه همدې ترتیب بې دخبر بدو او خبر په باب قرآني آیا تو ته اشارې کړې او ددولتي اخبار دخپرید و په هکله دمبارکې آیت او نورو په استنا د غږ یدلی او هم یې د حضرت محمد(ص)و ینا دلیل په توگه راوړې او لیکي : «بنابر آن.. . اعضای انجمن سراج الاخبار افغا نستا ن عزم انشاء جدید دین امر شدید رانموده...» په سر مقاله کې زیاته شوې خبر نگه چې دنوروهیوا د و اخبارونه زموږ وطن ته راځي نو لازمه ده چې زموږ اخبار هم دوی ته ورسیږي، همدلته لیکي چې ددې خاورې د امن شاهۍ لو سرې د خپل هیواد له پیښو نه خبر شي او بیادنړۍ له پیښو او پرمختګونو څخه ...

ددې سر مقالې له متن څخه څرگندیږي چې په هغه وخت کې شاهي داخبار خپریدل ښه کار نه گڼل کیده نو له همدې کبله داخبار مدیر زیارا یستلی چې داخبار دخپریدو ضرورت دقرآني آیاتو، محمدي وینا او نورو په ملاتړ سره تائید کړي خو انتقاد کوونکو ته دانتقاد کولو او گوتې نیولو ځای پاتې نشي . ډیره مهمه خبر چې په دې سر مقاله کې شوې د خبر لیکنې او د کورنیو او باندنیو پیښو او خبرونو د خپرولو موضوع ده چې په اتفاقي توگه لکه دننني ژورنالیزم غوندې لو سرې کورني او بیا دباندني خبرونه او اطلاعات مهم گڼل شوي دي .

Property of ACKU

د «موعظهٔ حسنهٔ سیاسیه» تر عنوان لاندې مقاله کې د بشري تمدن په هکله خبرې شوې او په دې مقاله کې د بشري تمدن د بشپړ تیا به لوی رکن «محبت او مودت» بلل شوی دی او د تمدن مطلب د «بنی نوع تألیف، ترکیب او اجتماع» ښودل شوي نه د کورونو او د ودانیو جوړول. د دې موضوع په باب د قرآنی آیاتو، نبوي احادیثو، او ځینې حکمایانو په استناد بېل بېل مطالب وړاندې شوي او لارښود نې شوې دي. په حقیقت کې یې د لیکنې ډول او د خبرو کول ډېر جالب او په زړه پورې دي؛ د ننني ژورنالیزم پوهان سپارښتنه کوي چې خپلې لیکنې د مقالو، لنډو وینا ؤ، خوبنو نو، او کیسو په راوړلو سره په زړه پورې او جالبې کړیء څکه د لیکلو د اسې کې لکه کیسه کول غوندې دي، سر بېره پر دې چې اورېدونکی خو ښوی په ذهن کې د مطلبونو د پاتې کېدلو په برخه کې هم لویه مرسته کوي.

په سراج الاخبار افغانستان کې چې کوم خارجي خبرونه لیدل کېږي تول له بېلو-بېلو ورځپانو څخه ژباړل شوي او هر یو په مفصل او مشرح ډول خپور شوی دی، حتی ویلای شو چې د بشپړ توب او مفصل توب دالاره او سنیو اخباري مجلو ته ورته ده. د نمونې په توګه د جاپان او روس د جګړې په هکله د جګړې د پیلېدو او پای ته رسېدو نه پرته د جګړې د تلفاتو، تاوانونو او نورو احصائیو په باب مفصل بحث شوی او د دوی تر منځ د سولې د تړون متن هم خپور شوی دی، په همدې ډول په نورو خبرونو کې هم د «پوره لیکنې» (مفصل نویسی) لاره غوره شوې ده.

عموماً تر هر عنوان لاندې لو مړی یو مهم او په زړه پورې خبر خپور شوی

اوله هغه وروسته بیا کوچنی خبر راغلی دی، د کوچنیو خبرونو عنوانونه په عمومی توګه نوم او د خبرونو د نشر نیټه ده.

د دې خبرونو څو نمونې:

۱)«یک شخص در انگلستان ماشین جدیدی ایجاد کرده است که بذریعهٔ آن حمام گرم کرده میشود و گرمی و سردی هوای حمام بدست خود انسان می باشد و از آن هوای حمام صاف میشود.»

۲)«یک عریضهٔ هفت میل دراز که بران شش لک و سی و یکهزار دستخط میباشد برای پیش نمودن به پارلمینت بر تانیه تیار و در آن تحریر کرده شده است که شاه عالم پناه عمل جراحی سگهارا بالکل مسترد فرمایند.»

۳)«در مملکت مصر یکصد و سی و سه قطعه اخبار جاری میباشد از آن جمله هجده قطعه اخبار یومیه میباشد و سه قطعه اخبار در هفته سه دفعه و سه قطعه در هفته دو دفعه و هفتاد و شش قطعه در هفته یکدفعه و نوزده قطعه در ماه دو دفعه و همچنین باقی آنها میباشد.»

د«حوادث داخلهٔ افغانستان» تر عنوان لاندې جنوبي ته د دولت د پاچا د سفر په باب خبرې شوې، د دې خبر په سر یزه کې د جنوبي د خلکو په برخه کې د امیر د مهربانیو په باب یاد و نه شوې او وروسته د امیر د «بند راغلی» په هکله د لوګر د خلکو یوه عریضه چې وراستول شوې وه، د لته یې د نمونې په ډول څو ټکي وړاندې کوو:

«قبلهٔ عالما ژ ادالله تبارک و تعالی اجلالکم هزاران هزار شکر و ثنا مر حضرت پادشاه بی همتا را که از لطف و مرحمت خویش بر اهالی افغانستان اینچنین پادشاه حق گزین و غمخوار دین متین حضرت سیدالمرسلین (ص) را اعطا فرموده.

Property of ACKU

پس بر خود ها لازم و فرض میدانیم که همواره شکرانهٔ این نعمت عظمی را بجا آوریم تا نعمت ما افزون گردد چنانچه خداوند تبارک و تعالی در قرآن شریف فرموده اند لئن شکرتم لازیدنکم یعنی اگر شکرنعمت را بجا آورید زیاده میفرمائیم نعمت شمایانرا لهذا عرض میداریم که درین مدت چهارسال که اوراق امارت پادشاهی بوجود مسعود اعلیحضرت همایونی زیب و زینت یافته مراحم بی پایان و نوازشات شاهانه راافزون از حدوبیان نسبت باحوال خود ها مشاهده نموده ایم...»

داعریضه په پنځو ستنو (ستونو) کې خپره شوې او په ځواب کې یې اعلیحضرت هم خپله مهربانی او فرمایشات ور ته کړي په دې ډول :

«این عریضه ایکه شما پیش نموده اید حالی و دانسته گردید . آنچــــه صواب بدانیم بجواب شمایان دربیان می آوریم اول اینکه درین فقره تصدیق قول شما را میکنم که چون قوم افغانستان در ... بسیار مشهور میباشند لاکن باوجود شهرت این لفظ از تمام شما مردم تا این زمان بمقابل دولت و پادشاه هیچ مخالفت دیده نشده ... »

په دې ډول یې دامیر حبیب الله خان خبرې او «هدایات» تقریباً داخبار په اوو ستو نو کې خپاره کړي دي.

ددې اخبارو روستنی موضوع یوه مدحیه وعظیه بولله (قصیده) ده چې دمولوي احمدجان کندهاري زوی محمد سرور واصف ویلې ده. وروسته له هغې دمدیر لهخوا یو «اعتذار» خپور شوی دی . داخبار خطاط میرزا محمد اسحق خان نومیده.

د دې بحث په نتیجه کې ویلای شو چې داخبار متن هم دسبک او

Property of ACKU

لیکلو د ډول او هم د عربي کلمو او لغاتو د زیاتو راوړلو له مخې د لږ لیکونکو او نیمه سواد لرونکو له پاره سخت ؤ ، مخصوصاً دې کار په داسې وخت کې چې ښوونځي او مدرسې ډېر کم وو ډېر مشکلات درلودل، سربېره پر دې خارجي راز-راز خبرونو ته زیاته توجه شوې خو د سجلي او کورنیو خبرونو له پلوه کمزوري ؤ ، په حقیقت کې د اخبار له شپږو یشت مخونو نه یوازې اته مخه په داخلي موضوعاتو ( جنوبي ته د امیر تګ ، د هغه ځای د خلکو عریضه او د امیر ځوابیه وینا) او یوه بولله ډکه شوې نورنو په ټول اخبار کې خارجي خبرونه خپاره شوي دي، د خبر لیکنې لاره یې مخصوصاً په خارجي خبرونو او مطالبو کې مشرحه او مفصله ده او یو خبر تر وسه-وسه دلوستونکو پوښتنو ته ځواب وایي . نوموړی اخبار لکه څرنګه چې وویل شو د لومړی ګڼې له خپرېدونه وروسته بند شو او د شپږ ونورو کلونو په موده کې بیا هم افغانستان کوم اخبارنه درلود .


سال سوم شماره (۱) صحیفه (۱)

سراج الاخبار افغانیه

۱۳۳۱

قیمت سالیانه

محمود طرزی

بسم الله الرحمن الرحیم

د سراج الاخبار افغانیه یوه ګڼه

Property of ACKU

# سراج الاخبار

## (له شپږو کلونو نه وروسته)

شپږ کاله یا هم (۱۹۰۶ تر ۱۹۱۱ع کال پورې) افغانستان کوم اخبار نه درلود چې د هغې په وسیله د خلکو د بیدارۍ او خبرېدو له پاره ورځنۍ پېښې، خبرونه او علمي مطالب خپاره کړي؛ خو د ۱۲۹۰ د تلې په شمارسمه نیته هغه ډېوه چې شپږ کاله پخوا وژل شوې وه بېرته بله شوه او په مطبوعاتي نړۍ کې یې روښانه پلوشې خپرې شوې، دا ډېوه «سراج الاخبار افغانیه» وُ چې د ښلو هدفونو په درلودلو سره یې په نوې بڼه په خپرونو پیل وکړ.

سراج الاخبار هم د امیر حبیب الله خان د پاچاهۍ په سوده کې منځ ته راغی

Property of ACKU

چې خپر وونکی (ناشر) (۱) او مدیر یې محمود طرزي ؤ. طرزي محمود چې د هېواد د سیاست او ادب د نړۍ پیاوړی شخصیت ؤ او د افغانستان د ژورنالیزم د پلار نوم یې ګټلی دی د امیر حبیب‌الله خان، معین‌السلطنه شاهزاده عنایت الله خان او پیاوړی وسته داعلیحضرت امان‌الله خان له نژدې همکارانو څخه ؤ.

ده ددې دواړو پاچایانو دسلطنت په سوده کې د افغانستان د پرمختګ او عصري کولو په برخه کې زیاتې هڅې کړې او هېواد ته یې نه هېریدونکي خدمتونه ترسره کړي دي.

امیر حبیب‌الله خان د داخلي سیاست په برخه کې د خپل پلار امیر عبدالرحمن خان په لاره روان ؤ. خو په ددې ډول چارو کې د افغانستان د خپلواکۍ په هڅه کې شو، ده غوښتل چې د تزاري روسیې او انګلستان د ۱۹۰۷ ع کال تړون وغندي. په دې تړون کې پریکړه شوې وه چې د افغانستان سیاست دې د انګلیسانو له خوا اداره کېږي (۲) خو نو سوړي امیر ونه کړای شو چې دا هیله یې ترسره شي.

(۱) سره له دې چې دا اصطلاح پوره څرګنده نه ده خو د اخبار په څنډه کې د محمود طرزی نوم د «سر محرر او مدیر» تر جملو لاندې راغلی دی او بیا تېکل کولای شو چې بنایی له لومړۍ جملې (سرمحرر) نه خپرونکی د (امتیاز خاوند) او له دوهمې نه به په خپله مدیر مراد وي.

(۲) تزاري روسیې اعلان وکړ چې افغانستان دې د روسیې له اغیزې او خاورې نه دباندې وي او انګلیس ومنله چې د هغې د خاورې کومه برخه به نه ونیسي او نه به یې په خپله خاوره پورې وتړي . (ولبر دانلد ، افغانستان نیوهوز پریس، ۱۹۶۲ ع، ۱۹ — ۲۰ مخونه.)

Property of ACKU

دامیر حبیب‌الله خان دپاچاهی په موده کې دجبل السراج د بر بشپــــه فابریکه سر بېره دځینې نورو فابریکو سره ته راتګ هم تشویق شو او هم دځینې سړکو نوجوړول تر کار لاندې و نیول شول او د حبیبیې لیسه د لو مړني عصري ښوونځي په حیث پرانستل شوه .

ښايي وو یل شي چې داټول دوخت دحکومت له خوا سره تهراغلل خو باید وو ایو چې دافغانستان خلک هم کرار کېننا ستل او په دې ټولو کارونو کې يې پوره برخه واخیسته او په شعوري او ارادي توګه یکې ونو تل .

دلته کولای شو دنمونې په توګه دهغې ډلې چې «اخوان افغان» نو میدله او دمحمو د طرزي په ګډون جوړه شوې او دافغانستان د پر مختګ له پاره یې کار کاوه، نوم واخلو؛ دې ځوانانو چې دترکیې او ایران د هېواد ونو ریفارمونه او اصلاحي ګامونه اخیستل لیدلي نو په خپل هېواد کې يې هم دداسې ریفارمونو دعملي کو لو هیله درلوده او په دې سربېره يې دخپل هېواددېښمنې خپلواکۍ له پاره هم هڅه کوله(۳) .

دخلکو او حکومت دې ګډې هیلې داسې فضا سره تهراوړه چې په هغې کې دیوې داسې خپرونې راایستل لازمو ګڼل شول چې دخلکو دملیت غوښتنې او دافغانانو د استعما رضد حرکات منعکس کړي، دهمدې کلک ضرورت او اړتیا په اساس وو چې سراج الاخبار تأسیس او په خپرونو يې پیل وکړ ، لکه څرنګه چې ولبر لیکي:«دې اخبار دملیت خواهۍ د روحیې دسره تــــه راوړلو په غرض دخپلو لوستونکو دذهني پر اختیا او تنویر له پاره هڅه

---

(۳) ولبر ،افغانستان . . . ۱۹۶۰ — ۲۰ مخونه .

Property of ACKU

کوله.» (٣) چې دسراج الاخبار دمتن دخپرېدنې په بر خه کې به هغه مطالب
چې ربښتیا هم دامدعا ثابته کړي، راواخلو: له دې سره سره دلته داهم بایدیاده
کړو چې په ځینې مقالو او سر مقالو بر سېره سراج الاخبار دافغانستان دخلکو
ژوندپه بیلو ـ بیلو برخو کې دملیت غوښتنې نه ډک خبرونه، تبصرې او
دافغانستان له خواد ځینې خارجي اخبارونو ځوابونه هم خپرول،
خصوصاً کله داخپرونې به دافغانستان د خلکو یاحکومت په ضد وې په صفا
صفاټکیو کې به یې ځوابونه ورکول.

پهعمومي ډول داخبار داخلي سیاست داسې ښکاري چې دافغانستان خلکو ته
یې د نوي، عصري او هوساژوند په لور بلنه ورکوله. که سراج الاخبار
په غور سره وګورو او د «نړۍ نامتو سړي منې» ، «دثروت علم» «د جاپان
متخصصین» ، «تاریخي مطالب» او نور سرلیکونه یې ولولو، دانتیجه ترلاسه
کېږي چې ددې سرلیکونو خپرولو مطلب داو چې خپلو خلکو ته وښيي چې
په نړۍ او ددوی په چاپېر کې څه کېږي او دنړۍ خلک څه ډول د پرمختګ
او پر اختیا په لوري تللي دي. په دې ترتیب یې د هغوی د پوهونې او
تشویق په لاره کې ګامونه اخیستل. همدارازد ملیت غوښتنې د مفکورې
دچټک پر مختګ په غرض د اخبار په خارجي خبرونو کې هم داسې مطالب
خپاره شوي چې داستعمار ضد مفکوره په خلکو کې خوروي، د نمونې په توګه
د سراج الاخبار دلومړي کال داوولسمې ګڼې په اووم مخ کې لاندې
مواد خپاره شوي چې که په غور سره وکتل شي هر یو یې زموږ د مدعا
ثبوت دی:

(٣) ولبر، افغانستان . . . ١٩٨٠ مخ .

Property of ACKU

د«خارجي پېښو»تر سر ليک لاندې يو سياسي لنډيز خپور شوی، په دې لنډيز کې وروسته له دې چې دهند دنيو لو په هکله (څرنګه چې د نړی ګدام دی) دپتر کبير لا ربنودنې خپرې شوي ،ليکل شوي:

«این یک و اضح و آشکار است که افغا نستان تاجان داشته باشدهیچ دولت اجنبی را قطعاً از خاک خود گذر نخواهدداد و اگر چنان تصور کسی بذ هن و گمان خود بیاورد که قوت و ترقی دولت مستقلهٔ افغا نستان و بیداری و انتباه شان برای هند وستان بیشتر از روسی ضرری وارد خواهد آورد و باز هم عبارت از یک و هم و خیال می ماند.»

همدلته «د خارجي پېښو» تر عنوان لاندې يو خبر لو لو چې دفرانسي په مقابل کې دمراکش دېا ريهنې او اغتشاش خبر دی بله موضوع هم يو خبر دی چې د چين د ښځو د ويښتيا به په هکله خبر ې کوي او د اخبرسر بېره پر دې چې خلک خبر وي دهغوی په راپارولو کې هم ستره برخه لري .دپنجاب ددرو يز ګرو خبر هم چه دهغې قانون د جوړېدو يادونه پکې شوې چې کهڅوک لهچانه پيسې و غواړي جريمه کيږي ...ې اهميته ندی څکه د اخبر څرګندوي چې درو يزه بدهده اوخلک بايدڅانو نه ترې ...غوري دميسو ر دېو و نځيو د شمېر خبر هم لههمدې ډلې څخه ګڼل کيږي .

ددې خبر و نو په ډله کې يو ه هم هغه موضوع ده چې دپېښو ر له «افغان» نومي اخبار څخه اخيستل شوې ده .افغان دهغې مقالې پههکله چې دپنجاب د ايډو کيټ پهاخبار کې خپره شوې و هتبصره کړې او د«سرحد» په هکله يې دنو رو هر راز لاس و هنه غندلې ده. همدار از د«آیاتر کها از قوم زندهمیباشند؟» تر عنوان لاندې خبر هم له دې ډول مطالبو څخه دی .

Property of ACKU

داخبار سرمقالې هم په ښکاره توګه په داسې ډول لیکلې کېدلې چې د پرمختګ، پر اختیاراو بدلون احساس له خلکو سره پیدا کړي. ددې له پاره چې سر مقالې دخلکو له روحیې سره سمې کړای شي لیکوالکي به هڅه کوله چې په هغه کې دقرآن مبارک آیتونه راوړي او هم یې دحضرت محمد(ص) وینا وې دنمونې په توګه یې راوړلې او خپلې خبرې یې دلو یانو په وینا او شعرونو هم پسوللې.

د یادو شوومطالبو په نظر کې نیولو سره لوستونکي کولای شي د سراج الاخبار دملیت غوښتنې او داستعمار په مقابل کې دراو لاړ بدلو روحیه په ډرګند ډول وویني .

داسې ښکاري چې داخبار خارجي سیاست هم دافغانستان در هبري په هدف و لاړ و یعنې «داستعمار شړل او دهېواد خپلواکې ترلاسه کول .»

هیله ده چې په لنډ ډول سره دسراج الاخبار په داخلي او خارجي سیاست خه نه خه رڼا اچولې وي او اوس داخبارد یو شمیر تخنیکې معلوماتو په هکله خبرې کوو :

دسراج الاخبار بڼه:

دسراج الاخبار دخپرې او بڼې په باب دهغه لومړنی ګڼه خبرو :دوړې وبڼې ګڼې په لومړي مخ کې داخبار نوم دبرنی څنډې په منځ کې په ثلث ډوله خط لیکل شوی ،بڼې خواته یې د«نګران»تر کلمه لاندې دهمایونی اعلیحضرت دحضورملکی ایشک آقاسي (٥)«علی احمد» نوم لوستل کیږي : له هغې

(٥) ایشک‌آقاسی دپاچادحضور اود دربارد چارو ماسورته ویل کیده .

د روستۍ د «مدیر او سرمحرر» نه لاندې د «محمود طرزي» نوم راغلی؛ او د روستۍ د «اداره خانهٔ مطبعه» او تر پې لاندې د « ماشین خانهٔ دار السلطنهٔ کابل» جمله لیکل شوې دی. له دې نه را لاندې: « همه‌ا مورتحریریه به اداره خانه به نام مدیر فرستاده میشود» او سټل کیږي او له ټولو نه را او روستۍ داخبار دخپرېدو نیټه په سپاشتیز لیږ دی ( قمري هجري ) شمېر داسې لیکل شوې ده: «تاریخ عربی ۱۵ شوال ۱۳۲۹».

داخبار کینې خوا ته له هر څه نه مخکې د «قیمت سالیانه آن» تر کرښه لاندې داخبار داشتراک بیه راغلې ده:

دارالسلطنهٔ کابل ۸ روپیهٔ کابلی

در اطراف داخلهٔ مملکت باخراجات داک ۱۲ روپیهٔ کابلی

در خارج مملکت باخراجات داک نیم پوند انگلیسی

قیمت یک نسخهٔ آن در کابل یک عباسی است

دګهون له بېې نه وروسته :«بهر پانزده روز یکبار نشر میشود.» جمله لوستله کېږي .

او له هغه نه را لاندې داخبار نیټه په لمریز لېږ د ې (شمسي هجري ) کال لیکله شوې: «تاریخ شمسی ۱۶ میزان ۱۲۹۰» .

داخبار دنامه او مشخصاتو نه را لاندې ددوه خطه جدول په منځ کښې داشعار لوستل کېږي :

«درین اخبار از حوادث داخلیه و خارجیه و بسی مقالات مفیده درج میشود.»

داخبار دنامه نه پاس چې بیا هم په دوه خطه جدول بېلېږي داخبار د کال او ګڼې شمېر ې لیکلې شوې دي چې داهو ل جدول دا خبار په ټولو مخو نو کې موجود دی او بو ازې «کال» په نورو مخو نو کې نشته .

Property of ACKU

د اخبار په لومړي سر کې د هغې د چاپ په وسیله خپرېده. یوازې د اخبار د لومړي ګڼې په لومړي مخ کې د «افتتاح کلام» تر سرلیک لاندې سر مقاله په یو ستون کې چې د مخ په سور دی، خپره شوې ده؛ سربېره له دې چې نور مخونه او نور مطالب په دوه ستونیز ډول خپرېدل. یو موضوع له بلې څخه عموماً په یوه خط او غالباً د هغې او ږدین خط په وسیله بېلېدله او هم د اخبار متن په بېلو-بېلو بابونو وېشل شوی او هر باب تر بېل سرلیک لاندې په بېل-بېل رسم الخط سره خپور شوی دی.

د اخبار نوم د لومړي کال تر شپږمې ګڼې پورې یې هم یوازې «سراج الاخبار» دی خو وروسته د «افغانیه» کلمه ور سره زیاته شوې او د «سراج الاخبار افغانیه» په نامه خپور شوی دی. د سراج الاخبار سره د «افغانیه» کلمې د زیاتېدلو په باب ښاغلي عبدالهادي داوي چې یو وخت په خپله د دې جریدې محرر او لیکوال یې ؤ، داسې وویل: کله چې په «۱۲۹۰ هش» کال کې سراج الاخبار په کابل کې خپرېده، په همدې نامه په هند کې یوې جریدې په اردو ژبه په خپرونو پیل وکړ، د دې له پاره چې د دې دوو اخبارونو تر منځ د بېلتون کرښه ایستل شوې وي نو ارواښاد محمود طرزي له سراج-الاخبار سره د افغانیه کلمه زیاته کړه. د دې بدلون په راتګ سره یې او له کې دا کلمه په نستعلیق لیک د اخبار د نامه نه لاندې لیکله کېدله خو د لومړي کال له دوولسمې ګڼې نه وروسته د «افغانیه» کلمه له سراج الاخبار سره یو ځای په ثلث خط ولیکله شوه.

د هم دې کال له اتمې ګڼې څخه د مدیر نوم د اخبار د لومړي مخ د بر نه ښي څنډې څخه د هغې کیڼې څنډې ته وړل شوی او په عوض کې یې د اشتراک

بیه ښې خنهې ته راوړل شوي ده او له هغې وروسته په ټوله نشراتي موده کې همدا بڼه لري .

داخبار کچه ۳۱ ئیم × ۹ انچه ده له لومړي تر دوولسمې گڼې پورې ۱۲ مخه او له ۱۳ گڼې نه وروسته دې مخونه ۱۶ ته لوړ شول او په ښکلي نستعلیق خطیه ښکلي [illegible] .

ښکاري چې داخبار دادبیاتو دبر خې تر ټیبو لو ته زیاته پاملرنه کېدله ځکه چې شعرونه دېوولي او تزئیني جدولو نو په منځ کې خپاره شوي او کله ـ کله ځینې انځورونه (رسمونه) هم پکې لیدل کېږي .

له لومړۍ گڼې نه پرته د سراج الاخبار ټولې گڼې د مضامینو او مطالبو فهرست لري چې د لومړي مخ په لومړي ستون (ښی خوا) کې به خپرېده، خو د دوهم کال له پیلېدو نه وروسته به د سراج الاخبار کې په اصلي پاڼو سربېره یوه دوې پاڼې نورې هم لیدلې کېږي چې ډیری یا کله ـ کله شین رنگ لري. او داوخت د مطالبو فهرست هم په دې پاڼو کې خپرېده او همدا ؤ چې فهرست یې د کتابونو د فهرست بڼه غوره کړه .

ددوهم نشراتي کال له پیلېدو سره سم سراج الاخبار هم په حروفي چاپ خپور شو او په دې ډول یې په مطبعه کې د حروفچینې او زینگوگرافي ځانگړې انستلې شوې نو دوهم نشراتي کال یې نه یوازې داچې د زماني له بدلون سره مخامخ شو بلکه د طباعتي وسایلو او لوازمو له پلوه یې هم پر اختیا او بدلون په برخه شو. د دوهم نشراتي کال دلومړي گڼې په لومړي مخ کې دامیر حبیب الله خان عکس خپور شوی او د عکس څلور خواوې د خط کشونو په وسیله ښکلې او نیولې شوې دي . له دې نه وروسته به په

سراج الاخبار کې حتماًیو یادوه عکسونه خپرېدل چې اکثره عکسونه په دپاچا ، شاهزادګانو او شاهي کورنۍ وو خو کله ـ کله به د هېواد د ځینو بر خوسنظري هم یکې کلیشه کېدلې .

دنوهم کال له پیلېدو سره سم دهغه شعار په ځای چې دخطکشونو تر منځ خپرېده داخبار دخپرېدونېټه خپره شوه او له همدې ګڼې څخه سراج الاخبار دلیږ دي (هجري) کالو نو په څنګ کې میلادي کال هم خپور کړ .

دخلورم کال دپیلېدو په نسبت دنو سوري کال لو مړ ی ګڼه تو له په جلادار کاغذخپره شوې او تر ییرمه دې کله ـ کله د ځینې عکسونو دخپرېدو له پاره هم ځینې پاڼې په جلادار کاغذ خپرېدلې . په سراج الا خبا ر کې د عنوا ن لیکنې او د عنوانو نو د ترتیب او تد و ین له پلوه څه نه څه کمز وري لیدله کېږي؛ سر مقا لې ، مقالې او عصر ي تو ل سر لیکو نه لري خو کله ـ کله خبر و نه بې عنو انه خپاره شوي دي. دعنوان په ځا ی پـــــه عصری‌توګه(خصو صاًپه خارجی‌خبر و نو کې ) دهغې اخبا ر نوم او تا ر یخ چې خبر تر ې ا خیستل شوی ر ا غلی د ی ا و په پا ی کې تو ل هغه مطالب چې له دې‌اخبار څخه په اخیستل کېدل، اخیستل شوي دي .

ښکاري چې دلیکو نکو نو مو نه عمو ماًدمضامینوپه‌پای کې‌لیکل کېدل.حتی په خپله‌مدیر یې هم سره له دې چې داخبار په تندي یې نوم خپرېده داخبار دمتن‌په‌پای‌او دهر هغه مضمو ن په‌پای کې چې‌لیکه به‌یې،لاسلیک کاوه .

څرنګه چې دسراج الاخبار دلو مړي کال ګڼې په‌ډېر ښ‌چاپ خپرېدلې ، بې ځایه نه ده دهغې کسانو نو مو نه‌واخلو چې دد ې اخبار په لیکلو او خطاطی کې یې ز یا ر یو ست، دلیکنې کا ر یې میر زا محمدجعفر کندهاري کاوه‌او

داهتمام کاربې دطرزي افغان دزوی حاجی عبدالخالق په غاړه ؤ .

په نوموړي اخبار کې خپنې رسمو نه هم لیدل کېږي چې د رسام او هنر مند نوم یې نشته خو ویلای شو چې بنایي رسامی یې هم دخطاط په وسیله شوې وي، ځکه خطاطان کله ـ کله په رسامی کې هم داوږده لاس خاوندان وي .

دسراج الاخبار متن ته یوه کتنه :

دسراج الاخبار روسپنی ګڼه د «افتتاح کلام» ترسر لیک لاندې داخبار دمدیر په مقاله شروع کېږي .

په دې مضمون کې دوخت پاچاته له کوروداني نه وروسته ،داخبار د تأسیس په هکله لیکل شوي :

«این یک ظاهر و آشکار است که «اخبارها» در ین عصر به مثابه زبان ملکها و ملتهاقایم گردیده است ودر وقت حاضر بجز اقوام وحشیه و بدویه هیچ یک دولت و قوسی از هیأتهای اجتماعیه موجود نیست که مالک اخبار نباشد.

په همدې مقاله کې ویل شوي چې :

«اخبار جمع (خبر) است که ضد آن ( بی خبری) است بر بنای مفاد این قضیه حکمیهٔ که (هر چیز بضدآن شناخته میشود) . بخوبی معلوم میگردد که از باخبری تابی خبری چقدر فرق است . »

داخبار مدیر په دې مقاله کې د اخبار د ګټو په باب داسې لیکلي دي :

«اخبار چنان یک آئینهٔ جهان نمائیست که در خانه نشسته انسانرا از احوال جهان باخبر میگرداند...» او زیاته کړې یې ده چې: «اخبار چنان یک تیغ عریان برا نیست که زبان بدخواهان غلط اندیش وطن را مقطوع میسازد ...»

په بل پاراګراف کې ویل شوي:«اخبار چنان معلم ادیبیست که انسانرا بدون

قیدو فشار برتحصیل و یادگرفتن بسی علوم و فنون عالیه شوق و رغبت میدهد...» او :
«اخبار چنان گلزار پر از ازهاریست که هر کس موافق طبع خود گلی از آن برچیده میتواند...
و الحاصل از مطالعه اخبار همه صنف مردم مستفید میشوند و شده میتوانند. »
له پورتنیو لیکنو څخه ښکاري چې داخبار مدیر خپل نشراتي هدف د خلکو د اصولو په پلوړاندې ښوده او په لږ غور سره موږ چې نننی اخبار لیکنه هم لږ او زیات په خلکو پر نسیپونو ولاړه ده او کېدلای شي دمحمود طرزي له خلکو او اصولو سره یې څه نه څه انډول کړو .

دژورنالیزم پوهان عقیده لري چې په ننني اخبار لیکنه کې د دوه ایزې مفا همې ( مفا همهٔ جمعی ) پوه او وسیله خلکو وظیفې لري چې: له خبرورکولو ( To Inform ) تعلیم ورکولو ( To Edusate ) پوختولو (To Animate) او روح ورکولو (To Enterain) څخه عبارت دي .

پورتني خلور گوني وظیفې د سراج الاخبار په مدیر په لیکنه کې په دې ډول لیدلای شو چې لومړی نو موږ ی: اخبار نه لید ونکې هنداره او د نړۍ دپیښو خبرو ونکی بللی، دوهم یې اخبار ښوونکی بللی او درېیم یې اخبار هغه بڼه ورته بللی چې هر څوک له هغې نه برخه وړي او په پای کې یې اخبار دوطن دبدخواهانو او غلط فکرانو سره دمبارزې وسیله گڼلی دی. دمحمود طرزی دری لومړنی اصله کېدلای شي د ننني خبري لیکنې له دریو پر نسیپونو سره تطبیق شي خو وروستنی اصل چې (مبارزه) ده د خلکو مامول په تناسب دیوې نشراتي وسیلې د وظیفې جزء ده څکه چې روح ورکول یکې نغښتي دي او له دې نه پرته په هغه وخت کې نشراتي مبارزه په ملي بڼه داستعمار په مقابل کې وه او لږ څه هم داجتماعی چارو دسمون له پاره سره له دې چې نن و رځ داوظیفه په ز یا تو ځا یو نو کې دسر بو طـــې

ټولنې دمشکلاتو او خنډونو لکه: کاختی، رنځ، بې‌سوادی‌او نورو په مقابل کې ده چې‌داوظیفه دخبر لیکنې یوه پوهیت «دلویو مبارزو» (۶) په نامه‌یاده کړه.

په هرحال‌څو پورتنی کرښې‌مو د سراج الاخبارد مدیر دلو مړی و یناپه رڼاکې وڅېړلې چې په‌حقیقت کې دده دخبر لیکنې اساسي ټکي همداوو. اوس‌داخبارمتن‌په لنډوول‌څېړو او په هغه کې‌پلټنه کېږي‌چې‌څه‌ز از مطالب یې درلودل او مطالب‌یې څر نګه پاخه شوي دي.

دسراج‌الاخباردوړومبۍ ګڼې د متن له لو ستلو څخه ښکاره شوه چې: لومړی په هغه کې یوه سر مقاله خپره شوې چې د دې لیکنې په سر یزه کې یې مطالب وړاندې شول.

دوهمه‌موضوع چې له سر مقالې نه وروسته راغلې « کورنی پېښې » دي. تردې عنوان لاندې هغه ټول خبرونه او پېښې چې دافغانستان په سر کزاوو لایاتو کې پېښېدې راتللې. داهم باید یاده کړو چې د څو لومړیو ګڼو په ګڼو کې کورنیو خبرونه د بانډنیو خبرونو په تناسب کم دي چې ښایي ددې کار علت دوسایلو کموالی او دکافي پر سونل نشتوالی وي‌او هم دداخلي پېښو تر عنوان لاندې ز یاتره دولتي خبرونه خپاره شوي دي.

سراج‌الاخبار کله ـ کله دځینې خبرو نونه‌وروسته د یوې پېښې په هکله تأییدي یاتردیدي تبصره هم کوي چې دا کارله تننی خبر لیکنې نه لږڅه

(۶) دا اصطلاح پروفیسرا و دهولګرن چې دفولبرایت داداری له خوا کابل ته رالیږل شوی‌او د ادبیاتو دپوهنځی میلمه ؤ، وو یله.

لیري دی څکه چې نن «مفکوره» (چې داخبار د مدیر، دمو ضوع د متخصص یادخلکو وی) په عمومي توګه په یوه بېل او د مفکورې یاسر مقالې په ډول کې راځي او خبرونه دمدیر یاخبر لیکونکي دمفکورې نه بېل په آفاقي ډول په نورو سخونو کې خپریږي .

دسراج الاخبار په متن دریمه برخه د«حوادث خارجیه» تر عنوان لاندې دخارجي خبرونو څخه عبارت ده چې عموماً له خارجي اخبارو څخه ترجمه او اخیستل کېدل له هغو ځنګه چې خارجي خبرونه له اخبار عام (۱۹۱۱، سپتمبر، ۱۸ ګڼه )، اخبار وکیل(۱۹۱۱ دسپتمبر ۲۳ ) اوږو خبر هم له نورو کې اخبار څخه تر جمه او نقل شوي دي .

څلورمه موضوع له ادبیاتو څخه عبارت ده او لومړنۍ ادبي مقاله دشاهي مدرسې دمدرس او دسراج الاخبار افغانستان دناشر او مدیر مولوي عبدالرؤف په قلم لیکل شوې ده .

دسراج الاخبار په لومړي ګڼه کې وعده شوې چې دلومړنکو د خوښې او ساعت تېرۍ له پاره به د «فاجعه های پاریس » تر عنوان لاندې ناول خپر یږي .

دخبرونو دلیکنې ډول او سبک شکاره وي چې په هغه وخت کې که داخلي خرونه وو او که خارجي د « افتتاحیې » په لیکنه کې نه د «خبری عناصرو » اهمیت په ترتیب سره نه لیکل کېدل او هم اکثره خبرونه د پېښې د ترتیب په اساس لیکل کېدل . د خبري عناصرو د اهمیت په اساس د ترتیب

په برخه کې باید ووایو : په هغه ځای کې چې خبر باید په « څه» ؟ (*) شروع شوی وای، نه دی شروع شوی او په ځای یې دخبر دپېښېد و نیټې او ځای ته دلو مړی درجې اهمیت ورکړی شوی دی او یا هم ځینې نور جزوي او ضمني مسایل راغلي او وروسته له هغه «څه؟» چې په حقیقت کې لومړی درجه اهمیت لري ، لیکل شوی دی . د نمونې په ډول دا ستا نبول دلو یې او رالګېدلې خبر داسې شروع شوی دی :

«درتاریخ ۲۶ رجب گذشته درشهر استانبول درروز جشن پسروزملی شان که همه عثمانیان برای اظهار شادمانی و سرور گرم فرحت بود ند درنفس استانبول یک آتش زندگی خانمانسوزی ظهور نمود. »

په دې خبر کې رښتیا هم ډېر سهم خبر «داوړ لګېدل» دی چې دخبر له «څه؟ » څخه عبارت دي او افتتاحیه بنا یې چې په هغه پیل شوی وای. خو په ځینې خبرونو کې حتی دمعکوس هرم (۷) طرز هم لیدل کېږي لکه څرنګه چې د همدې ګڼې په ۹ مخ کې لاندینی خبر په کوم ډول چې لاندې دی لیکل شوی دی:

« باغیان البانی از جبل اسود واپس شده بخانه های خود رسیدند. »

---

(*) دخبر لیکنې شپږ لوی رکنه: «څرنګه؟ ولې؟ څه ؟ چا ؟ څه وخت ؟ او چیرې؟» دي چې په دری کې یې دری« کـ»او دری«چـ»: «چطور ؟ چرا؟ چه ؟ که؟ کی؟ کجا؟»بولي . «ر»

(۷) معکوس هرم په داسې ډول دیوه خبر لیکلو ته وایي چې سرتر پایه پورې دخبربیلې — بیلې برخې داهمیت دترتیب په اساس و لیکلې شي .

په دې خبر کې «چا؟» لوړې درجه اهمیت درلود او ورکړل شوی دی.

د لومړۍ ګڼې د څلورم مخ د کورنیو خبرونو په برخه کې د کوچني اختر د خبر افتتاحیه په دې ډول راغلې ده:

«بوقت شام روز یکشنبه سلخ ماه مبارک رمضان هلال غره ماه شوال المکرم خیلی ظاهر و نمایان در نظر همگان جلوه گر گردیده بنوا خته شدن سی و یک فیر طوپ فردا ثابت بودن عید سعید صیام من بعد یدفطر اعلان گردید.»

په دې افتتاحیه کې ډېره مهمه او په زړه پورې برخه داده چې لومړنۍ ته وایي سبا ته اختر دی او دا برخه د لیکوونکي په عقیده د ۳۱ توپونو له ویشتلو نه شروع او د جملې تر پایه پورې اوږده شوې ده. د نورې افتتاحیې لومړۍ برخه له دوهمې او درېیمې درجې مطالبو نه پرته نور څه نه دي. خو د مخکیني خبر لیکنې په تناسب سراج الاخبار په نوې روحیه پیل کوي ځکه ډېر لیدل کېږي چې د خبرونو جملې یې د اهمیت په لومړۍ درجه کې وړاندې کېږي: لکه څرنګه چې مخکې ادکو چني اختر په خبر کې لومړی د اختر په باب خبر ورکړل شوی دی او وروسته له هغه د «مشرف کېدو»، د عیدګاه د سراسمو، په سلامخانه کې د پاچا د وینا او له هغه ورسته نورو وروسته د خوراک او څښاک په باب خبرې شوې دي.

څرنګه چې نو موړی اخبار په سیاست کې دوه ځلې خپر یده نو ځکه د بشپړې او منظمې لیکنې ضرورت یکې لیدل کېده او دا روحیه په سراج-الاخبار کې رښتیا هم تعقیب شوې ده. لکه په لومړۍ ګڼه کې دروژې او کوچني اختر او په دوهمه ګڼه کې د نیل آب د پله د پرانستلو خبر او نور.

Property of ACKU

داخبار متن دلو ستونکو د پو هېدو او درک کو لو له پلوه بیاهم د پا ملر نې وړ دی ځکه هغه سو یه او پو هه‌چې په هغه وخت کې خلکو درلوده نوو یلای شو چې ډېر کم کسان پرې پو هېدلای شو ای خو بیا هم دېخوانیو خپر و نو په تنا سب یې متن ساده او عام فهمه غو ندې‌دی .

اکثره مطالب یې له سر یزې نه وروسته چې په هغه کې د یوه مطلب دلیکلو علت څرگاره شوی،پیل شوي دي. بنایي وو ایو چې داډ ول سر یزه په مقالو او سر مقالو کې را تلای شي‌خو په خبري مو ضو عاتو کې له پر نسیپ نه لیرې دېو ه نمو نې په تو گه د پنځمې گڼې په پنځم مخ کې‌د کابل دهوا خبر په دې‌سر یزه پیلېږي :

«درین سال فرخنده فال زمستان دهشت رسان شهر شهیر دلپذیر ســا (کابل )چابکدستی و چالاکي عجیبی در ورود زحمت آمود خود اجرا نمود بادهای شمالی کو ههای پر برف‌هندو کش بشدت تام درو ز یدن آمده ، با ابر های‌قسوت انگیز ... »

په‌دې‌خبر کې‌له ډېرو کرښو نه وروسته‌په‌وروستۍ برخه کې‌ویل شوي چې په کابل کې لو سړ نې واوره وشوه ،داډول نمونې ځیاتې مو ندلې کېږي‌چې مونږ همدایوه نمونه راوړه .

دمطالبو دلیکلو، تر تیب او تبو یب داروش له لو مړ ی گڼې نه‌ېر ته په نورو گڼو او حتی راوروسته کلو کې څه نه څه لیدل کېږي خو بیا هم هر څومره چې د دې اخبارعمر تېرېږي هما غو مره د پر اختیا او پرمختگ په لورگام‌اخلي. داپر اختیادهغه په هره برخه کې لید له کېږي ، مثلاً دخبر و نو ،علمي او معلوماتی مقالو په څنگ کې د مشغو لو و نکو مو ادو

پر اختیار هم په نظر کې د ه لکه څرنګه چې په دو همه ګڼه کې د مشغولوو نکو مطالبو په لړ کې د «ادبیات» په ستون سربېره د «سخنان لطیفه آمیز» تر عنوان لاندې مطالب او د یوه جرمني شعر ژباړه هم خپاره شوي دي.

بر سېره پر دې دلوستونکو دمعلوماتو دزیاتوالي په غرض د «علم ثروت» تر عنوان لاندې هم یو مضمون خپور شوی دی. داخبار مدیر چې د «علم ثروت» ستون یې په څېله ژباړلی ددې ستون دپیلو لو په باب په یوه لنډه سریزه کې دعلمونو او فنونو یا دونه کوي او وروسته د پانګې علم دهغوی له ډلې څخه یو علم ګڼي اودثروت دعلم زده کړه دخلکو دنن او سبا دهوسا یی او نیکبختی سبب ګڼل شوې ده.

دسراج الاخبار په دو همه ګڼه کې د «فاجعه های پاریس» تر عنوان لاندې داستان شروع کېږي چې داد استان هم په څېله د محمود طرزي له خوا ژباړل شوی او لکه څرنګه چې پخوا مو هم وویل داستون دلوستونکو دسرګرمی په غرض ترجمه او خپور شوی دی.

همدارنګه په دې ګڼه کې د نړۍ په هکله ځینې آفاقي معلومات او لوستونکو ته نصیحت خپور شوی دی ، د نمونې په توګه د «سانچستر» دښار د صنعتي فعالیتونو او د مځکې په تووله کره کې داوسپنې د کانونو استخراج (چې ......... لیکل شوی ) په باب معلومات خپاره شوي دي.

په نوموړې ګڼه کې د «آخرترین خبر های دارالحرب» تر عنوان لاندې مطالب لوستل کېږي چې د اخبرونه دایتالیا او عثماني دولت د هغې وخت دجګړې په هکله دي.

په دریمه ګڼه کې دلو سرې او دو همې ګڼې په مطالبو سربېره د «مقالات

صحیه وطبیه »عنوان‌نوی زیات شوی او دلو سړي ځل له پاره د«کورنی روغتیا» په هکله‌تر دېعنوان لاندې یوه مقاله خپره شوې ده .

دې‌دوره چې د کورنیو او باندنیو خبرونو نه پرته نورتوول مطالب د سدیر په واسطه پالیکل شوي او یاژباړل شوي دي .

څلورمې او پنځمې کنې‌هم همدا ډول مطالب خپاره کړي دي‌خو په‌پنځمه کنه کې داخلي‌خبرونه لږ څه زیات‌دي‌او په دې کنه کې دلو سړي ځل له پاره یو تیلفوني خبر چې جلال آباد ته داسېر درسېدلو په باب دی خپور شوی او سر بېره پر دې‌خبر نګه چې دژمي دراتګ او ختځونو د کابل دهوا او دلو سړ نی‌او رېداو ربلونې په باب‌هم څو کرښې خپرې شوې دي . په راو روسته کنو کې تر څو چې ژمی نه‌ؤ وتلی تل یو-یوخبر د کابل دهوا په باب‌خپور شوی دی.په پنځمه کنه کې دکرچه وړ خبره داده چې د «علم ثروت»،«ادبیات »او «داستان »اختصاصي ستونونه نه‌دي خپاره‌شوي او د هغه دنه‌خپرېدو علت هم ښایي دخبري مطالبو زیاتوالی وي ، ځکه‌په نوموړې کنه کې یو زیات شمېر خارجي خبرونه‌خپاره شوي چې‌له زیاتو او بېلو-بېلو اخبارو څخه ترجمه او اخیستل شوي دي، اختصاصي ستونونه پــه شپږمه کنه کې بېرته خپاره شوي .

په اوومه کنه کې دتېرو کنو په اختصاصي ستونو سربېره د«نامو ران زنان‌جهان »او «مقالات فنیه »تر عنوانو ېنولاندېنوي ستونونه هم لوستل کېږي. د«نړۍ نامتو میرمنې »تر سرلیک لاندې لیکل شوي :

«برای‌فایده‌بر داشتن‌بی‌بی های مستورات‌و بیگمهای‌مخدرات وطن عزیز خود، احوال زنان مشهور جهان را گاه‌گاهی درج اوراق سراج الاخبار

سینمائیم» د اخبار مدیر زیاته کړې ده: «حتی اگر کسی بر ما ایراد بگیرد که هنوز در صدیکی میان مردان پیدا نمیشود و از مطالعهٔ سراج الاخبار فایده نمی گیرد چه جاییکه زنان؛ اینچنین اعتراضات مدرا مانخواهد شد، چه هیچ ملتی نیست که از ابتدای ظهور خود عالم و دانا و صنعت گر بدنیا آمده باشد.» لنډه دا چې د ښځې هم حق لري د مدني ژوندانه نه ګټه اوچته کړي په هکله یې له زیات بحث او استدلال نه وروسته لیکلي: «بنابر همین امر سر از این شماره راجع به تعلیم و تربیهٔ خانگی نسوان در باب سر رشته داری خانه، تربیت اولاد، محافظهٔ ناموس و عصمت و سایر چیزهائیکه موجب فایده بر داشتن طایفهٔ نسوان باشد بحث میرانیم و در ترجمهٔ احوال و اعمال و اقوال زنان مشهور ... ثبت صحیفهٔ عبرت میتما ئیم.» (۸)

نوموړي زیاته کړې ده چې د دې ستون له خپرولو څخه یې دوه مطلبه درلودل یو دا چې افغاني میرمنې د خپل او خت د ښځو له حال څخه خبرې شي او بل په پای کې له هغې نه بشپړ او ځانګړی کتاب جوړ او خپور شي.

بل د «مقالات فنیه» عنوان دی چې د صنعتي چارو او د هغې د پراختیا په باب مطالب پکې خپاره شوي دي، د دې موضوع لوموړنۍ مقاله د بر بنا یه باب ده چې زیات معلومات پکې وړاندې شوي دي.

د اخبار د متنوع کولو په منظور په نهمه ګڼه کې پر پخوانیو اختصاصي ستونو سربېره د «علم تاریخ» تر عنوان لاندې یو بل ستون هم

(۸) وروسته به وویښو چې د محمود طرزي میاندینې د ښځو له پاره د «ارشاد النسوان» په نامه یو اخبار خپور کړ چې تر ډېره حده یې د همدې هدف پر مخ بیول په غاړه و.

زیات شوی دی، داخبارلیکونکی ددې ستون په باب د یوې سریزې په ترڅ کې لیکي:

«بنابر منافع و فواید یکه تاریخ دارد، بعد از ین نسخه های روزنامهٔ سراج الاخبار به بعضی لوحه های تاریخی نیز تزئین صحایف نموده و مطالعه کنندگان کرام خود را مستفید مینماید .»

همدا راز لهدو و لسمې گڼې څخه چې داخبار مخونه ۱۶ ته لوړ شوي یو بل ستون هم د نظامي چارو او عسکری وظایفو په باب زیات شوی دی . داخبار مدیر پهدې باب لیکي:

«باوجود آنکه سراج الاخبار یک اخبار عسکری نیست ولی بنابر خواهش بعضی برادران صنف نظامی ما مجبور شدیم بعضی صفحه های روزنامهٔ خود را به سخنانی متعلق بهعالم عسکري و فایده برداشتن صنف نظامی باشد نیز زینت بخش انظار مطالعه کنندگان کرام نمائیم .»

دسراج الاخبار دلومړي کال نوري گڼې هم تر ډیره حده لکه چې خوانیٔ یادې شوې گڼې غوندې دي او هم و روسته نور ستونونه لکه «عالمهای ژاپان» او نور یکې زیات شوي او یا یې هم داسې مطالب لکه د کتابخانو اهمیت او نور خپاره کړي دي. په هر حال دسراج الاخبار دلومړي نشراتي کال له گڼو ته په بدونه و روسته دغه دمدیر دو یناله مخې :

«این گرامی نامهٔ وطنی... هرچه که گفته از بهبود وطن گفته و هرچه که نوشته درمدافعهٔ وطن نوشته... از هر گلشن و هرچمن خلاصهٔ مواد عطریهٔ علوم و آداب نافعهٔ مفیده را جمع کرده شهد معلومات و باخبر یها را علی قدر امکان بر اذهان مطالعین کرام خود عرضه نموده ...»

Property of ACKU

د سراج الاخبار نه را وروسته کلو له څخه څکاري چې دې اخبار د خپل ټول نشراتي عمر په موده کې تل کلي او متینه لاره وهله او لازم پر مختګونه او بدلونونه پکې راتلل. په ټولو نشراتي کلو کې یې عموماً کورني خبرونه ترمیم شوي دي او داخبار په څولو برخو کې به خپر بدل .او روسته له هغې به خارجي خبرونه وواو وار په وار څېني علمي او معلوماتي مقالې هم پکې خپرېدلې.

دسراج الاخبار د پنځم کال له پیلېدونه وروسته اختصاصي ستونونه لکه «علم ثروت»، «فاجعه های پاریس» او نور نه لیدل کېږي او په ځای یې له سرنه تر پایه پورې په عمومي توګه داخلي او خارجي خبرونه خپاره شوي، همدارنګه دعکسونو خپرېدل هم زیات شوي او دامیر او شاهزادګانو له عکسونو نه پرته دهېواد د ځینې تاریخي منظرې او آثار هم خپاره شوي دي او دځینې خارجي ښارونو عکسونه هم پکې لیدل کېږي، په دې کال او را وروسته کلونو کې عکسونه دومره زیات شوي چې کله ـ کله یو بشپړ مخ هم نیسي او ښایي د اختصاصي ستونو دله منځه تګ علت هم همداوي چې خبري مطالب او هم خبري عکسونه او نور زیات تر لاسه کېدل.

د «ادبیات» دستون په هکله باید ووایو سر بېره پر دې چې په اخبار کې پاتې شو په زړه پورې ځای یې هم ونیو چې له نوموړي کال نه را وروسته ادبي ستونونه اکثراً دا خبار د سر په پا نو کې خپرېږي، د «ادبیات» برخه زیاته شعرونو او بو للو (قصیدو) نیوله او ځینې پښتو شعرونه هم پکې خپرېدل. په دې کال او را وروسته کلونو کې داخلي خبرونه، هم د موضوع له نظره او هم د ترتیب او تدوین له پلوه متنوع او په زړه پورې شول، د داخلي

خبرونو په برخه کې دولایاتو دوېش په اساس یو ډول تصنیف او وېش لیدل کېږي، دداخلي خبرونو مطالب هم لکه: دباران اوږلی اوربدل، د اورلګیدل اودسیلاوونو اتلل اونور دي چې داخبرونه سربېره په رسمي او د ولتي خبرونو یکې لیدل کېږي .

دیادونې وړده چې له اوو سې ګڼې نه راوروسته دسراج الاخبار دمدیر اوسر محرر محمود طرزي نوم هم په محمو دافغاني اوړي او د هغې علت یې هم دشپږم کال په پنځمه ګڼه کې داسې یاد کړی چې طرزي دده دپلار تخلص ؤ اوسره له دې چې هغه په خپله ورته ښښلی ؤ خو محمو د طرزي داښه ونه ګڼله او ددې کال په اوومه ګڼه کې یې په محمو دافغاني واړاوه.
د «پاروونکو»(ولوله انګیزو)(۹) مطالبو په خپرولوسره یې دهېوادوالو د ملیت غوښتنې حس راپاراوه او دناپوهۍ او خرافاتو سره دمبارزې په باب یې لارښوونې کړېدي. په کورنیو خبرونو کې یې له دولتي او رسمي خبرونو نه نیولې دماموړینو دمقررۍ او عزولی، عکسونو او د ځینې غلاؤ تر خبرونو پورې خپرول. او په دې ډول سره یې لوستونکو او هېوادوالو ته دخدمت په غرض زیات وخت په تلقین، تبلیغ او خپرو تېر کړی دی.
داخبار لوستونکي او تیراژ:

---

داخبار مدیر ددوهم کال په ۲۰ ګڼه کې د «ختام سال دوم» تر عنوان لاندې لوسرې ددې خدمت دسرته رسولو په سبب خوښي ځرګنده کړې او له هغې وروسته یې داخبار دلوستلو په باب لیکلي چې ځینې اخبارلولي او ځینې

---

(۹) داهغه اصطلاح ده چې محمود طرزی ډېره په ځای راوړې او په انګلیسی کې یې Yellow او یا Sensatlonac بولي.

Property of ACKU

يې نه لولې او له ځينې خواصو نه پرته هېچا د هېواد د دې خدمتګارې ورځپاڼې لوستلو ته هڅه نه ده کړې . نو موړي ليکي چې که چا لوستلو او که نه مونږ خپله وظيفه درنه بولو او خپرولو ته يې دوام ورکوو .

له دې نه ښکاري چې دسراج الاخبار لوستونکي ريښتيا هم ډېر کم وو ، ځکه په هغې وخت کې خلکو داسې سويه نه درلوده چې د اخبار له لوستلو سره مينه وښيي . په عصري توګه زده کړه او ښوونه نوې شروع شوې وه او هم ځينې کسانو د دينې تحصيلاتو په اثر نه غوښتل چې اخبار ولولي . تـــو دمحمود طرزي دو يناله مخې پورې خواصو اخبار لوست او بس .

دسراج الاخبار لوستونکي پر سربېره پر دې چې دافغانستان په مرکز او ولاياتو کې موجود وو د هېواد نه د باندې هم وو . د دې خبرې پته د هغه اعلان نه لګېږي چې د دوهم کال په پښتي کې خپور شوی دی ، په نوموړي اعلان کې سربېره پر دې چې داخبار د ګډون بيه په د باندنيو هېوا د و مخصوصاً هند ، ايران ، روسي ترکستان ، ترکيې او اروپا کې ښودله شوې د کار داسانتيا له پاره يې خپل ځينې نمايندګان هم ټاکلي وو چې په پېښور کې د ډاګخانې سررشته دار مير زا غلام حيدر خان ، په مشهد کې عبدالله خان او په بخارا کې دقره قلي پوستکو د خرڅلاو مامور حاجي غلام نبي خان دسراج الاخبار نمايندګان وو . دا خبره چې نوموړي اخبار په ترکيه کې هم لوستونکي درلودل که نه د دوهم کال په ۱۰ ګڼه کې خپور شوی ليک يې تائيد وي او په دې ليک کې يوه لوستونکي سراج الاخبار ته يوه کيسې (چيستان) رالېږلې ده . او هم څرنګه چې دافغانستان او بريتانيا تر منځ رابطه موجوده نو فکر کېږي چې هلته به يې هم لوستونکي درلودل . له دې

Property of ACKU

ټولونه پرته کاله چې د سراج الاخبار دستن دبا ندنی خبرونه په غور سره وګورو، ښکاري چې دسراج الاخبار او مدیر په هکله یې دخارجی ورځپاڼو ځینې خبرونه، لیکنې او تبصرې راا خیستې دی، داپه خپله ثابتوي چې په لندن مصر، هند او نورو ځایو کې چې دا اخبارونه خپرېدل هم سراج الاخبار لوستونکي درلودل.

همدارازدسراج الاخبار دپنځم کال په دو همه ګنه کې د« ماشین دوار » تر سرلیک لاندې دو مطلب خپور شوی او همدلته لیکل شوي:

«اماګر قارئین کرام اخبار شانزده صفحه یی سراج الاخبار خودشانرا که در هر پانزده روز یکبار بقدر هزار و ششصدنسخه طبع و نشر میکند در پیش نظر خودشان بگیرند و ماشین طبع آنرا که درماشین خانه است در تصور آورده و قس علی هذا...

درانحال ازین ماشین های دوار طبع که درینجا بیان آنرا میخواهیم بکنیم چیزی نخواهند فهمید ، زیرا ماشین طبعیی که سراج الاخبار افغانیه را طبع میکند بقرار مقاوله و قرار دادی که استاد مذکور با ما کرده است همین هزار و ششصد نسخه جریدهٔما را به پنج یاشش روزچاپ کرده میتواند . و بعد ازانکه در تمام ممالک محروسهٔ افغانستان و چیزی بخارج هم میرود و تقسیم میگردد باز هم بقدر یکصدو کسور نسخهٔ آن در ادارهٔما باقی ما نده میشود . »

او هم دسراج الاخبار ددریم کال په ورو ستی ګڼه کې د « ختام سال » تر سرلیک لاندې یوه اوږده مقاله خپره شوې او په هغې کې د سراج الاخبار په هره هفته کې د خپرېدو هیله ځرګنده شوې ده خو په ځنګه کې یې خواشینی ځرګنده کړې چې دا کار نشی تر سره کېدلای ځکه په مقاله کې ویل

Property of ACKU

شوي چې د جریدې خپرېدل او پر اختیاد ګډون کوونکو په شمېر پورې تړلي دي. همدارنګه په دې مقاله کې څرګنده شوې چې کله د سراج الاخبار د خپرېدو کار تر لاس لاندې ونیول شو، د وخت د پاچا د تو جه په توسن د دولت هغه مامورین چې د کال معاش یې یو زر کابلۍ یا له هغې زیات وو په حکمي ډول په دې اخبار کې د ګډون کوونکو په ډله کې په مجبوري شامل او په دې اساس په کال کې تقریباً یو زر او درې سوه کسانو په سراج الاخبار افغانیه کې ګډون کاوه او څرګنده شوې ده چې د همدې ګډون کوونکو د سرستي په اثر د اخبار کار او اداري خرڅ ګرځېده او له دې نه پرته د سراج الاخبار د لیکنې له مخې د خوش خبرېدانو شمېر له سلو کسانو څخه نه زیاتیده.

د سراج الاخبار په یوه بل ځای کې راغلي چې په عسکرو کې د اخبار لوستونکي د کرنیل (اوس جګړن) تر رتبې او په ملکي مامورینو کې د کرنیل له رتبې سرهسم یعنې د مدیر تر رتبې پورې وو چې د اخبار د ګډون بیه مستقیماً د دوی له معاش څخه ګرځېده او د سراج الاخبار حساب ته لېږدول له کېدله په همدې مقاله کې تأسف شوی چې د تجارو او نورو ډلو او هېوادوالو له خوا له سراج الاخبار سره ډېره کمه مینه ښکاره شوې ده او دا کار د سراج الاخبار له خوا د: «عدم استلذاذ لذایذ علم وعرفان و کمیابی هوس کاران علم آوری احوال جهان» په سبب بلل شوی دی.

د پورتنیو مقالو له عباراتو څخه څرګندېږي چې سراج الاخبار غالباً تر ۱۵۰۰ یا ۱۶۰۰ نسخو پورې خپرېده ځکه چې د دریم کال په ۲۳ ګڼه کې یې د داخلي مشترکینو شمېر ۱۳۰۰ تنه ښودلی دی نو دا تکل له مخې یې که سل نورې ګڼې د باندې استولې کېدې او هم یې غالباً سل ګڼې داداري له پاره د کلکسیون په غرض ساتلې کېدلې

Property of ACKU

نودسراج الاخبار د ګڼو مجموعی شمیر ۵۰۰ ۱ نسخوته رسیده خو دپنځم کال په مقاله کې په صراحت ویل شوي چې یو زر او شپږ سوه نسخې خپرېده .

په هر حال که ۱۵۰۰ نسخې او یا ۱۶۰۰ نسخې خپرېده نو که د عصر روحیه او د باسوادانو شمېر یې په نظر کې و نیسو داشمېر دېر اهمیت ورڅ دی.

دو همه موضوع چې له پورتنیوعباراتو نه ترلاسه کیږي دطباعتي ماشینونو بسیط ـ والی او د کارګرو والی یې دی ځکه چې شپاړس مخیز سراج الاخبار یې چې د چاپ شمېر یې یو زر او شپږ سوه نسخې ؤ په پنځو یا شپږ ورځو کې خپراوه سره له دې چې دا کار او سرګړ ۱۲ ساعتو نه کم وخت کې (د مخونو دیشپږ تابه او دمضمونو دپوره توب او سمتابه په صورت کې) ترسره کیږي.

دریم مطلب هماغه دجریدې د لوستونکو موضوع ده چې په هیوا د کې دننه او دهیوادنه دباندې و و او ځکه یې سره یې یادونه وکړه .

څلورمه موضوع داخبار داخلي لوستونکي دي چې په یوه عبارت دا لوستونکي هغه کسان و و چې تر یوزر او یا له هغې نه زیات کا بلیو معاش یې درلوداو په بل عبارت یې په نظامي رتبو کې تر جنرال او په ملکی رتبو کې دمدیر تر درجې پورې و و مجبور و و چې په دې اخبار کې ګډون وکړي .

پنځمه موضوع چې دسراج الاخبار له مقالو نه ترلاسه شوه داده چې دسراج الاخبار کارکوونکو داخبارستونو نه دهیواد دبهلو هلو او ګر و پونو دخوښې سره سم خپرول لکه چې لیدل کیږي دپنځو دنړۍ، دنظامي چارو ،روغتیااو نو رستونو نه په دایمي ډول خپاره شوي دي . خو د لومړي کال د ۲۳ ګڼې په یوه مقاله کې داخبار دلوستلو په باب له تجارو او نورو څخه ګیله شوې

Property of ACKU

او په همدی ګڼه کې لیکل شوي چې که دتجا رو له ډلې څخه یو څو تنو هم له اخبارسره علاقه ښو دلې و ای او ګډو ن یې پکې کړی و ای نو دهغوی دذو ق سره سم به مو په تجارت پو رې مر بو ط مطالب هم خپاره کړي و ای او هم که لږ پو ه ګړو نو داخبار له لو ستلو سره مینه ښکاره کړې و ای نو د کر نې په باب به مو هم ګټو ر ستو ن پر انستلی ؤ .

اعـــــلان :

په ننني خبر لیکنه کې د یوې خپر و نې دخپر ېد و ددوام او بقاله پاره داعلان خپر ېدل ډېر مهم دي او د ځینې ژو ر نا لیستا نو په عقیده دیوې نشر اتي و سیلې اختصاصي ثابته او سا لمه پا نګه بلل کېږي ، چې داپه خپله دشخصي او آزادو خپر و نو (نه دحکو متي،حز بي او سفکو ر وي اخبار و نو) مالي پانګه په لو سرې درجه کې داعلان له خپر و ني او په دو همه درجه کې داخبار دخر څلاو له لارې تر لاسه کېږي .

دسر اج الاخبار دلیکو نکې همله هماغه لو سر نۍ وخت نه دې کار ته پام ؤ او په خپله لو سرۍ ګڼه کې یې د «اشتهار» تر عنوان لاندې یو اعلان خپو ر کړی او پکې لیکلي یې دي چې که سو داګر ان او صنعتګرا ن غو اړي اعلان و کړي دیوې کر ښې بیه یو ه ر و پۍ ده او که له پنځه ځل نه ز یات خپل اعلان خپر و ل غو اړي دیوې کر ښې بیه یو غیر ان(نیمه ر و پۍ)اخیستله کېږي .
په هر حال په سر اج الاخبار کې داعلان خپر ېدل له هماغې لو سرۍ ګڼې څخه لیدل کېږي خو یو ازې دو مره ده چې اعلان یې ر سمي دی او په خپله په اخبار پو رې اړه لري. ددو هم کال دپنځمی ګڼې په ۱۶ مخ کې د لو سرې ځل له پاره یو اعلان لیدل کېږي چې لو ستو نکو ته د یوه نا و ل د خپر ېد و ز یر ی

Property of ACKU

ورکوي. داډول اعلانونه په راوروسته کلونو کې زيات ليدل کېږي، يو اعلان د کابل په شوربازار کې د هندوانو د مدرسې له پاره د يو مېنو ونکي د استخدام په هکله دى او بل اعلان د فارسي، انګليسي، اردو او نورو کتابونو د خرڅلاو په باب دى چې د هندوانو د مدرسې د سرمدرس له خوا ورکړل شوى دى .

د دوهم کال د سر ګڼې سره سم او مخصوصاً په سر کې د دوه رنګه پاڼو په زياتېدلو سره د سراج الاخبار د اعلانونو بازارتو د يږي چې د دې رنګه پاڼو د وه حتى درى مخونه د کتابونو او نورو په اعلانونو باندې ډک شوي دي. خو بيا هم څرنګه چې اعلانونو يې تر ډېره حده رسمي بڼه درلوده نو ځکه بيا هم ساده کته په يې ډېره کمه وه .

داخبار ليکو نکي :

سراج الاخبار سره له دې چې د محمود طرزي غوندې د يوه او پياوړي شخصيت (چې ژوند پېژندنه يې ډېرې پاڼې غواړي) په لاس کې و او زيات مطالب به يې ورته ليکل او ژباړل، نور ليکو نکي هم درلودل چې دلته يې د نومونو راوړل ضروري دي :

جناب علي احمدخان د امير د حضور ملکي «ايشک آقاسی» چې غالباً به يې درسمي راپوروونو او په عمراني او اجتماعي چارو پورې مربوطو خبرونو د تهيې او ترتيب په چارو کې ستره برخه درلوده، مولوي عبدالرؤف د شاهي مدرسي مدرس (او د سراج الاخبار افغانستان مؤسس) هم د سراج الاخبار له ليکونکو څخه و او په دې سر بېره د فيض محمد، عبدالهادى او عبدالرحمن نومونه يې هم د ليکونکو او ژباړونکو په ډله کې ليدل کېږي . عبدالرحمن د ارواښاد کاکا سيد احمدخان کندهاري زوى او د حبيبيې د ليسې فارغ و ؛ په سراجيه دوره

Property of ACKU

کې د مشروطه غوښتنې په گناه بندي ؤ خو کله چې په ۱۲۹۸ کال اعلیحضرت امان الله خان په تخت کیناست عبدالرحمن خان د حضور د سر منشي په حیث وټاکل شو او بیاد «پښتو سرکې» دوهم رئیس وټاکل شو، په دې برخه کې یې لوی خدمت دیولک او شپاړس زره دری کلمو پښتو کول او د یو ولس زره پښتو کلمو په دری تر تیبول دي چې دادا ساني دورې غوره آثار دي .

په ۱۳۰۵ کال کې عبدالرحمن د کندهار دښاروالي چارو دسمون له پاره د کندهار دښاروالي په ریاست وټاکل شو او د لته یې دښه کار په اثر دستور دوهمه درجه نښان تر لاسه کړ. په ۱۳۰۶ کال کې د کابل گمرک رئیس وټاکل شو او بیا هم د صادقانه کار په کولو سره لومړی درجه دستور نښان او ۱۲ زره افغانی نغدي ور کړل شوي. (طلوع افغان ، اووم کال، ۳۳ گڼه، د ۱۳۰۷ کال دجوزا ۱۰) د کورنۍ اړوږ په وخت کې بندي ؤ او له دې وروسته په ۱۳۰۹ کال کې د کابل ښاروالي د رئیس په حیث وټاکل شو خو څه موده وروسته بندي او شهید شو.

د اخبار سر لیکوال یا عنوان ایښودونکی ملاعبدالولي خان ؤ، د اخبار ژ نگوگر افان: سیداحمد، عبدالغني ، خالقداد ، عبدالحکیم ، یار محمد او سید ابو بکر وو .

د لته چې په ډېره لنډه توگه د سراج الاخبار پېژندنه سر ته ورسیږي ، لازمه گڼم څو هغه موضوعات او مسایل چې د سراج الاخبار او د هغې د کار کوونکو په باب د خبر نې او پلټنې و ړ ښکاري، لنډیز کړم او په دې وسیله د هغو محترمو څېړونکو او لوستونکو چې غواړي په دې برخه کې علمي کار وکړي توجه ورته راوگرځوم .

لومړنی موضوع چې باید تر غور لاندې ونیول شي په خپله د محمود طرزي شخصیت دی چې نو موړی نه یوازې داچې ژورنالیست ؤ بلکه د سیاست، ادب او اداري په برخو کې یې هم لوی لاس درلود او داد ده له آثارو او په سراج الاخبار کې دده له لیکنو نه په ښه ډول معلوم لای شو.

په دې برخه کې دوهمه موضوع د هغو لیکوالو او هنرمندانو پېژندګلوي ده چې د سراج الاخبار په خپرېدو او په زړه پورې توب کې یې زیاته برخه درلوده.

دریمه موضوع د سراج الاخبار د لیکنې د سبک او روش کره کتنه او څېړنه ده چې دا هم بنایي له دوو خواوو څېړل شي:

۱- د ژورنالیزم له پلوه.

۲- داد بیاتو له نظره.

دڅېړنې وړ څلورمه موضوع د سراج الاخبار له سیاسي مبارزې څخه عبارت ده چې دا کار تر ډېره حده د باندنیو هېوادو نوسره اړه لري.

پنځمه موضوع په افغانستان کې د ننیو چارو په باب د سراج الاخبار مبارزه ده چې دا په خپله ډېره پراخه او په زړه پورې موضوع ده او په ټولنیزو فرهنګي او اجتماعي چارې پکې راځي. او په پای کې د سراج الاخبار د چاپېر او محیطي شرایطو څېړنه هم یوه په زړه پورې موضوع ده.

سانسور شوې سرمقاله:

(*) موږ مخکې یاده کړه چې د سراج الاخبار یوه وظیفه هم له استعمار سره مبارزه او د افغانستان د خلکو و یښول و و، په دې لاره کې د سراج الاخبار

(*) دا مطالب «د سراج الاخبار وروستی عمر» تر عنوان پورې د ژباړونکي له خوا زیات شوي دي.

هیوادپال مدیر له هیڅ ډول هڅې او زیار څخه ځان نه دی سپمولی ، کله یې په اشاره او غیر مستقیم ډول د وخت مسلط استعمار غندلی او کله یې بیا په واز کومې د خپل مظلومیت غږ پورته کړی ، خپل خلک یې د استعمار له دسیسو څخه خبر کړي او د خپل گران هیواد د بشپړې خپلواکۍ تر لاسه کولو ته یې هڅولي دي .

په دې برخه کې یوه هم دا روایت د محمود د طرزي هغه سر مقاله ده چې د «حی علی الفلاح » تر سرلیک لاندې یې لیکلې او د پنځم کال په لسمه گڼه کې یې د ۱۳۳۴ کال د لومړي خور په لومړۍ ، د ۱۹۱۶ ع کال د جنوري په ۷، د ۱۲۹۳ ش د وږغومي په ۱۶ نیټه چاپ کړې ده ، خو استعمار او گوډاگیان یې د وسره هوښیار او بیدار وو چې د امقاله یې تر نشر وروسته سانسور کړه او پرې یې نښوده چې خلکو ته ورسیږي، علامه طرزي مجبور شو چې د سراج الاخبار په دې گڼه کې د دې سرمقالې په ځای بله سر مقاله خپره کړي. د هغې وخت یوه روښنفکر ځوان چې په مطبعه کې یې کار کاوه، د دې سر مقالې یوه چاپي پاڼه له ځانه سره وساتله او څو کاله وروسته د دې شخص په وسیله د هیوادلوی مؤرخ او لیکوال استاد حبیبي ته ورسیده ، له هغه چې د نوموړي پوهاند په وسیله خپره شوه او په دې وسیله د علامه محمود طرزي دوطنپالنې یوه بله لویه وثیقه د افغان ملت مخې ته وړاندې شوه ، په دې سرمقاله کې د استعمار او استعمارچیانو پر فجایعو رڼا اچول شوې او افغانان د خپل هیواد بشپړې خپلواکۍ ته پکې هڅول شوي دي څرنگه چې له یوې خوا دا مقاله ډېره ارزښتناکه ده او له بله پلوه د سراج الاخبار په کلکسیونو کې نشته نو ځکه یې دلته بشپړ راخیستل لازم او په زړه پوري بولم:

Property of ACKU

«نوا را تلخ تر میزن چو ذوق نغمه کم یابی
حدی را تیز تر میخوان چو محمل را گران بینی

آری، آری! هر آنقدر که میتوانی نوا را تلختر بزن! همانقدر که در حنجرهات بگنجد، حدی را تیز تر بکن! زیراوقت مانند نفسهای آخرین بیمار در گذراست و محفل بیخبر. تا بخواهی که آهنگ نغمهٔ آسارا راست کنی، سرود نوای شام کلیانی بیوقتی تا به اصفهان و حجازت می کشاند! چرا که منزل خیلی دراز است و محمل بدرجه یی سنگین میرود، که صداهای حدی باآوازهای دراهاد مساز آمده شرق و غرب رادر یک اهتزاز سامعه خراشی در آورده اما هزار افسوس که شتران بار بردار محمل یارغمگسار را از کسالت و عطالت و انمیرهاند و قدم از قدم بر نمیدارد.

«بشنو! بشنو! که نوای هر نغمه رامقامیست و ذوق و آهنگ هر مقامی باوقت میعاد معین آن کامل و تمام و قتی چون مساعد آمد از فرصت استفاده کرده مقام مخصوصش را نواختن لازم می آید. که اگر مقام باوقت تمام نیاید، ذوق آهنگ درنغمهٔ او تار، تارو مار میگردد!

صبح شد بر خیز ساز راستی آسانو از    شام حرمان درعقب باشد چو وقت از دست شد

«مبلغین اسلام باىلاغ های حقیقت مقام نغمه ها میسر اید، حدیها میخوانند آوازهامید هد، فریادهامیکنند، بیدار شو یدگفته فغا نهابر میکشد، هشیار گردید، ندا ها کرده منادیها میدواند، اما که میشنود؟ که میخواند؟ که گوش می نهد؟ چند نفرمیفهمد؟ چندشخص میداند؟ چندتن بر میخیزد؟ کو! کجا! کی!

« آتشها افروخته میشود. جهانرا آتش فرا میگیرد. کرهٔ زمین شکل یک وولکان مهیبی را کسب مینماید، انفجار های عظیمی بعمل می آید. سیلابهای

مواد مذاب شده مانند اژدهاهای آتشین سهمگین از هر طرف سیلان می نماید؛ خشک، تر، خوب، بد هر آنچه در پیش رویش تصادف میکند پاک سوخته و محوه کرده میرود. از قعر بحر آتشفوران کرده بکرهٔ نسیمی تأثیر میکند بعوض باران رحمت از لکه های ابر ژیپلین ها قطره های بو سیه های غضب میریزد. بر که میریزد در کجا می افتد؟ بر ان نمرودها، فرعونها، شدادهائی میریزد، که بخداوندی بحر ها مدعی شدند، شیپور کج و پیچ ادعاهای خداوندی بر ما رابر کمر آویختند و در بیرق بر افراشتند. ملیونها ملیون نها بشریت رااسیر عبید خود ساختند. چه استقلالها، چه آزادیها، چه حکومتها را پایمال نمودند؟ چه خانمانها، چه خاندانها رابر باد کردند؟ هنوز هم خیالها دارند که چها کنند و چه تقسیمهای برادرانه و چه کاسه بخشیهای خویشاوندانه بکار برند!

«الله، الله، ! «ما در چه خیالیم و فلک در چه خیال»! فرعونی دعوی ربوبیت میکند، دماغ شکنی در خانهٔ خودش تربیه شده سر میرسد و بیک عصامانند سنگ بقه در قهر قلزمش غرق مینماید! نمرودی بدعوی الوهیت بر می خیزد، پشهٔ پاشکسته، بمغز خوردنش مامور میگردد! پرگارداران پرکاری ظهور میکند یک نوک پرکارخود رابر یک نقطهٔ وحیده غرب و شمالی گذاشته دیگر نوک آنرا بر هر طرف کرده دور داده، در خر بطن عالم هیچ قطعه و نقطه رانه بینی که از اثر خون آلود نوک پرکارغدارانه اش خالی مانده باشد! بحرها از منست برها از منست، در قطعه های پنجگانهٔ زمین اراضی های واسعه از منست ممالک فسیحه از منست. نفوسهای بی شمار سیاه، سرخ زرد رنگارنگ از منست. طلاها و نقره های بیحساب شوخ و

Property of ACKU

شنگ ازمنست . درعالم وحیدمنم،بر نفوس بشر جبارعنید منم ، ذوالبطش شدیدمنم، سدسدید منم، درهای همه ابناهای عالم را کلید منم ! منم ، منم دیگر نیست،همه هستیها دربر هستیم باشد نیست!...

«دیدی که چطورشد؟ ازاصل سر کزش، بلی بلی ! تام ازاصل سر کزش یک دینامیت کفید، همهٔمحیطش‌رابلرزه درآورد ، آتش درداد، سوختاند ، داهیه های عظمایی که عالم راانگشتری انگشت خود سپد انستند ، عقل های خودراگم کرده حیرت زده شدند . خزینه ها یی که گویازمین ازبر داشتن آن بستوه آمده‌بود و ازکره‌ٔ‌دادسیخواست‌بدرجه‌یی‌خالی گردید که تخته های زیرین صندوقهای آن‌پدید ارآمد ! خرسها ی سفید قطب شمالی صورت شیر های‌برفی راگرفته،انجماد یافت ، ناخنهایش درکفها یش فرو ریخت ، آتشها، دودها، بخارهامنجمدش ساخت ! بلی بخت چون بر گردد آتش کار برف میکند !

«بماوشما چه؟ببلای‌مابدردما ! خدااز ینهم بدترش کند ! ساغم خود را بخوریم‌بحال‌خودبیندیشیم.هر نغمه یی که میسراییم ازخود بسراییم ، هر سازی که مینوازیم ازخود بنوازیم ، حادی حدی محمل خود شویم ، اما نوارا‌تلختر زدن‌لازم،حدی را تیز کردن ضرور !

«مراد از کلمه‌جمع (ما)مسلمان‌است، مقصد از تلختر نوازی‌نوا و تیز کردن حدی، صاف‌صاف گفتن پاک پاک فهمانیدن است .

«سراج الاخبار افغانیه »یک اخبار مسلمانیست،نه انگلیزیست نه‌روسی،نه فرانسویست نه تلیانی ، نه جرمنیست نه اوستریایی ، نه چینیست نه ژاپانی!صرف مسلمانیست در مسلمانی هم محض افغانیست .

هر چیزیکه میگوید هر نغمه‌یی که میسراید، هر نوایی که مینوازد، از نقطه نظر افغانیت میگوید از مقامات علویت افغانیت میسراید از نواهای شرافت ملیت مینوازد!

افغانیت که گفته شود، هیکل دلاوری و غیرت را بنظر باید آورد. افغانیت که گفته شود، مجسمهٔ دینداری و حمیت را در نظر باید تصور کرد، افغان همان افغانیست که در راه حفظ شرافت ملی خود، در راه آزادی و استقلال ملکی خود، در راه رهایی دادن ناموس وطنی خود، دایماً بریختن خون خود بفدا کردن جان خود، به رها ساختن مال خود، در مقابل دشمنان دین و وطن خود افتخارها مباهات هانموده است. دره‌های خیبر و بولان، جنگلهای کوههای پیوار، کرم، کوژک، آسمایی، شیر دروازه، میدانهای موشکی غزنی، میوند، وادیها، تپه‌های چهاردهی، بیمارو، سرنجان، قلعه‌های بالاحصار شیرپور، سرغاب، شغنان را ببینید که هریک شاهد عدلیست که اگر خاکهای هر نقطهٔ آنها را تحلیل کنید، بجز خون نجس دشمن دین و وطن را با خون مقدس فدائیان و رهایی‌دهندگان دین و وطن از دیگر چیزی ممزوج نخواهید یافت! افغان همان افغانیست که بشرافت قومی، و حمیت ملتی خود مینازد، بر خود میبالد! اگر افغان را بغیر از افغان هر چیزی بگویی یعنی ملکی یا بلخی حتی اگر ملائکه بگویی، هم گویا بخنجر زده‌اش خواهی بود!

«خود این عاجز در اثنای سیاحتهایی که در عالم کرده ام، بهر سر زمینی که رسیده‌ام، تا بایکی از افغانان هم ملت خود بر خورده‌ام، آن افغان را به حیثیت افغانی و شرافت ملتی خود بشدت و عصبیت فوق العادهٔ افغانیش متمسک دیده‌ام. حتی با یکی از علمای فاضل و فیلسوفی که اکثر عمر گرانمایهٔ

Property of ACKU

خود را بسیاحت و تحقیق و تدقیق احوال عالم و اطوار امم بسر آورده بود، در یک کشتی بخاری در بحر سفید ملاقی و همصحبت شده بودم که آن ذات محترم بمن چنین فرمود: «یقین دارم که شما ملت افغانیه استعداد و قابلیت آنرا دارید که یکی از ملل معظمهٔ غالبهٔ دنیا بشوید». و چون پرسیدم که: «آیا این را از چه استدلال فرموده اید؟» بجواب فرمودند که: من در هر جائیکه با یک افغانی تصادف کرده و پرسیده‌ام که: «شما کیستید؟» بچنان یک وضع مفتخرانه و شدت دلاورانه دست بر سینه زده و «من افغانم» گفته است که مرا حیران ساخته است. لهذا یک ملتی که به این درجه بشرافت ملتی خود مفتخر و بر غرور قومی خود متعصب باشد ممکن است که یکی از اقوام جلیلهٔ عظیمهٔ دنیا بشود».

«حی علی الفلاح ای ملت نجیبه افغانیه! شرافت ملتی عظمت قومی خود را محافظه کنید! استقلال و حاکمیت دولتی خود را صیانت نمائید! افغان که بدیانت و دینداری، بشجاعت و بهادری، بغیرت و ناموس‌داری در تمام دنیا مشهور و معروف شده باشد، آیا این را بر وجدان و ایمان و شرف و ناموس خود چسان گوارا کرده میتواند، که نام حمایت و تابعیت دولت اجنبی غیر دین و غیر ملت بر او بوده باشد.

«حاشا، حاشا! کلا، کلا! افغان به بسیار آسانی و خوشگواری مرگ را قبول کرده میتواند، ولی هیچگاه بهیچ صورت قطعاً قاطباً کلمات متعفنهٔ معده بشور آورند؟ تابعیت و حمایت را هضم کرده نمیتواند، معنی صاف و صریح تابعیت و حمایت این است که یک دولتی بدیگر دولتی بگوید که: «بغیر از من دیگری را نشناس، بغیر از من با دیگر دولتی حرف مزن، بغیر از من با دیگر دولتی عقد معاهدات

Property of ACKU

یا رابطهٔ مناسبات و معاملات سکن، بغیر از سن بد یگر دولت نه سفیر بفرست و نه سفیر قبول کن .

«معنی صاف و صریح استقلال تامه و آزادی کاملهٔ نیز این است که هر دولت در همه چیزهایی که در بالا مذکور گردید مستقل و آزاد باشد .

«دنیا بیک حال نمیماند، بشریت بر مدارج مختلفه سیر و دور میکند، طفل میباشد ، شیر میخورد ، جوان میشود ، شیرگیر میگردد ؛ بکمال میرسد خود را کامل میکند .»

بیا نوددی له پاره چې دوحت تحت الحمایه پاچا یې په غیرت راوستلی وی ورپسې لیکي:

«عصر سعادت حصر بادشاه غیور دین پرورشهریار جسور علویت منظر ذات اعلیحضرت (سراج الملة والدین) ایدالله بنصر مبین، عصر جوانی وجلال عصر کامرانی و کمال ، عصر ترقی و عروج، عصر تعالی و خروج افغانستان است ملت نجیبهٔ افغان بسایهٔ سعادت پیرایهٔ این بادشاه بیدار غیرت شعار دیندار مقدس خود ، بینایی ، دانایی، آگاهی حاصل کرده ، به خیر و شر به نفع و ضرر خود پی برده ، شرف آزادی قوسی حقوق استقلال ملتی خود را بخوبی شناخته ،تا بحال هر چه که بود بود، هر چه که شد، شد! لکن بعد ازین افغان آن افغانی نیست که از حقوق خود چشم پوشي بتواند »(۱۰) .

دارو اښاد علامه محمود طرزي له ټولو احتیاطو سره ـــ سره بیا هم دا سر مقاله د همغه پاچا په مخه کې چې ده یې افغانی غیرت راپارول غوښتل له نشر نه

---

(۱۰) ددې سرمقالې متن د محترم استاد ، پوهاند حبیبی صاحب له یادداښتو څخه اخیستل شوی دی .

Property of ACKU

مخکې سانسور شوه او د افغانانو لاسونو ته ونه رسېده خو د نورې علاقه کاراو د آزادۍ غوښتنې په لاره کې د ده هڅې په یوه یا د وو مقالو پورې منحصرې نه وې بلکه ده دوستره کار کړی ؤ او دومره کارېې وکړ چې د خپلواکۍ د تلوار په لاره هراړخیزه زمینه مساعده کړه، د افغانستان د خپلواکۍ د لارې خنډونه یې وکوټل او د وطنپرستانو زړونو ته یې ددې موقع مساعده کړه چې د هیواد د بشپړه خپلواکۍ تر لاسه کړي او د «حمایت» او «تابعیت» کړ غېږ نه نوم له منځه لرې کړي .

د سراج الاخبار پښتو برخه:

---

سراج الاخبار له هماغه لومړي پیل نه له ورو وروسته د «ادبیات» په ستون کې د پښتو شعرونو په خپرولو پیل وکړ او د لومړي کال په کلکسیون کې یې د یوې مقالې په ترڅ کې له یو لړ دلایلو او سندونو وروسته و لیکل چې: «پښتو دژبو نیاده!» په سراج الاخبار کې څپاره شوي پښتو شعرونه اجتماعي، ویښوونکي او دوطنپرستۍ له ولولو څخه ډک دي .

همدارازپه یوه بله ګڼه کې د پښتو ملي ژبې د تعمیم، ترویج، ودې او روزنې په باب او وابناد علامه محمود طرزي خپل نظر په صفا ـ صفا ټکو کې له یو شمیر تمهیدي خبرو نه وروسته په لاندې ډول څرګند کړی دی:

«...او لاینرا باید دانست که هرقوم و هر ملت بزبان قومی و ملتی خود زنده است. ملتی که زبان شان محو وضایع شود، هستی و موجودیت شان نیز نابود میګردد.

محافظهٔ زبان اصلی و فطرتی هر ملت بدرجهٔ محافظهٔ زندګی شان اهمیت دارد مارا «ملت افغان» و خاک پاک و طن عزیز مارا «افغانستان» میګویند .

Property of ACKU

چنانچه عادات، اطوار، اخلاق مخصوصی داریم، زبان مخصوصی را نیز مالک میباشیم که آن زبان را زبان (افغانی) میگویند. این زبان را ما نندحرز جان باید محافظه کنیم. در ترقی و اصلاح آن جداً کوشش ورزیم. تنها مردمان افغانی زبان نی، بلکه همهٔ افراد اقوام مختلفهٔ ملت افغانستان را واجب است که زبان افغانی وطنی و ملتی خود را یاد بگیرند. در مکتبهای ما اهمترین آموزشها باید تحصیل زبان افغانی باشد از آموختن زبان انگلیزی، اردو، ترکی حتی فارسی تحصیل زبان افغانی را اهم و اقدم باید شمرد.

«بفکر عاجزانهٔ خود مایگانه وظیفهٔ انجمن عالی معارف باید اصلاح و ترقی و تعمیم زبان وطنی و ملتی افغانی باشد. از ارباب علم و دانش این زبان یک گروپ مخصوص تشکیل یافته کتابهای تعلیمیهٔ ضروری و لازمی آموختن آنرا تدوین و حاضر باید کرد. حتی برای تطبیق دادن کلمات فنی و صناعتی و اختراعات جدیده که نامهای آن در زبان افغانی غیر معروف است کلمات مناسب و نامهای متناسب بزبان افغانی پیدا باید کرد و هر قدر اصلاح و ترقی که لازم است درانباب اجرا باید کرد.

«اینرا هم بگوئیم که زبان افغانی ما، یک زبان بسیار خوب و با قاعده می باشد. قواعد ـ یعنی صرف و نحو ـ آن بسیار متین و منتظم است. متانت و صلابت آن مانند متانت و صلابت خود ملت افغان مردانه و پر مهابت میباشد. و از ین است که بکمال فخر و سرور میبینیم که زبان عسکری دولت متبوعهٔ ما عموماً زبان ملتی افغانی است. همه بولیها و قوماندهها و تعلیمات قواعد عسکری نظامی بزبان افغانی نیست. زیرا صلابت و مهابت این زبان برای این مسأله

Property of ACKU

خیلی موزون و مناسب افتاده ، و یک شان و شوکت جسم را نه بقواعد عسکری بخشیده‌است. اگر بولیهای قواعد عسکری بزبان فارسی میبود بسیار سست و کشال و غیر موزون دیده میشد. مثلاً درمابین بولی فارسی :« ای بلی بمجی یک قدم به پیش» و بولی افغانی« پرمخ زاو » وبولی -«تفنگ را آتش‌ده » و بولی«او ور»و بولی«ای‌عسکرها ایستاده‌شوید» و بولی«دریژ » و امثال آنها فرقی که موجود است هر کس تسلیم باید بکند.

«درسال‌اول (سراج الاخبار افغانیه) یک مقالهٔ نوشته‌ثابت کرده‌بودیم که «زبان افغانی اجداد زبانهاست».

قارئین کرام ماآن مقالهٔ مخصوصه‌ما راباز یکبار ازنظر بگذرانند تابدانند که زبان‌اصلی و ملتی‌افغانی ماتاچه درجه یک زبان‌با اهمیت وطبیعی و قدیم یک زبانیست. با اینهم زبان افغانی از ادبیات وحکمیات هم خالی نیست و هم ادبیات بسیارشیرین و حکمیات خیلی نمکینی دارد که انشاء الله- سراج‌الاخبار افغانیه‌همیشه بعضی پارچه های رنگین‌ادبیات و حکمیات زبان اصلی ملتی خود رادرج صحائف افتخارخود خواهد نمود.

«ای نو نهالان‌چمنستان وطن!

زبان ملتی افغانی‌خود راتقدیس نمائید، و دوست دارید و درآموختن آن بسیار کوشش کنید. زبان رسمی و سیاسی فارسی خود رانیز بسیار دوست داشته بخوبی تحصیل کنید.» (۱۱)

(۱۱) سراج الاخبار،پنخم کال، ۳ گنبه ، دسیانی لومړی ۱۳۳۳/ دسپتمبرد وولسم ۱۹۱۵/دوری‌شلم‌م ۱۲۹ ، ۲-۳ مخونه .

Property of ACKU

دسراج الاخبار فوق العاده :

دسراج الاخبار دخپرېدو په دوره کې، هر کال دسراج الاخبار لهخوا یوه کلیزه هدیه وړاندې شوې ده په وروستي کال کې دا شوقتي هدیه په یوه دایمي هدیه بدله شوې او سراج اطفال یې په ځای خپور شوی دی - چې وروسته خبر ل کیږي -

دسراج الاخبار داهدیې چې تولې دا روانښاد علامه محمود طرزي په قلم دي، ډیرې کتورې او په زړه پورې دي چې کله په جیبي او کله بیا په لویه کچه خپرې شوې دي .

ددې کرښو لیکنې په وخت کې د سراج الاخبار د څلورم کال هدیه چې: «مختصر جغرافیای عمومی» نومیږي او دشپږم کال هدیه د «وطن» په نامه دلیکونکي په لاس کې دي چې لومړۍ هدیه په لویه ۱۵ نیم × ۲۲ سانتي متره او دوهمه په کوچنۍ ۱۱ × ۱۴ نیم سانتي متره کچه دي.

په لومړۍ رساله کې یې د نړۍ په عمومي جغرافیا رڼا اچولې او دوهمه رساله چې ډېره مهمه ده او د محمود طرزي له نظره په وطن پرستۍ او ناسیونالیزم رڼا اچوله شوې په ۹۸ مخونو کې خپره شوې او تر دې عناوینو لاندې یې مطالب وړاندې کړي دي: «تعریف، معنای لغوی وطن، وطن، وطن موروث، مسقط راس، منشأ، وطن متخذ، وطن حقیقی، وطن مشترک، وطن سیاسی، نتیجه، منظومهٔ عشق وطن .»

علامه طرزي په دې کوچنۍ رساله کې د وطن او وطن پرستۍ د ښېګڼې نه وروسته د هېواد زامنو ته لار ښوونه کوي :

«ای ابنای باتمیز وطن عزیز! برای ما تمام دنیا عبارت از وطن عزیز و مقدس

Property of ACKU

ما(افغانستان)است. ماچه کنیم دنیا یی را که از ما نباشد! از ماست. یعنی از اجدادما بماموروثاً انتقال نموده از ... سال با ینطرف از خود ما، از دین ما، از ملیت ما، از جنسیت ما، از افغانیت ما، حاکمیت واستقلال ما دران بر پاو سهایت نمانده است و انشاء الله تا عصرهای بی شمار خواهد ماند، و وارث ما، نشو و نمای ما دران شده است، سعادت خانهٔ مادر و پدر ما، آشیانهٔ استقبال اولاد ما همین خاک پاک گردیده است! از باغ ارم بماقیمتدار تر، از همه چیز بماعزیز تر، همین خاک پاک است! دین ما، عرض ما، ناموس ما، عشق ما، سودای ما، لذت ما، محبت ما، والحاصل در دنیا انسانیت ماعبارت از همین وطن مقدس ما، از همین خاک پاک معزز ما(افغانستان) است! اگر کسی بخواهد که آنرا از دست مابگیرد، گویا همهٔ این چیزها را از ما سلب کردن میخواهد و ما را از عالم هستی بیرون آوردن، و در عالم سیاه عدم انداختن میخواهد، بنابرین برمالازم است که دایماً وطن خود را دوست داشته باشیم. و برای محافظهٔ استقلال— حاکمیت دولتی و نگهبانی شرف و آزادی ملی خود ما باید دست حرص وانهماک و دندانهای غضب وتپاک برای از دست ندادن آن بمدافعه و جانسپاری، بسر و مال، بجان و عیال در مقابل دشمن دین و وطن خود که در هروقت چون فرصت یافته خنجر جان شکاف غدر و ستم خود را بر جگر گاه این وطن مقدس ما حواله نموده حاضر و آماده باشیم!

دشمن دین و وطن و استقلال و آزادی ما بسیار غدار نابکار است(۱۲) اول وطنها را به حیله و چاپلوسی میگیرد و چون مستولی شدتنها به سلب نمودن

(۱۲) د اخبري هغه وخت شوي چې د افغانستان خارجي اداره د انگریزانو په لاس کې وه.

Property of ACKU

همه‌چیز هائیکه مذکور گردید اکتفانورزیده بدعوای خدایی هم برمیخیزد یا وجودیکه وردزبان ما همین باشد که:

(دشمن اگر قویست نگهبان قویتر است)

ولی باز هم هیچگاه ازین اندیشه هافارغ نبوده بقدر یک لحظه در حب وطن و جانسپاری در راه وطن غفلت و بی پروایی و بیباکی را از خود دور باید داشت.

شعر

بحفظ و حب وطن لحظهٔ مشو بیباک — بنوش بادهٔ حب وطن ز تاک وطن

ز حق نیاز کند عاشق وطن (محمود) — که دشمنان وطن باد زیر خاک وطن»

دسراج الاخبار د دوهم کال هریه «چه باید کرد»؟ او ددریم کال د«علم و اسلامیت» رسالې دی، چې په دواړو کې مرحوم محمود طرزي خپلو هموطنانو ته دنوي فکر او نوي ژوندلارې ښودلې دی.

دسراج الاخبار روستی عمر:

سراج الاخبار او وه ښپږ کاله او په اتم کال کې ښهر کنې خپور او د امیر حبیب الله خان له مړینې سره سم یې ځای امان افغان ونیو، چې داسې ضوع هغه اعلان چې د امان افغان د لومړي کال د لومړۍ گنې په ۲ مخ کې خپور شوی څرگندوي:

«چون صاحب امتیاز و سرمحرر سراج الاخبار افغانیه جناب محترم و دبیر مکرم (محمود بیگ طرزی) از طرف دولت علیهٔ متبوعهٔ مابه ماموریت (نظارت خارجیه) مقرر شده اند، جریدهٔ (سراج الاخبار افغانیه) معطل شد. برای اطلاع عمومی اعلان میشود که بعد از شمارهٔ (۶) انتظار آنرا نکشند و هر مخابرهٔ که در انباب داشته باشند باداره جدید (امان افغان) مراجعت کنند»

(ادارهٔ سراج الاخبار افغانیه)

Property of ACKU



سراج اطفال

بسم الله الرحمن الرحیم

عرض شکران

Property of ACKU

دسراج اطفال دیوی گڼې لومړی مخ

# سراج اطفال

Property of ACKU

دسراج‌الاخبار داتم کال‌لو مړ نی ګڼې دافغانی راتلونکو دفکري ودې او تنوير له پاره یوه بله ډېره مهمه خانه سره راوړه، دا هېره دسراج الاطفال جريده وه.

په دې برخه کې هڅه کېږي چې دسراج اطفال دمنځپانګې راټولو په فلسفه او د هغو مطالبو په باب چې پکې خپرېدل رڼا واچوله شي خو مهمه له دې چې په دې کار لاس پورې کړو لازم دی، چې د هغې وخت د پوهنې او زده کړې په باب لنډې خبرې وکړو، څو دهغې وخت دماشومانو له پاره «دسراج اطفال» غوندې اخبار دمنځ ته راتلو منطقي تړون روښانه شي.

دسراج‌الاخبار داتم کال په لومړۍ ګڼه کې دعمومي لومړنۍ زده کړې، ابتدايي دارالمعلمين او مسلکي زده کړې په باب خبرې شوې او زياته شوې چې دوخت دمعارف د دستګاه تر ادارې لاندې دعلومو او فنونو دليکنې، ژباړنې

او تألیف له پاره هم یوه ځانګړې جوړه وه. دې ځانګې به د ښوونځیو د درسي پروګرام سره سم درسي مواد او مطالب برابرول، د وخت د پاچا د امر په اساس لومړنۍ زده کړه «لازمي او مجبوري» وه، د ښار په پېلو - پېلو برخو کې او وه لومړني ښوونځي د ځوانانو د زده کړې او تعلیم له پاره پرانستل شوي او د ښځو د روزنې ښوونځیو ودانۍ تر کار لاندې وه، د ښوونځو برابرول له همغې وخت نه په نظر کې وو لکه څرنګه چې د دې کار له پاره بوداړا لمعلمین جوړ کړی شو.

له لومړنۍ زده کړې نه وروسته دوه ډوله تعلیم په نظر کې ؤ: لومړی په داسې ډول چې زده کوونکي د زده کړې له بشپړولو نه وروسته په هېواد کې د ننه د دولتي خدمت له پاره چمتو شي او دوهم دا چې زده کوونکي د هېواد نه د باندې د لوړو تحصیلاتو له پاره چمتو کړي. تا کل شوې وه چې دا زده کوونکي، په خارج کې د زده کړې له بشپړه کولو نه وروسته د هېواد په رسمي چارو بوخت شي او خپل هېواد د خارجي سیاست د میتو له اړتیا څخه وباسي.

د سراج الاخبار د موادو له لوستلو څخه څرګندېږي چې یو زده کړه کوونکی لس کاله زده کړه کول له څو چې به په دولتي اداروکې د کار له پاره وړ کېده او یا به په خارج کې د زده کړې له پاره برابرېده. اخبار په دې هکله لیکي:

« همین تعلیم ده ساله این طرز داده شود که بقرار اصول خارج درست باشد، تا زحمت ده ساله عبث نرود.»(۱)

(۱) سراج الاخبار، ۸ کال، لومړۍ ګڼه، ۳-۷ مخونه.

داتیکی هم دیادولو و ودی چې زده کړونکی بهله لو سړنی زده کړې نه وروسته دحبیبیې په مدرسه (اوس دحبیبیې لیسه) کې شامل اولېږخه لوړه زده کړه یې کوله. له پورتنی یادونې څخه ښکاري چې پوهنه په هېواد کې په ابتدایي او منځنۍ سویه شروشوه او تر یوې اندازې لږ څه لوړه زده کړه هم کېدله. محمود طرزي چې په دې وخت کې سراج الاخبار دخلکو دپوهاوي او پښتانه پاره او له خارجي مداخلې سره دمبارزې په منظور خپراوه، داخبار په اهمیت او ارزښت ډېر ښه پوه ؤ، دهلکه څرنګه چې سراج الاخبار دلو یانوله پاره خپراوه همدا رازيې سراج اطفال د ځوانانو او ماشومانو دپوهېدو او پښتانه پاره خپور کړ. نو موړی په دې باب لیکي:«سراج الاخبار دراخیر هرسال هدیه اطفال وطن تقدیم میدارد ...»

له لومړي کال نه تر شپږم کال پورې داشو ځاتو هم دپېلو - پېلو علومو او فنونو دکتابو نو خپرول ووخو دا تم کال نه پېلاپېل سره دمحمود طرزي دو یناله مخې هغه مؤقتي سوغاتونه په یوه دایمي سوغات بدل شول چې هغه هم «سراج اطفال» دماشومانو اخبار ؤ.

سراج اطفال دننیو پر مختللو هېوادو دلوړوبېوونځیو اخبارونو نه څخه ورته ؤ او دهغې وخت دزده کوونکو دذهنی پراختیا او پر مختګ په منظور خپور شو. څرنګه چې د ښوونځیو زده کوونکي ځینې مواد و ته ددرسی سر ستیالو په حیث اړه لري او دا کار په هغه وخت کې د سراج اطفال له لارې غوره شوی ؤ. البته نن په اخبارونو، مجلو او رازړ کتابونو سر بېره چې ددې کار له پاره خپرېږي دلیدنو او کتنو (سمعی او بصری) وسیلو څخه هم کاراخلي.

Property of ACKU

لکه څرنگه چې ددې اخبار مدیر او ناشر لیکلی دی : داخبار وظیفه دد ینې او اخلا قي مطالبو او معلوماتو او دوخت دعلومو او فنونو خپرول وو، دامطالب په ساده او روانه ژبه خپرېدل او په دې تو سره یې دما شو مانو پــه روزنه او ذهني پر اختیا کې مرسته کوله (۲) .

ددې خدمت دسر ته رسولو په غرض سراج اطفال د ۱۲۹۷ کال دتلې په ۱۵ نیټه (۱۹۱۸ داکتوبر ۸) دلو سړی ځل له پاره منځ ته راغی او په خپرونو یې پیل وکړ. سره ددې چې سراج اطفال د سراج الا خبار دمل (ضمیمې) په توگه خپرېده خو په حقیقت کې یو ځانگړی اخبار ؤ او په یوازې ډول هم گڼو ن پکې کېدلای شوای .

داخبار نوم دلو مړي مخ دبر نۍ څنډې په منځ کې په ثلثي خط خپور شوی ، ښۍ خوا ته یې دگڼو ن بیه، داعبارت : «برای مقالات دینیه ، اخلاقیه وعلمیهٔ ارباب قلم صحایفش به کمال ممنونیت بازاست» او داجمله:« او راقیکه درج نشود اعا ده نمیشود. » لو ستلې کېږي ؛ کیڼې خوا ته یې مدیر او د امتیاز خاوند د:« محمو دطرزی افغان» په نوم خپور شوی او هم داعبارت لو ستل کېږي : « غیر ازسیاسیات دیگر از همه چیز بحث میکند ... » په ددې ډول خه کې داخبار پته هم خپره شوې ده. ددې څلو رمخیز اخبار کچه ۸ نیم×۱۲ انچه ده دوه ستو نه لري، دهر ستون سو ردری انچه او او ږده لس انچه دی؛ نو موړی اخبار د کابل ددارا لسلطنة پــه مطبعه کې خپر ېده او طبع یې حروفي وه.

دسراج اطفال چلو ونکی او خپرو ونکی په دې اخبار کې خپلې خبرې د:«عرض شکران» تر عنوان لاندې پیلوي، دی په دې مضمو ن کې د ځو انانو له خو لې

(۲) سراج الاخبار ۱۷ کال ۲ گڼه، ۳ مخ .

Property of ACKU

خو ښي ښکاروي چې په د اسې « نیکمرغ » وخت کې ژوند کوي او دعلم او پوهې له نعمت څخه برخه لري. دا مضمون ددولت دا قبال له دعا نه و روسته پای ته رسیږي. په بل مضمون کې یې د « معرفی» تر عنوان لاندې دجریدې هدف په بشپړ ډول څر گند کړی دی، دی په دې مضمون کې لیکي چې:

« سراج اطفال شما را از علوم و فنون نوو در تر بیه و آد اب عاقل شنو (آگاه ساخته) به نکته های درس آموز و حکایات فایده اند وز د ساغهای شما را روشن میکند.

«سراج اطفال در سبقهای مکتب .... شمامدد میر ساند و هم با کلمات بسیار ساده و شیرین دری ساعت شمارا تیر میکند.»

په دې ډول سره داخبار چلوونکي او خپروونکي دغه هدف چې تر بیتی، تعلیمی او دماشو مانو مشغول کوونکی دی څر گندوي او دریم عنوا ن چې «دینداری» دی، خپري.

داعنوان په هغو ټولو ګڼو کې چې لیکوونکي لیدلې، شته دی څکه تر دې عنوان لاندې اساسي مسأ لې او ددین اصول په ساده ډول سره خپر ل شوي دي.

دسراج اطفال په بېلو ـ بېلو ګڼو کې دځوانانو له پاره دنصیحت نظم که شعرونه خپاره شوي او کله هم د «باز یهای فنی»سر لیک لوستل کېږي. تر دې عنوان لاندې علمی مسایل په ساده او تطبیقی ډول وړاندې شوي او هم یې همدلته کله ـ کله له پنده ډکې تر بیتی ټوکې خپرې کړې دي.

دنمونې په توگه کله چې غواړي دڅکې د کرویت او دهغې د گرځېد و په باب مقاله خپره کړي دامو ضوع یې دسر کې ( ډیالوک) په ډول چې د

ښوونځی په انګړ کې د څو تنو همصنفانو په منځ کې بحث پرې کېږي ، څېړه کېږي ده. په دې ډول چې یو زده کوونکی انتقاد کوي: څرنګه چې ماشکه ګرځي نو خلک ولې نه پرېږي دی او نه پرې ښوییږي؟ په دې وخت کې بل زده کوونکی عملي ځواب ورکوي یعنې د فوټبال «پنډوس» راوړي ، یو سپږی پرې ږدي او بیا پنډوس رغړوي، که څه هم توپ څوځي خو سپږی ځای په ځای دی په دې ډول سره ښیلو مګر وته ورښيي چې انسانان په ماشکه باندې د توپ د پاسه د سپږي مثال لري چې که هغه هر څو سره څوځي خو د ی ځا ی په ځای دی، د سراج اطفال د معلوماتي مطالبو په برخه کې د نړۍ تر ټولو نه د لوی زنګ لرونکي ساعت په باب خبرې دي چې په «فلادلفیا » کې ؤ . (۳)

په عمومي ډول باید وو وایو چې سراج اطفال هغه جریده وه چې د سراج-الاخبار په ملتوب د محمود طرزي په چلونه په هرو پنځلسو ورځو کې یو ځلې خپرېده. دیني او اخلاقي مضامین یې په روانه او ساده ژبه ورانديکول او په حقیقت کې یې د زده کوونکو له پاره د درسي موضوعاتو په توګه علمي مطالب خپرول او د مشغولو ونکو او عمومي معلوماتو لکه خیني کیسو او اخلاقي ټوکه په خپرولو سره یې د زده کوونکو د ذهني پوهاوي اختیا په برخه کې خدمت کاوه او د دوی د ساعت تېرولو سبب ګرځېده .

د سراج اطفال د مطالبو له کتنې څخه ښکاره شوه چې دې اخبار د وې مهمې

(۳) سراج ا طفال، لومړی کال-۱ تر ۸ ګڼې پورې .

وظيفې درلودې يو داچې تعليم يې وركاوه او دوهم داچې مشغولا يې پيدا كوله .

د لته مخكې له دې چې دا برخه پاى ته ورسو ولازم گڼو چې د « سياست» د كلمې په باب څو ټكي ووايو ، دا كلمه هم دسراج اطفال په لومړى سر مقاله او هم يې په برنۍ څنډه كې خپره شوې ده ، ليكو نكي عقيده لري چې له دې كلمې نه به داخبار دمدير مطلب « خبرونه » وو ځكه كله چې وروسته د انيس ميږ ند گلوي لولو و به وينو چې د هغه مدير اروابناد محى الدين انيس دسياسي مطالبو د نه خپرېدو په باب معذرت خپور كړى او دهغه علت يې د تلگرافي ارتباطونه درلودل ښودلي ، مسئله دې چې دلته له سياست نه مراد يوازې بهرنۍ خبرونه دي څو په سراج اطفا ل كې اتفاقاً هيڅ ډول كورني يا بانډني خبرونه نه ليدل كېږي نو ځكه ويلاى شو چې ښايي د محمود طرزي مطلب به هم له «سياست» نه « خبرونه »وي .

په پاى كې بايد ووايو چې سراج الاخبار دا تم كال داتمې گڼې له خپرېدو نه وروسته خپور نه شو او مدير يې د «ناظر امور خارجيه» ( اوس دخارجه چارو وزير )په حيث وټاكل شو او دسراج الاخبار ځاى يوه بل رسمي اخبار «امان افغان»- چې وروسته به پوره خبرې پرې وكړو - ونيو چې مدير يې ښاغلى عبدالهادي(م) ؤ ،نو په دې اساس دسراج اطفال چلو نه هم ښاغلي عبدالهادي ته پاتې شوه .

(م)مطلب ښاغلى داوى دى .

Property of ACKU

ښاغلي عبدالهادي داوي د یوې لنډې سریزې په ترڅ کې وویل: چې سراج الاطفال غالباً له ۱۶ کلنۍ نه وړو سته خپور نه شو؛ نور هم زیاته کړه چې د سویې له لیکوالو نه پرته یې نور بدلون پکې رانه ووست ځکه د ده په عقیده دا اخبار یوازې ځوانانو نه لوست بلکه د زیاتو کالو نو خلکو (لکه د ماشومانو پلارونو او لویو ورونو) یې هم له لوستنې سره مینه درلوده.

Property of ACKU

# سرلاري *

## سيد جمال الدين افغان، ميرزا عبدالعلي او مولوي عبدالرؤف:

تر دې ځايه موږ د هېواد د ژورناليزم د تاريخ په برخه کې په هغو جريدو چې د نوولسمې پېړۍ په اواخرو او د شلمې پېړۍ په شلو لومړيو کلونو

* که څه هم د «پيش آهنگان» له پاره په پښتو کې ډېرې ترجمې لکه «بر کښيان، سر کسان، د سر کسان، وړومبنيان، لومړنيان، لومړني کسان، وړومبني کسان، مخکښان» او نورې موجودې وې خو څرنګه چې ځينې يې بې آهنګه او بدې وې او ځينې يې ذو المعنيين وې نو ځکه مې له ځينو ملګرو سره مشوره وکړه څو درانه ملګري ارواښاد عبدالاحد وحيد د «سرلاري» کلمه غوره کړه نو ځکه د ده د دې فاضلانه سرستې يادونه ضروري بولم او اروا يې ښاده غواړم. «رفيع».

کې خپرېدلې، خبرې وکړې. څرنګه چې د نوموړو جریدو په ترتیب او خپرولو کې د یو شمېر کسانو نوښتونه راڅرګند شول او دوی پر دې خپله دنده ترسره کړه، نو دغه تاریخي کار ته اشاره کول او د هغوی د خدمت یادونه په منظوره توګه ضروري ده. د دوی پېژندګلوي ته وقف کوو. دا هم باید ووایو چې ځینې کسان یې په خپله پوره توګه معرفي شوي چې د لته یې لنډې خبرې پرې کوو. خو هغه کسان چې ډېر کم معرفي شوي دي، حق لري چې زیاتې خبرې پرې وشي.

د نولسمې پېړۍ د ۱۸۷۰ او ۱۸۸۰ کلونو په ترڅ کې د خپرېدو او نشر په لاره کې ځینې اساسي ګامونه ډېر لنډ دي، په همدې وخت کې افغاني سید جمال الدین(۱) په هېواد کې د ځینو اصلاحاتو او سمونو د راتګ په باب خپلې لارښوونې کوي.

افغاني سید جمال الدین د هېواد د یوه پوه، عالم او لیکوال او د ختیځ د خپلواکۍ غوښتنې د سرلارې په حیث د لیکنې او ویناوو لارې خپلو هېوادوالو ته د آزادۍ غوښتنې مفکوره ښکاره وله، د ده لارښوونو په هکله ډېره اغېزه کوله چې خارجي لاسوهونکو یې زغم نشو ای کولای او له هرې لارې چې

(۱) د سید جمال الدین افغان د ژوند پېژندنې له پاره دا لاندېنۍ آثار وکتل شي: د اصغر مهدوي او ایرج افشار د «مجموعهٔ اسناد و مدارک چاپ ناشده دربارهٔ سید جمال الدین مشهور به افغانی» د تهران پوهنتون، ایران، ۱۳۴۲؛ د محمد امین خوګیاني د «حیات سید جمال الدین افغان» د کابل عمومي مطبعه ۱۳۱۸؛ د مرتضی مدرس چهاردهي د «زندګانی و فلسفهٔ اجتماعی و سیاسی سید جمال الدین افغانی» د اقبال د شرکت له خوا نوخته، تهران ۱۳۳۴؛ او نور.

ؤ هغه يې له خپل هېواده ويوست خو سيد د آزادۍ غوښتنې د روحيې د لارښود په حيث هر چېرته چې تللی د خپلې مفکورې د خپرولو په برخه کې يې هڅې کولې، لکه څرنګه چې څه موده په هند کې پاتې شو، په ايران کې يې خپلو مبارزو ته لاس وروته کړ، وروسته مصر او ترکيې ته ولاړ خو په دې ځای کې په ډېرو کړاوونو او ځنډونو سره مخامخ کېده له دې سره سره يې بيا هم د ختيځ د اوسېدونکو په مغزو کې د خپلواکۍ غوښتنې او پرمختګ زړي وکرل، سيد په دې سربېره د وخت د لويو يرغلګرو په ضد په کې د «عروة الوثقی» د جريدې په خپرولو لاس پورې کړ (۲).

سره له دې چې سيد په خپله له افغانستان څخه وايستل شو خو د ده مفکوره او اصلاحي هيلې دلته پاتې شوې، وايه شي چې امير شير عليخان د افغاني سيد جمال الدين د افکارو، وهيلو د ترسره کولو له پاره يو لړ اقدامات وکړل چې له هغې څخه يو هم د اخبار تاسيسول وو (۳) د دې اخبار (شمس النهار) خپرول ميرزا عبدالعلي په غاړه واخيستل. دی د اخبار د مهتمم په حيث معرفي شوی، خو څرنګه چې د کوم مدير او خپرونکي نوم يې په څنګ کې نه ليدل کېږي نو فکر کېږي چې ده په دې بر سېره د خپرونې د ټولو چارو کفالت هم په غاړه درلود، له بله پلوه څرنګه چې راغلي ليکونه د ده په نامه راتلل نو ځکه ويلای شو چې ښايي د مديريت وظيفه يې هم په غاړه وه. له بده مرغه د ميرزا عبدالعلي په هکله بشپړ معلومات په لاس کې نشته خو د ده د جريدې له ژورې کتنې څخه ښکاري چې دی يو وطنپرسته انسان ؤ او د هېواد د وروسته والي څخه خوراوه، دی په دې

(۲) دا جريده په فرانسه کې د ده له خوا خپره شوه.

(۳) وګورئ د همدې کتاب لومړی څپرکی.

Property of ACKU

باندې چې زموږ لاس ته راغلې پڼه «فرنګستان» (برتانیا) ته وړل کېدله او د تېوکړ له جوړېدلو نه وروسته بېرته افغانستان ته را تله او خوبرابره په لوړه بیه پلورل کېدله دېرخواشینی ؤ او علت یې دخلکو وروسته پاتې توب او بې خبري ګڼله. میرزا عبدالعلی دوخت دشرایطو او په لاس کې وسایلو نه په استفادې سردنظامین: رسمي، دولتي، د انساني علاقي وړاو دولا یاتو خبرونه خپرول (۴).

د «خلاصة الحساب» نومي قلمي کتاب نسخه (۵) چې د شیخ محمد بهایي تألیف دی، په ښکلي نستعلیق خط لیکل شوی او لو مړی مخ یې ښکلي طلا کاري لوحه لري او دعبدالعلي په قلم خطاطي شوې، ښکاري چې دا کتاب به هم د همدې میرزا عبدالعلي په قلم وي.

دا کتاب د ۱۲۶۱ ه ق کال د کوچنی اختر په میاشت کې په دارالسلطنه کابل کې خطاطي شوی او دادامیر شیر علي خان ددوهم ځل سلطنت نه (۱۲۸۶–۱۲۹۶ هق/۱۸۶۸– ۱۸۷۸ ع) پوره پنځه ویشت کاله پخوا دی.
داچې د خلاصة الحساب لیکونکی عبدالعلي اودشمس النهار دمطبعې او جریدې مهتمم میرزا عبدالعلي یو تن بولو په دې چې:

لومړی–میرزا عبدالعلي دامیر شیرعلیخان ددورې نه مخکې او وروسته په دوره کې اوسېده چې دپخوانی سابقې په اثر به دامیر شیرعلي خان په وخت کې دطبع او طباعت دچارو له پاره ټاکل شوی وي.

---

(۴) وګورئ د همدا اثر د رڼې خبر ګڼې.
(۵) دا نسخه محترم دوست ښاغلي محمد صالح پرونتا له خپل شخصي کتابتون نه د استفادې له پاره لیکونکي ته ور کړه.

Property of ACKU

دوهم څرنګه چې په هغه وخت کې دچاپ چارې په ډیرین چاپ ترسره کېدلې نوځکه به داسې چاته سپارلې کېدلې چې خط او کتابت یې په پوره ډول زده و. دعبدالعلی خط په خپله ښیي چې پیاوړی خطاط ؤ او په خوشنویسی او استنساخ سربېره دخبرو نو په لیکلو او وړاندې کولو کې هم ماهر ؤ او دا کار دشمس النهار له ګڼو څخه په ښکاره ډول څرګندیږي .

له پورتنیو خبرو څخه دا نتیجه ترلاسه کیږي چې میرزا عبد العلی دامیر شیرعلیخان دسلطنت له دورې نه مخکې هم ژوند کاوه او پیاوړی خطاط ؤ او دامیر شیرعلیخان په وخت کې دلیکوالی او خطاطی په برخه کې د ښې سلیقې او مهارت درلود لو په اثر دشمس النهار دمطبعې او جریدې داهتمام چارې ورسپارلې شوې وې.

دشمس النهار دجریدې دخپرولو (۱۲۹۰–۱۲۹۵ هق/۱۸۷۳–۱۸۷۸ ع) په برخه کې د قاضي عبدالقادر پېښوري په نامه دیوه بل لیکوونکي نوم هم اخیستل کیږي .

سره له دې چې یوشمیر څېړونکي دې دنوموړې جریدې دمدیر په حیث پېژني خو ښاغلی بینوا دشمس النهار له پاره په دې نامه کوم مدیر نه مني (۶) او هم ښاغلی کهګدای لیکي چې پېښوري قاضي عبدالقادر د شاهي عسکرو لښکر په حیث وظیفه ترسره کوله(۷) په هرحال څرنګه چې دشمس النهار په جریده

---

(۶) بېنوا، عبدالرؤف، «شمس النهار او لین اخبار افغانستان» آریانا، ۹ کال، ۲م ګڼه ۱۳۳۰، ۱–۷ مخونه.

(۷) کهګدای، نورمحمد «اسنادو یادداشتهای تاریخی» آریانا، دوهم کال دریمه ګڼه، ۱۳۲۲ ش .

Property of ACKU

کې پەنظامی چارو پورې مربوط مطالب خپریدل او بایې چې کله کله به یې ځینې مطالب اومضمونونه له خارجي اخبارو او جریدو څخه په دې جریده کې دخپریدو په غرض ژباړل نو څکه دی هم ددې جریدې دیوه لیکونکي پەحیث پیژندل کیږي.
بنلي خبره داده چې په افغانستان کې په اساسي او دایمي توګه سره د اخبار لیکنې کار دهیواد دژورنالیزم دپلار او ابتکار مجموع طرزي په وسیله پیلیږي خو مخکې له دې چې دده پیژندګلوي او لیکو مجبور یو چې یو بل پوهیت چې هغه هم دهیواد د مطبوعاتو په نړۍ کې دسرلاروله ډلې څخه دی، درو پیژنو؛ داسړی ارواښاد مولوي عبدالرؤف کندهاری دی چې دخدای بښلی عبدالرحیم زوی او د کندهاري محقق علامه حبیب الله (حپو آخندزاده) لمسی دی.
مولوی عبدالرؤف د١٢٦٨ ه ق کال په صفره (صفر المظفر) په کندهار کې ددوشنبې په ورځ په یوه علمی کورنۍ کې سترګې وغړولې؛ دوخت رواجي علوم یې له خپل پلار شهید مولوي عبدالرحیم څخه زده کړل.
پوهاند عبدالحی حبیبي لیکی چې: «دی دقرآن حافظ، داخلاقو عالم او دخپل وخت نامتو فقیه او مدرس ؤ. په١٢٩٨ ه ق کال کې دخپل پلار له مړینې څخه وروسته له کندهاره وایستل شو خو د ١٣٠٠ کال په شا او خوا کې بیرته هیواد ته راغی او په کابل کې دامیرعبدالرحمن خان په دربار کې د «حضور والا» دملا او د شاهي مدرسې دمدرس په حیث وټاکل شوه» (٨)
مولوي عبدالرؤف په دریو ژبو: پښتو، دري او عربی لیکنه کولای او

(٨) حبیبی، پوهاند عبد الحی، آریانا، ٥ ٢ کال ٢ ګڼه (١٣٤٦) ١-٠١ مخونه.

شعر و پلای شو ای، عربی جریدې چې شاهی دربار ته را تلې ترجمه کولې به یې، سربیره پردې چې په شاهی مدرسه کې یې دلومړي مدرس په حیث وظیفه اجرا کوله دهیواد په بیلو — بیلو برخو کې به یې دمقرریدو نکو قاضیانو ازموینه هم اخیسته، لنډه داچې هغه نه یو ازې د امیر عبدالرحمن خان په دربار کې منلی او محبوب ؤ بلکه امیر حبیب الله خان په دربار نه او داستا دی په سترګه وکتل او په شرعی چارو کې د دواړو د فتوی اخیستلو ځای ؤ.

مولوي عبدالرؤف دوخت دیوه روښ فکره پوه هاند په حیث په دینی چارو کې په بوختیا سربیره پوهې بلې مهمې وظیفې ته هم لاس اوږد کړ چې هغه اخبار لیکنه وه، ده دلومړي ځل لپاره په ۱۳۲۳ هـ ق کال (۱۹۰۶ ع کال) د «سراج الاخبار افغانستان» جریده خپره کړه، سره له دې چې بریالی نه شوه دا جریده له یوې ګڼې نه زیاته خپره کړی نه شوه، ګڼه هم دده او دده دملګرو دروښ او تحول غوښتونکی فکر نمایندګی کولای شی. داخبار متن ښیی چې په هیواد کې یو فکري بیښنیار اپیدا شوې ؤ، البته دده پر وخت خور ونه پاره د خپرولو یوې وسیلې ته اړتیا موجوده وه نو ځکه د «سراج الاخبار افغانستان» دامیر حبیب الله خان له منلو نه وروسته دمولوي عبدالرؤف تر مشرۍ لاندې د دې جریدې په خپرولو لاس پورې کړ. (۹)

لکه څرنګه چې د «بدلون» روحیه نوې دې هیواد ته راغلې وه په هغه دې دول ورځپانه لیکل نوي شروع شوي وو، په بل عبارت د شمس النهار له خپریدو نه وروسته یوه اوږده وقفه او چوپتیا منځ ته راغله او بیا وروسته سراج-

---

(۹) ددې جریدې د خپریدو دامر، شرایطو او ایجاباتو په هکله دهمدې څپر کی لومړی برخه وګورئ!.

Property of ACKU

الاخبار افغانستان خپور شو ،نو ځکه دد ې کار پر مخ بیول اسانه نه وو او له ناوړه پیښو سره مخامخ کیدل چې یو هم له دې ناوړه پیښو څخه دجر یدې ژ رتبر ژ ره بند یدل وو ، پکې وو. مولوی عبدالر ؤف دخپلو نشراتي او انکشافي غوښتنو او هیلو دترسره کولو په غرض خپله خبر لیکنه په داسې ډ ول شروع کړه چې دوخت له روحیې سره سمه وه او داخبارد خپرولو ضرورت ،دنړې او دمغه دخلکو له حاله خبریدل دقر آني لارښو دنو ، نبوي احادیثو او دلویانو دو یناؤ په استناد ،ثابتوي .

ښکارې چې مولوي عبدالر ؤف دهیو ادپه حال باندې خبر یدو ته ډیراهمیت و ر کاوه ځکه دی لیکي چې تر هر څه مخکې به په اخبار کې په هیواد پورې مر بوط مطالب خپر یږي او له هغو ور وسته به په نړی پورې مر بوطې خبرونې و ړاند ې کړو. تقریباً دده د اخباراته مخه په کورنیو پیښواو نوراخبار دنړی په پیښو ډ ک ؤ ( ۱۰ )دده دو رځپانه لیکنې مو ده سره له دې چې ډیر ه لنډه و ه خو د راتلونکوله پاره یې په زړه پورې اغیزه درلوده. په دې ډول سره دعلم او پوهې په نړی کې د مولوي عبدالر ؤ ف بر خه ډیره درنه او ارزښتنا که وه او دهیواد وطن پر سته زامن په دی لاره کې دده نوم په ښه خوله یا دوي او هم د هیواد ژورنالیستان په دې لاره کې دده دپیشقدمی په تو سن له ده سره دزړه له کومې مینه لري. دی د ۱۳۳۳ کال دشوال المکرم په پنځلسمه نیټه دو یاد ناروغی له امله وفات شو (*) .

(۱۰) و گورئ: دهمدې څپرکی لومړی برخه .

(*) دسراج الاخبار د ۱۳۳۳ کال دشوال ، ۱۵ گڼه .

Property of ACKU

## محمود طرزی – د هیواد د ژورنالیزم پلار :

«اخبارها در ین عصر بمثابه زبان ملکها و ملتها قائم گردیده است و در وقت حاضر بجز اقوام وحشیه و بدویه هیچ یک دولت وقومی ... موجود نیست که مالک اخبار نباشد.»

پورتني همغه ټکي دي چې اروا ښاد محمود طرزي د «افتتاح کلام» تر سرليک لاندې د سراج الاخبار په جريده کې خپله وړمبۍ ليکنه د لومړي مخ له پاره پرې شروع کړې ده (۱۱) له دې ټکو نه په ښه توګه پوهيدلای شو چې اروا ښاد طرزي په څرنګه پرمختللي نظريه او فلسفه خپله اخبار ليکنه پيل کړې ده. د طرزي کورنۍ د جمال خان (۱۷۰۹–۱۸۰۵ع) په نامه د کندهار له يوه ملي مشر سره تړلي، د حاجي جمال خان زوی سردار پاینده محمد خان ۲۲ زامن درلودل چې له هغو څخه يو هم سردار رحمدل خان کندهاری (۱۸۳۲–۱۸۹۶ع) ؤ چې د اسردار د محمود طرزي نيکه کيده او سوربې د سدوزايي کورنۍ د شهزاده سودو د خان لوروه.

د محمود طرزي پلار، سردار غلام محمد طرزي (د ۱۳۰۰ع کال سره) د هيواد له لويو پوهانو او نامتو شاعرانو څخه ګڼل کېده او د هغه مخالفتونو په اثر چې دده او امير عبدالرحمن تر منځ پيښ شول له هيواده و ايستل شو. له ۱۸۸۱ تر ۸۳ کال پورې له خپلې کورنۍ سره په کراچۍ کې ؤ او له هغې وروسته يې د هغه ملي عنعنوي مخالفت په اثر چې دانګريزانو سره يې درلود لندن ته له تللو سره مخالفت وښود او په ځای يې بغداد ته ولاړ او هم دلته يې له

(۱۱) وګورئ: د همدې ګڼې کې د سراج الاخبار برخه.

Property of ACKU

شپږ و میاشتو نهو روسته له سلطان عبدالحمید سره و کتل او سلطان هغه ته بلنه ورکړه چې قسطنطنیې ته ولاړ شي، طرزي او دده کورنۍ دا بلنه ومنله او وروسته له هغې دمشق ته ولاړل او اروابناد غلام محمد طرزي خپل پاتې ۱۱ کاله عمر هماغلته تیر کړ. سردار غلام محمد طرزی په ۱۹۰۱ع کال له نړۍ څخه سترګې پټې کړې، سره له دې چې په دمشق کې دده دا وسید و په وخت امیر عبدالرحمن بلنه ورکړه چې بیرته کابل ته راشي خو خدای بښلي طرزي د ژوند تر پایه پورې په دمشق او شام کې دمقدسو ځایو تر څنګ پاتې او هم هلته خښ کړای شو. په هر حال امیر عبدالرحمن خان هم په ۱۹۰۱ع کال له نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

طرزي محمو دامیر حبیب الله خان ته دمبارکۍ و یلو او دامیر عبدالرحمن د «پاتا» کولو له پاره په ۱۹۰۲ع کال کابل ته راغی، په همدې وخت کې له محمود طرزی سره بخت یاري وکړه او دده مبو هې، فضل او اصلاحي مفکورو امیر حبیب الله خان جذب کړ او په نتیجه کې یې له ده څخه وغوښتل چې بیرته خپل هیواد ته راشي؛ خدای بښلي طرزي دا بلنه ومنله او په ۱۹۰۳ع کال له ۲۲ کلنې جلاوطنۍ وروسته دخپلې کورنۍ له ۳۵ تنو سره کابل ته راغی.

پروفیسر دوپری(۱۲) لیکي چې طرزي دیوې نا آرامۍ په وخت کې وړ ږیږ ید او دانارامی دژوندتر پایه پورې له ده سره مله وه (۱۳) کله چې د طرزي

---

(۱۲) لویس، دوپری، دپنسلوانیا دایالتي پوهنتون دانسان پېژندنې پروفیسر او دامریکا دطبیعي تاریخ د آثارو او دموزیم څېړونکی سرستیال.

(۱۳) دوپری؛ «امریکن یونیورستي فیلدستف» ۸ کال، لومړی ګڼه، ۱۹۶۴

Property of ACKU

کورنی د کندهار په لوړ لیږ دیدله، له جلاوطنۍ نه شپاړس کاله پخوا په غزنی کې وزیږیده، ځکه چې غزنی دسلطان محمود د لویې امپراطورۍ پلازمینه وه نو ځکه یې دغزنی دسلطان د درناوي او لویې په احترام دده نوم هم محمود کیښود. (۱۴)

محمود طرزي دعصري علومو د زده کړې په څنګ کې دعربي او دري ژبو او ادبیاتو په زده کړه کوتې پورې کړې، شعر او فلسفه یې ډیر خوښیدل، طرزي پښتو هم لیکلای او ویلای شوای او په دې سربیره یې اردو، ترکي او فرانسوي ژبې هم ښې زده وې او په دې ژبو یې لیکنې کولې طرزي محمود په دمشق کې یوازې د مسلمانانو په حیث ژوندنه تیراوه بلکه دده دعثماني امپراتورۍ د سوریې د ایالت په سکرترۍ کې هم کار کاوه. په کورني ژوند کې یې ډیره کمه برخه اخیستې او په ځای یې د دمشق له معنوی فضا څخه ګټه اخیستله. ده د خپلو خوبونو او فکرونو په باب د ترکي ځوانانو سره مرکې کولې، هغو کتنو چې له سیدجمال الدین افغاني سره یې وکړې په ده ډېره اغیزه وکړه او دهغه تر تاثیر لاندې راغی (۱۵).

محمود طرزي خپل لومړني اثر د ۱۲۹۱ کال دعقرب په [illegible] دعنایت په مطبعه کې خپور کړ (۱۶) او دده لومړني اثر «سیاحت درسه قطعه روی

(۱۴) داخبر دمحمدزمان خان طرزي زوی او دمحمود طرزي وراره ښاغلی محمد صدیق طرزی وکړه.

(۱۵) دوپړی، امریکن فیلاسنف، ۸ کال، لومړی ګڼه.

(۱۶) داوخت په کابل کې دری مطبعې وې، یوه د ډېرین چاپ مطبعه، دوهمه دسراج الاخبار حروفی مطبعه او دریمه دعنایت مطبعه.

Property of ACKU

زمین »نومیده(۱۷)دطرزی‌لیکلي آثار چې‌خپاره‌شوي‌دي دادي : سیاحت در سه قطعه روی زمین، از هر دهن‌سخنی‌واز هر چمن‌سمنی، جغرافیا ی منظوم افغانستان، جغرافیه،ادب‌درفن یامنظومه محمودنامه،روضهٔ‌حکم‌او پراگنده . دده خپرې شوې ژباړنې‌دادي : سیاحت بدور رادور زمین در هشتاد روز، جزیرهٔ‌پنهان،سیاحت درجو هوا،جنگ روس وجاپان په پنځو ټوکو کې، اخلاقیات. همدا راز دده یو شمېر لیکلې او ژباړلې آثار په پرله پسې ډول په سراج‌الاخبار کې خپاره‌شوي چې‌دادي: فاجعه‌های پاریس ، علم‌واسلامیت ، نامو ران‌زنان‌جهان،علم‌ثروت ،تاریخ کره زمین اونور(۱۸) .

کله چې دمحمود طرزي دلیکوالۍ په هکله خبرې‌رامنځ ته‌شي، له ټولو نه‌مخکې سراج‌الاخبار د افغانستا ن د مطبوعاتو د کاروان لومړی ساروان چې‌بې‌له ځنډه‌یدنې خپور شو ،سترګو ته ودرېږي . په‌د ې کې شک نشته چې دمحمودطرزی هر یوا ثر په‌داسې حال کې چې علمي، ټولنیز ه او لیکوالي نوې ختیځ ته را ځي‌د خاص ارزښت اواهمیت وړدی خوسراج‌الاخبار په خپله داسې کاردی چې‌دده دټولې لیکوالۍ په لومړي سر کې ودرېږي . دطرزی محمودسراج‌الاخبار په‌حقیقت کې‌دافغان ملت دژوندانه دتاریخ یوه له‌پېښو ډکه پاڼه‌رااړوي .

محمود طرزي‌ددې واقعیت په‌درک کولو سره چې‌دخپلو انکشافي هیلو او

(۱۷)دوېم ، امریکن‌فلدستیف، ۸ کال ،لومړی‌ګڼه .

(۱۸)داسعلومات‌زیاته‌برخه ښاغلي محمد صدیق طرزي راکړل .

ارزوګانو دپوره کیدلو پەلاره کې دوخت دپاچاپه خنګ کې ښه کار کولای شي نود امیر حبیب الله خان له نژدې مرستیالانوا و دده دزامنو سردار عنایت الله خان او سردار امان الله خان له نژدې همکارانو څخه ؤ او ځکه خپلې دوې لونې یې دی شاهزادګانوته واده کړې .

طرزي محمود د لومړی ځل لپاره د امیر حبیب الله خان له خوا د دارالترجمې د مشر په حیث وټاکل شو چې دلته د ده لومړنی کار د جولز ورنز د ناولونو چې له ترکي څخه په دري باندې دامیر دلوستلو لپاره ژباړل کېده، اړول وو. او په همدې وخت کې داسې دباوري مشاورانو په ډله کې ؤ خو ده په دې کارونو اکتفاء ونه کړه بلکه یوه بل لوی او خطرناک کار ته یې هم لاس واچاوه او هغه دسراج الاخبار خپرول وو چې په ۱۲۹۰ش (۱۹۱۱ع) کال یې په خپرولو پیل وکړ (۱۹) سراج الاخبار داروپا دامپریالیزم په مقابل کې دافغانستان دسیاسي مبارزو دوسیلې په حیث په جدي او متین ډول شروع کړه او له بلې خوا یې هم دهېواد دپرمختګ او بدلون په غرض دهېواد دمحافظه کارې ډلې د تنویر په برخه کې مبارزې وکړې ، رښتیا هم د وخت داستعماري قوتونو په مقابل کې د هېواد دخپلواکۍ دترلاسه کولو په غرض ددې اخبار مبارزې ډېرې درنې تمامېدلې ، لکه څرنګه چې څو ـ څو ځله دبریتانیا د رسمي مقاماتو له خوا برتانوي هند ته د دې اخبار ننوتل او خرڅېدل منع شول، هندي وطن غوښتونکو به هم تل د برتانوي مقاماتو دخپرکولو په غرض دطرزي خپرونې ورمخ ته کولې .

(۱۹) په دې هکله دهمدې څېرکې دسراج الاخبار په برخه کې بشپړې خبرې شوې دي .

Property of ACKU

محمود طرزي نه یوازې د یوه ملیت غوښتونکي په حیث د هېواد د خپلواکۍ ترلاسه کېدو ته هڅه درلوده بلکه د ختیځو هېوادونو خصوصاً د آسیا په خاوره کې هم د هغو یدیځو استعمارگرانو له هغو جو دیت سره کلک مخالف ؤ. ده په خپل اخبار کې د هغو سرېخل له پاره د «آسیا باید از آسیائیان باشد» (۲۰) تر عنوان لاندې لیکل چې: د هغو یدیځ خلک ولې په آسیایي هیوادونو یرغلونه کوي په داسې حال کې چې دا خاورې د آسیائیانو دي. دا نظر په دې لحاظ څرنگه چې و ینو ډېر کلونه وروسته د اندونیزیا او د آسیا د نورو هېوادونو د وطن غوښتونکو له خولې څخه اورو.

طرزي محمود دي چې د «حی علی الفلاح» تر عنوان لاندې د افغانستان خپلواکي اعلانوي. لکه څرنگه چې د اخبار دا کېڼه د استعمار د لاس وهنې له لارې له خپرېدو څخه پاتې کېږي.

لنډه دا چې محمود طرزي د غربي استعمار په مقابل کې د افغانستان د وطن پالونکو د هیلو او آرزوگانو د ترسره کولو په لاره کې په خپل اخبار کې له هر راز ممکنو وسیلو څخه استفاده وکړه او په حقیقت کې د ادب او سیاست د دې لوی شخصیت زړور مبارزې وې چې د افغانستان د خپلواکۍ غوښتلو د پیاوړتیا له پاره یې لاره هواره کړه او کله چې خپلواکي تر لاسه شوه نو محمود طرزی د اخبار خپرول پرېښودل، د افغانستان د خارجه چارو وزارت ته یې اوړه ور کړه. کله چې له ده نه پوښتنه وشوه:

— ولې دې د اخبار خپرولو وظیفه پرېښوده ؟

(۲۰) سراج الاخبار، دوهم کال، ۱۷ گڼه، ۷ مخ.

ويې وېل :

ـ آرزو مې تر سره شوه.

او داهغه وخت و چې دافغانستان خپلواکۍ د برېتانيا له ښکار نې نه راووتله.

د محمود طرزي خبر ليکنه که له يوې خوا يو مقدسه او درنه وظيفه وه نو له بلې خوا يو مخطرناکه پېښه وه، ځکه ده که له يوې خوا خپلو هېوادوالو ته خبرونه او خبرونه ورسول او هم يې د دوی د وېښولو او مشغولتيا له پاره کار کاوه، له بلې خوا يې د وخت له داسې لويو استعماري قوتونو سره «چې لمر يې په زمکه کې نه لوېده» مبارزه کوله او له بل لوري يې په مستقيم او ياغير مستقيم ډول د وخت واکدارانو ته د وطن پالنې توصيې کولې او د اکار به يې د خپل پاک نيت او قلمي مهارت له لارې کاوه.

همدا سبب دی چې دده اخبار ليکنه د خطرناک کار بلل کېږي شو. ده اخبار ليکنه خپل اصلي مسلک او کارگاه نه او له بل هيڅ شي سره يې نه سماوه، لکه چې په دې باب ښاغلي حبيب الله طرزي ليکي چې يوه ورځ د کندهار د بيدار (۲۱) جريدې د افغانستان او برطانيې د سياست په باب مقاله ليکلې وه.

ده د وظيفې په حيث ليک و رواستاوه چې د دې ډول مقالو خپرول په سياسي چارو کې جنجال او خنډونه پېښوي نو د داسې مقالو د خپرولو په باب دې د خارجه چارو له وزارت سره خبرې وشي.

داخبار چلوونکي د دې ليک په ځواب کې د خارجه چارو وزارت ته يو تونده ليک وليکه او ښاغلي حبيب الله طرزي يې هم په ځواب کې تونده ليک وليکه او وېې

---

(۲۱) دا اخبار د کندهار طلوع افغان دی شايي ښاغلي طرزي سهواً هغه بيدار ليکلی وی، د بېدار جريده په مزار شريف کې خپرېدله چې اوس ورځپانه ده.

Property of ACKU

غوښتل چې دوزیر (۲۲) لاسلیک پرېږدو کړي. ښاغلی حبیب الله طرزي لیکي: لیک یې سرتر پایه ولوستاته یې وکتل او ویې ویل:

ته غواړې چې دا لیک په دالا سلیک کړې ؟ ورته و مې ویل: هو! ځکه چې دخارجه چارو په وزارت یې سخته حمله کړې! وزیر و ویل: «ماته داخو کې او دا مقام ارزښت نه لري او زما د مسلک په مقابل کې چې ژورنالیزم دی دیوه توت په بیه هم نه دی، زه هم لکه ده غوندې یو ورځپانه لیکونکی یم او هیڅکله ځان ته اجازه نه ورکوم چې دخپل هممسلکي په مقابل کې داسې یو څه ولیکم! دقلم آزادي د لیکني په حق او باطل پورې نه ده تړلې بلکه دقلم آزادي هغه ده چې هر څه و غواړې و یې لیکي او قضاوت لوستونکي ته پرېږدي.»

په هر حال په ۱۹۱۸ ع کال د سراج الاخبار په له منځه تګ سره د محمود طرزي وظیفه هم دخبر لیکونکي په حیث سرته ورسېده. داوخت چې اعلیحضرت امان الله خان د سلطنت واګی په لاس کې ونیولې، محمود طرزي دیوه ډېر نژدې دوست په حیث زیاته او تر پخوا نه ډېره زیاته سرښته ورسره کوله، وایي کله چې محمود طرزي ته دامیر حبیب الله خان د مړینې خبر ورسېد او بیا ورپسته اعلیحضرت امان الله خان ورته راغی او ښاد طرزي یې په غېږ کې ونیو او خپله خواشیني یې څرګنده کړه خو طرزي وویل: «ډېر غم مه کوه اوس دعمل او کار وخت دی.» په دې ډول یې له ده سره دخپلې سرستې لوظ وکړ (۲۳) اعلیحضرت

---

(۲۲) په دې وخت کې محمود طرزی د خارجه چارو وزیرؤ.

(۲۳) دو پری، امریکن فیلدستف، ۸ کال، اوسږی ګڼه، ۱۹۶۳

Property of ACKU

امان الله خان په کلکه ملي اراده او د هېواد د مېړنو زامنو او د تدبیر او سیاست د خاوندانو په مرسته د هېواد د خپلواکي ترلاسه کړه. محمود طرزي چې د خارجه چارو د وزیر په حیث وټاکل شو لومړی کار یې امریکې، روسیې او اروپا ته د هیأتونو لېږل وو څو په نورو هېوادو کې د افغانستان د خپلواکۍ د رسمیت پېژندلو په برخه کې خبرې وکړي، د خارجه چارو په وزارت کې د محمود طرزي دوهم مهم کار په «منصوري» کې له برتانوي هیأت سره خبرې کول دي چې وروسته د خبرو پسې اوږدې او په کابل کې کېدلې، په هر حال له برتانوي مقامتو سره له یوولسو میاشتو خبرو او مناقشو نه وروسته د سولې تړون لاسلیک شو (۲۳) طرزي چې د خارجه چارو د دغو کارونو ستړی کړی وؤ، هیله وکړه چې څه موده دمه وکړي خو د فرانسې د افغاني سفارت وظیفه ورته وسپارله شوه او په ۱۹۲۲ ع کال کې د دې نوې وظیفې لوري ته ورخوځېد، طرزي د دې په ځای چې دمه جوړه کړي د افغانستان او فرانسې د کلتوري اړیکو د رنو چارو ته په زړه پورې پاملرنه وکړه او د ده په توجه د کیندنو (آرکیالوژي) او تاریخي څېړنو له پاره یو فرانسوي هیأت افغانستان ته راغی، د استقلال لیسه جوړه شوه او افغاني ځوانان د تحصیل په غرض فرانسې ته ولېږل شول. څو کاله چې طرزي په فرانسه کې وؤ د افغانستان سیاسي او اجتماعي فضا بیا خړه پړه شوه، د کوز ملا اغتشاش را منځ ته شو او د دې پېښو له ۱۹۲۳ تر ۱۹۲۹ پورې دوام وکړ. د دې داخلي مشکلاتو د له منځه وړلو په غرض محمود طرزي بیا هم د خارجه چارو په وزارت وټاکل شو خو د محمود طرزي مشورې وانه ورېدلې شوې نو ځکه طرزي له نوموړي

(۲۳) د وپری امریکن فیلدستف، ۱۱ مخ.

Property of ACKU

وزارت څخه استعفا ورکړه، سره له دې چې په رسمي ډول تر ۱۹۲۷ کال پورې دا استعفا نه وه منله شوې خو په دې کال کې طرزي د علاج له پاره سویس ته ولاړ او د وخت حکومت ته یې د انکشافي پروګرامونو له پاره لکه د مصطفی کمال غوندې د نظامي تشکیلاتو د پیاوړي کولو توصیې وکړې او هم یې په خارجي سیاست کې د هېواد د ختیځ او شمال تر منځ د موازنې ساتلو یادونه وکړه. خو دده دا مشورې عملي نه شوې او د ۱۳۰۸ کال کورنۍ اړدوړ منځ ته راغی چې د وخت د حکومت د له منځه تګ سبب شو.

طرزي محمود په دې وخت کې هېواد پرېښود او ترکیې ته ولاړ او خپل پاتې عمر یې د شعر په ویلو او د سیاسي لیکنو په کولو سره تېر کړ (۲۵).

که وغواړو چې په لنډه توګه د محمود طرزي له خوا ترسره شوي کارونه یاد کړو ویلای شو چې محمود طرزي د لومړي ځل له پاره د خارجه چارو وزارت جوړ کړ، د افغانستان د پېژندګلوۍ له پاره یې په بین المللي سویه هڅې وکړې او افغان نسل محمود طرزي په اجتماعي چارو کې د عصري او اصلاحي مفکورو د رومبني شخص او بنسټ ایښودونکي په حیث پېژني. همدې وچې د اعلیحضرت امان الله خان د سلطنت په موده کې یې د «اولسي جرګې» او حزبي سیستم غوښتنه کړې وه او دده لومړي ځل له پاره په اساسي او دایمي توګه د ژورنالیزم د بنسټ تیږه کېښوده.


مرحوم طرزي د ۱۹۳۳ ع کال د نومبر په ۲۲ د استانبول په «ماچقه» نومې ځای کې د ینې د سرطان د ناروغۍ په اثر له نړۍ څخه سترګې پټې کړې او دده له وصیت سره سم د ابوایوب انصاري (رح) د مرقد په څنګ کې خاورو ته وسپارل شو، اروا یې دې ښاده وي.

---

(۲۵) دوپړی، امریکن فیلدستف، ۸ کال، لومړی ګڼه.

Property of ACKU

دریم څپرکی




# د ژورنالیزم پراختیا

Property

# د ژورنالیزم پراختیا

## له ۱۲۹۸ تر ۱۳۰۷ (۱۹۱۹–۱۹۲۹)

دافغانستان دخپرونو په هکله زموږ د اخبرنه یو بېل څپرکی دی څکه په دې وخت کې دافغانستان دخلکو په ژوند کې یو نوی باب پرانستل شو، دادوره له پخوانو دورو سره له ډېرو خواؤ څخه توپیر لري او دې توپیر هرو مرو دخلکو داند ښنې او تفکر په ډول کې ازانګه کړې و او په پای کې یې ددوی دژوند په بېلو-بېلو برخوا غیزې وکړې .

لوی توپیر چې په دې دوره کې لیدل کېږي دادی چې افغانستان دسیاست په ډګر کې دآسیاد لومړنی هېواد په حیث دنورو داسارت ژغ له غاړې څخه لیرې کړیؤ او دشکېل شویو هېوادونو دآزادۍ زیری یې دیوه قهرمان هېواد په حیث اعلان کړ .

افغانستان د بشپړې خپلواکۍ له ترلاسه کولو نه وروسته د پرمختګ په لاره روان وو چې دا کار له یوې خوا دخپل ګاونډیو هېوادو د پرمختګ په اثر یک شو او له بلې خوا د آسیا دخپلو هېوادو پرمختلونکو حرکتونو دا احساس لا پسې پیاوړی کړ. د هېواد درو ښنفکرانو او دقلم دخاوندانو لیکنې او تبلیغات هم باید هېڅکله له نظره ونه غورځول شي، دې کسانو په لومړي قدم کې د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په برخه کې هڅې وکړې او وروسته یې هم دملت غوښتنې او د تنګ روحي پیاوړي کېدو په برخه کې زیار ویوست . د دې کسانو په ډله کې د محمود طرزي او د «اخوان افغان» د ډلې یادونه ضروري ده .

افغانستان په دې وخت کې اروپاته دوخت دواکدارانو دسفرونو په اثر نه یوازې دیوه هېواد په حیث په نړۍ کې وپېژندل شو بلکه دخپلواکۍ دیوه قهرمان هېواد په حیث هم خلک ورسره اشنا شول .

په دې عواملو برسېره د نوردا سې عواملو هم یادونه لازمه ده چې د افغان ملت په فکري وده او بدلون کې یې لویه برخه درلوده. د همدې عواملو په اثر و چې دافغانستان دژوند په ټولو چارو کې دسمون او بدلون تمایل پیدا کېږي، د اداري چارو دسمون له پاره نظامنامې جوړې او خپرې شوې چې د دې نظامنامو شمېر سلو ته کوته رسېږي، دښوونې او روزنې په برخه کې د حبیبیې په لیسه او نورو پخوانیو ښوونځیو سربېره نور ښوونځي لکه دارالمعلمین ، د امانیه او امانې لیسې او د هېواد په ګوټ ګوټ کې لومړني ښوونځي جوړ شول او زده کوونکو په زده کړه پیل وکړ، د ښځو زده کړه شروع شوه، افغانانو د زده کړې په غرض ترکیې ـ فرانسې ـ شوروي اتحاد ـ آلمان او نورو هېوادو ته واستول شول. په بین المللي روابطو کې په ګاونډیو هېوادو بر سېره له ځینې

Property of ACKU

نو رو هیوادو نو سره‌هم‌ددوستی‌تړونونه لاسلیک او روابط ټینګ شول . ددې کارونو په څنګ کې دخپرېدنې او خورونې(طبع او نشر) چارې هم مخ ته ولاړې، دا پر اختیا او پر مختګ یوازې د کمیت له‌پلوه‌نه‌دی بلکه‌د کیفیت‌له‌پلوه هم په‌ډېر ښکاره ډول‌لیدل کېږي. دشمېر له پلوه‌په‌دې دوره کې دهیواد په بېلو-بېلو برخو کې ۲۳ بېلې- بېلې جریدې او اخبارونه خپاره شول او لکه څرنګه‌چې‌مخکې‌هم وویل‌شول‌په‌دې‌وخت کې دپوهنې دپرمختګ په برخه کې‌ګامونه اوچت شول او داپه‌خپله‌داتأئیدوي چې‌مطبوعاتو به هم هر و سرو پر مختګ کاوه(۱)دابشکاره‌ده‌چې‌ددې جریدو او اخبارونو په خپرېدو او خورېدو کې د افغانستان خلکو ستره برخه‌درلوده خو د روښنفکرانو هڅې او د حکومت‌دترقی‌غوښتلو مفکوره هېڅکله‌له سترګو څخه نشوایستلی او یلکه داټولې‌جریدې او اخبارونه دحکومت دمستقیمې او بشپړې مرستې په اثر خپرېدل (۲).

دیادونې‌وړده‌چې‌په‌دې‌دوره کې‌دلومړی‌ځل‌لپاره‌دافرادو‌په‌نامه دیوه شخصي، آزاد او دحکومتی مقاماتو له اغیزې او نفوذ څخه وتلی اخبار لپاره دخپرېدو موقع پیدا کېږي ، انیس د ۱۹۲۷ کال دسې‌په‌میاشت کې‌داروابناد محی الدین انیس‌له خوا په میاشت کې دوه‌ځلې‌په خپرونو پیل وکړاو سرهمم

(۱) شرام،ولبر، «دسلې پراختیا او د له یېزي مفاهمې وسایل»، کلیفورنیا، دامریکا متحده ایالات، ۱۹۶۴،

(۲) بګداتوف، «دافغانستان دمطبوعاتو په هکله‌یادداشت»، اسلامیک کلچر، جنوری ۱۹۲۹

Property of ACKU

دیوې ورځپاڼې په ډول خپرونې کوي چې د خصوصیاتو په باب به یې وروسته پوره خبرې وکړو.

د کیفیت له خوا مخصوصاً دا خبار د نشراتي لارو، د خبرونو طرز او د نورو ادبي خصوصیاتو له پلوه هم په دې دوره کې زیات توپیر لیدل کېږي چې ځانګړي فصل غواړي. دلته هم د ومره وایم چې د دې دورې نشرات بنایي د ملیت غوښتنې له پلوه له سراج الاخبار سره ورته والی ولري خو اساسي توپیر یې دادی چې سراج الاخبار د هېواد ملیت غوښتنه د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په غرض پاروله، خو د دې دورې خپرونو ملیت غوښتنه د خپلواکۍ د ساتلو، پر مختګ، د ژوندانه د چارو د سمون او خصوصاً د استعمار په ضد د ورېدو له پاره په کار اچوله.

حقیقت دادی چې د افغانستان د خپلواکۍ ترلاسه کېدلو سره سم به هم زموږ هېواد په بین المللي ساحه کې د استعمار له دسیسو څخه لاس او ګرېوان ؤ او هم یوازې په دې اکتفا و نه شوه چې خپل ځان او خپل وطن یې د پردیو د استعمار له ژغ څخه خلاص کړ، بلکه د انسان دوستۍ او بشر غوښتنې په پراخه روحیه د ګاونډیو هېوادو د خپلواکۍ ترلاسه کولو لپاره هم تکل وشو او اجازه ورکړه شوه چې په افغانستان کې د هند د آزادۍ غوښتونکو له خوا د هند موقتي حکومت جوړ شي او په دې سربېره د هند د نیمې قارې د خپلواکۍ د ترلاسه کېدو له پاره مادي او معنوي مرستې کېدلې چې دا کارونه د دې سبب شول چې خارجي دښمنان د دې فعالیتونو د شنډولو او حتی د دې افکارو د وژلو لپاره هر راز دسیسو ته لاس وا چوي.

د هو رتنې حقیقت په نظر کې نیولو سره د هغې دورې خپرونو د ملیت غوښتنې، ملي یووالي، سمون او پر مختګ په برخه کې خپرونې کولې او د اغېزې

Property of ACKU

ډکر يې يو ازې هېوادنه ؤ بلکه ټول اسلام او ختيځ ته يې غږ کاوه چې داماناقغان او ددې دوريې دنورو جريدو مطالب په دې برخه کې زموږ ژوندی شاهدان دي .

د۱۲۹۸هـ- ۱۳۰۷هش (۱۹۱۹-۱۹۲۹) کلو ترمنځ دوره هغه دوره ده چې دافغانستان دمطبوعاتو په تاريخ کې يې دخپريدو دچارو او دورځپا نو - جريدو او مجلو دخپريدو په برخه پوره پراختيا په نامه منلای شو . مخکې تر هغه دوديل چې پدې دوره کې ۲۳ ورځپانې ، جريدې او مجلې دهيواد په سرکز او ولاياتو کې خپرېدې په همدې دوره کې ووچې دلومړي ځل لپاره دهيواد په ولاياتو کې دجريدو خپريدل شروع شول او په همدې دوره کې وو چې دښځمنو له پاره د «ارشادالنسوان» په نامه يوه جريده خپره شوه .

هغه جريدې چې د۱۲۹۸-۱۳۰۷ ترمنځ خپريدلې داوې :

امان افغان (۱۲۹۸هـ ، ۱۹۱۹ع)، اتحادمشرقی (۱۲۹۸هـ، ۱۹۱۹ع)، الغازی (۱۲۹۸هـ، ۱۹۱۹ع)، سراج اطفال (۱۲۹۸هـ، ۱۹۱۹ع)(۳) ، معرف معارف (۱۲۹۸هـ، ۱۹۱۹ع) ، اتفاق اسلام (۱۲۹۹هـ، ۱۹۲۰ع) ، ستارهٔ افغان (۱۲۹۹هـ، ۱۹۲۰ع)، افغان (۱۲۹۹هـ، ۱۹۲۰ع) ، طلوع افغان (۱۳۰۰هـ ۱۹۲۱ع) ، بيدار (۱۳۰۰هـ، ۱۹۲۲ع) اصلاح (۱۳۰۰هـ

---

(۳) سراج اطفال په حقيقت کې داسير حبيب الله خان په دوره کې په خپريدو بنه کېښنودل شوی هغې ورو سته يې هم يو څو ګڼې خپرې شوې چې په دې ترتيب دراو رو سته سلطنت دخپرونو په دوره کې هم ګڼېل کېدای شي.

۱۹۲۱ع) ، ابلاغ (۱۳۰۰ه ، ۱۹۲۱ ع ،) ارشاد النسوان (۱۳۰۰ه ، ۱۹۲۱ع) ، مجموعهٔ عسکریه (۱۳۰۰ه ، ۱۹۲۱ع) ، حقیقت (۱۳۰۳ه ، ۱۹۲۴ع) ، ثروت (۱۳۰۳ه ، ۱۹۲۴ع) ، آیینهٔ عرفان (۱۳۰۳ه ، ۱۹۲۴) انیس (۱۳۰۶ه ، ۱۹۲۷ع) ، نسیم سحر (۱۳۰۶ه ، ۱۹۲۷ع) ، مجموعه صحیه (۱۳۰۶ه ، ۱۹۲۷ع) ، نوروز (۱۳۰۷ه ، ۱۹۲۸ع) (۳).

دا هم بایدو وایو چې د نوسو ړو جریدو یو شمیر پخوا له نشر څخه پاتې شوې خو یو شمیر نورې یې او س هم په مهخه نامه او شهرت د هیواد په سر کز او ولایاتو کې خپرېږي، د لته به تر و سه - و سه او تر کو مه ځا یه سو چې د نو سو ړو جریدو په باب معلومات تر لاسه کړي او یا یې نسخې لاس ته راغلي دا خپرو نې د رو پیژ نو او د تاسیس د نیټې په تر تیب به یې معرفي کړو.

مخکې له دې چې ددې دو رې د جریدو په پیژ ګلوی لاس پو ر ې کړ و باید وو ایو چې ددې دو رې په پا ې کې افغانستان د یو لړ ې سو د ې له پاره د کو ر نی اړ دو ړ او اغتشاش په لنبو کې سو ځیده، په دې و خت کې کوم اصلا حی کار او انکشافي قدمونه دی او چت شوي نو ځکه د اغتشاش سو ده هم ۱۹۱۹ - ۱۹۲۹ ګلو نو په دننه کې په خپل و ار خپر و .

---

(۳) کابل کالنی، «خلاصه تاریخ جراید در افغانستان » ۱۳۱۱، ۵۲ - ۵۹ مخونه .

Property of ACKU



# امان افغان

۱۳۳۷ ع

Property of ACKU

# امان افغان

دامیر حبیب الله خان د سرېني سره سم سراج الاخبار د ۱۹۱۹ کال د فروری په میاشت کې خپل ځای امان افغان (۱۲۹۸ د وری ۲۲ او د ۱۹۱۹ د اپریل ۱۲) ته پرېښود. که څه هم په دې دوره کې لکه چې ووېل شول ډېر اخبارونه خپرېدل، خو امان افغان هم له نشراتي پلوه، هم حکومت ته د نژدې والي له خوا او هم دا چې د مرکز اخبار و د ټولو مشر او سرلاری دی او نورو اخبارونو او جریدو د امارو په ډول د امان افغان په پیروی خپرونې کولې چې د امان افغان اکثره مطالب د ولایاتو په جریدو کې بیا هم خپرېدل.

په حقیقت کې امان افغان هماغه حکومتي جریده ده چې د امیر حبیب الله خان په وخت کې د سراج الاخبار په نامه خپرېدله خو کله چې اعلیحضرت امان الله خان د سلطنت واګې تر لاسه کړې نو د سراج الاخبار مدیر محمود طرزی یې د افغانستان د خارجه چارو د ناظر (اوس وزیر) په حیث وټاکه او د هغې په ځای یې ښاغلي عبدالهادي داوي ته د جریدې د خپرولو وظیفه وسپارله.

ښاغلي داوي څرګنده کړه کله چې زه په دې وظیفه وګومارل شوم نو د اعلیحضرت

امان الله خان ته یې غوښتنه وکړه چې په «هماغه زاړه نامه خپره شي او که نوی نوم پرې کېښودل شي؟ نوموړي اعلیحضرت امر وکړ چې بل نوم دې ورته وټاکل شي، ساڅو نوموړنه یادداشت کړل چې یو یې هم «امان افغان» ؤ او هم دا نوم خوښ کړی شو.

د ښاغلي داوي تر ښاله مخې په دې مجلس کې سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله او محمود طرزي هم ناست وو.

امان افغان د لومړي ځل له پاره په هفته کې یو ځل د ښاغلي عبدالهادي داوي(۱) په مدیریت خپرېده، د جریدې مخونه له پیلېدو سره ۱۲ وو، کچه یې ۹×۱۳ انچه (هماغه د سراج الاخبار کچه) وه، په حروفي چاپ خپرېده، کاغذ یې لومړی درجه اخباري او چېرته به چې عکس خپرېده له ځلادار کاغذ څخه کار اخیستل شوی دی. همدارنګه اخبار د پېښتي له پاره له یوه ډول ژېړ بخون کاغذ څخه استفاده کېدله چې په هغه کې به یوازې اعلانونه هم خپرېدل.

ښاغلي داوي دیوی مرکې په ترڅ کې وویل چې په ۱۹۱۹ ع کال کې د افغانستان د خپلواکۍ د خبرو په غرض د محمود طرزي تر مشرۍ لاندې «منصوري» ته د دې هیأت د غړي په حیث ولاړم، یوه ورځ چې د مجلس په ترڅ کې د انګلیسي هیأت رئیس وپوښتل چې ته څوک یې؟ زه د «امان افغان» مدیر یم نو ویې ویل «امان افغان» زموږ دښمن دی.»

(۱) اسلامیک کلچر، د ۱۹۲۹ جنوري، بوګدانوف د جریدې لومړنی مدیر د سید قاسم په نامه ښودلی خو لیکوونکی د امان افغان د لومړي کال لومړنۍ ګڼې د څه له پاره کلن کلکسیون سره و کتلې چې ښاغلي عبدالهادي داوي یې د لومړني مدیر په حیث ثبت دی.

Property of ACKU

ددې جريدې دو هم مدير ښاغلی پاينده محمدخان فرحت ؤ. ده ته دلو مړی کال له ۳۲ گڼې څخه دمدير په حيث ددې جريدې دخپر يدو چارې و سپارلې شوې او ښاغلی داوی به یل کارو گو مارل شو، دهمدې مدير په و خت کې داخبار کچه تر پخوا او زه او ... نيم ×. ۱ انچه شوه.

دهمدې کال د ۳۷، ۳۸ گڼو ( چې دو اړې په يوه پڼتنی کې خپرې شوې) له خپر يدو سره سم دامان افغان مدیريت ښاغلی عبدالجبار ته و سپارل شو خو ددو هم کال د ۹، ۱۰ گڼې په خپر يدو ... داخبارد خپر يدو او خو ر يد و چارې سيد محمد قاسم ته سپارلې کيږي، نو موړي تر ... م نشر اتی کال پو رې داو ظيفه پر مخ بیايی او داخبار کچه هم بیر ته لو مړی شکل ته او ړي خو په ۱۹۲۷ ع کال ښاغلی غلام احمد داخبار دمدير په حيث و ټاکل شو، په دې و خت کې داخبار کچه دارو پايې اخبارو نو په اندازه لو يه شوه چې دپخوا ... کچې په تناسب يو په دوه زياتيږي چې دا کار په ۱۳۰۶ او ۱۳۰۷ کلو کې و شو.

و روستنی مدير يې ښاغلی غلام نبی جلال آبادی و و چې د ۱۳۰۷ کال په ژمی کې د کو رنی اړدو ړ له پيدا کېدو سر هسم اخبار سقوط و کړ او مد ير يې ... شو. محمد حسن سليمی هم دخه مو دی له پاره دامان افغان دمدير په حيث کار کړی دی.

داخبار دنامه نه لاندې چې په لوی او ر و ښانه ليک ليکل شوی دا بيت لو ستل کيږي :

سی تو يسد بر افق با خط ز رين آسما ن

باد بر افغان سبار ک دو ر ه امن و «امان»

خو په څلورم نشراتی کال کې دا «توته» له منځه ځي او په ځای یې داعبارت خپرېږي:

«از ابنای وطن هر که اهل دیده شد بدون خواهش جریده بر ایش فرستاده میشود.»

داخبار کالنۍ اشتراک لومړی په دې ډول ؤ:

په کابل کې لس کابلۍ روپۍ

په هېواد کې دننه ۱۸ روپۍ

د هېواد نه د باندې ۲۲ کابلۍ

د یوې ګڼې بیه په کابل کې دری شاهی (*)

خو کله چې دا خبار کچه کوچنۍ شوه داشتراک په بیه کې یې هم داسې تغییر راغی:

په کابل کې کالنۍ بیه ۷ روپۍ

په هېواد کې دننه ۱۱ روپۍ

په خارج کې ۱۳ روپۍ

او په کابل کې یوه نسخه ۸ پیسې (**)

په څلورم کال کې یې داشتراک بیه په دې ډول واوښته:

کلنۍ بیه:

له وزیرانو او اعیانو څخه د دوی د پوه پالنې په اندازه.

د ښوونځیو او ملي کتابخانو او فخري خبر لیکونکو له پاره وړیا.

(*) یوه شاهي له پنځو پیسو سره سمه او د یوې کابلۍ روپۍ دولسمه برخه وه.

(**) یوه کابلۍ روپۍ شپېته پیسې وه.

Property of ACKU

په هېواد کې دننه د تولو لپاره ۱۲ کابلی روپۍ .

د هېواد نه د باندې نیم انگلیسی پوند پوستی لـه محصول سره .

د زده کړونکو او محصلینو لپاره نیمه بیه .

شپږ میاشتی :

په هېواد کې دننه ۸ روپۍ.

د هېواد نه د باندې ۷ شلنگه.

داَمان افغان جریدې د لومړي ځل لپاره د ۱۲۹۸ کال دوری په ۲۲ (د ۱۹۱۹ کال داپریل ۱۲) په خپرونو پیل وکړ چې داوخت یې مدیر او سر محرر ښاغلی عبدالهادی داوی ؤ ، داوخت نو سوړې جریده په هرو پنځلسو ورځو کې یو ځل خپرېده او ۱۶ مخونه یې درلودل، په لومړی مخ کې یې د وخت د پاچا عکس خپور شوی دی. داځل څلور گڼې ېې له پسې خپرې شوې دي او وروسته له هغې و ځنډېدې، د دو هم ځل لپاره د ۱۲۹۸ کال د تلې په ۲۲ بیا هم د دې جریدې یو شمېر گڼې خپرې شوې. داځل یې د مدیر یا سر محرر نوم په بانو کې نه لیدل کېږي او یو ازې په دوو مخونو کې خپرېده، سره له دې چې په واضح ډول د اخبار په تنه باندې نه دی لیکل شوی چې په څو مره ورځو کې یو ځل خپرېږي خو د نیټې نه یې ښکاري چې په هره هفته کې یو ځل خپرېده ، ځکه چې لومړی گڼه یې د تلې په ۲۳ خپره شوې ، دوهمه گڼه یې د تلې په ۳۰ او په همدې ترتیب یې نورې گڼې او وه ـ او وه ورځې وروسته خپرېدلې، د دې دورې اتـه گڼې د تاریخ او ادب ټولنې په کتابخانه کې خوندی دی، سره له دې چې پـه منځ کې یې دوهمه او څلورمه گڼه ورکې دي خو نورې پاتې یې له لومړی تر لسمې گڼې پورې شته. د یادونې وړ ده چې دادوره هم په لومړی کال او لومړی

Property of ACKU

ګڼه شروع کېږي، په دې ډول چې د نامه نه پاس په برنۍ څنډه کې ښۍ خواته هم (۱) او کيڼې خواته هم (۱) څپاره شوي او وروسته د کيڼې خوا (۱) په نوروګڼو کې په (۲) او (۳) ان تر (۱۰) پورې بدلېږي خو د ښۍ خوا (۱) تر اخرې ګڼې پورې هم هماغه (۱) دی او دا په خپله ښکاروي چې دې (۱) کال ښود.

په دې ډول د ژورنال لوستونکي وينې چې امان افغان درې ځله شروع شوی او هر ځل د لومړي کال لومړۍ ګڼه پرې ليکله شوې چې دا په خپله يو څېړونکی تېرباسي خو هر څه چې وو او په هر ډول چې شروشو اوس خپله پخوانۍ ليکنه سموم او د دې جريدې شروع د ۱۲۹۸ د وری له ۲۲ (د ۱۹۱۹ د اپريل ۱۲) څخه بولم (*).

د امان افغان متن :

د امان افغان متن په لږ او زيات توپير هماغه ستونزې لري چې نن يې د نړۍ ورځپاڼې او جريدې لري، د کيفيت له پلوه يې په مطالبو کې د تشويق ، وينښتابه او وطن پالنې روحيه موجوده ده چې هغه تر ډېره حده د هېواد په نورو خپرونو کې هم وينو.

په عمومي توګه هغه څه چې د دې جريدې له شپږ کلن ټکسيون او څو ګڼو څخه ترلاسه شول دادي چې د جريدې متن د دې موضوعګانو: خبرونه، سر مقالې، تبصرې، علمي او معلوماتي مقالې، د دولتي رسمي مقاماتو وياوې او شاهي ارشادات ، د مدير په نامه ليکنې، لنډ داستانونه او اعلانونه تشکيلوي .

(*) دا نظر ښاغلي آهنګ د آريانا او افغانستان په مجلو کې وړاندې کړی او د کتاب له خپرېدونه مخکې خپور شوی و. « رفيع»

Property of ACKU

خبرونــــه :

ښکاره خبره ده چې دیوې ورځپاڼې او جریدې اساسي عنصر خبرونه دي دا ځکه چې اصل په نظر کې نیولو سره کله چې د امان افغان او ونی جریده اړوو له یو شمېر خبرونو سره مخامخ کېږو . دا خبرونه د موضوع له پلوه د داخلي خبرو او خارجي خبرو په دوو ګونو ډلو وېشل کېږي.

خارجي خبرونه بیا هم په خپله ډله کې د ننه د «عالم اسلام» ، «فرنګستان»، «خبرهای تلګرافی» او «خبرهای مختصر» باندې وېشل شوي دي .

کورني خبرونه د مرکز او ولایاتونه په عمومي توګه د مخصوصو خبریالانو او د جریدې د کارکوونکو په وسیله برابرېدل او کله کله به د خبر په پای کې دا هم لیکل کېدل چې د مخصوص خبریال په وسیله برابر شو او هم به کله چې کوم خبر د ولایاتو له جریدو څخه اخیستل کېده د دې جریدې نوم به د اخیستنې په ډول خپرېده، خو د ولایاتو کورنیو خبرونو اخیستنې او مرجع نه دي ښودل شوي، د یو شمېر خبرونو مرجع د موضوع او د کیفیت له پلوه معلومېدای شي. د نمونې په توګه د اخبار چې د لومړي کال په څلورمه ګڼه کې خپور شوی حتماً د جریدې د مدیر له خوا د خارجه چارو د وزارت سره د خبرو کولو له لارې برابر شوی دی :

«بروز ه ، حمل هفت بجهٔ صبح جناب عالیقدر جلالتمآب سردار اعلی (محمود بیګ خان) ناظر صاحب امور خارجه بحیث رئیس هیئت صلحیه و جناب عالیقدر غلام محمد خان ناظر صاحب تجارت و جناب ادیب مکرم عبدالهادی خان مامور سرحدات ، عالیقدر شجاعت نشان پیر محمد خان کرنیل ، دولت پناه عزتمند دیوان نرنجن داس بحیث اعضاء با سه چار نفر کاتب و عمله برای

Property of ACKU

فیصله و تصفیه امورات صلحیه به سواری سر تر کادا از راه جلال آباد و د که نهضت فرمای سرحد هندوستان شده اندو از قرار شنیدګی (در منصوری دیره دون) بالارا کین و نمایندګان دولت برطانیه مذاکره خواهند کرد.»

د دې خبر په متن کې څو خبرې د ژورې کتنې وړ دي:

۱- دا خبر یو مهم دولتي خبر دی او څرنګه چې جریده هم د دولت ژبه وه نو ځکه پوره ټینې خبر د اخبار د مدیر یا بل مهم غړي په وسیله د خارجه چارو له وزارت سره د سر کې له لارې تهیه شوی ځکه چې مرجع او لیکونکی یې څرګند نه دی.

۲- په دې خبر کې د اهمیت وړ خبری عنصر «د سولې د چارو پریکړه» ده، چې البته د ننني خبر لیکنې په اساس په سریزه (افتتاحیه) کې راځي او له هغې وروسته: کسان ـ وخت او ځای او نور مطالب یې په خپل ـ خپل وار لیکل کېږي.

۳- په داسې یوه رسمي دولتي خبر کې د شک او تردید نښه د تعجب وړ ده ځکه د: «او ریدو له مخې» او «دری، څلورتنه کاتبان» فقرې واضح نه دي او د شک او تېکنې توب سره یو ځای لیکل شوې دي. کېدلای شو ای چې د یو رتنیو فقرو په ځای ښکاره او مثبتې فقرې درج شوې وای.

۴- «امورات» ناسم دی او یوازې امور بسنه کو له چې د کړن او کار په معنی د امر جمع ده.

د لته یوه بله خبري نمونه وړاندې کو و چې د پنځم کال په ۷۴ ګڼه کې خپور شوی او په دې کې هم د شک او تردید عنصر لیدل کېږي او یا په بل عبارت خبر یا ل خپل خبر نه دی بشپړ کړ ی او دادی:

Property of ACKU

«بنابر یک اطلاع مؤثق هفتهٔ قبل یک پسر دوازده ساله شاید که اطفال مکتب چهل ستون بوده در آن حدود مشغول ساختن طیارهٔ کاغذی بوده ...»

په خبر کې زیاته شوې چې په دې وخت کې دوخت پاچا راغې او دا کار و یې او د تشویق په غرض ساشوم ته انعام ورکوي.

په پورتنۍ خبر کې دې تکیوته گوته نیول کیدای شي: لومړی «د یوه باور ی خبر سره سم» فقرې په ځای کیدای شوای چې د خبر ځای په ښکاره توگه ښودل شوی وای؛ دوهم داهم ښکاره شوه چې ملک دوولس کلن ؤ خو نوم، د پلار نوم او ځای یې نه دي ښودل شوي او دد ې تولو په ځای ویل شوي چې: «شایې دچهل ستون د ښوونځي زده کوونکی بهؤ».

په امان افغان کې ځینې کورنۍ خبرونه په خاص ډول سره لیکل کېدل، په دې ډول چې لومړی خبر په یوه اوږده سرلیکه سره پیلیده او په ننني اصطلاح مفکوره له خبر سره یو ځای راتله او وروسته خبر وړاندې کېده لکه څرنگه چې د لومړي کال په دریمه گڼه کې د خوراکي موادو بیې په باب یو خبر خپور شوی دی، په دې خبر کې لومړی د حکومت ښه رویه ستایل شوې او مؤظفو مامورینو او کارکوونکو ته کوروداني ویل شوې او د خوراکي موادو ارزانی سبب د دوی ښه تدبیر و نه گڼل شوي او بیا وروسته د خوراکي موادو نرخ په یوه اوږده جدول کې خپور شوی دی.

دا هم د امان افغان د خبر لیکنې یوه بله نمونه چې د لومړي کال په ۲۰ گڼه کې خپور شوی دی، دلته هم لومړی یوه سرلیزه لیکل شوې او بیا وروسته اصلي مطلب راغلی دی:

Property of ACKU

«اهمیت زراعت از امور بدیهیه است. احتیاج به توضیح زیاد درین وادی نمی بینم توجه غربیها درین مسئله بجایی رسیده که برای آن ابر های مصنوعی تولید میکنند و ابر های ژاله بار و مضر را از فضا با توپهای مخصوص پارچه پاره و پراگنده میسازند...»

په دې ډول سرمقالې خبر پاتې برخه د «بند غازي» د پرانستلو په هکله په بشپړ ډول خپره شوې ده. هو! دا هم دغور وړ ده چې په دې خبر کې له هرڅه نه مخکې د کرنې په اهمیت خبرې شوې او بیا د لویدیځ په پرمختګ بحث شوی او دد ې ډول «حسن تعلیل» په ترڅ کې د غازي د بند د پرانستلو خبر خپور وي، سره له دې چې د لته هم «خبر» او «مفکوره» سره ګډ شوي خو د هدف له پلوه کټورد ی او باید د دې ترکیب هدف به دا وي چې هوادوال د کرنې کیلي چاروته تشویق او تر غیب شي.

همدا راز دلومړي کال په ۲۱ ګڼه کې یو بل خبر له ستل شو چې لوستونکی خبری مواد او مطالب یکې وړاند ې شوي او وړاندې یې هیله او سرټکول (شکایت) ترې پیدا کېږي:

«از اول ماه فیض رسان رمضان روغن زرد تا کنون د شوار محصول است (باید «دشوار حصول» وي) یعنی میتوانند سرد ما ن ذی اقتدار و افرو یا به سهولت دستیاب نمایند و ضعفا روز ها نیابند.

از جناب عالی جلیل القدر امجد ناظر صاحب عدالت رجاء میکنیم که در خصوص فراوانی آن که خاص و عام به آن یکنوع احتیاج دارند توجه کافی نمایند.»

نتنی زیات شمېر لو ستونکی دو رځپا ڼو د خبرو له دروند تیا او معیاری

ادب څخه سر تېکوي او کله چې امان افغان خپر بده لیکك او لوست هم په هېواد کې نوي وه کوله خو بیاهم دجریدې اکثره مطالب درانه او لوړ و واو ژبات ثقیل عربي لغات پکې لیکل کېدل، ددې خبرې دثبوت لپاره دلته داو بو او هوا په هکله یو خبر چې دلومړی کال په ۱۱ او ۱۲ گڼه کې خپور شوی بو راندې کوو:

«امسال زمستان به زمستانهای تفریبآده سال پیشتر میماند . یعنی هوا بهقرار طبیعت و عادتی که دارد آغاز برودت نهاده و قهرمان شتا به موسمش بنای حکم فرمایی نموده بر قیاس از ۱۰ قوس شروع گشته. بلی هر چیز بوقت و هنگام آن نیکوست .»

ددې خبر لومړی جمله چې په حقیقت کې «افتتاحیه» ده ډېره ښه لیکله شوې او هر لوستونکی ورېولی ، و روستهٔ یې تر شیح هم په مناسب ځای یعنی د لومړی جملې له ختمېدو سره سم شوې ده .

ددې لپاره چې څه نه څه ددې اخبار په بیلو بیلو او ځینو غړیدلی وو ، دعدلی او محاکما تی خبرونو یوه نمونه هم وړاندې کوو ، داخبر دلومړي کال په ۱۵ او ۱۶ گڼو کې خپور شوی او دهرات دنائب الحکومه محمد سرور خان چې بابایه یې باله او دهغې ځای دفرقه مشرغلام نبی خان دمحاکمې او شخړې په باب دی، په هر حال ددوی له جګړې څخه چې تېر شوی لیکی:

«حضرات شان به دارالسلطنهٔ کابل طلبیده شدند و معارضهٔ شان جهت فیصله و تصفیه به محکمه مامورین محول گردید . پس از تحقیق و امضای او باب در ایت جناب غلام نبی خان بری الذمه و جناب نائب الحکومه به موجب نظامنامهٔ جزا محکوم به حبس و در بندی خانهٔ شیرپور محبوس گردیدند. »

Property of ACKU

د کورنیو خبرونو په ډله کې د مړینې ځینې خبرونه هم ولیدل شول چې اکثره یې د ملي اشخاصو او هم د ځینې بین المللی کسانو د مړینې دي ، که څه هم د لیکلو او ترتیب له پلوه هر یو د څیړنې او توجه وړ دی خو د خبرونو د امرونو په غرض یو ازې یو خبر د نمونې په توګه وړاندې کوو:

«جناب فرمان الدین خان نائب الحکومه هرات شب (۱۹) قوس پس از صرف طعام مفاجاتاً فوت کرده اند مشار الیه یک شخص دانسته و خد متگار صادق دولت بود و عمر خود را از صباوت تا اینوقت بخدمت حکومت گذرانیده از اوضاع حاضرهٔ دنیا معلومات و واقفیت داشت . زبان انگلیسی را هم تا یک اندازه میدانست خاطرش به ترقی و عمران وطن مایل بود .

« گویا مرگ مفاجات در خاندان شان یکنوع توارث دارد چنانچه برادر دیگر شان آقای یار بیک خان که یک آدم خیلی دانسته و یک شخص فاضل و صاحب اخلاق ستوده بود در موقع حرکت د وزرهٔ هیأت سفارت فوق العاده افغانی به اروپا مفاجاتاً ترک حیات گفتند ....»

دا خبر په زړه پورې «افتتاحیه» لری. لومړی «کس» پېژندل شوی او روسته «مرگ» چې هغه ته پېښ شوی دریم «څه ډول مړینه ؟» او څلورم د «وخت» عنصر چې هغه «د ډوډۍ له خوړلو نه وروسته» جمله په ښه ډول سره رسوي .

سره له دې چې د خبر افتتاحیه لکه د ننني خبر لیکنې غوندې د ځانګړي پاراګراف په نه لرلو څرګنده نه ده خو که له نیت بدی نه تېر شو کولای شو همدا جمله د افتتاحیې په ځای و منو همدا راز دده د ژوند د مړینې له پېښې سره د خبر تړل لا ښه ډراماتیک او په زړه پورې کېږي، ځکه سړه له دې چې د هغه له یوه نا ستو شخص سره یې د نژدې والي خبر را کوي د دواړو د مړینې ډول هم یو رنګ ښیي چې دا په خپله په زړه پورې

دی. په دې خبر کې دیوې بلې و رې خبری کو ل هم لازم دی او هغه داچې د (۱۹)
شمېر په لیندیو (قوسینو) کې نیول شوی دی او داهم دهغه و خت سبک ؤ.
پو هاند عبدالحی حبیبی و و یل چې دا کار به د هغو اشتباه گانو د مخنیوی لپاره
چې شاید پېښې شي، کېده. دسره شوی نوم یعنی ضمان الدین خان په (ض) لیکل
شوی چې و اقعیت ته لنډ دی.

سر دله دې چې د امان افغان د ز یات شمېر کو ر نیو خبر و نو په خبری عنصر کې
شک او تکنی تو ب شته خو شر گند لیکل هم پکې لیدل کېږي. په دې بر خه کې
د هیو اددشمالی و لایاتو د یوې پېښې خبری نمو نه چې دشپږم کال په او و مه گڼه کې
خپره شوی، را و ړو:

«دو هفته پیش افو اها شنیدیم که به طرف... یابد خشان کدام حادثه ای حدو ث
نمو ده است اما معلوم نشد که حادثه از چه قبیل است. رو ز دیگر اینقدر مسمو ع
گر دید که به طرف بدخشان کدام قو م عصیان نمو ده است. بالاخره از روی
رو ایات لسانی ظاهر گر دید که... تبعهٔ دو لت... به عصیان اقدام نمو ده اند.»
خبر ز یاتوی چې:

«در او ایل امسال سر دم... باعلاقه دار آنجا در باب تأدیهٔ ز کوة مواشي
شان مناقشه نمو ده به تحر یک بعضی مفسدین از تأدیهٔ ز کو ة سر پیچی نمودند.»
په دې خبر کې داهم و یل شوي چې کله علا قدا رو غو ښتل له هغوی څخه
«ز کو ة» و اخلي خلکو دنظا میانو او حکو مت په ضد یو ډو ل مظاهره و کړه
او په پای کې دقطغن او بد خشان دعسکری قوې د مداخلې په اثر مو ضو ع تــر سره
شو ه.

دغو رو ړ ده چې پو ر تنی خبر له هر څه نه مخکې د پېښې د پېښېدو په تر تیب

لیکل شوی یعنې لومړی ځل د «اوریدو» له مخې او بیا خبرونه او پوښتنه شوې او رښتینې شکل یې ترلاسه شوی او بیا یې د هغې د غلطۍ کولو په غرض د حکومتي قواو مداخله یاده کړې او په پای کې د هغې د حل یادونه شوې ده. خو له دې سره سره یې د دې خبر په باب دا ورېدونو او اشتباه ګانو د لیرې کېدو لوله یا د پېښې په زیات تفصیل سره وړاندې کړې دي.

همدارنګه په خبر کې بیا هم د شکل او تکنیکي توب نیمګړتیا لکه د: «یا... یا بدخشان» او «کوم قوم» فقرې.

د کورنیو خبرونو په ترڅ کې له رسمي دولتي خبرونو نه نیولې د غلاو او رلګېدلو، نرخ او نورو خبرونو پورې په «توپیر» سره د نوموړي اخبار په بېلو ـ بېلو ګڼو کې خپاره شوي دي، له «توپیر» نه مو مطلب دا دی چې په یوه کال او د یوه مدیر په وخت کې د خبرونو زیاتوالي ته پاملرنه شوې خو په بل کال یا نورو ګڼو کې د علمي مقالو خپرولو ته ډېر اهمیت ورکړ شوی او خبرونه کم خپاره شوي دي. بیا هم په یوه اخبار کې مهم او اساسي عنصر د خبرونو خپرېدل دي او دا عنصر د امان افغان په جریده کې په زیاته پیمانه لیدل کېږي.

د باندني خبرونه:

---

مخکې مو هم ووېل چې د امان افغان یوه مهمه برخه د باندني خبرونه دي. دا خبرونه په عمومي توګه دوه ډوله دي او کله ـ کله دوې نورې ډلې هم پرې ورزیاتېږي. دوې لومړۍ او اساسي ډلې خبرونه د «عالم اسلام» او «فرنګستان» خبرونه دي خو دوې نورې ډلې یې بیا د «تلګرافي» او «لنډو» خبرونو تر سرلیک لاندې راځي.

د اسلامي نړۍ په خبرونو کې هغه ټولې پېښې او معلومات خپرېدل چې پاره

Property of ACKU

په اسلامي نړۍ کې پېښې شوې وې او یا به په اسلامي نړۍ پورې مربوطې وې. د «فرنگستان» په خبرونو کې هغه پېښې خپرېدلې چې په لویدیځه نړۍ کې به پېښېدلې. دا هم باید ووایو چې د فرنگستان نوم په حقیقت کې د بر یتانیا لویې امپراتورۍ نه اخیستل کېده څو څرنگه چې په امان افغان کې و لیدل شول دا سر یکا، اروپا او نورو ټولو غیر اسلامي هیوادونو خبرونه تر همدې عنوان لاندې راغلي دي.

د تلگرافي خبرونو تر عنوان لاندې هغه خارجي خبرونه خپرېدل چې اکثره یې د اسلامي او غیر اسلامي نړۍ پېښې وې او لنډ خبرونه هم له همدې ډلې څخه وو.

د امان افغان د باندنیو خبرونو سرچینه هم اخیستل شوې باندنۍ جریدې او اخبارونه وو. د زمیندار، وکیل، پایونیر، سیاست، تحفه هند، سول ملټري گزټ، پیسه اخبار، حبل المتین، ایران، اخگر، او نورو ایراني، عربي، فرانسوي او روسي جرایدو نوموونه د امان افغان د باندنیو خبرونو د اخیستلو په حیث ډېر زیات وو. د اسطالب د امان افغان د ژباړونکو په وسیله ژباړل کېدل او وروسته خپرېدل. د عبدالجبار تره جمان یادونه چې په امان افغان کې زیات لیدل کېده د لته لازمه ده.

په خارجي اخبارو او جریدو سربېره امان افغان ته ځینې مطالب د ځینو کسانو له خوا هم لیکل کېدل چې د مخصوص خبر یال په نامه به په اخبار کې راتلل.

په زیاتو باندنیو خبرونو کې دنیټې او ځای کر ښه نه لیدله کېږي، خو کله کله بیا شته. دنیټې او اخیستنځي د کرښې ټول په لاندیني خبر کې چې له پایونیر

Property of ACKU

څخه اخیستل شوی او ددو هم کال په لسمه گڼه کې خپور شوی ، و ېنی :

«طهران ۳ ـ اگست (۲۱ ـ اسد) علاقهٔ خراسان (توابع ایران) اعلان آزادی خود را کرده مقرری صمصام السلطنة را (بحیث حاکم کلان) منظور نه نمود، محرک این مسأله محمد تقی نام افسر جندار سابق بود ) که از طرف ضیاءالدین سابقاً به حاکمی نیک علاقه مقرر شده بود فعلاً حکومت مو جوده نا مبرده را عزل کرده است . »

په زیاتو خبرو نو کې دنیتې او ځای کر ښه د پره ساده وه، سر بېره پر دې چې د «تنقیط اصو لو » ته نه کتل کېدل زیاتره یو ازې د هغې هېواد یا ځای په نامه چې خبر پرې مربو ط ؤ بسنه کېدله، چې په دې صورت کې به د هېواد نوم د سر لیک د پاسه لیکل کېده، کله، کله د هېواد له نامه سره یو ځای د خبر د پېښېدو نیټې هم لیکل شوې او و روسته د خبر سر لیک لیکل کېده، کله به د نیټې او ځای کر ښه لکه په پورتنی خبر کې د خبر د متن په شروع کې را تلله .

د لته یو بل خبر چې د نیټې او ځای کر ښه یې د جملې په سر کې راغلی د باندنی خبر د نمونې په ډول، را وړو ، دا خبر ددو هم کال په ۳۸ گڼه کې خپور شوی دی:

«اعلان آزادی مصر نشر شد :

لندن ۱۷ مارچ: خبر برقی قاهره (دارا لسلطنة مصر) مظهر است که سلطان مصر بر بنای مذاکرات صلحیهٔ انگر یزی اعلان آزادی مصر را نموده و لقب خو د را باسم شاه گذاشت. »

د خپل مطلب د رو ښانه کېدو له پاره یو بل خبر هم را اخلو چې د خبر ځای په سر کې راغلی دی:

Property of ACKU

«خبر تازه نسبت به مجلس لوزان نرسیده است که آیا معاهدهٔ امضا شده یا نه محض تکرار خبرهای سابقه است که صلح میشود و متفقین کشیدن عساکر خود را از قسطنطنیه و آبناها تصویب نموده اند.»

دا خبر د غلورم کال په اتمه گڼه کې خپور شوی دی، د خارجي خبرو نو شمېر هم کال په کال نور هم پېر کوي خو بیا هم د «حوادث خارجه» کلیمه چې خارجي خبرو نه تری لاندې خپرېدل تقریباً د جریدې په ټولو گڼو کې لیدل کېږي. د پنځم او شپږم نشراتي کال په گڼو کې د خبرونو شمېر کم شوی او د امان افغان زیات ستونونه په علمي مسایلو او اوږدو تاریخي، سیاسي او اقتصادي مقالو ډک شوی دي او په گڼو نیو خبرونو کې هم ډېر کمښت راغلی دی.

سر مقالې او تبصرې:

---

د امان افغان سر مقالې او تبصرې کولای شو په عمومي توگه په دریو برخو کې وڅېړو:

د مطالبو په رڼا کې نو لو سر برخه په عمومي ډول د وطن پالنې او ملي غوښتنې د روحیې له پیاوړي کولو او د وطن دوستۍ څخه ډکه ده. د امان افغان په یوه سر مقاله کې چې د ۱۲۹۹ کال دوري په ۱۰ (د ۱۹۲۰ کال مارچ ۱) خپره شوې د «عالم اسلام» تر سر لیک لاندې د نړی د بدمرغیو په باب خبرې شوې، د اسلام حال دژړاوړ بلل شوی او وروسته یې د «پایان شب سیه سپید است» د جملې په ویلو سره زیاته کړې ده چې دا حال به تل نه وي او له منځه به ځي.

د جریدې لومړنی سر مقاله (د ۱۲۹۸ کال دوري ۲۲ / د ۱۹۱۹ کال د اپریل

۱۲) زیات شمېر مطلبو نه لري ، خو لو سړی کر بې يې حمد او ثنا ده او خو بندونه يې دامیر حبیب الله خان دسړ ینې په باب دي او و رپسې داخبار دتأسیس او سلام په هکله خبری شوې او د هغه دخپر ید و هدفونه داسې بیان شوي دي:

۱- په هېواد او د هېواد په زامنو کې دعلم او پو هې دزده کړې سینه پیدا کول او دسو چ ده عصر له لازم پر مختګ او و ینتیا به خخه ددوی خبرول .

۲- آزاد افکار په آزاده توګه نشرول.

۳- دو خت ددو لت او دهغه دګړو (ددوی دآزادی دوستی او آزادی غوښتنې له کبله) درناوی، اطاعت کول او تر وسه وسه له هغوی سره دزړه له کومې سر ستړه کول.

۴- په بېطرفه توګه دنړی له سیاست او مخصوصاً له اسلامی نړی سره دهېواد دزامنو اشنا کول .

د ۶-۷-۸-۹-۱۰ او ۱۳ ګڼو سر مقالې په عمومي توګه دانګلیس او له افغا نستان او دنړی دنو رو هېواد و سره دهغه دروابطو او اریکو په باب دي. په دې سر مقالو کې په انګلیسي غر ضو نه باندې په زړه پورې ژبه او له شوې او دتاریخي سند ونو او حقا یقو په رڼا کې دانګریزانو غر ضو نه په ډاګه شوي دي .

ددو هم کال داتمې ګڼې سر مقاله دمتن له نظره یو بېلو الې لري او هغه داچې دلو سړي ځل لپاره دامان افغان فکري ساحه پرا خه شوې او په افغا نستان او اسلامي نړی سر بېره د«نهضت آسیایا بیداری شرق »سر لیک لیدل کېږي. په

دې مضمون کې ښرگنده شوې ده چې په حقیقت کې د آسیایی او اروپایی هیوادونو منځ څه تو پیر موجود دی چې دادې «اسیر» او هغه دې «استعمارگر» وي ؟ په دې سرمقاله کې د فرهنګ او کلتور له پلوه د آسیائیانو له معرفی نه وروسته لیکل شوي دي :

«بلی غفلت و بیهوشی انهما ک در انبوه رسوم و عادات ملل مشرق را در مقابل اروپائیان جاهل و بی قابلیت نشان داده، و آنها بجایی رسیده اند که اسارت ملل آسیایی را مدتی است توقع و تصمیم کرده اند.» او په پای کې ژیاتوي چې «امروز در نتیجهٔ اثرات جنگ بین المللی و در تحت فشار انقلابات اجتماعی بر خلاف انتظار اروپائیان آسیای سرکړي رو به بیداری نهاده و نهضت افکار مشرق شروع شده است .»

د پنځم کال د نو لسمې او شلمې گڼې سرمقالې د وړخپاڼه لیکنې په باب لیکلې شوې او متن یې د غور او خیرنې وړ دی چې دهرې یوې په باب به د وړخپاڼه لیکنې تر سر لیک لاندې بشپړې خبرې وکړو.

سرمقالې یې په عمومي توگه د وړخې د ملی او جهاني پېښو، د خپلواکی د تلینونو، اختر ونو، عاشور او نوروملی او بین المللی ورځو په ښا او خوا کې دي.

۲—د نورو لیکونکو لیکنې : د الیکنې هم د افغانستان د ملیت غوښتنې، د ژوندانه عصري لاروچاروته د خلکو درابللواو د زده کړې لپاره د خلکو د تشویق په موضوعاتو او مطالبو بنا دي.

د دې لیکنو لیکونکی کله ښرگند دی او کله نه. چې د لته د وه فکره پیدا کېږي یا داچې دالیکنې هم د مدیر له خوا کېدلې خو خپل نوم یې نه ورسره لیکه او یا

ښايي د جريدې د نورو همکارانو په قلم لیکلي کېدلې چې ښايي د خپل نشراتي روش په اساس به يې نه غوښتل د هغه نوم د مضمون په څنګ کې خپور کړي.

۳ — د تبصرو د رېمه برخه: هغه تبصرې دي چې له نورو جريدو څخه اخيستلې کېدلې. د مثال په ډول «افغانستان امروز» د هغې مقالې سر لیکنه ده چې د حبل المتين په جريده کې خپره شوې وه او امان افغان هغه رااخيستې او د خپل پنځم نشراتي کال په ۱۷ او ۱۸ ګڼو کې يې خپره کړې ده. په دې مقاله کې د افغانستان په نورو وستاينو سر بېره د وخت د پاچا د اسلام دوستۍ ستاينه هم شوې ده.

د امان افغان ګڼه کې يوه مقاله د مصر له چهره نما نومې جريدې څخه اخيستل شوې چې په دې مقاله کې د نړۍ د سياست په هکله مطالب خپاره شوي دي.

د اقتباس شويو مطالبو له متن څخه ښکاري چې له رااخيستلو څخه يې مهم او اساسي هدف دا ؤ چې د مقالې او ليکنې به يا د افغانستان د سياسي او يا د ژوند د نورو اړخونو په باب وې او يا دا چې د نړۍ يوه په زړه پورې بين المللي موضوع به پکې ليکله شوې وه.

اختصاصي سځونه:

داماِن افغان اختصاصي سځونه چې ګله ـ ګله په بېلو ـ بېلو ګڼو کې او تر بېلو ـ بېلو سر ليکونو لاندې خپرېدل، عمومي مطالب لکه: ادبيات، علم او معارف، عسکري نړۍ، طبيعي تاريخ، روغتيا او نور ستونونه وو. دې مطالبو د کيفيت له پلوه د «درس ورکولو» ـ چې په حقيقت کې د اطلاعاتي وسايلو يو بل مهم هدف دی ـ وظيفه درلوده. همدا راز داد بيا تو ستون يې

دلو ستونکو دساعت تېرې او بو ختو لو له لحاظه ډېر اهمیت ورکړ ، دادبیات په ستون کې اکثره او بېل ـ بېل مطالب دغزلو نو او بولدلو ( قصیدو ) په ترڅ کې وړاندې کېدل، دعلم او پوهې په ستون کې په زیات ډول دعلم او پوهې دارزښت او اهمیت په هکله خبرې شوې او د وخت دعلمي مؤسسو په باب معلومات وړاندې شوي دي. د«عالم عسکری» بحث تر ډېرې زړه وړونکی کلیشې لاندې چې دټانک په شکل جوړه شوې او دنظامي وسلو رسمونه پرې شوي وو، خپرېده تر دې کلیشه لاندې دعسکري ښوونې او روزنې او د عسکري موضوعاتو په باب خپرونې کېدلې. د«تاریخ طبیعی» په برخه کې طبیعي علوم او بیالوژی وړاندې کېدل. دروغتیا ستون چې ډېر کم خپرېده میندواونو روته صحي لارښوونې ورکولې.

په نننۍ اخبارلیکنه کې له مهمو هدفونو څخه یو هم دبوختوونکو او په زړه پورې مطالبو وړاندې کول دي. دامان افغان دجریدې په دې برخه کې لنډ داستانونه، غوره وینا وې، او «متنوعه» مطالب یادولای شو. لنډ داستانونه یا پر له پسې خپرېدل او یا ځینې داستانونه په هماغه یوه گڼه کې پای ته رسېدل. د « متنوعه» مطالبو په برخه کې په زړه پورې شمېرې، خبرونه او کیسې او په زړه پورې معلومات خپرېدل، چې دلته یې دځلورم کال د ۹ گڼې سرلیکونه را اوړو: لومړنی عنوان یې «عدد ناقص شدگان جنگ عمومی» دی، دې لیکنې په بېلو ـ بېلو هېوادو کې د معیوبو او ژوبلو شویو کسانو له تفصیل او شمېرنه وروسته دهغوی ټول شمېر ځلورملیونه او ۳۱۲ زره کسه ښودلی دی، بل عنوان یې «حادثهٔ عجیبه» دی، تردې عنوان لاندې دوریځې دهگۍ په اندازه دږلۍ داوریدو او دیوې سخو ړې (تبزدود) درا پیدا کېدو یادونه

شوې ده، د ریپم عنوان هم د عجیبې ږلی په باب دی او خلور م عنوان «مصارف بریتانیا در ممالک عربیه» دی .

و ینا گانې، نطقونه، نظامنامې، تړونونه او شاهی خطبې :

---

دامان افغان د جریدې د متن نور په زړه پورې مطالب هغه رسمی نطقونه او وینا وې دي چې د وخت په پاچا ، وزیرانو ، سفیرانو او نورو رسمي مقاماتو پورې اړه لري چې داو یناوې په بېلو ـ بېلو تلینونو ، غونډو ، میلمستیاؤ، دعلمـــی مؤسسو د پرانستلو په وختونو او نورو کې، کېدلې. د دې وینا ؤ په متنونو کې د ملیت غوښتنې او اسلامي اساساتو د پالنې په باب خبرې او د پر مختګ ، سمون او بدلون په هکله لارښوونې کېدلې .

په امان افغان کې د ۱۲۹۹ کال د ثور په ۱۰ د «حوادث داخلیه» تر عنوان لاندې د امیر حبیب الله خان د مړینې د کلیزې په باب و ینا لیدله کېږي چې په دې غم اسلامی نړی غمجنه شو دل شوې ده. د نورو و ینا گانو په ترڅ کې کوم شی چې د هېواد د دایمی شرف او نوم ساتو نکی شرد ل شوی په دې ډول لارښوو د نه شوې ده:

«اول خدمت باشرف عسکری که بر هر فرد مسلمان یک امر خداوند است باید که زیاده بر زیاده عسکر خود را تقدیر کنید ... وخدمت عسکری را یک خدمت بزرگ مسلمانی بشمارید ... دیگر ترقیات عرفانی است زیرا ملتی که عالم نباشد باید حقوق خود را محافظه کرده نمیتواند و ضرور دیگران دست تعرض خود را برابر حقوق مشروعه او دراز میکنند... همچنان زراعت و تجارت نیز محافظه استقلال میباشد . باید تجارت شما خوب باشد و زراعت گران تان بسیار جدی کار نمایند .»

Property of ACKU

ښکارې چې هغه ووختیو شمیر کسانو دقا دیانیانو په نامه په افغانستان کښې فعالیت کاوه او هڅه یې کوله څینې خلک خپل دین ته راوبولي، خو ددوی دې کار ته وخت ورنه کړی شو او محاکمه شول او دامان افغان دلیکنې له مخې څو ـ څو تنو ته یې درنده سزا ورکړه شوه.

دافغانستان په هکله د یوه خارجي سیاستمدار و ینا : داوبنادشوروي دولت دخارجه چارو وزیر موسیو چیچرن په برلین کې د افغانۍ بیرغ پورته کولو په وخت کې کړې ده، دې په دې سر اسموکې دخپل ګډون په باب خوښي ښکاره وي او زیاتوی:

«افغانستان جوان در عالم شرق و اسلام یک موقع مهمی را گرفته به چشم می بینیم که فرصت را ضایع نکرده در پیش رفته است و از ین یک امید قوی است که افغانستان عالم اسلام را یک نجات خواهد داد.»

وروسته دده خبرې ددوو هیوادو دروابطو په خرګندولو سرته رسیږي .

دامان افغان دخپریدو دوره کولای شو چې دهغې وخت دقانون جوړولو دوره وبولو، په دې دوره کې تر سلو نظامنامو پورې دېلو ـ بېلو دایرو له خوا جوړې شوې او ددولت دعالی شورى (۲) له خوا تنظیم ، ترتیب او دعمل ډګر ته راووتلې. ددې نظامنامو متن سر له دې چې په ځانګړې کتابچو یې دول

(۲) د دولت عالي شورى دڅلورومملکي مملاوځا ى وچې دوه ډوله وظیفې یې درلودې: دنظامنامواو لوایحو جوړول او تفسیرول ا ودملکي مامورینو محاکمه کول . دې شورى یو رئیس ، دوه سرمنشیان، منشي اوغړى درلودل . غړى یې دوه ډوله وو یو یې طبیعي غړي چې دلوړ ورتبو نه را ګرځول شوى مامورین وو ، او نور یې دهیواد له هر ولایت نه یا کل شوى غړى وو .

خپرېده په امان افغان کې هم نیول کېده، او لیکوونکي چې کومې نظامنامې لیدلې د چاپ شمېر یې له شپږو تر زرو ټوکو پورې رسېږي او ځینې یې د دوهم ځل لپاره هم خپرې شوې دي .

داوخت افغانستان د خارجي روابطو په برخه کې د پرمختګ او پراختیا په لوري روان ؤ، کله به چې د افغانستان او کوم بل هېواد تر منځ روابط ټینګېدل نو خوا مخوا به د دواړو هېوادو تر منځ یو تړون هم لاسلیک کېده او د دې تړونو متنونه هم په امان افغان کې خپرېدل . تر ټولو نه مهمه داده چې په امان افغان کې پر رسمي وېناؤ سربېره یو شمېر رسمي خطبې هم خپرې شوې دي چې د اخطبې د امان افغان په پنځم او شپږم نشراتي کال کې زیاتې لیدلې کېږي، د خطبو متن په آیاتو، احادیثو، درودونو او دعاګانو سربېره د دیني لارښوونې، د وطن پالنې درسونه او هېوادته د پاملرنې په باب توصیې لري . دیادونې وړده چې د وېناؤ او خطبو متن تر ډېره حده ساده او عام فهم ؤ چې د ننني خبر لیکنې له نظره د ډېر اهمیت وړ دي .

ـ سرمقالې او تقریظونه :

---

دامان افغان د دوهم کال په ۲۳ گڼه کې د«مصاحبهٔ سیاسی» په نامه یوه سرمقاله خپره شوې ده، دا سرمقاله د جریدې خبریال په کابل کې د ایټالیا سفیر سره کړې ده، د سرمقالې ترتیب داسې دی چې د سرمقالې په پیل کې نه مخکې د اخبار له خوا یو سریزه پرې لیکل شوې او بیا وروسته سرمقاله د پوښتنې او ځواب په ترتیب یعنې په (س) او (ج) شروع شوې ده. دا سرمقاله د کومې خاصې موضوع په باب نه ده بلکه د بېلو ـ بېلو مطالبو په باب پوښتنې او ځوابونه سره شوي

Property of ACKU

دي،لو سړی پو ښتنه يې د هند داو ضاع و په هکله دچې ځواب يې داسې ؤ :

«چون سیعاد سیاحتم در هند خیلی کم بوده از آنجهت نمی توانم نسبت به خیالات و حسیات مردم هند توضیحی دهم امااینقدر میدانم که مردم هند اگر به همین مساعیات جدی و حسیات ملی خود مداومت کنند البته یک آتیهٔ خوبی را نسبت به تاریخ اقتصادی و علمی ملاحظه خواهند کرد. در باب مسایل سیاسی آن در ین وقت چیزی گفته نمیتوانم.»

په دې سر که کې د بو ښتني شوې وې او يو هبله پو ښتنه يې د ختيځ د سیاسی او اقتصادی ژوند په هکله وه .

همدا راز د جر يدې د خلو رم کال په ۱۳ گڼه کې د افغانستان داو ضاعو په باب د شوروی له سفیر سره د تر کستان د پراودا اخبار د خبر یال سر که خپره شوې او په دې سر که کې د الاندې ټکي د شوروي سفیر له خواڅرگند شوي دي :

«برای درست کردن بعضی قوانین شورای دولتی تشکیل شده، توجه اول به کارهای معارف میشود. محصول گمرکی گزاف گذاشته شده است از اموال تجملی سه برابر قیمت اصلی گرفته میشود، سیاست خارجی افغانستان جای تعریف است که به هوشیاری وضعیت بین المللی را ملاحظه میکند .»

د ۱۹۱۹-۱۹۲۹ کلو ترمنځ افغانستان د باندې او په هیواد کې د نته يو زيات شمېر جريدې خپرېږي .دامان افغان جريدې تل ترتله د خپلو همسلکانو پيژندگلوی خپره کړې، هر يوه يې په پوره درناوی ياده کړې او هر کلی يې ورته ويلی دی ؛ کومې کره کتنې چې په امان افغان کې ولوستلې شوې ددې جريدو په هکله دي: آزادی شرق، مجلهٔ مجموعهٔ عسکريه ، جريدهٔ آزادی،

Property of ACKU

آئینهٔ عرفان ، حقیقت، دافغان جریده( په سرحد کې)، طلوع افغان، اتفاق اسلام اصلاح خان آباد، اتحاد مشرقی، الغازی او نور.

دمدیر په نامه لیک :

حقیقت داده چې پهدې ستون کې یو شمېر هغه مطالب خپاره شوي چې د لوستونکو له خوا راستول کېدل. رښتیا هم نوموړی ستون دلوستونکو دعکس-العملونو اوازانګو ښودونکی دی. داپه زړه پورې ستون به په امان افغان کې کله یوازې د «مکتوب» په نوم لیک ؤ او کله به دلیک دراغلی ځای نوم هم ورسره خپریده. دلیک موضوع به دلیکوونکو له سره ټاکو نو او غوښتنو نه نیولې ان دسیاسی او علمی موضوعګانو تر خپرنې پورې اوږدېدله، دنمونې په توګه دامان افغان د څلورم کال په ۱۲ او ۱۳ گڼه کې دکابل دبابر باغ نه دمندر پرتاب (په کابل کې دهند یو ناستو آزادی غوښتونکی ؤ) راغلی لیک خپور شوی او په هغه کې دهند دمسلمانانو او هندوانو تر منځ دخوابدی او ازدوریادونه شوې او ددې اړدوړ علت دمسلمانانو او هندوانوپرته د نورو لاس و هنهښودل شوې او دهندوانو او مسلمانانو تر منځ یې مخالفت رد کړی دی .

اعـــــلانونه :

سرهلهدې چې ډېر کم دې خو بیاهم دامان افغان دجریدې په یو ه بر خه اعلانونو نیولې ده. ددې جریدې دڅلورم کال په لومړی ګڼه کې په امان افغان کې داعلان کولو دشرایطو په باب یو اعلان خپور شوی چې لنډمطلب یې لاندې ورانديږ کوو :

تجارتي اعلان به چې د اخبار په ستن (داخلي مخونو) کې له یو نه تر پنځو خلو پورې خپرېده دیوې کرښې بیه یې یوه روپۍ (دیوه فرانکه سره سمه) وه او که له پنځو څلو نه زیات خپرېده په یوه کرښه یو غیران اخیستل کېده په وروستي مخ کې دیوځل خپرېدو بیه یو غیران خو له پنځو ځلو نه زیات دری شاهۍ (دروپۍ څلورمه برخه) وه او که کوم اعلان دیوه کال له پاره په پر له پسې توګه په وروستي پښتي کې خپرېده دیوې کرښې بیه یو ستار (دروپۍ شپږمه برخه) اخیستل کېده.

امان افغان زیات شمېر اعلانونه په پښتي کې خپرول، پښتي یې دژړ رنګون کاغذو، خو کله ـ کله یې په پښتي کې دننه هم اعلانونه لیدل کېږي خو بیا هم په عمومي ډول په وروستي مخ کې دي (او په وروستي کال کې چې امان افغان بله کومه پښتي نه درلوده اعلانونه دامان افغان په دریم او څلورم مخ کې خپرېدل. رفیع.)

دلو سړی کال په ژم کنه کې دوطني سالو نولکه: کشمیري، ختا، دکمیس ټوکر، وریښمینو دسمالونو، نخي لونګی، برکې، ښځینه او نارینه بوټونو او نورو په باب یو اعلان چې بیه یې هم پکې ده خپور شوی دی او داډول اعلانونه داخبار په بېلو ـ بېلو ګڼو کې کله ـ کله لیدل کېږي.

دلته مخکې له دې چې نور څه ووایم لازم ګڼم و وایم چې امان افغان هم لکه سراج الاخبار غوندې تل له هغو مقالو څخه چې دافغانستان د ګټو په ضد په خارجي جریدو کې خپرېدلې، ځای په ځای اخیستنې کړې او دهغه دلایلو او اسناد و په درلودلو سره یې چې په لاس کې و و، دې تورونو، انتقادونو او تو هینونو ته بشپړ ځواب ورکاوه او تردیدولې یې، دسیهو رو پېښو له

Property of ACKU

ډلې څخه یوه هم هماغه د قادیانیانو د رجم موضوع وه چې د امان افغان په څو گڼو کې په اسناد و او دلایلو سره رد شوې ده.

«صفحه بندی» او صحافت:

---

د امان افغان د «مخ تړنې» (صفحه بستی) په باب بنایي و وایو چې د دې جریدې له پیل څخه تر شپږم نشراتي کال پورې د اخبار کچه کله لویه او کله بیا کوچنۍ شوې ده خو په عمومي توگه ۱۱×۱۵ انچه وه او ټول یې په هر مخ کې دوې ستنې (ستونونه) درلودې خو کله بیا په یوه مخ کې یوازې یو سوروړ ستون هم چې د اکار کله ـ کله کېده. په هر حال د اخبار مخ تړنه د کلونو له پاره په یوه ډول وه او د دوره زیات بدلون نه پکې راغی.

د امان افغان د نشراتي کلو په موده کې کله ـ کله داسې هم پېښېده چې د جریدې دوې گڼې په یوه پښتي کې یو ځای او له دوو هفتو وروسته خپرېدلې چې کله ـ کله درې گڼې هم په یوه پښتي کې خپرې شوې دي، لکه څرنگه چې په څلورم نشراتي کال کې یې ۱۲-۱۳-۱۴ گڼې، ۱۵-۱۶-۱۷ گڼې او ۱۸-۱۹-۲۰ گڼې په یوه یوه پښتي کې چاپ شوې دي.

د خبرونو عنوانونه په عمومي توگه بېله فعله څخه او د یوې فقرې پایوې کلمې په ډول ټاکل شوي، د نمونې په توگه د پنځم کال په ۳۷ گڼه کې: «آقای میرزا محمدخان» او «آقای محمدحیدرخان» د هغه خبرونو عنوانونه دي چې تردې نومونو لاندې په دې کسانو پورې مربوط خبرونه په بشپړ ډول خپاره شوي دي.

د باندنیو خبرونو په عمومي توگه د «حوادث خارجه» تر لوی عنوان لاندې د

Property of ACKU

هېوادونو د نوموړو لکه: ایران، ترکیه، انګلستان، روسیه او نورو ترو ړو سرلیکونو لاندې خپاره شوي دي، خو کله لږ څه بشپړ سرلیکونه هم لیدل کېږي لکه: «تشکر وزارت سالیه از مجلس عالی شوری» او «اخراج وفد خلافت از پشاور».

پله موضوع دمتنونو دبندونو (پاراګرافونو) نه درلودل دی او که کوم ځای کوم پاراګراف هم وي هغه د مطالبو دسره بېلتون په برخه کې بې اغیزې دی.

د امان افغان د شپږو نشراتي کلو په اوږدو کې د هغه په حروفو کې کوم بدلون نه لیدل کېږي بې له دې چې سرلیکونه په کلیشه یي ډول خپاره شوي وو، متن یې ټول په دوو لس بنټه توري (حروفو) دي خو د پنځم نشراتي کال په ۱۹ ګڼه کې خبرو ر کړل شوې چې د اخبار ۱۲۶۸، ۱۳۴، ۰۲، ۳۶۰۳ بنټه توري لري او هم له همدې ګڼې سره د امان افغان مطبعې هم په کار پیل وکړ، لکه څرنګه چې په دې خبر کې څرګنده شوې ده دې مطبعې د پښتو، دري، ترکی، اردو او د دریو اروپایي لکه: فرانسوي، انګلیسي او الماني ژبو حروف هم درلودل.

دیادونې وړ ده چې د دې خبر له خپرېدو سره سره بیا هم د تورو تنوع او رازوالی په امان افغان کې نه لیدل کېږي، یوازې د پنځم او شپږم نشراتي کال په ځینو ګڼو کې کله ـ کله د ۳۶ بنټو تورو سرلیکونه لیدل کېږي.

په امان افغان کې بهتر ډېر د حد ه څه کېدله چې د رسمي کسانو، رسمي ځایونو او د هېواد او هېوادنه د باندې تاریخي ځایو عکسونه خپاره کړي، کله به چې د کوم عکس خپرېدل په نظر کې وو نو هماغه مخ او پاڼه به د جلادار کاغذ

څخه تیول کېدل. د توجه وړ ده چې کله به په کوم نسخ کې عکس خپرېده د اعکس به په عمومي توګه د نسخ په منځ کې تیول کېده او مهمه دا ده چې د اخبار لومړی ستون به ځای ددې چې له پاسه تر پایه پورې راورسیږي د عکس تر سره پورې راورسېده او بیا هم د وهم ستون ته موضوع اوږدېدله او تر عکس لاندې به هم اول لومړی او بیا دوهم ستون لوستل کېدل.

د اهمیت وړ وایو چې د اسان افغان د دوهمې نشراتي دورې ګڼې یعنې هغه ګڼې چې د ۱۲۹۸ کال د تلې له ۲۳ نېټې نه یې په خپرېدلو پیل وشو په دریو ستونو کې خپرېدلې، کچه یې هم لویه وه او د خپرېدو ځای یې د کابل مطبعه ښودل شوی دی.

« ورځپاڼه لیکنه» د اسان افغان له نظره :

---

د اسان افغان په بېلو ـ بېلو ګڼو کې له یوه کله د ورځپاڼه لیکنې په باب ځینې مطالب خپاره شوي چې ددې جریدې د چلولو د ټکو او نظر زیږنده دي. ددې له پاره چې تر یوه حده پورې په دې باب د هغوی نظر په وړاندې کاره شي، ددوی د لیکنو لو یې او مهمې برخې دلته راوړو:

ددې جریدې د دوهم کال په ۲۶ ګڼه کې دوینا او قلم د آزادۍ په هکله اوږده مقاله خپره شوې چې په دې مقاله کې لومړی د مطبوعاتو آزادۍ مهمه بلل شوې، بیا د وینا او مطبوعاتو د آزادۍ د اهمیت په باب خبرې شوې او د نړۍ پرمختګ د وینا او خبرونو د آزادۍ سرهون ګڼل شوی، وروسته بیا په دې هکله چې د نړۍ د هېوادونو دا آزادي څنګه تر لاسه کړه؟ رڼا اچول شوې او له یونان او روم نه یې تر انګلستانه پورې دا موضوع راخېړلې او خوا شیني

خر گند ه کړي چې د مور په خپل هېواد کې داحق نه و وو ر کړ شوی او په پای کې څر نګه چې دافغانستان په اساسي قانون کې داحق یاد شوی ؤ نو ښځه هیله و شوه چې له هغې نه ګټه واخیستله شي.

دریم کال په ۱۰ ګڼه کې هم دخبر لیکونکو داهمیت په باب خبرې شوې . په دې مقاله کې وروسته له دې چې دخبر لیکونکې د کړ او و نو په هکله څو خبرې شوې دنړی په هېواد و کې داخبار لیکنې د پر مختګ په باب خبره نه شوې او امریکا تر ټولو نه مخکې ګڼله شوې، په دې ترڅ کې افغانستان هم دوګړو او دجریدو دشمېر په اساس یې په ګڼل شوی او هم ویل شوي : ټولې ګټې چې هېواد ته رسېدلې داخبار په وسیله دي.

دپنځم کال په ۲ ګڼه کې د«قوت ومقام روزنامه نګاری» په نامه مضمون خپور شوی چې لیکونکی دصحافت (اخبار لیکنې) مقام ډېر لوړ بللی او ورځپانه یې دحقیقت ښکاروونکی ، دحکومت دهادی، دملت ملار ښودونکی، دپوهې دخوروونکی ،داخلاقو سموونکی او دټولنې حکیم بللی ده. ورځپانه لیکونکی دملت او حکومت تر منځ درابطې په حیث ښودل شوی او ویل شوی چې حکومت دملت له غوښتنو، وضعې ، سر تېرکونو او فکرونو څخه خبروی او ملت ته دحکومت تصمیمونه ،ارادې او ګټې ورښیي.

له دې نه مخکې دپنځم کال په ۱ ګڼه کې «ورځپانه لیکنه» تر ټولو کارونو مخته او درنه ګڼله شوې او څنګونه یې په دې ډول شمېرلي دي:

۱ـ جوهری څنګ: دلته لیکونکې عقیده څرګنده کړې چې ورځپانه لیکونکی بنایي د لیکوالی مخصوص ممیزات او صفتونه، قلمی قدرت او تېز هوښ ولري او زیاته کړې یې ده چې داډول کسان دګوتو په شمېر دي.

Property of ACKU

۲- محیطي خنډ: د دې خنډ په یادونه کې بې لیکلې چې و رځپا نه لیکنه آزاد عرفاني، خبره او ر پدو نکې او خبر پېژندو نکې چا پېر او محیط ته اړه لري خو په ختیځ کې لاتراوسه داسې چاپېر نه مو ندل کېږي او همداسبب دی چې پسه ختیځ کې انحطاطاو و روسته و الی وینو .

۳- دو سایلو خنډ: تر دې سر لیک لاندې لیکو نکي څر گنده کړېده چې د تکړه سحر ر ،خانګړې سطبعې، په زړه پو رې ادارې ،بشپړې کتابخانې او نور و درلو دل دو رځپاڼه لیکنې لپاره ضرو ري دي ... داخیزونه چې هر څو مره لږ وي په هماغه اندازه دو رځپاڼه لیکنې کار سختیږي.

اسان افغان په ۱۳۰۷ ش کال کې دو رځپاڼو په لو یه کچه، په ښو تو رو او کاغذاو دز یاتو عکسو نو او په زړه پو رې مقالو په درلو د لو سره خپر پده کو رنی او باندنی خبر و نه یې هم په زړه پو رې وو. و روستني مدیر یې غلام نبي جلال آباد ی نو میده، داسان افغان لوی هدف داو چې خلک د نوی مدنیت لو ر او د هغه سادې او معنوی سبادیو ته را وبولي او دا هر کله په چټکۍ سره تر سره شي چې په هغه وخت کې د زغملو نه و تلې چټکۍ ګڼله کېدله .

(*) داسان افغان و رځپاڼه :

داسا ن افغان دو روستي کال له یو ه نیمګړې کلکسیو ن نه (۲) داسان افغان په باب دالاندې مواد تر لاسه کېږي:

---

(*) داسطالب داسان افغان د بحث تر پای یعنی ترا تحاد مشر قی پو رې د ژ باړو نکی له خوا لیکل شوي او په ا صلی متن و ر زیات شوی دی .

(۲) دا کلکسیو ن د ښاغلی غلام حیدر «مدرسی» په کتابخا نه پو رې اړه ري چې سا نه یې د استفادې لپاره را کړی او په دې وسیله کو ر و دانی و ر ته وایم .

۱ــ داما ن افغان جریدې دنهم نشراتی کال د «۵۷» او پرله پسې «۳۶۸» گڼې په خپرېدلو سره د ۱۳۰۷ هش کال دلیندۍ په «۱۵» نیټه ورځپاڼه شوه. او دو ورځپاڼې کېدو په باب یې په همدې گڼه کې د «امان افغان یومیه» تر عنوان لاندې وليکل:

« اهمیت قانونی جراید و شدت احتیاج تمام افراد بشر به آن (مخصوصاً مللیکه قدمهای ابتدائی مراحل تکامل شانرا طی میکنند) به همه کس واضح است و محتاج نیست ما شرحی در آن باب بنویسیم، البته بدیهی است همان اندازه که جراید فی ذاتهم اهمیت دارند سرعت نشر آنها نیز دارای اهمیت است، لهذا محض بنام خدمت به جامعه و پیشرفت ترقانی و مطبوعاتی وطن، داعیاً الی الله و متوکلا علیه به روزانه ساختن این جریده اقدام نمودیم. یقین داریم این اقدام عاجزانه ما در پیشگاه نظر ابنای حساس وطن با حسن نظر تلقی شده و با عواطف پاک شان استقبال خواهد شد. »

وروسته ليکي: « وضمناً موقع را مغتنم شمرده از عموم ابنای وطن خود مخصوصاً از ارباب فضل و قلم امید داریم معاونت به این جریده را که در حقیقت بهترین خدمتی به این آب و خاک است، اولین ایده و نظریه شان قرار داده و از هیچگونه معاونت مادی و معنوی به آن دریغ نخواهند کرد. در خاتمه از خدای توفیق رجا میکنیم که ما را درین اقدام مایاری فرموده تا آخر موفق سازد که این وضعیت جریده ادامه یابد. »

ښايي د امان افغان د «ورځپاڼه کېدلو» يوازنۍ علت د خلکو دذهنونو تنوير او د خارجي پروپاگنډاو نه او زهرجنو تبليغاتو سره مبارزه کول نه وي ځکه چې په همدې موقع د شينوارو داغتشاش فتنه د خارجي لاس په وسيله رامنځ ته شوه او خصوصاً

Property of ACKU

د هېواد په گوټ ـ گوټ کې د خارجي استعماري لاس په وسیله دوخت د پاچا د تکفیر گونگوسې خورې شوې وې، امان افغان په دې موقع کې د دې ناوړه پروپاگنډ په اصلي منشأ او وخېموعوا قبورنیا اچوله او د خلکو د بېدارولو وظیفه یې په غاړه وه، څرنگه چې دا وظیفه ډېره مهمه وه نو ځکه له هفته یې جریدې نه په ورځنۍ «ورځپاڼه» واوښت.

له همدې ګڼې څخه د امان افغان د سرلوحې دا جمله «هر هفته یکبار نشر میشود» په: «به استثنای ایام تعطیل همه روزه به ساعت هفت صبح نشر میشود» بدله شوه.

دلته دا هم باید وویل شي چې امان افغان دا وخت په څلورو لویو مخونو کې چې هر مخ یې څلور او وه ساتنۍ متره ستونونه درلودل، خپرېده او د وخت د عصري اخبارونو غوندې یې خبرونه، تبصرې او اعلانونه درلودل.

۲ ـ د ۱۳۰۷ هـ ش کال د جدی په پنځمه نېټه په «۳۷» پرله پسې ګڼه کې چې د شینوار و په بغاوت بر سېره د سقویانو فتنه هم راپیدا شوې وه، امان افغان د خلکو د یو کېدلو، د سلې و حدت د ټینګېدلو او د خارجي لاسونو د وجود په باب خپل نشرات لا نور هم جدي کړل او د همدې ګڼې څخه یې د: «واعتصموا بحبل الله جمیعاً و لا تفرقوا» آیت د اخبار په سرلوحه کې زیات او په غټو حروفو یې خپور کړ چې تر پایه پورې په هره ګڼه کې خپرېده (م) او هم یې په همدې ګڼه کې د خبرونو خپرولو په برخه کې یو نوی گام او چت کړ او بر سېره په موثقو خبرونو یې د خلکو د خبر تیا په غرض دا فواهی خبرونو په چا پولو هم لاس پورې کړ او وعده یې ور کړه چې وروسته

(م) دا آیت د امان افغان له سقوطه وروسته د حبیب الاسلام په تندي هم خپرېده.

Property of ACKU

له‌دې‌به دواړه‌دوله خبرونه تر ببلو-ببلو سر لیکونو لاندې خپرېږي، لکه چې ولیدل شو‌په زیاتو گڼو کې‌په‌دې وعده وفاو‌شوه او ځینې افو اهې خبرونه‌یې خپاره کړل.

امان افغان دخپل ورځپاڼې‌توب په لنډه موده کې‌سر ببره‌په‌دې‌د:«سنجیدن لازم است ، شایعات تحریک‌آمیز ، کلنل لارنس‌و افغانستان،خوش باورنباید بود،ای‌اقوام دلیرافغان‌بیدارشوید ، دیانت شعاری های دوراماني، افواهات را‌نباید اهمیت داد، بالیت قومی یعلمون‌او ...»ترسرلیکونو لاندې‌یېدا رو‌ونکي مضامین په ببلو- ببلو گڼو کې خپاره کړل.

۳- دامان افغان وروستنۍ‌تر لاسه شوې گڼه‌د۱۳۰۷ه.ش کال دجدی د۲۲نېټې دنهم کال «۷۹» او پر له‌پسې «۳۹۰»گڼه‌ده، چې‌فکر کېږي ایله یو او یا احیاناً دوې نورې گڼې خپرې شوې وي‌ځکه چې‌د۱۳۰۷ کال دجدی په «۲۳» نېټه اعلیحضرت امان الله خان استعفی‌ورکړه‌او دهمدې کال دجدی په ۲۵ نېټه کابل سقوط وکړ او پایتخت دسقو‌یانو‌په‌لاس کې‌ولوید (۵). نو په‌دې‌اساس دا مان افغان دنه منځه تگ نېټه د۱۳۰۷ه‌ش کال دجدی ۲۳ او یا ۲۳ بللا ی‌شو (۶) چې بیایې دهمدې کال دحوت په لومړۍ نېټه حبیب‌الاسلام په ځای‌خپور‌شو.

(۵) انیس، محی‌الدین، بحران‌و نجات، ۹۳-۹۴مخونه.

(۶) شاغلی آهنگ‌په‌دری متن کې‌دامان افغان‌دله منځه‌تگ وخت‌د ۱۳۰۸ کال منی بللی‌خو څرنگه‌چې‌مستند معلو مات تر لاسه شول‌نو ځکه‌په پښتو ترجمه کې نو موړی‌مطالب حذف‌شول او‌سم تاریخ یې ولیکل شو.

## د امان افغان فوق العادې:

ترکومه ځایه چې زما لاس ته راغلې امان افغان په ځلورو مهمو وختو کې وخت په وخت او ورځ په ورځ بر سېره په عادی ګڼو زیات شمېر فوق ـ العاده ګڼې او پاڼې هم خپرې کړې چې اکثره یې په وړیا توګه په خلکو باندې وېشلې شوې دي .

د امان افغان لومړنی فوق العاده یو مخیزه پاڼې ، درست په هغه موقع کې چې امان افغان نوی مخ ته راغلی ؤ او د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته ترلاسه کولو جګړه روانه وه ، خپرې شوې دي ، په دې فوق العاده پاڼو کې ورځ په ورځ د جنګ خبرونه خپاره شوي او د خلکو د خبر تیاله پاره په وړیا توګه وېشل شوي دی .

د دوهم ځل له پاره چې د امان افغان فوق العاده او پر له پسې پاڼې په لاس کې دي هغه هم په هغه موقع کې چې دوخت پاچا اعلیحضرت امان الله خان دارو پا په سفر روان شو ، شروشوې او د دې سفر تر پایه پورې په یو مخیز پاڼو وخت په وخت او حتی هره ورځ خپرې شوې دی چې د ځینې پاڼو خپرېدو ځای یې د امان افغان مطبعه او د ځینې نورو یې د شرکت رفیق مطبعه ښودل شوې ده ، د دې فوق العاده پاڼو لومړنی ګڼه د ۱۳۰۶ کال د قوس په ۱۸ نېټه کله چې دوخت پاچا نوی په سفر روانېده خپره شوې او وروستۍ تر لاسه شوې ګڼه یې د ۱۳۰۷ کال د سرطان په ۹ نېټه او له هغه وخت سره مصادفه ده چې نوموړی پاچا بېرته له سفرنه هېواد ته راغلی او له هرات نه د کابل پـه لور روان ؤ . په دې فوق العاده پاڼو کې په عمومی توګه د وخت د پاچا تلګرامونه او د نوموړي تولواک د سفر خبرونه خپاره شوي دي او مهمه

داده چې اکثره خبرو نه په خپله دوخت دپا چا له خوا ورکړل شوي دي خبرونه یې لنډ او خبري اصول پکې مراعات شوي چې دالاندې خبر یې دنمونې په توګه وړاندې کړو .

«۲۲ دسمبر ـ امروز جهاز ما در بحر احمر بطرف پورت سعید حرکت کنان است، بحر قدری متلاطم است اما شکر الهی همگی به عافیت هستیم»، «۲۳ دسمبر ما تا کنون در بحر احمر بطرف پورت سعید میرویم، بحر ساکن است و هنوز بهتر خواهد شد ».

په هند یې ترتیب د امان افغان دریم مخ تر لاسه شوې فوق العاده ګڼې درست په هغه موقع کې دي چې د هغه وخت دریمه لویه جرګه پغمان کې روانه وه ، امان افغان داخل هم د جرګې د جریاناتو نه د خلکو د خبرولو په غرض د یو شمېر فوق العاده ګڼو په خپرولو لاس پورې کړی دی. د دې فوق العادو لومړی ګڼه د ۱۳۰۷ کال د سنبلې په ۹ نیټه خپره شوې او مشخصات یې دادي : د امان افغان د نامه د دایمي کلیشې د پاسه په لویو حروفو (غالباً چې ۳۶ بنټ توري به وي) «فوق العاده» لیکله شوې ده، بیا خواته یې په اوږدو : «نمبر ۱» او کیڼې خواته یې هم له پاسه په اوږدو : «یو شنبه ۹ سنبله ۱۳۰۷» لیکل شوي، د نامه د کلیشې نه لاندې: «مخصوص نشر خلاصه و نتایج مذاکرات لوی جرګه سوم» (په ۳۶ بنټ حروفو ) «تا جرګه دوام دارد همه روزه به ساعت ۹ قبل از ظهر منتشر میشود.» (په ۲۴ بنټ حروفو ) جملې لوستلې کېږي. د دې ګڼې پښتې په تصواری رنګ او متن یې په خلورو مخونو کې په تور رنګ خپور شوی دی نورې ګڼې یې زما په لاس کې نشته خو ښايي له وعدې سره سم یې د لویې جرګې تر پایه پورې دوام کړی وي.

د امان افغان د څلورم مخ تر لاسه شوې فوق العاده پاڼې د دې جریدې د عمر

Property of ACKU

دوروستیو ورځو سرهاړه لري، دافوق العاده یو مخیزې پاڼې دشینوارو د داغتشاش سره یو ځای د۱۳۰۷ ش کال دلیندی په دوهمه نیټه شروع شوې دي، ددې فوق العاده پاڼو په ۹ نومره کې چې دلیندی له ۱۰ نیټې سره سمون خوري دسمت شمالي او دسقاو دزوی دبغاوت خبرونه هم لیکل شوي او نورې پاڼې یې په لاس کې نشته خو څرنگه چې په همدې نیټه دامان افغان جریده په ورځپاڼه بدله شوې او ددې فوق العاده پاڼو له خپرولو نه هم خلکو تـــه دتازه خبرونو رسول مطلب وو چې داسطلب نور د امان افغان ورځپاڼې ترسره کولای شو ای نوفکر کیږي چې ددې فوق العاده پاڼو خپریدل به په همدې نیټه قطع او وظیفه به یې ختمه شوې وي.

ددې فوق العاده پاڼو خپره: داپاڼې په عمومي توگه یوستون لري چې د کوچنیو ستونو اندازه یې ۹×۱۳ نیم سانتي متره او دلویو پاڼو ستونونه یې پیا۱۳ نیم×۲۷ سانتي متره دي خو په عمومي توگه داپاڼې دلاس ته ورغلومو ادو په تناسب خپرې شوې دي، داعلیحضرت امان الله خان دسفر پاڼې اکثره په طباعتي گلونو ښایسته شوي او د «امان افغان» حروفي نوم دګلانوپه چوکاټ کې نیول شوي دي چې د «فوق العاده» د کلمې په څوا کې یې په وروخرو فو د «مفت و رایگان» کلمې هم لوستلې کیږي خو دشینوارو او شمالي داغتشاش پـــه فوق العاده پاڼو کې یوازې دفوق العاده کلمې نه لاندې دامان افغان کلیشې نوم خپور شوی دی. همدا راز ددې فوق العا دو ځینې پاڼې په دوو مخامخ مخو کې هم خپرې شوې دي .

ددې پاڼو متن: لکه څرنگه چې مخکې هم وویل شول ددې فوق العاده پاڼو متن دمعینو ، تا کلو ، فوق العاده او آنی پیښو په باب خبرونه او معلو مات

Property of ACKU

مفت          فوق العاده          و رایگان

# امان افغان

# اخبار سفر اعلیحضرت

## بشارت بشارت!

## پیغام اعلیحضرت غازی به ملت عزیزش

### از هرات

و پروگرام حرکت شان از هرات تا کابل

ملت عزیز باوفای من!

امروز مسرت قلبی خود را اندازه کرده نمیتوانم که مسافرت من خاتمه کشیده و بخاک وطن عزیز خود واصل میشویم، آرزوی سلامت دیدن و اشتیاق دیدار شما فرزندان دلیر بهجت دلی مرا دو بالا می‌نماید، خیر مقدم پر حرارت و صمیمیت تان که از جانب وکلای تان بر سر خاک وطن محبوبه قرائت شد ترجمان عاطفه قلبی من و احساسات فرزندانهٔ شما بود. من خدا را شکر می کنم قسمی از فرزندان عسکری وملکی ومامورین عزیز خود را که از جانب شما استقبال می‌کردند باعافیت دیدم من با تمام اشتیاق قلبی محبت های صمیمی خود را از سر خاک وطن محبوبه خود بشما می فرستم.

حرکت اعلیحضرت روز سوم سرطان از هرات، شب را در سبزوار بوده روز چهارم سرطان وارد فراه می‌شوند. روز پنجم سرطان بگرشک و روز ششم سرطان بقندهار میرسند، دو روز در قندهار که روز هفتم وهشتم سرطان باشد، بوده روز نهم سرطان بمقر ودهم بشیخ آباد وردک وارد شده شب در [illegible] کد را بیده، روز یازدهم سرطان بین ساعت ۹ الی ۱۱ بجه مع الخیر والسلامه داخل کابل می‌شوند.

مورخه ۳ سرطان ۱۳۰۷          مطبع امان افغان

د امان افغان یوه فوق العاده گڼه

Property of ACKU

تشکیلوي چې په څینو کې بې رسمي تیلگرامونه او خبرونه هم خپاره شوي دي .

څینې خبرونه یې دوخت له نشراتی روش سره سم له یوې مقدمې نه وروسته او څینې یې لکه داوسنی خبر نگارۍ غوندې مستقیماً شروع شوي دي .

په خبرو نو سر بیره په یوه کنه کې یې دامان افغان داداری له خوا دالاندې اعلان هم لیدل شوی :

«بنابر وسعتی که در اداره و سرعتی که در اوقات نشر امان افغان در نظر است اداره به یکی دو نفر محرر جوان که مستعد اکتساب باشند و غیر ازین به ده نفر خواننده و نویسنده که ما میخواهیم آنها را سرتب (حروفچینی) بسازیم و هکذا (۸ نفر) چپراسی احتیاج دارد ، آقا یا نیکه میل دارند اداره به پذیرفتن شان حاضر است، عجلت بفرمائید که وقت کم و باز نفری پوره میشود . (از اداره) .»

امان افغان له دې فوق العاده وړیا گڼو پرته په زیاتو پاڼو او رازــ راز رنگونو دفوق العاده مضامینو په درلودلو سره په څینو مراقعو کې نورې فوق العاده گڼې هم خپرې کړې دي خو هغه یوازې دیوې ورځې لپاره دي او هم دامان افغان دعادي گڼو په ځای راوتلې چې له دې ډلې څخه یوه هم داروپاله سفرنه دوخت دپاچا دراتگ په مناسبت په ۱۲ لو یو مخونو کې په ځلوړو له بېلوــ بېلو رنگونو باندې مصورهفوق العاده گڼه ده.

دجشن فوق العادې :

---

دجشن فوق العاده دلو مړی ځل لپاره په ۱۳۰۱ هـ.ش کال دامان افغان تر

څنګه د دوهم نشراتي کال په وخت کې خپره شوې ده(۷) د دې کال په یوه ګڼه کې چې نو مړه نه لري (غالباً دوهمه یادریمه ګڼه به وي) د ځانګړي مدیر او منتظم نوم لري چې مدیر یې محمد اکبر او منتظم یې عبدالجبار (۸) ښودل شوی دی .


**ددې ګڼې خپره:** د جشن دا ګڼه په دوو مخامخ مخونو کې خپره شوې، طبع یې حروفي او رنګه یې طلا یي ده ، دوا ړه مخونه یې د یوه سانتي متر سوروروو طباعتي ګلونو په چوکاټ کې نیول شوي ، په لومړي مخ کې د چوکاټ دننه بیاهم د دوه سانتي متر سوروو ر طباعتي ګلونه لاندې د مخ په منځ کې د جشن کلیشه شوې جلي نوم او د تأسیس سنه (۱۳۰۲) لیکل شوي ، له نامه نه لاندې دا بیت لوستل کېږي :

مژده بخشد خلق را اخبار جشن باد بر افغان مبارک کار جشن

د نامه ښي خوا ته په څلورو کرښو کې: «سو ضع پمتان قیمت دو پیسه » او «در هر روز یک مراتبه نشر میشود» جملې لیکلې شوې دي ، له دې نه

(۷) څرنګه چې د جشن له نامه لاندې ۱۳۰۱ش کال لیکل شوی او د نامه سر ه یو ځای سنه په هغه وخت کې عموماً د جراید و د تاسیس سنه وه نو ځکه د لومړي ځل خپر ېدو کال یې همدا بو رتني کال و ښودل شو .

(۸) عبدالجبار دا وخت د امان افغان په اداره کې ترجمان ؤ او هم یې د امان افغان د مدیر پاینده محمد ځان فر حت د ناروغۍ په اثر د هغې جریدې چا رې په غیر رسمي توګه په غاړه درلودې خو د ۱۳۰۱ کال د تلې په ۵ نېټه د امان افغان رسمي سر محرر و ټاکل شو . (امان افغان، دوهم کال، ۷م–۸م ګڼه) .


Property of ACKU

دحشین دفوق العادی یوه گڼه

لاندې بیاهم دطباعتی بل رازګلونو دیوه سانتی سورو رجدول په سنځ کې په یوه کرښه کې لیکل شوی :

«خوش بآزادیو فراغت حال (یوم جمعه ۲۹ ماه اسد ۱۳۰۱) میتوان سیر جشن استقلال» او دجدول نه لاندې د«حیات» تر عنوان لاندې یوه مقاله لیکله شوې دهچې داخبار دوه نیم ستونه یې نیولي، په دریم ستون کې یې د یوه بیت تر عنوان لاندې دجشن په باب څو خبرې شوې چې دڅلورم ستون یوه برخه یې هم نیولې، داخبار دڅلورم ستون په پاتې برخه کې د« قصیدهٔ تهنیت جلوس بااستقلال» تر عنوان لاندې یوه څلویښت بیتیز شعر خپور شوی چې دشاعر نوم یې نشته.

دجشن دورځپاڼې هر مخ دوه ستونه لري چې دهر ستون سور یې ۷ سمه او اوږدوالی یې ۳۰ سمه دی، داخبار دچه ۱۳×۱۸ نیم انچه ده.

لهدې څخهچې دجشن فوق العاده په دوه رنګه مخونو کې خپره شوې ښکاري چې په خرڅلاو یې سپړنه دجشن په منطقه کې په دیوالونو هم خپره له کېده.

دجشن مطالب: دجشن مطالب لکه څرنګهچې له نامه څخه یې ښکاري ههغه مطالب وو چې له جشن سره یې اړه درلوده، دجشن دورځې ګزارشونه یې خپرول او هم یې دآزادۍ او د آزادۍ دا همیت په باب تشویقی او له درسه ډ کې مقالې خپرولې.

دجشن د «حیات» تر عنوان لاندې مقاله کې دژوندله تعریف نهورو سته عقیدهښکاره شوې چې واقعي ژوند خپلوا کۍاو آزادژوندی او دې ژوند تــه درسید و په برخه کې یې دوخت د پاچا څخه ستونه ستا یلې دي . او په دوهم مضمون کې یې دجشن داهمیت او سپلۍ په باب خبرې کړې دي .

Property of ACKU

همدارنګه د جشن په نورو لیدلو شویو پاڼو کې د جشن په باب دوخت د پاچا او وزیرانو وینا وې، د جشن پروګرام او د جشن نورې پېښې خپرې شوې دي او اداره یې په پغمان کې وه.


د جشن د ورځپاڼې عمر: د جشن ورځپاڼه لکه څرنګه چې وویل شول د لومړي ځل له پاره په ۱۳۰۱ کال کې منځ ته راغله، په ۱۳۰۲ کال کې یې په راز راز رنګونو او وه مصورې ګڼې خپرې کړې او په راوروسته دوو کالو کې یې هم دوام درلود، په ۱۳۰۴ کال کې د عید استقلال په نامه خپره شوه(۱۰) چې ګوسان کېږي د جشن د اخبار چلیدلو به داسا نی دورې تر پایه دوام کړی وي او حتی د ۱۳۱۷ او ۱۳۱۹ هش کال د «روز نامهٔ جشن استقلال» په نامه له خپرونو څخه چې د اصلاح د اداري له خوا خپرې شوې او له ما سره یې دوې ګڼې شته، معلومیږي چې د جشن د ورځپاڼې خپرېدل د اما نی دورې نه راوروسته هم تعقیب شوي او د نامه په لږ تغیر سره یې دوام کړی دی (۱۱) خو په هر حال د جشن ورځپاڼه یوه ضمنی ورځپاڼه وه چې د امان افغان د جریدې په وخت کې د امان افغان د اداري او له هغه وروسته د اصلاح د اداري له خوا خپرېدله.

---

(۱۰) سایل، رهنمای جراید... ۱٦۰ مخ.

(۱۱) د روز نامهٔ جشن استقلال په یوه ګڼه کې د «سال بیستم، شماره اول» کوښې دا هم رسوی چې دا ورځپانه د هماغه جشن د ورځپانې په دوام لا تر ۱۳۱۹ کال پورې هم خپره شوې ده.

Property of ACKU



بسم الله الرحمن الرحیم | لا اله الا الله محمد رسول الله نصر من الله و فتح قریب

امیرامان الله الغازی ۱۲۹۸

اتحاد مشرقی ۱۳۳۸

ولقد جلال آباد

تاریخ ۲ جمادی الثانی

نقل فرمان اعلیحضرت غازی

اعوذ بالله من الشیطان الرجیم

(واعتصموا بحبل الله جمیعا ولا تفرقوا)

ای برادران غیور من افغانستان!

[illegible]

نعوذ بالله منها!

زنده باد فداکاران راه دین ... زنده باد ... افغانستان ... بلند باد بیرق دین مبین رسول الله ... باد کوکب عالم اسلام!

د اتحاد مشرقي لومړنی گڼه

Property of ACKU

# اتحاد مشرقي

اتحاد مشرقي د افغانستان لومړنۍ ولایتي ورځپاڼه ده(۱) چې د ۱۲۹۸ کال په کب کې (۱۹۲۰ ع) د ۱۳۳۸ هـ ق د خلورسي خور په دوهمه نیټه هغه وخت چې سپه‌سالار محمدنادرخان د ننګرهار د ولایت تنظیمیه چارې تر سره کولې، تأسیس شوه او د دې ورځپاڼې تأسیس هم د همده په واسطه شوی دی(۲).

د اتحاد مشرقي لومړی مسؤول چلوونکی برهان‌الدین کشککی و (*)

---

(۱) ښاغلی [illegible] د اتحاد مشرقي جریده پنځلس ورځنۍ لیکلې او کورنۍ معرفي روزنامه‌ها و جراید [illegible] مخونه.

(۲) د ۱۳۱۱ کال کابل کالنی.

(*) د دې جریدې د لومړي کال له لومړۍ ګڼې بیا تر ۱۳ ګڼې پورې چې وروسته ولیدای شوې د چلوونکي نوم نه لري خو بیا د همدې کال په وروستیو ګڼو کې د برهان‌الدین کشککي نوم لیدل کیږي «رفیع».

او په هفته کې دوه ځلې خپرېده ، ورو سته له هغې محمد بشیر خان ، عبدالجبارخان او محمدامین خان خو ګیاني د دې جریدې د خپرېدو وظیفه ترسره کوله.

متن يې په او له کې په دري ژ خو په عین حال کې يې ځینې شعرونه او مطالب په پښتو ملي ژبه هم خپرول.

متن:

سر ه له دې چې د متن له پلوه هم دې ورځپا ڼې لږ او ډېر هماغه مطالب خپرول چې په امان افغان کې به خپرېدل خو لکه څرنګه چې وويل شول د ځینو پښتو شعرونو او ځینو مقالو خپرېدل دا اخبار له امان افغان څخه بېلوي.

داتحاد مشرقي ددوهم کال په ۲ ګڼه کې د(۱۲۹۹ د کب ۲۶ ، چار شنبه/د ۱۹۲۱ کال د مارچ ۱۶)چې له لیکو نکي مرحمته، دالاندې مطالب خپاره شوي:

لو مړی د خپلواکی دجشن په هکله یو او ږد او مفصل خبر او سیل کېږي ددې خبر لو مړنی پاراګراف دجشن د پیلېدو په باب داسې دی:

«بتاریخ ۹ برج حوت روز یکشنبه عمل شش و نیم بجه شام مراسم جشن باشکوه و جلال سالګرهٔ استقلال افغان در دا لان عظمت نشا ن سلام خانه... انعقاد یا فته و نفری مشمو لین محفل از ساعت شش و نیم الی هفت به ترتیب و نظام درستی که جناب ایشک آقا سی ... بصورت مجلس دادہ بو دند، (حضو ر بهم رسانیدند.)»

په دې خبر کې زیاته شوې چه په اتو بجو او شلو دقیقو کرا ن بوا وا کئ په غونډه کې ګډون وکړ .

Property of ACKU

دخبر دوهمه برخه د «عریضهٔ ملت» تر فرعي عنوان لاندې خپره شوې، په همدې ډول د دې عریضې په ځواب کې چې دوخت د کورنیو چارو دوزیر له خوا او لوستله شوه د پاچا له خوا کورودانۍ وویله شوه د دارجه چارو وزیر د خارجي هیوادو د سفیرانو له خوا د جشن مبارکي عرض کړه چې په ځواب کې له دهنه هم تشکر وشو.

دیادونې وړ ده چې له هر څه نه مخکې دا خبر د پېښېدو د پېښېدو یعنې د «مستقیم هرم» په اساس ترتیب شوی، دوهم په داسې ځایونو کې چې یو مطلب له بل څخه بېل شي تر متن ناځاړ څه لوی عنوان د فرعي عنوان په ډول ورکړ شوی دی، دریېم هغه ټکی چې باید د خبر په متن کې په نښه شوی او ښه څرګند شوی وای، هم په لوی‌لیک لیکل شوي او د هغو غونډې دانځورکولو پسه غرض حتی هغه څه چې دوینا و په منځ کې پېښېدل په لیندیو کې نیول شوي دي، مثلاً کله به چې وویل کېدل: «افغان و افغانستان را به همه عالم شناخت و بیرق استقلال خود را به کمال عظمت از پشت بام دنیا افراخت.» حاضرینو به په لوړ غږ وویل: «پاینده باد استقلال افغانستان» د ړو لندی ډی (ناخنکونو) په منځ کې وینانه یوازې دا چې په لیندیو کې نیوله شوې په لوی لیک هم لیکله شوې، په همدې ترتیب کله به چې په بل ځای کې پاچا یادیده بیا به هم د «زنده باد» چیغې پورته کېدلې چې دا هم په لوی‌لیک او دلیندیو په منځ کې خپرې شوې دي، د دې ورځپاڼې د خبرونو سره د ارتباط په هکله ښاغلی مایل یاد ونه کړې چې د دې ورځپاڼې اکثره خبرونه به د لیکوالی د شخصي نظر یې او قضاوت سره یو ځای تر تېبېدل (۳).

(۳) مایل، معرفی روزنامه ها ... مخونه.

په نوموړې ګڼه کې دری خارجی خبرونه هم ولیدل شول چې سر لیکونه یې دادی: «قتل فرانسویهادر دمشق»، «عربها بزور شمشیر فیصله میکنند» «قضیهٔ بلشویک هابر پایتخت جارجیا». دوروستی عنوان متن داسې دی:

« از قسطنطنیه خبر رسیده که بلشویکها بروز جمعه به شهر طفلیس قابض شده اند. حکومت جارجیا بطرف قریس پس پاشده میرود.»

د نوموړو خبرونو د یوه خبر سرچینه د زمیندار اخبار ښودل شوی دی خو د دوو نورو خبرونو لپاره کوم اخیستنځی نه دی ښودل شوی خو داسان افغان او ددې وخت د نورو اخبارو د کتنې په رڼا کې ویلای شو چې دا دې ورځپاڼې زیاتره خارجی خبرونه د هندي، ایرانی، عربی او ځینې نورو هېوادو له اخبارونو او جریدو څخه اخیستل کېدل.

د اتحاد مشرقی د نهم کال ۹۳ او ۹۴ ګڼې، مقالې او ځینې خبرونه لری چې دلته یې د پر تلنې او مقایسې په توګه تر څېړنې لاندې نیسو:

د ۹۳ ګڼې لومړنی مقاله د «دوره ژندګانی» تر عنوان لاندې ده، دا برخه د هغې مقالې چې په هغې کې د انسانی تولنې د غړو د ژوند په بېلو-بېلو دورو کې تربیتی او اخلاقی مطالب څېړل شوی اته د پرشمه برخه ده. یو بل مطلب د «علم او اخلاق» تر عنوان لاندې د نوموړې ګڼې په دوهم مخ کې چې د جریدې دوه بشپړ مخونه یې نیولی دی خپور شوی دی.

دد ې ګڼې په متن کې څلور خبرونه هم لوستل کېږي، لومړی خبر یې د «جاپان» تر عنوان لاندې دی او د هغو سختو طوفانو د پېښېدو په باب دی چې د جاپان په لویدیځه څنډه کې پیدا شوي وو، دوهم خبر د «آثار طغیان در دریای اتک» تر عنوان لاندې دی، په دې خبر کې د اټک د سیند د طوفانی کېدو په باب خبرې شوې او دا خبر د زمیندار له اخبار څخه اخیستل شوی دی. دریم خبر د «بر طانیه و چین» او څلورم خبر د «چین و جاپان» تر سر لیک لاندې دی، وروستنی خبر یې درهبر نومی جریدې څخه اخیستل شوی دی. په ۹۴ ګڼه کې



داتحاد مشرقي يوه حروفي ګڼه

Property of ACKU

هیڅ راز خبر نه لیدل کېږي او ټول مطالب يې اجتماعي او اخلاقي مقالې دي.
ترتیب او مخ تړنه:

---

موجودې ګڼې (هغه ګڼې چې د لیکوونکي په لاس کې دي) نه ښيي چې د اخبار د متن مطالب به په بېلو-بېلو برخو او ترېلو عنوانونو لاندې خپرېدل که څنګه؟ لاندې سره سره بیا هم اټکل کېدای شي چې د جریدې لومړی مطلب به په عمومي ډول هغه مقاله وه چې یا به يې کورټ د مفکورې بڼه درلوده او یا به هم د مفکورې او خبر ډول کوم مطلب ؤ.

د نو سورې جریدې د ټولو ټول کال پنځمه ګڼه په ټبرین چاپ خپره شوې او کاغذي پسته يې (۴) دی.

هر مخ په دریو ستونو ویشل شوی او ستونونه د خط کشونه په وسیله سره بېل شوي دي. د اتحاد مشرقي کچه په اوله ګڼې (۱۳×۱۰) انچه وه، د هر ستون اوږدوالی يې (۱۱ نیم) انچه او سور يې درې انچه ؤ.

د مطالبو لوی سرلیکونه په لوی توری لیکل او نور متنونه د متن له لیکنې په لږ څه لوی لیک لیکل کېدل.

د اخبار د نامه برخه دوه سره یې لې برخې لري: لومړۍ برخې یې ښي خوا ته د بريخنې له دریو نه دوې برخې نیولې او لاندیني مطالب پکې راغلي دي: په منځ کې د محراب او د ریخ (منبر) څېره د لمر په بیضوي شکله وړانګو کې نیول شوې او ښي خوا ته يې د وخت د پاچا نوم او د تاسیس لمریز لیږدی کال او کیڼې خوا ته د اخبار نوم (اتحاد مشرقي) او د تاسیس میاشتیز لیږدی کال خپاره شوي دي. په برنۍ برخه کې يې لومړی «بسم الله ...» دوه همبارکه کلمه او د ریم د «نصر من الله...» مبارکه آیت خپاره شوي او په لاندېني برخه کې يې هم د قرآن کریم دوه آیت لوستل کېږي.

---

(۴) ښاغلي مایل لیکي چې په شین، سره، ژړ او شنه کاغذ خپرېده (روزنامه ها ... ۴۰۵ مخونه).

Property of ACKU

د نامه دلوحې په دوهمه برخه کې د محراب د ژوله شکل لیدل کیږي چې د محراب په لاندې برخه کې د جریدې د رخنې تاریخ «چهارشنبه ۱ — رجب المرجب ۱۳۳۹ مطابق ۲۶ حوت ۱۲۹۹ و مصادف به ۱۵ مارچ ۱۹۲۱» لیکل شوی؛ د محراب په دریو نورو گوښو کې له ښي نه کیڼې خواته دا عبارات لوستل کیږي: «اتحاد مشرقی، در هفته دو بار بروز شنبه و چهارشنبه نشر و شایع میشود داشتراک هر شخص بعداز وصول رسید خزانه قبول کرده میشود.»
د محراب په منځ کې د محرر او مدیر نوم او د گڼو بیه په لاندې ډول راغلې دي:

| | سالانه | شش ماهه |
|---|---|---|
| در سمت مشرقی | (۳) روپیه | سه روپیه |
| در دیگر ولایات افغانستان | (۵) روپیه | سه روپیه |

در ممالک خارجیه (۵) روپیه علاوه بر محصول ډاک.

داخبار د نامه لوحې، دا بېه داعلیحضرت غازي امان الله خان د سلطنت تر پایه پورې په لږ څه بدلون سره ساتلې ده ځکه چې د نهم کال د (۳۰ نمبري) گڼې هم هماغسې لري او ډېر کم بدلون چې پکې راغلی دادی چې د نامه د لوحې د دوهمې برخې مطالب د دې په ځای چې د محراب د لا شکل په منځ کې راشي د یو مستطیل په جدول په منځ کې نیول شوي دي.

ښکاري چې اتحاد مشرقی په وروستیو کلو کې حروفي مطبعه وموندله ځکه چې وروستنی گڼې یې په حروفي چاپ خپرې شوې دي. خو کله یې چې حروفي چاپ شروع شو د اخبار کچه هم ورو ورو یعنی (۱۳×۸ انچه) شوه او هم یې هر مخ دوه ستونه انچه سور او اوږده ستونو نه درلودل او په سرلیکونه په دې وخت کې نو سوري اخبار په ښکلو رومخونو کې خپور شو.

د نهم کال دوې گڼې ښيي چې د اخبار اداره د مضمونو او خبرونو د ترلاسه کولو په برخه کې له مشکلاتو سره مخامخ وه ځکه د کرښو تر منځ سپینو الی (فاصله) دومره زیات دی چې حتی تر لمخ سپین ښکاري، د جریدې مدیر داوخت محمد امین خوگیانی و و چې د امانی دورې تر پایه پورې یې دې وظیفې ته دوام ورکړی دی.

Property of ACKU

# غازي

دغازي (يا الغازي) هفته واره جريده د ۱۳۰۰ هش کال په چېرنګا بن (*) (د ۱۹۲۱ ع کال جولايي) کې دپښتيا دولايت (هغه وخت دجنوبي ولايت) په خوست کې خپره شوه، نوموړې جريده هره چارشنبه خپرېده او مسئول مدير يې (دمدير او سر محرر په نامه) عبدالله نومي يو تن ؤ. ددې کرښو دليکنې په وخت کې ددوهم کال دريمه ګڼه دليکوونکي په لاس کې ده. او دهغې دمتن او خصوصياتو له مخې ځينې خبرې وړاندې کېږي:

ددې جريدې لومړني مطلب چې لومړى مخ يې ټول نيولى دى دعلامه شيخ محمد اقبال لاهوري يوه مثنوي ده، ددې شعر عنوان دى: «رموز بېخودي يعني اسرار حيات مليهٔ اسلاميه».

---

(*) ښاغلي آهنګ په دري متن کې دچونګا بن په ځای تله کاري خو ددې اخبار شپږمه ګڼه چې زما لاس ته راغلې د ۱۳۰۰ کال داسد يوولسمې نېټې ده او دا ښيي دغازي جريده دې لومړي ځل په چنګا بن کې خپره شوې وي «رفيع».

Property of ACKU

«پیشکش بحضور ملت اسلامیه

منکر نتوان گشت اگر دم زنم از عشق

این نشه بمن نیست اگر با دگری هست

( ۳ قی )

ای تراحق زیدهٔ اقوام کرد        ختم بر تو دورهٔ ایام کرد

په دې «کسر» داقبال یوه اوږده مثنوی خپره شوې ده.

دوهم مطلب یې چې د جریدې دد وهم مخ له لومړي ستون څخه شروع شوی د «بمب اندازی بر مسعودان» تر عنوان لاندې خبر دی:

«اله آباد، (۲۰) اسد – عبدالرحمن خیل و مسعود... بر افواج شاهی بر طانوی حمله کرده بودند. دشمن نقصان قلیل را برداشت کرده فرار نمودند. در مکافات آن چند جهاز هوایی بر قریه جات آنها کور پرواز نموده بمبهای متعدد را انداختند چون موسم خراب و غبارآلود بود نقصان دشمن معلوم نشده اند...»

په خبر کې په همدې ډول په وزیرستان باندې د برتانیې دالوتکو د بم غورځولو او د وزیرستان دخلکو د میړانې او دځان او ناموس دساتنې په باب یادونه شوې او دسیاست له جریدې نه یې ځینې لیکنې را اخستي چې په هغې کې دبم غورځولو د ناروا توب یادونه شوې ده، د غازی جریده بیا کې داهم لیکي چې د «سیاست» له لیکنې او فکر سره یوه خوله دی خوله:

«برتانیې څخه دسولې او انصاف هیله درلودل یوه بېځایه هڅه ده» یې ویلي او خپل خبر یې د برتانیا دظلمونو په شمېرلو سره سرته رسولی دی.

دریم مطلب د «هندوستان» تر عنوان لاندې یو خبر دی، په دې خبر کې د هندوستان د مشرانو دیوه هیأت په باب خبرورکړ شوی چې نوموړي هیأت

Property of ACKU

دهندګوټ ـ ګوټ ته تللی او دهندوانو او مسلمانانو دیووالی او اتفاق او د بېلو ـ بېلو ېر خو دېر مختګ او پر اختیا په باب یې مطالب سره راغونډ ول او په پای کې د ځینې حقایقو په درلودلو سره ددوی راپور تر غور لاندې نیول کیده او لازمه پریکړه پرې کیدله.

څلورم مطلب تر دې عنوان لاندې یو خبر دی :

«جسارت و ولوالفدائیت یک بچه سندی ، ضامن من خالق من است.»

«همعصر ، خلافت بولتن، مینګارد که حکومت یک طفل یازده ساله خیر محمد نامی رابر الزامیکه تقاریر پر جوش و مواعیظ اشتغال انګیز خلاف حکومت ایراد نموده بود دستګیر کرد ... »

خبر زیاتوی چې دانیول شوی ماشوم تحقیق ته بوتلل شو ، حاکم چې کله دیو شمېر پو ښتنو په ترځ کې ورته وویل :

ـ تاخه کول؟

ده ورته وویل:

ـ ما دحکومت په ضد خلک غاړې غړولو ته راپارول!

او ددې پوښتنې په ځواب کې یې چې :

ـ ضامن ورکوي؟

وویل:

ـ نه زما ضامن، زما خدای دی!

کله چې پوښتنه تري وشوه:

ـ بښنه غواړې؟

ویې ویل:

ـ ولې بښنه وغواړم؟ ځکه چې زه پوهېږم کومه ګناه می نه ده کړې او دیوه هندوستانی په حیث مې خپل فرض اداکړې دي .

Property of ACKU

د جریدې وروستنی مطلب د «خاتمهٔ کنفرانس لندن» تر عنوان لاندې یوه خبر دی، په دې خبر کې د کنفرانس په هدف چې: د جګړې د تاوان په هکله دې جرمن ته وخت ورکړ شي، خبرې شوې وې، په خبر کې ویل شوي چې دا کنفرانس بې پایلې نه شو.

ښکاري چې غازي په یوه پاڼه (دوو مخونو) کې خپره شوې ده، ځکه د دوهم مخ په پای کې یې دا عبارت ولوستل شو: «در مطبع الغازی خوست طبع گردید. بقلم غلام محمد کاتب تحریر یافت.»

څرنګه چې د مطبعې او د اخبار د خطاط نوم عموماً د اخبار په پای کې لیکل کېږي نو ځکه دا جریده هم یوازې همدا دوه مخه وه.

مخ ترنه:

---

د غازي د نامه لوحه چې شپږ انچه لوړه ده، دا مطالب او مواد لري:

د اخبار نوم په لوی ګلدار نستعلیق خط د لوحې په منځ کې لیکل شوی، دواړو خواوو ته یې له برچو سره دوه توپکه د ستنې په ډول دروول شوي او د توپکو په خوا کې په همدې ډول دوه بیرغونه ولاړ دي، د لوحې په سر کې: «بسم الله الرحمن الرحیم» او له هغې وروسته «الله اکبر» او بیا وروسته د «الجنة تحت ظلال السیوف» عبارت لوستل کېږي.

د نامه نه لاندې د اخبار د تأسیس کال (۱۳۰۰) او دوې نورې چاپیالې په ډول یوه په بل ایښودل شوې، د ښي خوا په کونج کې «هفته» او د کیڼې خوا په کونج کې «وار» راغلي دي، د جریدې ښي خوا ته د مدیر نوم، د اداري ځای او د خپرېدو ورځ یې لوستل کېږي او په کیڼه خوا کې د جریدې د ګڼون بیه په دې ډول ده:

| | |
|---|---|
| سمت جنوبی | پنځه روپۍ کابلی |
| ولایات داخله | شپږ روپۍ کابلی |
| ممالک خارجه | پنځه روپۍ انګرېزي |

د نامه د لوځي د پاسه به نښتي ډېر شعارونه هم په عربۍ ژبه څرګند وي، د اخبار د نامه د لوځي لاندې د اخبار د څرګندونې په «هش» «هق» او «ع» سره راغلي او هم د جريدې کال او کښه دلته لوستل کېږي .

د جريدې کچه ۱۸×۱۲ انچه وه هر مخ يې درې ستونه درلودل چې هر ستون د خطکشو نو په وسيله سره بېل شوي، کاغذ يې (د هغې ګڼې چې له ما سره وه) يو ډول نري شکري رنګه ؤ .

د اخبار د متن مطالب يو له بله د نښو خطکشو په وسيله سره جلا کېدل او عنوانونه د هر مطلب د پاسه په لوی خط ليکل کېدل .

د همدې يوې ګڼې د متن له مطالبو څخه ښکاري چې نوموړې جريدې په هند او پښتونستان کې د انګليس د استعماری حرکتونو په ضد مبارزې په برخه کې درلودې د همدې مفکورې په اساس يې د اسې پاروونکي مطالب خپرول چې د هندوستان او پښتونستان د خلکو د شعور او احساس راويښولو په برخه کې يې زياته مرسته کولای شوه. د منلې هلکه‌نه د پو ښتنو کو لو پښه په دې برخه کې د مو د لپاره لو يه نمونه ده او هم د وزيرستان د خلکو انګليسی

ضد حرکتونه او دانگلیسانو له خوا په دوی باندې دېمونو اچولو خبر په دې برخه کې یو بل سند دی .

دجریدې دخپرېدو ددوام په هکله باوري خبر تر لاسه نه شو خو بنایي دوسره وو او چې احتمال لري تر ۱۳۰٦ - او ۱۳۰۷ ( ۱۹۲۹ ) کلو پورې یې خپرونو دوام کړی وي .

Property of ACKU

# معرف معارف

تر او سه سوه دوه ورځپاڼو او جریدو په باب مفصلې خبرې وکړې ، په دې برخه کې هغه خپرونه تر څېړنې لاندې نیسو چې د متن او نشراتي هدف له پلوه یو اختصاصي خپرونه وه او د هغې وخت د پوهنې وزارت (۱) له خوا خپرېدله. دا خپرونه په څپله څرګندوي چې د

(۱) ښاغلی مایل د«معرفي روزنامه‌ها، جراید و مجلات» په رساله کې لیکلي دي چې د پوهنې د زده کوونکو له خوا خپرېده، څرنګه چې ( لیکوونکي له یوې خوا دا خبره په څرګنده ل په متن کې رانه سونده ، له بلې خوا یې هم مدیر محمد حسین دی(چې وروسته د پوهنې وزارت د تدریساتو رئیس وتا کل شو) او له بل لوري د دوهم کال د لمړۍ ګڼې د پښتو په خلورم مخ کې د «پوهنې وزارت» توم په صراحت سره لیکل شوی نو څکه له دې سره چې هغه په بشپړ ډول د پوهنې د زده — کوونکو له خوا خپرېده، سلا نه یم خو ښایي چې ځینې زده کړه کوونکو به کار پکې کاوه او مجله د پوهنې د وزارت له خوا خپرېدله. (او د دریم کال د پښتي د خلورم مخ لاندېنۍ عبارت: «از اداره دار الامان معارف ماه یکبار نشر میشود.» په وضاحت سره ښیي چې نوموړې مجله د هغه وخت د پوهنې وزارت د حبیبیې له لیسې څخه خپرېدله چې البته زده کوونکو فعاله برخه پکې درلوده(رفیع).

Property of ACKU

۱۲۹۸-۱۳۰۷ش (۱۹۱۹-۱۹۲۸ع) کلو تر منځ نه یوازې د ټولو خلکو د توجه او علاقې وړ وګرځېدې او جریدو خپرېدو ته مخه کېده بلکه د اختصاصي مجلو د خپرونو په برخه کې هم ګامونه اوچت شوي دي، هو! هم دا وخت د ثروت جریده، مجموعهٔ عسکریه او مجموعهٔ صحیه هم په اختصاصي توګه خپرېدلې.

معرف معارف په حیث کچه دیوې مجلې په بڼه د ۱۲۹۸ کال دوړې په لومړۍ نیټه په کابل کې تأسیس شوه، نوموړې مجله په هره میاشت کې یو ځل خپرېده او مسئوول چلوونکی یې ښاغلی محمد حسین ؤ.

معرف معارف د یوې مجلې په توګه او جیبي کچه ؤ خو د نشراتي هدف او مرام له پلوه یې له جیبي مجلو سره کوم ورته والی نه درلود، ځکه چې د نړۍ ننني جیبي مجلې په عمومي توګه د ټولو لپاره وي او دیو زیات شمېر د بېلو بېلو مسلکو درلودونکو او بېلو- بېلو اجتماعي طبقو کسانو لپاره خپرېږي کوي خو معرف معارف په اختصاصي توګه د پوهنې او خصوصاً زده کوونکو له پاره خپریده.

د مجلې متن:

لکه څرنګه چې وویل شول معرف معارف دیوې اختصاصي عرفاني خپرونې په توګه خپلې خپرونې د معارف د کسانو او زده کوونکو لپاره کولې نو ځکه یې زیاتره مطالب د پوهنې خبرو، د علم او پوهې سره مربوطو پېښو، د هیواد له پوهنې سره د خلکو رابطې، د معارف د کار کوونکو

Property of ACKU

پاره عملي او تر بیتي مقالو او نورو تشکیلاو ل. په لاس کې ګڼې یې (۲) دا لاندې سر لیکونه لري:

«ضرورت مجلس بحث برای مکتب، اتحاد، علم، تأسیس مکتب اصول دفتري، یکسوال حساب» (دلو مړی کال په دو همه ګڼه کې)، «اصول اساسي سر مایه اعاده مکالمه و ساحته و سایر بیانیه ها» (ددو هم کال په ځلورمه ګڼه کې)، «سفر طلبه، مقاله و عظه، طبیعیات، نصایح روزمره، مکتب او نور» (ددو هم کال په نهمه ګڼه کې)، «اسباب سفر سالکان طریقه علوم مغربي، افکار و حقایق او نور» (ددو هم کال په دولسمه ګڼه کې).

ښایي وو ایو چې په پورتنیو سرلیکونو سربېره په هره ګڼه کې ځیني شعرونه هم ایدل کېږي او له دې نه پرته د بهر اعلی او نورې تشریفاتې و یناوې هم پکې خپرې شوې، خو هرڅه چې د مجلې په متن کې لیدل کېږي د پوهنې له منځه بینو سره اړه لري او پورتني عناوین هم ښکاروي چې تول په خصوصي توګه د پوهنې د منسو بینو او زده کوونکو له پاره خپر بدل. په دې اساس دې نتیجې ته رسېدلای شو چې معرف معارف یوه داسې مجله وه چې عموماً به د پوهنې د زده کوونکو معلومانو او پوهې او د ذهني پراختیا له پاره د درسي سرستیال په حیث خپر بده، یا په بل عبارت معرف معارف د نشراتي وسایلو له ډلې څخه وه

(۲) د معرف معارف څلور ګڼې (دلو مړی کال دو همه او څلورمه او ددو هم کال نهمه او لسمه ګڼه) د ادبیاتو د پوهنځی د ژورنالیزم د څانګې محصل ښاغلی نجیب الله مؤنس ماته را کړې چې له زیاتې مننې سره مې د خپلې سرچینې په حیث استفاده ترې و کړه.

Property of ACKU

هدف وړاندې ېبول : یو « تعلیم وړکول » او دوهم هدفې « تشو یقول ».

د لوړی هدف د ثبوت له پاره بس ده چې هغه مضمون یاد کړو چې د حساب یوه پوښتنه ده، نوموړې پوښتنه د لومړی کال د دوهمې گڼې په ۶ م مخ کې خپره شوې ده.

د دوهم هدف له پاره د بناغلي علي محمد خان د مقالې (چې د لومړی کال د دوهمې گڼې په ۳ ، ۱ تر ۱۲ مخ پورې خپره شوی) یو مبر خه را اخلو چې ژمنو بخبره تیه کوی:

«علم یا دانش که زیب افتخار افزای سر لوحهٔ عاجز انه گشته سر چشمه نور و حل کنندهٔ مشکلات امور است معرفت حضرت باریتعالی عز اسمه که مدار اسلام و اصل و بنای دین خیر الانام است بی حصول علم صورت نه بندد و شخص محروم از ین عطیهٔ عظمی حقیقتاً متصف بصفت مسلمانی نگردد...»

د مجلې د متن له مطالبو نه د دوهم کال د نهمې گڼې د دوهم مخ له مقالې نه څو خبرې د نمونې په توگه را اخلو :

«سفر طلبه

روندگان طریقت به نیم جو نخرند

قبای اطلس آنکس که از هنر عار یست

از عهد سابقه تهیهٔ رفتن طلبا ی علم به خارج بوده، در عصر حاضر صورت عمل گرفت . چندنفر طلبا برای تحصیل فن تلگراف بی سیم یکطرف بروس و دیگر جانب به هند رفته، عنقریب مراجعت خواهند کرد طلبای متعدد جهت تعلیم برق سوی مغرب روان شده اند و حالا سی نفر تا نشر شدن این سطور عازم سفر شده خواهند بود... »

Property of ACKU

دستن دمطالبو لیکو نکی یې ښاغلی میر غلام محمد، مولوی محمد سرور، ښاغلی علی احمد خان، ښاغلی سید قاسم خان، ښاغلی محمد امیر خان، ښاغلی سلطان احمد خان، ښاغلی عبدالهادی خان او نورو و.

(*) دمعرف معارف د دریم کال د دریو گڼو په لاس ته راتللو سره (۳) دا هم ښکاری چې دا مجله د پوهنې د ز ده کوونکو مشوقه او له معارف سره د خلکو اشنا کوونکې وه کله چه هم مرحوم جویا انتقاد کوي چې دمعرف معارف مضامین ځکه څرنگه چې لوم یې ایجابوی تحقیقی او لوړ نه دي (۴) خو حقیقت دادی چې دمعرف معارف له نامه نه هم مطلب د «معارف پېژندوی» او معرفی کوونکی دی نه دا چې ژورې مقالې خپرې کړي. په هر حال د دریم کال د دوهمې گڼې د «مجلس بحث و اتحاد» له راپور څخه په ښه ډول څرگندیږي چې دمعرف معارف پانې د پوهنې د ځوانانو دارزوگانو او د دوی د ذهنی پر اختیا له پاره پرانیستې وې او په دې هکله یې د دوی هر راز نظریو ته په ورین تندي په خپلو پاڼو کې ځای ورکاوه؛ پورتنی عنوان د یوه هغه صنفی کنفرانس راپور دی چې درشد یې د ځلورم ټولگی ځوانانو د خپلو ښوونکو په وړاندې درستیا او مصلحتی دروغو په باب د نظریو ښکارولو په غرض دایر کړی و. په دې بحث کې دهرې نظریې طرفدارو ځوانانو خپلې نظریې ښکاره کړې، ځینو د رښتیاو

(*) دا مطالب د «صفحه بستی او خپرې» تر عنوان پورې د ژباړونکی له خوا زیات شوي دي.

(۳) دمعرف معارف دا دری گڼې د ژباړونکی په کتابخانه کې خوندي دي.

(۴) جویا، سرور . . . مطبوعات و نشریات ما کابل دوهم کال، ۶ گڼه، ۴۴ مخ .

په باب متالونه او دلایل وړاندې کړي او ځینو بیادمصلحتي دروغو په باب؛چې په پای کې په موضوع رای گیری شوې ده او د رای گیر ی په نتیجه کې یوازې دوولسو تنو دمصلحتي دروغو په باب رایه ورکړې او دڅوورسوونه زیات کسان درښتیاؤ په خوا او دریدلی دي.

همدا راز معرف معارف ددې کال په دریمه گڼه کې دخارج ته تللو افغاني طالبعلمانو د درسونو او ددوی ددرس او دوخت دنور پروگرام مفصل راپور په دوو برخو کې وړاندې شوی او پکې ویل شوی دي چې : افغاني طالبعلمان دفرانسې دحکومت له خوا په رسمي توگه استقبال شول او دهغې هیواد دپوهنې دوزارت له خوا درسمي مراسمو په ترڅ کې د«لیس میشلی» ښوونځي ته ورسول شول. داراپور دژورنالیزم دعصري سیستم په اساس لیکل شوی ،په «لیلی» کې بې فرانسې ته دافغاني زده کوونکو رسیدل او استقبال راغلی بیاد« لیس میشلی» په ښوونځي رښا اچول شوې او ویل شوي چې : نوموړی ښوونځی دپاریس له مهمو ښوونځیو څخه دی ؛ دفرانسې ډیر لایق او نامتو کسان له همدې ښوونځي څخه وتلي لکه څرنگه چې دفرانسې موجوده رئیس دهمدې ښوونځي فارغ التحصیل دی...له دې مهمو ټکو څخه وروسته بې د افغاني محصلینو دخوراک، پوښاک او درس دپروگرام په هکله مفصل معلومات وړاندې کړي دي.دهمدې راپور په دوهمه برخه کې بیا دفرانسې د ځینې ښوونځیو او ادارو له خوا افغاني طالبعلمانو ته دمېلمستیاؤ او دافغاني طالبعلمانو دفرانسوی ژبې دزده کړې په باب معلومات وړاندې شوي دي.

په عمومي توگه په معرف معارف کې په شاگردانو پورې مربوط گزارشونه، دپوهنې خبرونه،دمعارف نظامنامې او هم یوه سلسله معلوماتي او ذوقي مضامین خپاره شوي دي .

دمعلو ماتی مضامینو په بر خه کې یې د: «یك نظر بصیرت در عموم مدارس دنیاو تعداد همه وقتهٔ طلبا ی روی زمین » تر عنوان لاندې مضمون دیادولو وړ دی او دذوقی مطالبو په بر خه کې د «ناول» تر عنوان لاندې یو سلی ناول دی چې د ۱۳۰۰ لمریز لیږ دی کال په جشن کې یې لو مړی درجه جایزه هم وړې ده .

په معرف معارف کې پدې سر بېره ځینې پښتو او دری شعرونه هم خپاره شوي چې د دریېم کال په لو مړی ګڼه کې یې: «هر یو بشر دېر کړ مضطر دانګریزانو جفا » تر سر لیک لاندې پښتو او دهمدې کال په دریېمه ګڼه کې د «مسدس ترجیعی» تر عنوان لاندې دری شعرونه خپاره شوي دي .

صفحه بستی او خپره:

دېره په زړه پورې موضوع چې ددې مجلې دصحافت په بر خه کې لیدله کېږي دهغې په زړه پورې او مناسبه کچه ده چې هم اکچه یې ددوهم او دریېم کال په ګڼو کې هم ساتلې او داپه خپله دمجلې د کچې او صحافت په بر خه کې د یوه مخکینی پلان دنیول کېدو لو څونه کوي. دا کچه ۲۰×۲۲ سانتي متره ده .

دمجلې پښتی دلو مړی کال په شروع کې داسې ترتیب ده چې دپښتی په لمړی مخ کې له پاس نه ښکته لو رته لو مړی محراب او دمحراب (منبر) د لمر د بیضوی پوله وړانګو په منځ کې رسم شوی، دوا ړو خوا ؤ ته یې کال او دمجلې ګڼه خپاره شوي ،بیا ورو سته دمجلې نوم په نسخي و ز مه خط لیکل شوی دی. دنامه نه لاندې دمجلې دخپرېدو نېټه لو ستله کېږي. و رو سته له هغې دو خت دپو هنې نښان چې تو ره، کتاب او مشو انې ددو وویو او پانو او ګلو نو په منځ کې نیول شوی، راغلی. لاندې هم داعبارت: «ان فی ذلك لایت للعلمین » خپور شوی دی. دپښتی دو هم او دریم مخو نه بیخي سپین دی او

په څلورم مخ کې یې لاندې عبارت خپور شوی دی: «این رساله ماهانه به مطبعهٔ ماشین خانه چهاپ شد.»

خو په دوهم کال کې یې د پښتنی خپره بدلېږي، په دې ترتیب چې د پښتې په لومړی مخ کې یې لحینې نور شیان لکه دګڼون بیه، د مدیر او محرر نوم او دو خت د پاچا عکس هم لیدل کېږي. لکه څرنګه چې د دوهم کال نهمه او دوولسمه ګڼه نبیي محمدحسین خان یې مدیر او حافظ امیر محمدخان یې محرر دی.

د ګڼون بیه یې په دې ډول ده:

| | | |
|---|---|---|
| سالانه | شش ماهه | سه ماهه |
| شش روپیه | چهار روپیه | دو نیم روپیه |

بخارج شهر: بقیمت های فوق اجرت پوسته منضم میشو.

یك نسخه: یك قران (تر دې وخته لا د افغانستان د سکې او احد افغانی نه و راوروېږ وه)

د مجلې نښتی مخونه یو ستونی و وچې او پرده یې م نیم انچه او سوریې دری انچه ؤ. د لومړی او دوهم کال ګڼې ښیی چې په عمومی ډول د مخونو برنی څنډه دیوه جدول په وسیله بېله شوې او د جدول نه پاس د مجلې ګڼه او کال او د مخ شمېر لیدل کېږي.

په حروفو کې یې تنوع نشته چې حتی سرلیکونه هم د متن له تورو څخه نیول شوي، اکثر مطالب یې په حروفي چاپ خپر بده خو د لومړي کال د څلورمې ګڼې یوه برخه یې په ډېرین چاپ هم خپره شوې ده.

د معرف مخونو شمېر په لومړي یوو ختو کې ۸ مؤ خو د دوهم کال حتی د لومړی کال څلورمه ګڼه ښیی چې د مخونو شمېر یې شپېتو ته رسید لی، په نوموړو پاڼو سربېره کله کله د متن په پیل او پای کې لحینې عکسونه هم خپاره شوي چې عکس په جلالرو تکی کاغذ باندې خپر بده، کاغذ یې سپین او د لومړی

Property of ACKU

درجې له دوو لڅخه ؤ؛ او د مجلې د پښتې کاغذ عموماً یو دوول ژېړ و ژمه کاغذ ؤ . د یادونې وړ ده چې د مندرجاتو فهرست به یې د متن په لومړي مخ کې د لیکوونکي له نامه سره یو ځای خپرېده .

(*) د دریم نشراتي کال په شروع کې دوه سره په معرف معارف کې د عکسونو خپرېدل ختم شول، او د دریم کال په لومړي ګڼه کې یې د: «غیاب تصویر تر عنوان لاندې علت دا ښودل شوی چې کلیشې په مطبعه کې په ښه ډول نشي خپرېدای او خصوصاً په تېره ګڼه کې د اعلیحضرت کلیشه دومره خرابه خپره شوې وه چې تر خپرېدلو یې نه خپرېدل ښه وو (ه). په نوموړې ګڼه کې دا هم ویل شوي: تر څو مو چې په مطبعه کې د زینګوګرافۍ بشپړ وسایل نه وي تر لاسه شوي تر هغه پورې به د تصویر تر خپرولو نه خپرول بهتره ګڼو؛ په همدې یادونه کې زیاته شوې چې: په دې ګڼه کې هم د ناپلیون او د هغه د قبر عکس چې له فرانسې څخه یو افغاني طالب العلم رالېږلی وو، خپرېده خو نو په همدې سبب د هغه نه خپرول بهتره وګڼل. د همدې یادونې په پای کې د عکس او تصویر د اهمیت په باب ویل شوي: له همدې ځایه د عکاسۍ او زینګوګرافۍ ګټې ښکاري چې که د ناپلیون څېره سر تر پایه په قلم تعریف کړو او د قبر شرح یې تولهوو ایو، خو سره زیار او کړاو ګواړي خو بیا هم له اصلیت او حقیقت څخه لیرې پاتې کېږو .

---

(*) دا مطالب د معرف معارف د بحث تر پایه پورې د ژباړونکي له خوا الیکل شوي دي .

(ه) د معرف معارف له څېړنې ګڼو څخه ښکاري چې د مجلې په دوهم نشراتي کال کې د هرې ګڼې په پښتې باندې د وخت د پاچا عکس خپراوه.

Property of ACKU

دمعرف معارف د دریم کال ګڼې داهم واضح کوي چې دا مجله په خپله دوه کلنه نشراتي موده کې څو ګڼې وروسته هم پاتې شوې ده ځکه دلوړي کال دوهمه ګڼه یې د ۱۲۹۸ کال دتلې په لوړي نیټه خپره شوې چې په دې اساس یې دنشرید ولوړي تاریخ دهمدې کال دسنبلې دمیاشتې لوړۍ نیټه ده خو د دریم کال لوړۍ ګڼه بیا دلړم په لوړۍ نیټه خپره شوې ده.

دمعرف معارف د دریم کال دلوړۍ ګڼې پښتي په ژړ رنګي کاغذ، په تور رنګ چاپ شوې خو د دوهمې ګڼې پښتي بیا په سپین نري کاغذ په سره رنګ باندې خپره شوې ده او د دې کال د دریمې ګڼې پښتي بیرته د پخوا په شان په ژړ کاغذ او تور رنګ ده.

د دریم کال دلوړۍ ګڼې د پښتي په لوړي مخ کې د هرڅه نه مخکې د:

«الذین آتینهم الکتب تعرفون کما یعرفون ابناءهم» آیت د حروفي باریکو قلابو په منځ کې لیکلی شوی، تر دې لاندې بې خواته د محراب او منبر نښان دی چې په ورو انګو کې ئیول شوی او کینې خواته د هوهنې نښان دی، د دواړو نښانو په منځ کې «اول عقرب ۱۳۰۰» په دوو کرښو کې لیکل شوی، تر دې لاندې د صفحې په منځ کې دپښې د تصویر د پاسه په زینتي نسخ و زمه خط باندې «معرف معارف» او تر دې لاندې د تأسیس سنه «۱۲۹۸» لیکل شوې دی: دپښې د ښي کونج نه لاندې د «سال سوم» او د کیڼ کونج نه لاندې د «شماره اول» لیکنې خپرې شوې او تر دې لاندې لیکل شوي:

«اګرچه شبیه شاهانه آرایش بخشای این صفحه نیست اما سیرت پادشاه دلربای ما باهمه ارادههای مصلحانه و اعمال الوالعزمانه پیش نظر است و در تصویر نمیباشد:

گر مصور صورت آن دلستان خواهد کشید
حیرتی دارم که نازش را چسان خواهد کشید» (٦)

د پښتې د وهم او دریم مخ په لکه د پخوا په شان سپین دي او په څلورم مخ کې یې د شرایط اشتراك نه لاندې: «مدیر محمد حسین» او محرر «حافظ امیر محمد» لیکل شوي، تر ې لاندې په دوو کرښو کې دا عبارت: «بمطبعهٔ ماشین خانهٔ مبارکه چهاپ شده از اداره دارالامان معارف ماه یکبار نشر میشود.» او د دېو د جدول لې سر بې گل نه لاندې په لږ څه فاصله دلیندیو په سنځ کې: (وزارت جلیلهٔ معارف) لیکل شوي دي. چې په دریمه گڼه کې د تش مدیر په ځای: «مدیر المعرف» او د «محرر» په ځای «محرر المعرف» لیکل شوي او هم په همدې گڼه کې د محرر (حافظ امیر محمد) په عوض د «میرزا عبدالرؤف» نوم خپور شوی دی.

**دمعرف معارف و روستی عمر:**

هسی خو په عمومي توگه د ورځپانو جریدو او مجلو د نشر و کېد و تاریخ ثابت او ټاکلی وي خو د نشراتي عمر د ختمیدو په باب یې ډیر کم معلومات تر لاسه کېږي ځکه اکثره خپرونې د ځینې عواملو په سبب او یا د وله منځه ځي چې په خپله و روستۍ گڼه کې نشي کولای خپل د توقف او یا له منځه تلل په باب څه ولیکي؛ معرف معارف هم په همدې ترتیب دی او ښکاره نه ده چې تر کوم وخته پورې یې نشرات کړي وي، مرحوم جویا د معرف معارف د دریم کال

(٦) دا کرښې د دریم کال د لاس ته راغلو یو لو گڼو د پښتې په لومړي مخ باندې خپرې شوې دي .

Property of ACKU

او و مه گڼه چې د (۱۳۰۱) کال د ثور په لومړی نېټه خپره شوې لیدلې او فکر کوې چې ښایي له دې وروسته یې نشرات نه وي کړي (۷).

همدارز امان افغان د خپل خلورم نشراتي کال په لومړۍ گڼه کې د معرف معارف د تعطیل خبر ورکړی او د دې مجلې د نه خپرېدو علتونه یې دا بللي:

۱- د خپرولو له پاره یې درسېدلو او تکړه زده کوونکو نه درلود: ځکه هغه کسان چې په لومړي وخت کې یې دا مجله خپروله له ښوونځي څخه وتلي او په دې سویه نور کسان نه وو.

۲- مدیر یې د مجلې په خپرولو سره ډېره د قاضیانو، حاکمانو د فتوی اصولو او حبیبیې د ښوونځیو د چارو څارنه په غاړه درلوده څرنگه چې کار یې زیات شوی ؤ او د مجلې خپرولو ته نه خلاصېده نو ځکه مجله له خپرېدو څخه پاتې شوه (۸).

کله چې معرف معارف له منځه ولاړه نو د دې وروسته یې د آئینه عرفان مجله په ځای خپره شوه چې وروسته به په خپل وار پرې وغږېږو.

(۷) جویا . . . . مطبوعات . . . . کابل مجله، دوهم کال، ۲ گڼه، ۳۳مخ.

(۸) امان افغان، خلورم کال، لومړی گڼه، ۳-۴مخونه.

Property of ACKU

# اتفاق اسلام

د۱۲۹۸—۱۳۰۷ ش(۱۹۱۹—۱۹۲۹ ع) کلو د مطبوعاتو پراختیا په روان جریان د هرات ادب روزونکي سیمه هم د پرمختګ له دې کاروان سره مله شوه او د ۱۲۹۹ کال(۱۹۲۰ ع) دوړۍ په لومړي نیټه په هرات کې د اتفاق اسلام په نامه یوه اوونی جریده راووته .

د اتفاق اسلام لومړني مدیر او سرمحرر جناب عبدالله خان قائم (هروی) ؤ او په اوله کې په ډیر ښ چاپ خپرېده ، د ۱۲۹۹ کال د مرغومي له شپږمې نیټې نه ښاغلی میرزاعبدالکریم هروی د اتفاق اسلام په مدیریت وټاکل شو ؛ د دوهم کال د ۱۳ ګڼې له شروځخه یې جناب عبدالله خان بیرته مدیر شو ، د اتفاق اسلام د جریدې خپرېدل د ۱۳۰۱ کال د عقرب په نهمه نیټه د دریم کال د نهمې ګڼې نه وروسته د هرات د پوهنې مدیریت ته وسپارل ، شو ل او مرحوم صلاح الدین سلجوقی یې مدیریت کاوه په همدې وخت کې ځ چې د جریدې نوم هم په « فریاد » واوښت ، مرحوم سلجوقی یو کال دا وظیفه ترسره کوله خو بیا د دریم کال له پاره

Property of ACKU

باغلی عبدالله‌خان قانع دفریاد د مدیر په حیث و ټاکل شو او بیا د ۱۳۰۸ کال دثور په ۸ نیټه د ۱۸ گڼې له خپرېدو سره سم جناب غلام سرور خان جو یادفریاد دمدیر په حیث و ټاکل شو او دغه نوم یې بېرته په اتفاق‌اسلام واړاوه. (۱)

اتفاق اسلام د کورنی اړدو ړدنه سیاشتو په سوده کې هم په همدې‌نامه او شهرت‌خپرېده، خو په دې وخت کې سر حوم‌جو یادتیې کېدو له کبله‌دتداوی په غرض‌دهېوادنه دباندې و لاړچې‌دخپرېدو چارې یې‌دجرېدې مرستیال باغلی محمد کریم‌ته سپارلې‌شوې وې خو یو کال‌وروسته (۱۳۱۰) دخلورم ځل لپاره‌جناب عبدالله خان‌قانع‌دهغې مدیر شو، په نورو راوروسته کاړنو کې دهېواد یو شمېر نور باغلي‌ددې‌جرېدې‌په مدیریت و ټاکل شو ل‌چې‌په‌خپل بحث کې‌به معرفی شي.

لکه څرنگه‌چې مخکې‌مو وویل‌جریده‌په‌لیتوی چاپ‌خپرېدله، خو د ۱۳۰۷ کال‌دتلې‌په ۱۸ نیټه‌داووم‌نشراتی کال له لومړۍ گڼې څخه اتفاق اسلام‌د «دانش» په مطبعه کې‌په حروفی چاپ خپورشو او له هغې‌نه وروسته‌تر اوسه پورې‌په حروفی چاپ خپرېږي.

داتفاق اسلام‌متن:

په عمومی‌ډول‌باید و وایوچې‌په‌دې دوره کې‌دمتن دمطالبو دتهیه‌کولو او تنظیم په برخه کې د نورو جریدو روش یو ډول نه سره‌وړته دی نو څکه‌به‌بې‌ځایه وي‌چې‌دهرې جریدې جزئیات‌په تفصیل سره وړاندې کړو. بیاهم عمومی‌عنوانونه‌لکه‌«حوادث داخلی»،«حوادث خارجی»،«ادبیات»،

(۱) اتفاق‌اسلام، ۹۱ گڼه، اسم کال ۱۳۱۱ (۱۹۳۲).

«اطلاعات بی‌سیم» او نور داتفاق اسلام په گڼو کې و لیدل شول .

دیادونې وړده چې په لاس ته را غلو گڼو کې(۲) داساسي تشکیلاتو نظامنامه او اساسي نظامنامه هم خپرې شوې دي او په دې سربېره دافغانستان او بریتانیا تر منځ دتړون متن هم ولوستل شو او له دې څخه ښکاري چې نورې نظامنامې او تړونونه، به هم په دې جریده کې دلوستونکو دخبرتیا په غرض خپرېدل .

د«عظمت دول اسلام در دوره های گذشته »،«افغانستان وترقیات حاضرهٔ آن »

او دې ته ورته مقالې هم په دې اخبار کې خپرېدلې.په اتفاق اسلام کې په مقالو او خبرونو سربېره کله کله اعلانونه هم خپرېدل لکه څرنگه چې ددوهم کال

په ۲۶ گڼه کې دوه اعلانونه ولیدل شوه چې یو یې په حکومتي چارو پورې اړه لري او دوهم دغابنونو جوړولو او تداوی دمعاینه خانې په باب یو شخصي اعلان دی .

په دې توگه معلومېږي چې اتفاق اسلام هم دجمعي مفاهیمو دیو ډول سیلۍ په حیث داساسي وظیفو په تر سره کولو کې په زړه پورې ترتیب او تنظیم درلود .

(۲) داتفاق اسلام ددوهم کال ۱۳،۲۲،۲۸،۳۰ گڼې دکابل پوهنتون په کتابخانه کې خوندي دي او یوه گڼه یې ددوهم کال لومړۍ گڼه ده. ۱۳۰ کال دژمرې .(۳)د بناغلي ښاغلي احمد جان مسرشته! ودلکونکی د ماخذیوه برخه ښکلوي (او همدارازداتفاق اسلام دلومړی کال څلورمه، ددوهم کال شپږمه او ددې کال څلورنورې گڼې دژباړونکې په کتابخانه کې هم شته او په دې برخه کې د ژباړونکي له خوا زیات شوي معلومات دهمدې گڼو په استناد لیکل شوي دي.)

(رفیع)

Property of ACKU

ښکاري چې داتفاق اسلام جریدې سربېره پردې چې دخپل متن ځینې مطالب له داخلي او خارجي جریدو څخه اخیستل په خپله یې خبر یالان درلود ل چې دا وظیفه یې ترسره کوله او په کابل کې یې داور لگیتو جوړلو په باب ددوهم کال په ۱۳ گڼه کې یو خبر خپور کړی چې داداعا سو تأئیدوی :

«بقرار خبرهای موثق و مکاتیب صحیه (صحیحه . لیکو نکی) که از طرف بعضی نامه نگاران ما از دار السلطنهٔ کابل به ادارهٔ عاجزانهٔ ما رسیده ...

درین روزها در ماشین خانهٔ دار السلطنهٔ کابل صنعت گوگر دسازی به بسیار خوبی و درستی که هیچ فرقی از گوگردهای دولت سویدن ندارد بلکه بهتر از ان میباشد، رواج یافته ... »

په دې گڼه کې داور لگیتو د کوټیو د شکلاو دار زانی په باب چې دیوه کوټی به یې دری پیسې ده، هم خبر ور کړ شوی دی.

دلته د نمو نې په توگه یو خارجي خبر هم چې د: «حریق سوزان درلندن» تر عنوان لاندې ددوهم کال په ۲۸ گڼه کې خپور شوی دی را اندې کوو :

«در ماه ژانویه حریق عظیمی که بقدر شصت خانه را با لمره سوخت و (۵۰) نفر بی خانمان شده اند و یک ملیون لیره خسارات وارد شده است در لندن روی داده است .»

(*) داتفاق اسلام دلو مړی کال دخلو رمې گڼې له متن څخه ښکاري چې

(*) له دې نه و روسته داتفاق اسلام د بحث تر پایه پورې مطالب د ژباړونکی له خوا لیکل شوی او له اصل دری متن څخه د «چهرهٔ اتفاق اسلام» بر خه چې نیمگړې او ددوهم کال د گڼو په استناد و لیکل شوه او په ځای یې دلومړی کال د گڼو په استناد معلومات د ژباړونکی له خوا لیکل شو ل.

Property of ACKU

د ډېر یدې دخپل مرام او نامه سره سم لومړی ملي یو والی، بیا شرقي او اسلامي وحدت او بیادنړی دا وسید و نکو ورورۍ او سوله غوښته ، ددې کښې د: « مقالهٔ مخصوصه» تر عنوان لاندې په دې موضوع ښه رڼا اچول شوې او یکې لیکل شوې :

«مقالهٔ ذیل متضمن یک نکتهٔ بسیار مهم و مشتمل بر یک مطلب خیلی نفیس است که یکدنیا معنی داشته و دارای یک عالم اهمیت معنویه است ، و آن عبارت از مفاد کلمهٔ موجودیت ملیه است که هر کسی که میخواهد در هر راهی قدم بزند باید بکمال دقت و احتیاط مراقب خود باشد و ذرهٔ از ملاحظهٔ وجود خود غفلت نورزد ...»

په دې مقاله کې زیاته شوې چې اروپائیان زیار و باسي چې د شرقي هیوادونو د مال او ثروت په وړلو بر سېره د هغوی اخلاق او ملي جود یت هم له منځه یوسي، که څه هم دنړی د تمدن څرخ دا روپا نیا نو په لاس کې دی او بې له دې لارې دعصری ترقۍ لوړ ته تلل ناممکن دي خو بیا هم دخپلو علمي او مدني ارتیاؤ درفع کولو په ترڅ کې باید هېڅکله له ځان نه غافل و نه او سو او تل خپلو اخلاقو، ملي موجودیت او نورو ملي خصوصیتو نو ته متوجه او سو او ښه او ید سره پېل کړو ....

همدا راز په دې کښې کې د« حوادث خارجیه» تر عنوان لاندې د جریدې له مرام سره سم هغو خبرو نو ته ځای ورکړل شوی چې په اسلامي او شرقي نهضت او بېدارۍ پورې مربوط دي :

لو مړی خبر یې د تر کیې د وطن پر ستانو د وطن پر ستانه مبارزو خبر دی چې د ومشل ـ شل زر تقری لښکر یې یو دنورالدین پاشا په مشری د ازمیر او هل دعلي

Property of ACKU

فوا د په مشرۍ د «بروسه» په لوري استول شوی دی، دوهم خبر یې د «بیداری تیوتس» تر عنوان لاندې د توتس په یوه هیأت پورې مربوط دی چې پاریس ته د توتس د نسیانو دیو شمیر حقوقي غوښتنو په غرض تللی دی، دریم خبر یې د «حوادث روسیه» تر عنوان لاندې د روسیې د حکومت د معارف غوښتنې او د با لشویزم د عقایدو د ترویج په باب دی، دا خبر چې د عصري خبري سیستم د «معکوس هرم» په روش تهیه شوی دی، په «لید» کې د روس د حکومت د معارف غوښتنې په لړ کې د قابلګۍ او د ماشومانو د روزنې د فن په باب د یوې مدرسې د تأسیس یاد و نه کوي د خبر په دوهم پاراګراف کې ویل شوي چې: د سویټ حکومت د علوم او معارف د تعمیم لپاره زیاته توجه لري او د تعلیم په ترڅ کې با لشویزمي عقاید هم تدریسوي او هم د روسي ژبې کتابونه په ډېره لږه بیه په خلکو پلوري، د دې خبر په دریم پاراګراف کې ویل شوي چې د روسیې ټول خلک د سویټ د حکومت له وضعې او ترتیب نه راضي نه دي، لکه هرنګه چې د ځینو نورو هېوادو لکه د بریتانیا خلک هم له خپل حکومت نه رضائیت نه لري خو بیا هم بزګران او کارګران سویټ ته متمایل دي، د بزګرانو نسبت تر کارګرانو ته به د خوځښت د نقلیه وسایلو او صنعتي آلاتو کموالي څخه شکایت لري، د معکوس هرم خبري سیستم په اساس د خبر په څلورم پاراګراف کې د روسیې په اقتصادي جغرافیا رڼا اچول شوې او د دې خبر په وروستي برخه کې د روسیې د نفوس په باب لیکل شوي چې په وروستیو پېړیو کې د روسیې نفوس تر پخوا څلور برابره زیات شوی او که په خپل حال پاتې شي تر سلو نورو کلو پورې به یې د نفوس شمیر (۷۰۰/۰۰۰/۰۰۰) تنو ته ورسیږي، د همدې ګڼې څلورم خارجي خبر د لهستان په موضوع باندې د اتازوني د کابینې په مشورتي غونډه پورې

اړه لري، پنځم خبر د«فرانسه درشامات»تر عنوان لاندې په دمشق کې د نوي آزاد او ملي حکومت د تشکیل او سنځ ته راتګ په باب نشر شوی دی، همدا راز د جریدې په شپږم خبر کې د«استقلال مصر»تر عنوان لاندې خبر ورکړی شوی چې د انګلستان د دولت لخوا د مصر استقلال تصویب او تصدیق شوی دی، په خبر کې زیاته شوې چې که څه هم تر اوسه د موضوع جزئیات او د مصر د استقلال په باب زیات معلومات نه دي تر لاسه شوي خو بیا هم اسلامي نړۍ ته د زیري ورکولو او مبارکۍ په غرض دا خبر نشر کړ او هیله ده چې ډېر ژر به خپلو لوستونکو ته خبر په بشپړه توګه خپور کړي. د اتفاق اسلام د جریدې په اووم خبر کې د دوخت د دوو لویو استعماري طاقتونو (انګلیس او فرانس) د اختلاف نظر په باب خبر خپور شوی او ویل شوي چې که څه هم کله انګلستان له روسیې سره تجارتي تړون لاسلیک کړي نو فرانسه به د هغه د مخنیوي په غرض راميدان ته شي، د جریدې وروستی خارجي خبر هم د سوویټ حکومت د آذربایجان او ګرجستان د دولتونو د جنګ په باب دی.

د اتفاق اسلام له پورتنیو خبرونو څخه په ښه توګه د اتفاق اسلام داهدف چې د اسلامي او شرقي ممالکو د والي او د استعمار په ضد مبارزه او قیام دی، څرګندېږي او ښکاره کوي چې دا جریده په اوله کې د خپل مرام په پرمخ بېولو کې پوره بریالۍ وه او هم د دې جریدې په نورو راوروسته لاس ته راغلو ګڼو کې د اسلامي او شرقي ممالکو د بیدارۍ، آزادۍ او ملي تحریکونو خبرونه وخت په وخت نشر او هم د افغانستان د اصلاحي او اجتماعي پرمختګونو په باب خبرونه او مقالې خپاره شوي دي.

Property of ACKU

داتفاق اسلام خپره :

داتفاق اسلام دلومړی کال له څلورمې گڼې څخه ښکاري چې په دې کال کې پې په موضوعاتو سربېره دخبرې له پلوه هم دخپلې نشراتي مفکورې نمایندگي کړې ده داجریده په لومړی نشراتي کال کې په څلورو دوه ستوني مخونو کې د ژړ بخون کاغذ دپاسه پهور ه «۳۳×۲۴ سانتي متره» کچه خپره شوې ده.

په لومړي مخ کې پې دصفحې په منځ کې دوړانګو په دایره کې دمحراب او منبر علامه او ترې لاندې په ثلثي ډوله خطباندې « اتفاق اسلام» لیکل شوی د صفحې ښې خواته په ترتیب سره لاندې کرښې:

«صفحه(۱)

نگران منشي ملا احمدجان

مدیر و سر محرر عبدالله هروی

اداره‌خانه و مطبعه نفس‌بلدهٔ هرات

همه امورات‌تحریر یه بنام مدیر

و سر محرر قر ستاده می‌شود.

هفتهٔ‌یکمرتبه‌سه‌شنبه نشر و توزیع میشود .

شماره»

لو ستلې کیږي‌او کیڼې خواته یې دالیکنې‌شوې:

«شماره (۳)

مهتمم(حافظ‌حیدرعلی احراری )

شهر هرات‌و نواحی‌قر یهٔ‌آن‌پنجر و پیهٔ کا بلی

ولایات داخله ششرو پیهٔ کابلی

Property of ACKU

شماره ۱۲ سال چهارم ... [illegible] ... صحیفه (۱)

[illegible] ... عنوان ... قیمت ...

محل اداره: مدیریت عمومی معارف — هرات و نواحی قریه ... روپیه کابلی

نگارنده: صلاح الدین سلجوقی — ولایات داخله ...

مدیر معارف — ممالک خارجه ...

همه اوراق تحریریه ... — ... داخله و خارجه ...

فرستاده میشود ... — قیمت یك نسخه: ۲ پیسه


# فریاد


۲۲ حوت ... [illegible] ... مقالات ... [illegible] ... ۱۳۰۴


(آه فریاد)

بهار است ... [illegible] ... خوش بخت گریه و دلدادی را از قطرات اشك خود ... میشوید. بیچاره چشم ... [illegible] ... شده و بدلی است قطره بطامات ... است اه چقدر خوش بخت ابرها که ... دل خود گریه و فغان میکند [illegible]

ولی دل من در مخزن خود ... [illegible] ... و رقت ظاهر نمیشود!

من ... [illegible] ... قطرت ... و خود گذاشتم گویا دست طبیعت در حدیقه امل من ... هم ... بوده است همین یکدشت ... که گریه هم ... [illegible] ... و ... من ... خودرا دریغ میدارد.

اما چرا در این ... اقامت افکندم؟ اما کدام ... از ... طبیعت ... و ... خود را ... ؟ ... مرا از خواب ... ؟ خود را در مقابل یکرفته ظالمیت و مظلومیت ... دیدم؟! اما چرا این نظام ... در یك ... ؟ اما چرا ... بدون از حلقه های ... [illegible] ... میشود؟

اما ... این نظام ... در یك زمینه ... شرافت ... [illegible] ... و ... که ... گرفتاری و ... [illegible]

... [illegible] ...

... و این نظام ... [illegible] ... ولی بدون خنده ... [illegible] ... از کجا است؟

اگر از ... [illegible] ... در کاملترین ... [illegible] ... حضرت (انسان) ... [illegible] ... است مشاهده ...

و چرا انسانهائی که خود را ... [illegible] ... و ... و تهذیب ... [illegible] ...

اما چرا ... [illegible] ... خود را ... خود حرام ... [illegible] ...

دفریاد دیوی گنهی لومړی مخ

Property of ACKU

ممالک خارجه پنجرو پیڼه کابلی
شش ماهه در داخله و خارجه سه رو پیڼه کابلی
—چهارم»

داتفاق اسلام له نامه نه لاندې په سپین لیک لیکل شوي «بجمیع ـ دنیا» او تر دې لاندې بیا هم په سپین خط «سال اول ـ ۹۹ ۱۲ ش » لیکل شوی دی، بیا دنږی نقشه په دوه دایرو کې (چې نیمه شمالی او نیمه جنوبی کره ښیی) رسم شوې ده او دنږی دقارو، ځینی هیوادو او سیندونو نومونه پکې لیکل شوي دي، دنقشې ښی خواته له پاس خواته په او ږدو دایره کې «متازمین سیاره ایست اندر فضای آسمان» او کینې خواته یې له لاندې خواته په اوږدو دوه هم قرد: «باد بر افغان همیشه عزت و امن و امان» لیکل شوی دی. د نقشې نه رالاندې ښی خواته: «بیست و دوم سنبله ۱۲۹۹ هجری شمسی» دنقشو ددوو دایرو داتصال نه په لاندې کو ټج کې «غرهٔ محرم الحرام سنه ۱۳۳۹ ه» او دنقشې نه لاندې کیڼې خواته: «پانز دهم ستمبر ۱۹۲۰ عیسوی» په یو مسماسمه کر ښه کې لیکل شوي دي، ترې لاندې ددوه خطه جدول په منځ کې داعبارت:

« درین جریده از هر گونه اخبارات و وقایع سیاسی و مقالات مفیدهٔ علمی و فنی واد بی بحث رانده میشود . »

تر ستن نه په لیر جلی خط په یوه کر ښه کې لیکل شوي دي چې له دې وروسته بیامتن شروع کیږي .

د خلورم مخ ددوهم ستون په پای کې دالاندې کر ښې لوستلې کیږي:

« همه مقاله هائیکه دستخط ندارد از جانب سرمحرر تحریر یافته»

« در مطبع اتفاق اسلام بقلم میرزا شیر محمد تحریر شده طبع شد»

Property of ACKU

«مدیر و سرمحرر عبدالله هروی»

« استاد عبدالله چهاپ کننده»

خو د دوهم کال شپږ مه گڼه چې په لاس کې ده په هغه کې محرا ب — سیر ز نږی نقشه او د هغه په خوا کې بیت نه لیدل کیږی او د دې تو لو په ځای یوازې د «هرات» کلمه زیاته شوې ده، په دې گڼه کې د اتفاق اسلام مدیر او سرمحرر «میر زا عبدالکریم هروی »(۳) دی ، د خپر یدو ورځ یې هم له سه شنبې نه د و شنبې ته اوښتې او خارجی اشتراك یې هم لکه د و لایاتو غوندې شپږ روپۍ لیکل شوی دی او د خلور مخ د ور وستی ستون کر ښې یې داسې بدلې شوې دي:

«در مطبع دارالنصرت هرات بقلم ملا عبدالفتاح وبه اهتمام ملا محمد کریم طبع شد»

«چهاپ کننده استاد عبدالله»

د دو هم کال د ۱۳۰۱ هش د ثور د شپاړسم او شلم لاس ته راغلی گڼې یې بیا په سپین کاغذ په دوو مخو کې (چې هر مخ خلور ستنې لري) خپرې شوې دي خو د همدې کال د همدې میاشتې داوه وم یشتمې نیټې گڼه بیرته په ژړ بخون کاغذ په هماغه دوو لویو مخو نو کې خپره شوې ده د دې گڼو مدیر او سرمحرر بیا هم عبد الله هروی دی او داخل د اتفاق اسلام نوم په نستعلیق خط لیکل شوی او په ځنگ کې یې دا بیت زیات شوی:

---

(۳) مرحوم جو یا (وگوری : مطبوعات ، کابل ، ۲۰ کال ، ۳۰ گڼه ) دا نوم میرزا عبدالکریم احراری لیکلی او ښاغلی آهنگ په دری متن کې د مرحوم جویا قول را اخیستی خو څرنگه چې په اصل جریده کې میرزا عبدالکریم هروی دی نو ځکه د اصل له مخې سم کړای شو.

Property of ACKU

آنچه ملت را کند مسعود و شاد
اتحاد است، اتفاق است، اتحاد

## په افغانستان کې جوړ شوی طباعتي ماشين :

یوه بله مهمه او د یادولو وړ خبره دا ده چې د اتفاق اسلام جریده د دوهم کال له ۲۳ گڼې نه وروسته په خپله په هرات کې د جوړ شوي لیتوګرافي (ډبرین چاپ) طباعتي ماشين په وسیله خپره شوې ده د لیتوګرافي دا ماشين د استاد علی اصغر، استاد محمد عظیم، استاد غلام علی، استاد عبدالغیاث، استاد محمد هاشم استاد جمعه خان او حاجي محمد حسن سراج (دسپه زور) په وسیله د استاد خلیفه عبد الله خان کابلي تر نګرانۍ لاندې او د هرات د چاپخانې د مسر پرست سیدا شرف خان په هانداو هڅه اختراع شوی دی، د اتفاق اسلام نوموړې ګڼه لکه چې د اماشين دوسره په زړه پورې او بشپړ دی چې د خارجي ورته ماشینو سره هیڅ توپیر نه لري بلکه تر خارجي ماشینو لا ښه او دقیق دی؛ څرنګه چې اړتیا د ایجاد مور ده نو ځکه د اماشين هم په دې سبب چې د مطبعې کار و نه زیات و او یو ماشين نه شو ای تر سره کولای، اختراع او ایجاد شوی دی. خبر زیاتوي چې : د اماشين د ۱۳۰۱ کال د ثور د میاشتې په دو همه نیټه بشپړ او د اتفاق اسلام په مطبعه کې ودرول شو. نو هم دا وخت دی چې د لومړي ځل له پاره په افغانستان کې په خپله د افغانانو له خوا په جوړ شوی طباعتي ماشين د اتفاق اسلام جریده خپره شوې ده.

د اتفاق اسلام دغه یادونه :

---

موږ مخکې و ویل چې د اتفاق اسلام جریده یو مسوده د «فریاد» په نامه هم خپره

Property of ACKU

شوې ده او د دې جریدې د فریاد لاس ته راغلو دوو گڼو ته (۲) چې د اخبار هم د محتوی او هم د بڼې له پلوه له اتفاق اسلام سره ښه نا ښه توپیر وته در لود ل نوټکه غواړو چې دلته د فریاد په باب هم څه و لیکو :

بڼه :

د فریاد جریده کوچنی ۲۷ × ۱۰ انچي کچه او شپږ مخو نه لري، هر مخ یې دوه ستونه دی او د هرات په حروفي مطبعه کې په حروفي توگه خپره شوې ده.

د اخبار نوم «فریاد» په ثلثي خط په لوی قلم کښل شوی او په کلیشیي ډول د اخبار د برني لوحې په منځ کې خپور شوی دی. د نامه د پاسه دا بیت لوستل کیږي :

ناله را هر چند میخواهم که پنهان تر کشم
سینه میگوید که من تنگ آمدم فریاد کن

د فریاد د نامه ښی خواته دا لیکنې لولو :

«شماره» ۲۱ سال چهارم

هرات

محل اداره : مدیریت عمومی معارف

نگارنده : صلاح الدین سلجوقی

مدیر معارف .

همه امورات تحریریه بنام سر محرر

(۲) د فریاد دا گڼې زما د گران ملگري ښاغلي محمد اکبر عشق د خانګي کتابتون دي چې په خاصه لوريته يې راته سپارلې او ما ډېر زيات مننه تري کوم «رفیع».

Property of ACKU

فرستا ده میشود — چهارشنبه نشر میشود »

او کیڼی خواته یې دا یکښې لوستلی کیږی:

«صحفه (۱)

قیمت اشتراک

| | |
|---|---|
| هرات و نواحی قریبه: | ۵ رو پیهٔ کابلی |
| ولایات داخله: | ۶ رو پیهٔ کابلی |
| ممالک خارجه : | ۶ رو پیهٔ کابلی |
| ۶ ماهه در داخله و خارجه: | ۳ و نیم روپیهٔ کابلی |
| قیمت یک نسخه: | ۷ پیسه» |

او تر نامه رالاندې د ټول سخ پهاو ږدو کې ددو و جدو لو نو ترسنځ دجریدې تاریخ: «۵ دلو ۱۳۰۲ ش، ۸ ۲ جمادی الثانی ۱۳۴۲» کښل شوی او دلمریز او میاشتیز تاریخ ترسنځ ددو و لاسو نو داشارو په ترڅ کې پهلیندیو کې لیکل شوی (جریدهٔ ملی بهرگونه مقالات بازاست) .

دمتن دو اړه ستو نو نه د یو ډنری جدو ل پهوسیله سره بیل شوي او دجریدې د متن او سرلیکو نو تو ری سره یو راز دي.

دجریدی د شپږ م مخ دو رو ستي ستو ن په پای کې لیکل شوی: (مطبعه حرو فی هرات).

متن:

دفریاد دخلو رم کال یو و یشتمه ګڼه بشپړه او ۲ م ګڼه یو ازی څلو ر مخه لاس ته راغلې ده او دهمدې دو و ګڼو دمطالبو په رڼا کې د فریاد د په متن غو یږو :

د یوه وېشتمې گڼې سرمقاله د ازدواج په باب ده، لومړی یې ازدواج تعریف کړی، د ازدواج شرایطیې ښودلي بیا یې زموږ په هېواد کې د ازدواج نوو وضعې ته انتقادي نظر کړی او لیکلي یې دي:

«... اگرچه پیسه زیاد گرفتن و بصغارت دادن دختر را عهد طلائی امانیه رفع نموده است، مگر دختر های چهل ساله هنوز هم بخانه باقیمانده اند، برخی با ینواسطه که قیمت دختر من موافق طبع پر طمع من نشده است آنرا بمشتری گرمتری نگاه داشته است. بعضی بواسطه اینکه من یکی از ذوات شریف میباشم باید داماد من هم یک شرافت مآبی پیدا شود که لایق خویشی من گردد. جمعی بواسطه اینکه من شخص متمول و باثروتم بدم بادادا سادم بعداز سودنم ثلث مال مرا بارث ببرد. جماعتی باین سبب که باشد پسر عموی آن کلان شود و دختر من از قوم شریف من نبرآید...»

وروسته د دې دول کارونو ناوړه عواقب ښیي او فریاد کوي چې:

«ایمسلمانان! این اسوریست که داسان اسلامیت را لکه دار میکند، از نکاح پیسه گرفتن نه شیوهٔ مسلمانیست و نه وضع ناموس داری؛ رضاء دختر در خانه ازشرف مسلمانی دور و عاقبت آن نامحمود است...»

وروسته بیا د نکاح له سختو شرایطو نه را ولاړ شوي اجتماعي فسادونه ښیي او خپله مقاله ختموي. دې مقالې ډېر یاددوه ښې پر مخو نه او د دریم مخ د لومړي ستون یوه برخه نیولې دي.

د ۲ گڼې سرمقاله د «اوهام» تر سرلیک لاندې ده چې سرمقاله کې دانسانانو په ظلم او تېریو رڼا اچول شوې او څرنگه چې وروستۍ برخه یې د جریدې د «۳» او «۴» مخ دښتو الی له کبله له منځه تللې، نه شکاري چې څنگه نتیجه یې تر ې اخیستله

شوې وي خو په هر حال د مقالې مطلب بیا هم انساني جوهر ته د انسانانو متوجه کول او راګرځول دي.

د ۲ ګڼې د «حوادث داخلیه» تر سرلیک لاندې د هرات د یوه عالم حاجي قاضي ملا عبدالله خان سروستاني د مړینې خبر خپور شوی دی، د خبر په پای کې د دې عالم او مورخ چې د ور آثار یې ژباړلي په مړینه خواشیني ښکاره شوې او له کورنۍ سره یې خواخوږي ښودله شوې ده.

د «حوادث خارجیه» تر عنوان لاندې د «جناب لنین فوت شد» په سرلیک دولاد میر ایلیچ لینن د مړینې خبر خپور شوی دی ؛ په دې خبر کې لومړی هغه ابلاغیه خپره شوې چې د «جماهیر متفقهٔ اشترا کیه شورائیه روس» حکومت صادره کړې او د دوی اداري ته ور رسېدلې ده، له دې وروسته د افغانستان له خوا د ده په مړینه ژوره خواشیني ښکاره شوې ده . د همدې ګڼې دوهم خبر د «تعزیت لینن» تر سرلیک لاندې په هرات کې د شوروي اتحاد په قونسلګرۍ کې دیادونې مراسم په مشرح ډول لیکي او په دې مراسمو کې د هرات د تنظیمه رئیس او نورو لوړو مامورینو د ګډون خبر ورکوي. د همدې ګڼې په دریم خبر کې د «تلګرافات بی‌سیم» تر سرلیک لاندې د لینن د مړینې په باب د ماسکو، پاریس، برلین او بخارا نه راغلي خبرونه خپاره شوي دي . د دې ګڼې څلورم خبر د «دفن لینن» په سرلیک د ده د خښېدلو مراسم لیکي.

د قریاد په شپږم مخ کې د (ادبیات) تر سرلیک لاندې د سیمې د پوهنې د مدیر بناغلي منشي علیرضا خان یو اجتماعي مسدس خپور شوی دی.

د قریاد م ۲ ګڼه په نورو مطالبو سربېره په شپږم مخ کې د «عجایب او غرایب»

Property of ACKU

ترسرلیک لاندې یو شمېر په زړه پورې او بوختونکې مطالب لري. لوسړی یې چې له عجایب الآثار څخه ژباړلی دادی :

«درختی یره (باسفیک) یکنوع درختی یافت میشود که میوه آن نان است بشکل کروی که قطر کوچک آنها چهار قیراط است و قطر بزرگ آنها هفت قیراط و وزنش چهار صد و بیست درهم می باشد، در هر سال هشت ماه متوالیاً این نان از ین درخت چیده میشود که خوراک اهل آن جزیره منحصر بهمان بر میباشد زحماتیرا که مابرای این نان متحمل میشویم آنها نمی شوند، مواشد (سفره ها) ایشان از تخته ها و ملبوسات شان از پوست آن درخت میباشد .»

دوهم په زړه پورې مطلب یې د (مرو کاشمر) ترسرلیک لاندې خپور کړی او دریم په زړه پورې مطلب یې چې له «سلطان الاخبار» څخه راخیستی د (رقبهٔ دنیا) ترسرلیک لاندې دی.

دفریادپه باب له پورتنیو مطالبو څخه څرګندیږي چې فریادپه دې وخت کې ترپخواپېر جدي شوی ؤ، له او هاسو، خرافاتو او ناوړو دودونو سره یې په تونده مبارزه پیل کړې وه، خپلو لوستونکو ته یې د مهمو خبرونو په رسولو سربیره دهغوی له پاره ذوقي او بوختونکي مطالب هم خپرول او له خلو رولو یو مخونو نه یې شپږو کوچنیو مخونو ته داخبار له راړولو نه هم مطلب داؤ چې هرڅه ته داخبار رو ړن راوړن اسانه وي او دیوه شه همراز په توګه یې له ځانه سره وګرځوي.



Property of ACKU

د ستارهٔ افغان یوه گڼه

# ستا رۀ افغا ن

دهیواد دولایاتو دجریدو په ډله کی د ستارۀ افغان (۱) پهنامه هم یو جریده خپریدله، دا جریده دلومړی ځل له پاره د ۱۲۹۹ کال دلیندۍ په ۹ نیټه د چهارشنبی په ورځ د کوهستان په جبل السراج کې خپره شوه، مدیر او سرمحرر یې ښاغلی میر غلام محمد حسینی ؤ (۲).

دجریدی ښاغلی مدیر خپله خبر لیکنه د «مقالهٔ افتتاحیه» ترعنوان لاندې دستارۀ افغان په لومړی گڼه کې په دې ډول شروع کړې ده:

---

(۱) ددې جریدې دیرش گڼې د پوهنتون په کتابخانه کې خوندي دي.

(۲) اوس دغبار په تخلص مشهور دی او دهیواد په تاریخ کې یې زیات کتابونه لیکلی دي.

Property of ACKU

«...از آنجاست که این خادم ملت به پیروی خیالات باقیمت شاه بلند همت و اینکه خدمت ابنای وطن خود را فرض ملتیم می شمارم به نشر جریده هفته وار ستارهٔ افغان اقدام نمودم چون موضوع نشر اخبارم از حسن تصادفات در خاك باصفا و سرغزار نزهت افزای کوهستان افغانستان اتفاق اوفتاد که میوه های لذیذش هندو افغان را فرا گرفته و مناظر اراضی فرحت انگیز و آب و هوای باصفای این دیار مسرت خیز انظار ناظرین را بخود میکشانند و افراد و متوطنینش در دیانت و شجاعت و وطن پرستی و پادشاه دوستی نهال محبت و صداقت را در قلوب عابرین و واردین مینشانند خواستم که «تا یك درجه» بر طبق تلفظات و اصطلاحات این مرز و بوم نشر اخبار کنم و در مقالات جریدهٔ خود چندان به نکته پردازی نپرداز م و ساده نویسی را شعار خود سازم تا ما کنین این زمین استفاده از مضامین آن نمایند عقلی بجرج دهم و لغاتی چند مرادف سازم و محاوره ملیه را از اعتبار در اندازم .»

د اخبار چلونکی په دې مقاله کې سربېره پر دې چې د خپلو لیکنو لاره او روش اعلان کړی د ستارهٔ افغان د خپرېدو د ځای، د خلکو او د میوو د زیاتوالی په باب یې هم ځینې مطالب وړاندې کړي دي .

په همدې گڼه کې یې د اخبار په باب هم یوه مقاله خپره کړې ده ، په دې مقاله کې لیکي :

«اخبار جمع خبر و ضد بی خبری هاست. خبر دا شتن عقل را اصلاح کردن است، عقل که اصلاح شد انسان — انسان گفته میشود.»

تو موږ ی شاغلی اخبار د دین د لارو ، کړ نګ، خیر او شر د پېژ ندلو وسیله بللې

Property of ACKU

او ز یاتوی چې داخبار په وسیله دژوندد و داودژوند انه آداب زده کړدای شي؛ داخبار لوستل لکه خوړل او څښل غوندې ګټل شوي او لیکلي یې دي:

«در اینجا همینقدر میگویم که اسرور ربع مسکون مسخر اخبار است.» او ده‌مدې دلایلو په اساس ؤ چې دستارهٔ افغان مدیر داخبار په‌چلولو لاس پوری کړ.

د ستارهٔ افغان متن په عمومی توګه مقالو، خبرونو، ادبیاتو، د علمی مطالبو ستون او څینې حکومتی اعلانو او نورو تشکیلاوه.

مقالو یې دملیت غوښتنې، ده‌یواد‌پرمخ‌تګ او پراختیا او دعقیدې او فکر دټینګتیا او استحکام په‌باب په‌زړه‌پوري‌مطالب لوستونکو ته وړاندې کول. دجریدې په‌بیلو بیلو ګڼو کې د: اتفاق اسلام‌چه‌بود؟ وطن، شجاعت، زراعت» او نورو ترعنوانو لاندې مقالې ولوستلې شوې.

د ۲ ګڼې له‌پیلیدو سره‌سم د«مباحث علمی» ترعنوان لاندې دبیلو—بیلو موضوعاتو په باب معلوماتی مقالې خپرېدلې چې لو مړنی مطالب یې د بانکنوټ په‌باب‌دی؛ په‌دې مقاله کې دبانکنوټ، دهغه‌ددود ته‌رانګ، ګټو او نورو په باب او ږدې خپرې شوې‌دي.

د جریدې په‌متن کې دداخلي‌او خارجی‌خبرو ستو نو نه‌په‌تو لو ګڼو کې لیدل کیږي، لکه‌دلو مړی ګڼې په‌پیلیدو سره‌دچاریکاروته جبل السراج ته‌دامیرالامان الله‌ د لیږ دیدلو په‌باب یوخبرخپورشوی دی. بل خبرهم دجبل السراج دعسکری‌سرافسرد تبدیلی په‌باب‌دی‌او بل خبر هم‌په کابل کې‌دایران دسفیر دمقرریدوپه‌باره کې دی، چې‌وروستنی‌خبر یې‌دهرات‌له‌اتفاق اسلام‌څخه‌را اخیستی‌دی:

« دولت ایران‌آقای مجدالملک راکه‌یکی ازسردان محترم‌است‌به‌سفارت

Property of ACKU

فوق‌العاده دردربار عظمت مدار افغانستان ماسور و مقرر کرده که در ین روز ها از راه مشهد داخل به‌خاک پاك افغانیه خواهدشد.»

دجریدې کورنی خبرونه سربېره پردې چې دجریدې دخپلو خبریالانو په‌وسیله راټولېدل دهیوادله نوروجریدوڅخه هم اخیستل شوي چې پورتني خبرهم دا مطلب ثابتوي. امان افغان، اتفاق اسلام، اتحاد مشرقي، د افغان ورځپاڼه او نورې جریدې ټول د کورنیو خبرو داخیستنځي په‌حیث وو. دلته بایدزیاته کړو چې دهغې وخت جریدې ټولې همدارازوې یعنې هرې یوې به یوزیره پورې خبراو مطالب له‌بلې څخه اقتباساوه.

د ستارهٔ افغان خارجي خبرونه هم دزمیندار، پایونیر، وکیل، دهلي نیوز پشاورسول ملټري ګزټ او نورو څخه اخیستل کېدل.

دستارهٔ افغان دبوختوونکو مطالبو په‌برخه کې د«آیاشنیده اید؟» ترعنوان لاندې مطالب لیدل کېږي چې دلته یې دنمونې په‌توګه د پنځلسمې ګڼې مطالب رااخلو:

«آیاشنیده اید؟

— که‌هر سال(۳۸)ملیون آدم‌در زمین تولدو ۳۶ملیون و (۶۶۰)هزار نفر فوت میشوند.

— که‌باسوادتر از همه‌ملل جرمنی و درآنهافی‌صد ۹۸ نفر باسواد است و کم‌سوادتر از همه‌ایرانی و ایشان‌فی‌صد ۱۲ نفر باسواد می‌باشد. اما در وطن ما معلوم نیست فی‌صد چندنفر باسواد است.»

همداراز دبوختوونکو مطالبو په‌برخه کې د«ادبیات» ستون هم ګڼلای شو. په دې ستون کې شعرونه او غزلونه خپرېدل چې بې‌له‌شکه ددې وظیفې په‌سرته رسولو کې زیاته برخه لري.

Property of ACKU

ستارهٔ افغان په ډیرین چاپ لوسری دجبل السراج او بیادچهاریکار و په مطبعه کي خپرېده، د جریدې دمدیر دوینالهمخې په حقیقت کې دجبل السراج او چهاریکار و مطبعې هماغه یوه مطبعه وه چې په اول کې چې جریده په جبل السراج کې وه هلته وه او کله چې جریده چهاریکار و ته راولېږدېدله هلته راوړله شوه د اخبار دمتن خطاطی غلام صدیق نوسی کوله.

د ستارهٔ افغان جریده له هماغه اوله دری ستونی وه چې د هر ستون اوږده یې ۱۳ نیم انچه او سور یې دری انچه دی.

داخبار کچه په عمومی توګه ۱۵×۱۱ انچه او کاغذ یې سپین ؤ.

داخبار دنامه په لوحه کې دامطالب لوستل کېږي:

په سینګ کې دجریدې نوم په نستعلیق خط لیکل شوی، تر نامه رالاندې لوسری دابیت لیدل کېږی:

زمهر و ماه بود تاباو چرخ نشان
همیشه باد درخشان «ستارهٔ افغان»

له بیت نه وروسته د: «جریدهٔ دینی، اخلاقی و علمی» ټکی لیدل کېږي.

دجریدې دنامه ښی خواته لوسری داداریخای او دمدیر او سرمحرر نوم خپرېده او وروسته له هغې داجمله لیدله کېږي: «مقالات علمی و ادبی قبول و نشر میشود».

دنامه کینې خواته داشتراك بیه په دې ډول خپره شوې ده:

| | یک ساله | شش ماهه |
|---|---|---|
| سمت شمالی | (۳) روپیه (۴) پیسه | (۲) روپیه یک قران |
| خارج | شش روپه | (۲) روپیه یک قران |
| ولایات داخله | (۴) روپیه | |

قیمت یک نسخه در سمت شمالی سه پیسه است.»

Property of ACKU


دستارهٔ افغان د لومړۍ گڼې د خپرېدو نېټه داسې راغلې ده:

«شمارهٔ اول روز چهارشنبه (۹) قوس سنه ۱۲۹۹ شمسي سال اول مطابق (۱۹) ربیع الاول سنه ۱۳۳۹ قمري».

دستارهٔ افغان جریده یو کال خپره شوې او د ۱۳۰۰ کال په نیمایي کې له خپرېدو څخه پاتې شوه، د دې جریدې مسئول چلوونکي چې لاتر اوسه ژوندی دی، د جریدې د بندېدو په باب وویل چې په هغه وخت کې جریدې او اخبارونه د دولت له خوا خپرېده نو ځکه د ستارهٔ افغان د خپرېدو وظیفه ما ته وسپارله شوه او د دولت د رسمي مقاماتو د دې هدایت په اثر یې چې: «د افغانستان خلک د سپېڅلي او سر ښندنې روحیه لري نو د خپرونې او تبلیغ له لارې دا روحیه باید ژوندۍ وساتله شي خو دانگرېزانو په مقابل کې چې زموږ د ښمن دی کار ترې واخیستل شي.» په خپرېدو پیل وکړ.

دستارهٔ افغان محترم مدیر وویل چې د دولت له سفکورې سره سم د دې روحیې په ژوندي ساتلو کې بنایي هاند شوی وای لکه څرنگه چې نورې جریدې په هغه دې منظور ته راغلې او په لومړیو شپږو میاشتو کې د هم دې هدف سره سم د خلکو په روانه او ساده ژبه د جریدې د خپرېدو کار دوام وکړ خو وروسته ولیدل شول چې زیات خلک بې سواده وو او د جریدې له مطالبو څخه یې گټه نه شوای اخیستلای نو ځکه د جریدې د نشراتو زیاته برخه د ملاسو رینو او د هېواد د لوستو کسانو ته متوجه شوه او په دې وخت کې به یې انتقادونه هم کول. سره له دې چې د څه مودې لپاره حکومت د دې کار په مقابل کې حوصله وکړه او د هغې د بندولو په لټه کې نه شو خو په پای کې بنده شوه.

د جریدې شاغلي مدیر وویل: د دې جریدې د چاپ شمېر له یوزر نسخو څخه زیات ؤ او د هغه لوستونکي په اولمه کې خانان، ملکان، ملاوې، ریناو او لمسوالان وو خو کله یې چې انتقادي بڼه غوره کړه کابل ته هم راالېږل کېدله او لوستونکي یې درلودل.


شماره (٦٦) کابل سال اول

# افغان

قیمت فی نسخه — دو پیسه

محرر محمد جعفر

سنه ١٢٩٩

## معلومات داخلیه

دافغان دورخپاڼې یوه عادي ګڼه

Property of ACKU

# افغان

افغان د افغانستان لومړنۍ ورځپاڼه ده چې د دوشنبې په ورځ د ۱۲۹۹ ه کال د سرطان په ۱۳ نیټه یې په کابل کې په خپرونو پیل وکړ، د دې خپر کې په بېلو بېلو برخو کې به ولولو چې په دې وخت کې په مرکز او ولایاتو کې جریدې او اخبارونه خپرېدل چې په ټولو کې اتحاد مشرقي به هفته کې دوه ځلې خپرېده او داد خبرونو او خپرونو په برخه کې یو نوی او لومړنی قدم ؤ خو لږ وخت لا نه ؤ تلی چې دیوې ورځپاڼې منځ ته راتګ هم احساس شو او افغان د لومړنۍ ورځپاڼې په حیث منځ ته راغی(۱).

---

(۱) د افغان د لومړي کال بشپړ کلکسیون او د دوهم کال نوی (۹۰) ګڼې د کابل پوهنتون په کتابخانه کې خوندي دي او هم یې د لومړي کال ۳۰۸، ۳۳۳ ګڼې د ښاغلي فدا محمد صارم سره موجودې دي چې د لیکوونکي اخیستنځي هم دا دوه ځایونه دي.

Property of ACKU

هغو کسانو چې د لویدیځ د «ورځپاڼه لیکنې» په باب مطالعه کړې او یا په دې برخه کې لاس لری نو د امریکا د یوې دورې د مطبوعاتو نه به چې د یو سنټي اخبارو نو په نامه یادېدل -( Penny papers )، پوره خبر وی(۲) سربېره پر دې ددې ورځپاڼې د ارزانی علت داؤ چې ټولو خلکو ته ورورسېدای شي او په دې وسیله لوستونکی د اخبارلو مطلو ته راوبولی، په افغانستان کې د دې دورې نمونه څه نه څه د افغان په ورځپاڼه کې مومو.

دې ورځپاڼې په خپله لومړنۍ ګڼه کې یو اعلان خپور کړی چې په هغه کې لومړی د ورځپاڼې په بڼه د افغان د خپرېدو خبر ورکړل شوی او هم یې د یوې ګڼې بیه دوه پیسې اعلان شوې ده.

د افغان ورځپاڼې د لومړی کال په نهمه ګڼه کې د «بیداری در اخبار» تر عنوان لاندې یوه مقاله خپره کړې او په هغه کې یې د ورځپا ڼې د ګټو په باب په زړه پورې خبر ګندونې کړې دی، په دې مقاله کې لیکی :« اخبار چیز یست که حکایت و واقعات عالم را ثابت میکند و وضع زندگانی عالم را بهتر نشان

(۲) دامریکا په ورځپاڼه لیکنه کې د نیویارک سن نومې ورځپاڼې په مخ ته راتګ سره په زړه پورې بدلون راغی او په دې وخت کې یوسنټي (سنټ د دالر سلمه برخه دی) ورځپاڼې رامنځ ته شوې . یوسنټي ورځپاڼو د اجتماعي او د خلکو د علاقې وړ خبرونو، پاروونکو مطالبو، او محلي خبرونو په درلودلو سره او د ارزانی په توسن ټول خلک ځان ته راکاږل او تیراژ (د چاپ شمېر) یې ډېر لوړشو. (اډوین امری، دامریکا د مطبوعاتو تاریخ ، امریکا، ۱۹۶۳، ۲۱۳ او ۲۱۴ مخونه .)

Property of ACKU

میدهدو از کمالات انسانیه و فضایل اخلاقیه باخبر می سازدو چیزی را که ما خیر و شری دانستیم تفریق مینماید و از قوانین عالم آگاه میسازد.»

په مقاله کې زیاته شوې ده چې:«محرر جریدهٔ افغان با برادران وطن عزیز خود خیال دارد که از هر گونه مقالات علمی ، فنی ، ادبی و اخلاقی سخن خواهد راند.»

له پورته جملو څخه د امطالب تر لاسه کېدای شي چې دافغان ورځپاڼې د خپلې لومړنۍ وظیفې په حیث دنړۍ پېښې او کیسې خپلو لوستونکو ته وړاندې کول او باور دی چې د«حکایت وواقعات عالم» له جملې څخه هماغه د نړۍ خبرونه مراد دي ، دوهم هدف یې چې درلود مقالې او علمي، ادبي او تربیتي مطلبونه وو چې د« کمالات انسانیه»، «فضایل اخلاقیه» او « قوانین عالم »بحثونه ددې خبرې د ثبوت ټینګه دلیل دی او هم دجریدې لیکونکی په خرګند ډول دعلمي، فني ،ادبي او اخلاقي مقالو خبره یاد کړې دي چې دا کارونه یوازې دا چې زمونږ د پورتني ادعا ثابتوي بلکه څېړونکو ته هم راښیي چې هغه د بوختونکو او تفریحي مطالبو خپرول دي او دا مطالب د«فني» او«ادبي» کلمو څخه راوزي.

په عمومي توګه دافغان دو ورځپاڼې په متن کې خبرونه ، مقالې پارسې وینا ، ادبیات، شعرونه او حکومتي اعلانونه نه خپاره شوي دي.

خبرونه په ټول د«خبرهای خارجیه »او« معلومات داخلیه »تر سر لیکونو لاندې وړاندې کېدل.دلومړي کال په ۲ ګڼه کې خپور شوی یو خارجي خبر د نمونې په توګه راخلو:

« مابین آذربائیجان و جارجیا جنگ عظیم الشان بوقوع پیوست و به

قول اخبار و لا یتی سار ننګک پوست ارسنی هاشکست خورده از شهر (ارتوان) کشیده شدند.»

همدا راز یو کو رنی خبر هم دلو سړی کال له ۹ ۱ کنې څخه د نمونې په ډول را اخلو:

«در یوم جمعه (۲) و یوم شنبه (۳) ماه اسد، موازی یکصد و هشت نفر مها جر هندی صغیر و کبیر، اناث و ذکور وارد دارالسلطنه گردید مراسم ضیافت و مهمانی درحق شان بجا آورده شد بعد از مراسم مهمانی عازم جبل ـ السراج گردیدند.»

دا هم دیادولو وړ ده چې دافغان دخپر یدلو سره سم د هندي مها جر ینو دلې افغانستان ته راتللې چې خبروته یې دافغان په بیلو ـ بیلو گڼو کې په پوره تفصیل سره ځپاره شوی دي او دلو سړي کال د ۳۶ گڼې په یوه خبر کې وایي چې داوخت افغانستان ته ډلو ډلو زیات هندي مهاجرین راغلي وو او داوسیدو ځای یې دجبل السراج نه پرته د هیواد نوري شمالي سیمې لکه دهغې وخت قطغن او بدخشان تاکل شوی وو.

دافغان دخپرېدو په برخه کې دیوه بل واقعیت ښکارول هم لازمدی او هغه دا چې افغان دخپل لومړي نشراتي کال په نهمه گڼه کې د «اطلاعیه که اداره ماحاصل داشته است.» په عبارت یو عنوان لري او تر دې عنوان لاندې دا مطالب راغلي چې دنمونې په توگه یې وړاندې کوو:

«کم استعمالي چای:

در دمان شهر حضرت چای را دانسته استعمال آن از مردم کم شده میرود.

« استعمال ادویه یوناني: معالجات امراض بادویهٔ یوناني استعمال کرده میشود.

Property of ACKU

«قیمتی قند سیاه :

امسال بدار السلطنهٔ کابل قیمت قندسیاه که عبارت از گر باشد خیلی بالا رفته .

« قصابی گوشت گوسفند:

قصابی گوسفند نیسبت به سال های گذشته بسیار است.

« کم استعمالی ادویهٔ داکتری :

ادویهٔ داکتری در معالجات امراض کم استعمال میشود. »

ښايي وو ايو چې همدا خبرونه په لسمه کښه کې د« معلومات رنګارنګ تر عنوان لاندې خپاره شوي دي.

له دې نه به ښه شو چې دا اطلاعات تر یوه عنوان لاندې خپاره شوي خو ددې ډول اطلاعاتو دخپرېدو ښه او هدف په زړه پورې دی، په دې معنی چې دا خبرونه کښته د ښاري خبرونو ښه لړی څوله یوې خوا پېر لنډ دی او له بله پلوه خبري عناصر نه دی پکې بشپړ شوي نو ځکه د اخبرونه دلیکونکی او خبر نګار له نظره خبرونه نه بلل کېږي خو له دې سره سره د هېواد د هغې وخت دژورنالیزم له مخې بايد غنیمت وګڼو.

دافغانو رځپانې خپل خارجي خبرونه زیاتره له باندېنیو ورځپاڼو او جریدو څخه اخیستل او خپرول. دلاندینیو اخبارونو نومونه چې دخارجي خبرونو داخیستنځی په حیث په بیلو بیلو ګڼو کې ولیدل شول: پایونیر، الخلیل، جریدهٔ ګورکهی، برادا، وکیل، زمیندار، چهره نما ، لندن تایمز ، رعد (په ایران کې خپرېده)، رعیت او نور.

همدارازد ځینې خبرونو سره متصل د«ازمطالعهٔ تار رایتر ایجنسی» عبارت هم ولیدل شو او داښکاروي چې د« رایتر »له آژانس نه یې هم خبرونه اخیستل

Property of ACKU

او دا کار مو ځکه یو بل حقیقت را څرګند وي چې بنايي له آژانس نه استفاده کول به په هغه وخت کښې شروع شوي وي ځکه چې له دې نه مخکښې د لیکونکي له نظره دا مسئله موضوع نه ده تېره شوې.

د کور نیو خبرونو دا خیستنځی په باب هم باید وویل شي چې د جریدې د کارکوونکو په خبرونو سر بېره د هېواد له نورو جریدو لکه اتحاد مشرقي، اتفاق اسلام، امان افغان او نورو وڅخه هم د مرجع په حیث استفاده شوې ده.


د مقالو د خپرولو په برخه کښې د وړځپاڼې له ۳۰ ګڼې نه وروسته یو لوی عنوان د «نشر قلم به صفحهٔ کاغذچه میکند» په عبارت لېدل کېږي او تر دې عنوان لاندې داخلاقي لارښوونو په باب مقالې خپرې شوې دي.

د لومړي کال په ۹۸ ګڼه کښې د رسمي وینا د خپرېدو په لړ کښې دوه ځله د پاچا یو تلیفوني پیغام په پښتو ژبه خپور شوی دی او دا کار په دې اساس شوی چې په دې وخت کښې کندهار ته تلیفوني مخابره نوې شروع شوې وه او په دې مناسبت د کندهار د خلکو په نامه تلیفوني پیغام ولېږل شو:

« اې زما عزیزانو ماما خېلو: ستاسو له دیدار څخه که لرې یم لاکن د ډېره شوقه چې ستاسې د دیدن د پاره یې لرم د غه د ی چې امروز کی چې تلیفون دې قندهار ته ورسېږي، نن ډېر خوشاله یم چې په دې واسطه سره یو فارسي شعر وتاسې ته وایم چې:

نګه ګرنشد قابل روی دوست          صدا ارسانم به جایی که اوست»

د دې پیغام په ځواب کښې د کندهار د خلکو له خوا یو تلیفوني عریضه ولېږل شوې او په هغې کښې خوښي ښکاره شوې ده، د همدې ګڼې په بل مخ کښې د پیغام او عریضې دری تر جمې خپرې شوې دي.


بزبان فارسی و افغانی

افغان

یازدهم برج دلو سنه ۱۳۶۱

| مدیر تحریر | محرر |
|---|---|
| محمد جعفر | جناب ... |

(همه مورات تحریریه بنام نزد محرر فرستاده میشود)

قیمت : ... پیسه

(در ... روز یکبار طبع میشود)

| افغانی | فارسی |
|---|---|
| از صفحه ۴۹ الی ۱۰۴ | از صفحه ۱ الی ۴۷ |

دافغان دیوی فوق العاده جیبی گنی پښتی

Property of ACKU

دادبیاتو دستنې په باب ښایي و وایو چې د زړو او نویو شاعرانو شعرونه به یکې خپر بدل او ښکاره ده چې د اشعارو له خپرولو څخه د خپرونې هدف دا ؤ چې له یوې خوا دلوستونکو د بوختولو وظیفه تر سره کړي او له بله پلوه په اخبار کې د موضوعاتو تنوع په نظر کې وي.

دلومړي کال د ۷۰ ګڼې دادبیات په ستنې کې د حافظ د دې کسر (مطلع) لاندې شعر خپور شوی دی:

« حسنت باتفاق ملاحت جهان گرفت     آری باتفاق جهان میتوان گرفت»

لکه څرنګه چې معلومه ده پیل دافغان دورځپانې په متن کې ځینې اعلانونه هم لیدل کېږي؛ دلومړي کال په یوولسمه ګڼه کې په ورځپانه کې د ګډون په باب یو اعلان ډېر په زړه پورې دی، په دې اعلان کې د کابل د بېلو — بېلو ځایو او ولایاتو څخه دورځپانې د ګډون د بیسو د رالېږلو په باب لیکل شوي چې ګډون کوونکي دې خپلې پیسې کابل ته په پلو دوستانو ته را واستوي او دا دوستان په هره وسیله چې کولای شي دوی ته دې ولایاتو او د کابل ښار او خوا سیمو ته ورځپانه ورواستوي؛ ځکه په اعلان کې واضح شوې چې د ورځپانې اداري نشوای کولای چې ورو ایې استوي.

دااعلان په ښکاره ډول ښیي چې د وړلو راوړلو وسایلو په هیواد کې پراختیا نه وه موندلې خولېږنې — رالېږنې په ښه ډول تر سره کېدلې او نه د لېږل شویو څیزونو د رسېدلو یا نه رسېدلو په باب ډاډه نه وو نو ځکه یې د ورځپانې ورلېږل د مشترک د یوه ډاډه دوړسړي په وسیله غوښتي دي.

دورځپانې ترتیب او مخ تړنه:

دافغان دورځپانې د نامه په لوحه کې دا مطالب لیدل کېږي، لومړی په مخ

Property of ACKU

کې د ورځپاڼې نوم لیکل شوی، د نامه ښي خوا ته یې په: (فی نسخه دو پیسه) او د خپرېدو وخت یې: (در هر روز یك بار نشر می شود) لوستل کېږي؛ د ورځپاڼې د نامه کېڼ لوري ته یې د محرر نوم د محمد جعفر په نامه لیکل شوی او د افغان ورځپاڼه د لومړي کال تر ۳۶ گڼې پورې د هغې د محرر (محمد جعفر) په نامه خپرېده. له هغو وروسته له هغه د «محرر» کلمه د «مدیر» په نامه واوښته او هم جناب پاینده محمد خان فرحت د ورځپاڼې د «نګران» په حیث وظیفه درلوده.

د ورځپاڼې کاغذ عموماً سپین ؤ خو کله کله په سره، بنفش ژړ او نارنجي کاغذ هم خپرېده.

د افغان کچه د لومړي کال تر ۱۱ گڼې پورې (۱۳×۸ نیم) انچه ده، له هغې وروسته کله وړوکې او کله لویه وه تر ټولو وړه کچه یې (۱۰+۹ نیم) انچه ده او تر ټولو لویه کچه یې (۱۷×۱۰ نیم) انچه کېږي؛ په عمومي ډول په دوو مخو کې خپرېده، د ورځپاڼې هر مخ دری ۱۲ نیم انچه اوږده او ۲۱ نیم انچه سور درلود؛ تر کومه ځایه چې د دې ورځپاڼې په لاس کې گڼې ښیي، چاپ یې ډبرین ؤ.

د افغان د ورځپاڼې متن او عبارات څه ناڅه ساده لیکلي او دا په خپله ښیي چې لیکوونکو یې لوستونکي په سترگو کې نیولي وو.

د افغان جیبي ورځپاڼه(؟):

(*) د دې کتاب په دري متن کې ښاغلي آهنگ د دې ورځپاڼې په څنګ کې د همدې ادارې او د همدې ورځپاڼې د کارکوونکو له خوا د افغان د جیبي ورځپاڼې خپرېدل هم تائید کړي او لیکي:

(*) دا مطالب د افغان د بحث تر پایه پورې د ژباړونکي له خوا زیات شوي، یوازې د افغان د تعطیل په باب د امان افغان خبر ښاغلي آهنگ را اخیستی او د ترجمې له پاره یې راته سپارلی دی.

« با ارتباط به نشر روزنامه افغان از تذکر مطلبی دیگری در اینجا ناگزیریم، (افغان) را میاغلی مایل در رسالهٔ خود به شکل دیگری معرفی کرده است که آنهم صحیح است ولی معلوم میشود موصوف از وجود روزنامه افغان طوریکه ... معرفی شد اطلاع نداشت... این روزنامه به عین نام و سال و رسم الخط به شکل یک مجلهٔ جیبی نیز نشر میشد...

روزنامهٔ مذکور به زبان فارسی و افغانی در هر روز یک بار طبع و نشر میشد. قیمت آن هم مثل روزنامهٔ صفحه ای افغان دقی نسخه دو پیسه» درج شده است.

« ... این نویسنده با وجود مساعی زیاد نتوانسته حالی شود که در یک وقت یک روزنامه به یک اسم و نگارندگی یک مدیر به دو شکل نشر شود.» (*)

دمیاغلی آهنګ له پورتنۍ لیکنې څخه ښکاري چې دافغان ورځپاڼه هره ورځ په یو ورقي ګڼه سربېره په جیبي کچه هم په ګڼو پاڼو کې خپرېدله چې دده په لاس کې ګڼې م . ا مخونه درلودل.

د جیبي افغان د همدې ګڼې په لاس ته راتګ سره چې دمیاغلي آهنګ سره وه زه په دې فکر شوم: څرنګه چې دافغان دجیبي ورځپاڼې له همدې (۱۸۱) ګڼې څخه پرته نورې ګڼې په لاس کې نشته ځکه چې دمیاغلي مایل مأخذ هم همدا ګڼه ده (۳) نو کلک باور دی چې دا به دافغان دلویې کچې دورځپاڼې


(*) دافغان دجیبي ورځپاڼې په باب دمیاغلي آهنګ نوره څېړنه له دې کبله چې د یوې غلط فهمۍ په اساس شوې، حذف او په پښتو ترجمه کې رانه وړه شوه. (*)

Property of ACKU

یوه فوق العاده ګڼه وې چې د موضوع د اهمیت او کندهارته د یاور عبدالعزیز خان د تګ د راپور د اوږدوالي له کبله به یوازې د یوې ورځې له پاره د افغان د یوې ورقې ورځپاڼې په ځای خپره شوې وي او څرنګه چې دا ګڼه په پښتو او دري (په اصل کې فارسي وافغاني لیکل شوې) دواړو ژبو خپره شوې نو دا به هم په دې اساس وي چې موضوع له کندهار سره اړه درلوده او عبدالعزیز خان یاور کندهارته تللی ؤ نو د زولو د پوهېدو په غرض به په پښتو او دري ژبو خپره شوې وي.

دا چې ښاغلي آهنګ لیکلي چې د افغان د پښتې په لومړي مخ کې په واضحه توګه لیکل شوي چې دا ورځپاڼه هره ورځ په پښتو او دري ژبو خپرېږي هېڅ یوه اشتباه ده ځکه د افغان د جیبي ګڼې د اجمله: «به زبان فارسی و افغانی» د افغان د نامه ترپاس او د: «درهر روز یك بار طبع و نشر میشود» جمله د افغان او د هغه له مشخصاتو نه وروسته راغلې د پاڼې په لاندې برخه کې خپره شوې ده چې هیڅکله دا نه افاده کوي چې هره ورځ په پښتو او دري خپرېږي، نو ځکه ښایي فرضاً ددې په ځای چې په یوه ورځ کې د افغان په نامه دوې ورځپاڼې د یوه نګران او یوه مدیر له خوا او ګڼو د ابه وي چې وروستۍ نظریې ته چې له واقعیت سره هم سمه ده ترجیح ورکړو ځکه د مطبوعاتو په تاریخ کې دا ډېر

* (۳) که څه هم ښاغلي مایل دا ګڼه د افغان دورځپاڼې د لومړي کال (۸۱۱) ګڼه ښودلې خو څرنګه چې کال له ۳۶۶ ورځو څخه نه زیاتېږي نو یوه ورځپاڼه چې هره ورځ خپره شي هم په کال کې له ۳۶۶ ګڼو څخه پورته نه شي نو ځکه ښایي (۱۸۱) ګڼه د ښاغلي مایل تر سترګو (۸۱۱) ورغلې وي .


بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

معلومات داخلیه زبان افغانی

کوائف د تشریف فرمائی د جناب جلالتمآب

عالیقدر سردار اعلی عبدالعزیز خان

یاور د حضور د اعلیحضرت همایونی

چه اوس له حضوره د اعلیحضرت

غازی په منصب جلیله د ناظر داخله

سرافراز کړ شویدلی دی په سمت د

قندهار آباره د که روانی صمیمانه

دافغان دورخپانی دیوی جیبی گنی پښتو برخه

Property of ACKU

شوی او کیږي چې یوه ورځپاڼه په ځینې سهمو ورځو یا د یوې مجلې او ځوځې الحاق د موضوع له پاره خپله یوه ګڼه په ډیرو پاڼو کې او هم په بدله ګڼه او باسي خو خپلو عادي نشراتو ته په عادي ګڼه او پاڼو کې ادامه ورکوي اما په یوه ورځ دیوې ورځپاڼې په دوو ډولو او دوو سایزو خپرېدل ډېر کم دي او حتی په ډیرو پرمختللو هېوادونو کې یې هم نمونې نه موندل کیږي. او هم څرنګه چې دافغانستان طباعتی وسایل په هغه وخت کې دومره پراخه نه وو چې دوه ورځپاڼې له یوې اداري او یوې مطبعې څخه خپرې کړای شي مخصوصاً بیا هره ورځ. (م ۱۰) مخونو کې د ورځپاڼې ایستل بېخي له امکان څخه لیرې وو او له یوې څخه یې هم ښکاری چې یوه (م ۱۰) مجموعه ورځپاڼه په کوم اسم هره ورځ په دوو پیسو پلورله کېږله؟ خو که په دې هکله ثقه اسنادو لاسته راشي نو بیا ګټه ای شي چې د افغان دوه ورځپاڼې یې په یوه ورځ کې د دوو ګڼو خپرېدل هم ومنل شي.

دافغان او روښتی عدد:

مرحوم جویا لیکي: «دوره نشریات او رابعضي زیادتر کویند لا کن بعد ولی شماره ۲۷۲ سال دوم آن که مصادف باجدی ۱۳۰۱ است کدام شماره اخرتری که طول مدت رانشان بدهد بنظر نګارنده نرسیده» (م) خو له ماسره یې د دوهم کال (۲۵۲) ګڼه هم موجوده ده چې په دې اساس ویلای شو چې د وخته دافغان دوه ورځپاڼې خپرېدل یقیني دي.

(م) جویا، د ... کابل مجله، دوهم کال، ... ګڼه، ... مخ.

Property of ACKU

امان افغان د افغان د ورځپاڼې د تعطیل په باب لیکي:

۱- مدیر یې یوازې ؤ.

۲- مدیر یې د دې ورځپاڼې په کار سربېره د وبرېښي مطبعې چارې هم ترسره کولې.

۳- په خپرولو کې یې لږ کړاو منلو سره سربېره بیا هم د لوستونکو شمېره کمه وه.

دو ځکه د (۱۳۰۲) کال دوړ له شروانه وروسته خپره نه شوه (٥).

Property of ACKU

(٥) امان افغان، ۵لمر کال، لومړی گڼه، ۲، ۳ ش ۱۳۰۲.


# طلوع افغان

چهارشنبه ۲۳ عقرب ۱۳۰۶ — ۲۰ جمادی الاول ۱۳۴۶ | شماره ۱۰

## مکتوب

ادیب او دیر محترم مدیر د طلوع افغان!

دطلوع افغان دجریدی یوه گڼه

Property of ACKU

# طلوع افغان

د هغو کارونو له ډلې څخه چې په ولایاتو کې تنظیمیه هیأتونو سره کول یو هم د جریدو خپرول وو او په کندهار کې هم په ۱۳۰۰ ه ش کال کې د طلوع افغان په نامه یوه جریده د مولوي صالح محمد هوتک په مدیریت د هېواد د مطبوعاتو په مسلک وځلېده، نوموړی د کندهار د پوهنې مدیر هم و او لکه څرنګه چې د طلوع افغان په لومړنیو ګڼو کې لیدل کېږي خطاطي، اهتمام او کاپي لیکنه یې دارو استاد عبدالعزیز الکوزایي په غاړه وه.

د طلوع افغان د لومړنۍ ګڼې په سرلوحه کې لومړی د جریدې نوم په ټټې خط لیکل شوی، دوهم د غنمو په وږیو پوښل شوې خولۍ ده چې تر څنګ یې د لمر «څرک» ښودل شوی او د دوارو نه لاندې دوې توري د جلېپا په شکل ښو

Property of ACKU

په‌بل رسم تښوېدی‌او کښتنی خنډې ته مخامخ یې داسې ری: « هر که آب از دمشمشیر خورد نوشش باد » خپره‌شوې‌ده. دانښه کله په نورو رنګ او کله کله بیا په سره رنګ خپرېدله او دپوهاند عبدالحی حبیبی د وینا له مخې له‌دغې نه مطابق په ۱۱۶۰ کال کې د کندهار په هسکن (اسمان) د احمد شاهي دولت خپلیدلی دی .

داجریده په اونۍ (هفته‌یی) یو ل، هره چارشنبه د کندهار په ناستو او لرغونی ولایت کې خپرېدله.

دجریدې داشتراک بیه په دې‌ډول وه:

| | کلنۍ | شپږ میاشتنۍ |
|---|---|---|
| کندهار | پنځه روپۍ | دری روپۍ |
| داخلي ولایات | شپږ روپۍ | دری نیمې روپۍ |
| باندنی هېوادونه | پنځه انګریزی روپۍ | دری انګریزی روپۍ |

په کندهار کې دیوې ګڼې بیه اوو د پیسې .

ددو وجدولو په‌منځ کې داخبار د خپرېدو نیټه راغلې‌ده خو اله کیڼې خوا ته لومړی لمړنی لېږدیځ شمېر: (چارشنبه ۱ میزان ۱۳۰۰)، په‌منځ کې میاشتنی لېږ دی شمېر (۲۳ شوال ۱۳۳۹) او کیڼې خواته عیسوی تاریخ: (۶ جولای ۱۹۲۱) راغلی دی.

طلوع افغان په‌پښتو او دری ژبو په خپرونو پیل وکړ او لومړنی خبرې یې دوخت د پاچا په دعاشروع کړې ، هغه‌نیکمرغی او بریالیتوبونه یې‌چې افغان ملت ته‌په‌برخه شوي ، شمېرلي‌چې دهغې‌په‌ډله کې یې په زیات شمېر سره‌داخبارونو سوجودیت یاد کړی او داخبارونو ډېر والی یې دپوهنې د تعمیم‌او پراختیا یوازینی‌وسیله بللې‌ده. په‌دې‌مقاله کې له‌دې‌نه وروسته‌چې‌په

Property of ACKU

کندهار کې همکله دنو روخانو نوښوندې داخبارد خپرېد و اجازه ورکړ شوې، خوښی شوې ده.

دلو د مېاشتې دوهمه مقاله د حوادث داخلیه تر سرلیک لاندې په کندهار کې د تجارو د ښو ونځی د پرانستل کېد و زیری دی ، د کندهار تاجر انو د سرشتې پدېو ګه په خپل تجارتی محصول کې ۲ ; زره افغانۍ زیاتی کړې چې د هغې په وسیله یې د کندهار د زده کوونکو له پاره دیوه ښوونځی جوړول په نظر کې و نیول.

دریمه مقاله په پښتو ژبه لیکله شوې چې داخبار او داخبار د کتو په باب ده ، په دې مقاله کې لیکل شوی دی:

«نن روځ داخبار فایدې او اهمیت و هر چاته معلوم دی چې حاجت دبیان نلنته. داقدر و ایم چې اخبار ژبه دملت ده، هر ملت چې اخبار نلری ګنګه یې او لی. دبې خبری او باخبری ډېر فرق دی ، د اخبر تیا د هر چاخوښه ده، تر اخبار لو ذریعه د خبر تیا نسته، بلې دچانه ده خوښه چې په کور کې ناست وی او دعالم په حال خبر ېږي. اخبار ژوندی تاریخ دی علاوه پر خبرو علمی ، ادبی، فنی، اخلاقی فوایدهم رسوي. خصوصاً چې بیا په خپله ژبه وي...»

ددې مقالې په پاتې برخه کې د جریدو د تأسیس او په باب کوروالی و بله شوې ده. په دې یوه پانیزه (دوه مخی) جریده کې د «حوادث خارجیه» عنوان هم لوستل کېږي او په لومړنی ګڼه کې یو اژې بو خبر د تر کیې د بشپړې خپلواکۍ د خپرېنې په باب دی. په دې ګڼه کې د ګڼو تله پېره یو اعلان هم خپور شوی دی. هر نګه چې جریده به د بریښ چاپ خپرېد له نو مطالب یې دار و ابناد عبدالعزیز الکوزایی په واسطه لیکل کېدل او د ښینې مقالېو

په ژباړلو خصوصاً د باندنیو خبرونو په برخه کې د خدای بښلي منشي محمد عثمان بارکزايي ژیار یوست.

له ۳۷ گڼې نه وروسته یې (د ۱۳۰۱ کال د وري لومړۍ او د ۱۹۲۲ کال د مارچ ۲۲ نېټه) مدیریت هاغه عبدالعزیز (چې په بابا مشهور ؤ) ته ورکړ شو. د دې مدیریت له پیلېدو سره د طلوع افغان لومړی بدلون د چهار شنبې له ورځې نه د شنبې ورځې ته د هغې د خپرېدو راوړل وو او نور موضوعات په خپل پخواني حال پاتې وو.

د طلوع افغان د دوهم تکراتي کال پیل د ۱۳۰۱ کال د سرطان له ۲۸ (د ۱۹۲۲ ع د جولای له ۲۱) نېټې سره سم ؤ. د دوهم کال د لومړۍ گڼې په سر مقاله کې یې له عربي حمد او ثنا نه وروسته د خدمت توفیق غوښتی او ویلي یې دي څرنگه چې د جریدې پاڼې د کلونو له پاره پاتې کېږي او د هغې په رښتیا او دروغ لیکنو خلک خبرېږي نو ځکه جریدې لیکلي دي:

«خود را سلامت وجدان خود نخواهیم ساخت و بکشف حقیقت گرچه سر ببازیم خواهیم پرداخت.»

او په دې مقاله کې کارداراتو او حاکمانو ته لارښوونه شوې چې خپل کارونه په ښه ډول تر سره کړي ځکه چې د اخبار وظیفه د حقیقتونو څرگندول او خپرول دي.

د ۱۳۰۷ کال د جوزا له میاشتې نه وروسته (د جریدې د اووم کال سرهم) د طلوع افغان خپرېدنه د مدیر په غیاب کې د جریدې د خواجه محمد نوسي مرستیال له خوا کېدله خو په دغه کال (د ۱۳۰۷ کال وږی) کې دا وظیفه په مؤقتي ډول ارباب سید حسین چې په همدې اداره کې خطاط ؤ تر لاسه

کړ د خو مدیریې تر ۱۳۰۹ ش کال پورې هماغه عبدالعزیز خان پاتې شو او څو نګه چې په همدې کال د کندهار د خلکو له خوا د ملي شورى دوکیل په حیث و ټاکل شو نو د جریدې د خپرېدلو کار د مغه مرستیال عبدالحی (او س پوهاند عبدالحی حبیبي) ګاوه او په ۱۳۱۰ کال د همدې جریدې مدیر شو چې تر ۱۳۱۳ ش پورې یې دا وظیفه تر سره کړه او په ۱۳۱۱ ش کال یې د طلوع افغان ټوله جریده په پښتو ژبه او لو یه کچه خپره کړه.

دطلوع افغان متن:

---

دطلوع افغان متن په لومړنیو کلونو کې تر زیاتې اندازې اما ن افغان ته ورته دی خو اساسي توپیر یې په پښتو متون کې دی او هم یې بل تو پیر دادی چې په مطالبو کې یې تنوع ډېره کمه لیدله کېږي. دنمونې په ډول علمي، ادبي، پوهنتو نکی او نو ر دا ډول لیکو نو نه یې ډېر کم دي چې شا یې د دې سو ادو د نه خپرېدلو علت به دطلوع کوچنیتوب وي. په هر حال دطلوع افغان متن په دریو برخوو ویشل کېږي: چې دخبرو نو، تبصر واو مقالو او دنظامنامواو د دولت داعلامیو خپر و ل دي په ضمني تو ګه ځینې شعرو نه او رسمي اعلانونه هم یادولو وړ دي.

د طلوع افغان کورنی خبرو نه یوه برخه د جریدې د کار کوونکو او یا ځینې خبر یالانو له خوا تهیه کېدل خو زیاته برخه یې د هېواد له نورو جریدو څخه اخیستل. د دې جریدې مهم ا خیستنځي: امان افغان، اتحا د مشرقي، حقیقت، اتفاق اسلام، اصلاح، ارشاد النسوان او د هېواد نورې جریدې وې.

لاندې دو هغه خبر چې د اتفاق اسلام له جریدې څخه اخیستل شوی د نمونې په تو ګه لیکم، دا خبر دطلوع افغان د دو هم نشر اتي کال په ۷ ګڼه کې خپور شوی دی:

Property of ACKU

« شب چارشنبه (۱۷) اسد، در اخیر بازار ملک قریب میدان پای حصار آتش‌زدگی سخت ناگهان از دکان (غلام محمد نام) قناد که همان روز در دکان خود شیرینی و حلویات می‌پخت و البته آتشی که باقی مانده بود به هیزم و سیاه چوبی دوکان رسیده بساعت (۸) شب بوقوع انجامیده بقدر دو نیم ساعت دوام ورزیده پهره‌داران و مستحفظان که از واقعه خبر می‌یابند و به کوتوالی و چهارباغ و ارگ خبر میرسانند فوراً آتش به ارسی دکان و متعاقباً به سقف بازار که همه از چوب خشک چندین ساله است سرایت نمود (۱۹) باب دوکان در آتش گردید.

« بعد از انکه جناب (ع.ج) وزیر صاحب امنیهٔ عمومیه رئیس هیئت تنفیذیه و (ح.ش) لوا امر صاحب و (ع.ع) آقای محمد شعیب خان رئیس امنیه و باقی اعضای هیئت محترم تنفیذیه سرسند سقف بازار از پیش و پس آتش قطع نموده و غلطانده اطفای نایرهٔ نیران نمودند »

د توجه وړ ده چې په دې خبر کې ټول ضروري معلومات شته خو د هغه د سبک او د خبر لیکنې د نه پراختیا په سبب د پېښې د پېښېدو او مستقیم عرم په ټول راغلی دی.

له دې سره سره د دې اخبار د داخلي خبرونو شمېر د خارجي خبرونو په اندازه نه دی، داخلي خبرونه هم اکثر د په داسې ډول خپاره شوي چې رسمکوره به و رسره کړه و د نمونې په ډول د دوهم کال د ۲۳ گڼه کې یې د « عزیزمت جناب وزیر صاحب داخلیه بدوره گرسمیر » تر عنوان لاندې یو خبر خپور کړی او په هغه کې یې د کندهار کې د نوموړي فاعلي کارونه او خدمتونه یاد کړي او په وروستي پاراګراف کې یې داسې لیکلي دي:

«ما تو فیق‌خدمت هـای عادلانه جا ن نثارانه جناب ممدوح رااز بارگاه موفق حقیقی باعو دتشان مع الخیر و العافیه مسئلت نموده معا ینه و کوایف و انتظاما ت شانرا حسب اطلاعاتیکه نامه نگارما خبر خو اهدداد منصلا برای آگاهی قارئیین محترم خو اهیم نگاشت.»

خارجی خبرونه: لکه څرنګه چې له عنوان څخه یې ښکاري د هغو نو لو پېښو په باب کې چې د خپلوادانه‌دباندې‌نو رېښږي په‌باب‌ترلاسه کېدای شو ی. تر کومه خا یه چې دخبرونو له اخیستنځي‌څخه ښکاره‌شوه اکثر خارجي مطالب له خا رجي جریدو څخه ترجمه‌او اخیستل کېدل. دخارجي اخیستنځیوله ډلې څخه یې: الخلیل، نصرت، زمیندار، حبل‌المتین، خلافت، ګلستان، سیاست او نو رې جریدې او ورځپاڼې‌وې. لکه څنګه چې دخارجي خبرو نو منبع په ښکاره ډو ل‌نه لیدله کېږي یعنی‌نه د کو مې‌جریدې‌نوم و رسره نیکل شوی‌او نه‌د کو م خبر یا ل. خو بیاهم‌خارجي خبرو نه‌تر هرڅه‌ول مطالبو نه ښکېږ بات دی. دلته د نمو نې‌په تو که دو مخارجي خبرو نه‌توپ را‌اخلو چې‌څخه‌نه دطلو ع افغان دلیکلو سبکه، دخبرو نو مطلب او دجر یدی داطلاع لاسته راتلو بڼه ښکاره کړي:

۱) لندن ۹ ،۲ اسد، یک کشتی‌آبدو ز (تحت البحری) جاپانی که در جمله آبدوزها ی دیگر امتحان آنرا میکر فتند،غرق شده است و پنجاه نفر کشتی نشستگا ن غایب مبیا شند.» داخبر ددریم کال‌دطلو ع‌په ۶۴ ګڼه کې په دریمه ګڼه کې خپور شوی دی.

۲) نیو یار ک ۰. ۲سی، کمپنی تیلگراف و تیلفون‌امر یکایی‌د یرو ز تحت عملیا ت جد ید ترسیلات‌پیغا ما ت برقی د ر د و ساعت از نیو یار ک ا لی کلیولیند( صو به‌اوهایو )پانزد ه قطعه‌تصو یر عکس رافر ستاده تصاو یر فوق‌الذکر بطو ر هفت ا نچ به عر ض‌پنج انچ‌اند و بدرجه‌و ضاحت داشتند که در

Property of ACKU

جوا ید به بسیار آسانی شایع گردیدند.» پورتنی خبر د دریم کال د ۳۸ گڼې په دوهم مخ کې خپور شوی دی.

سر مقالې، تبصرې، لایحې او نظامنامې:

د تبصرو او سر مقالو په برخه کې چې اکثره به د مدیر او یا ځینو نورو لیکوالو په قلم لیکلې کېدلې د ورځې په ځینو پېښو سر بېره دیو والي، اتفاق د یني لارښوونو ته د تشویق او نورو په باب هم خبرې کېدلې، چې دا کار د پښتو او دري دواړو ژبو په مقالو کې لیدل کېده، د لومړي کال په څلورمه گڼه کې د ورورۍ او یو والي په باب د یوې تبصرې په ترڅ کې (ښاغلي د اخبار د مدیر په خیال ملي وي) په پښتو ژبه داسې لیکل شوي:

« خدای تعالی فرمایي چې ټول مسلمانان سره ورونه دي، هر مسلمان د بل مسلمان د ین ورور دی، ورور گلوي یوازې په دې پوری نه ده چې مور نې دي وي. داسې ډېر ورونه دي چې تر مور نیو ورونو زیات د یو بل د ښمنان وي، بلکه داورور گلوي تر اصلي ورور تیا خور اښه او محکمه وي ...» .

د مقالې دیو شمېر دینې موادو په راوړلو سره د ورورۍ او همکارۍ په باب د اخبار تر یوه حده زیاته برخه نیسي.

د یو تبصره د ښکال د دو . او سیدو تکي له خوا چې د کوټ مند (سیاح) په نوم افغانستان ته راغلی و د «عصر آزادي» په جریده کې خپره شوې وه او طلوع افغان دا مقاله بیرته خپره کړې ده. په دې مقاله کې د افغانستان د پر مختگ او پر اختیا په باب خبرې شوې او په دې مواد کې د عدالت، ورورۍ، او گډې پر ستنې ستاینه شوې ده، په مقاله کې لیکل شوي چې د پښتنو له پوه سرخو بر سره

مخا مخ شو او د ددې پښتانه په خوابو کې و ویل چې د حکومت نو کر او خیرخو ر یې، پښتانه په مخصوصه لهجه و رته و و یل: نو کر او خیرخو ر ؟ باغلیه رمو ږ په افغا نستا ن کې نو کر ، مزدو ر او خپرخو ر نه مو ندل کېږي. دمقالې په پای کې لیکل شوي چې دده په عقیده به د افغا نستا ن ډېر ژر په خپلو هېواد و کې دیوه لوی او متمدن هېواد په حيث و پېژندل شي.

( طلوع افغان، دریم کال ۳۰ گڼه، لومړی مخ ).

د مقالو دلیکو نکو په ډله کې دسید محسن کند هاری نوم هم چې په پښتو او دري یې لیکنې کولې ډیاده لو و ړ دی، دادو ل لیکنې یې نو موړې جریده کې ډېرې زیاتې خپرې شوې دي.

دهېواد داساسي تشکیلاتو نظامنامه لومړی کال له دریمې گڼې نه شروع شوه او دوه کاله یې خپرېدو دوام و کړ دمطبوعاتو او اساسیه نظامنامې هم ددې جریدې په بېلو–بېلو گڼو کې خپرې شوې دي. په نظامنامو سربېره ددوستې ترونونه او دحکومت اعلامیې هم په پښتو او دري د واړو ژبو پکې خپرې شوې دي.

دطلوع افغان در نگارنگ مطالبو په لړ کې شعرونه هم زیات لیدل کېږي، په دوو گڼو کې یې دوه جرمنی شعرونه یو دافغانستان او بل دکندهار په ستاینه کې داوت نومي جرمني په قلم د هغې له دري ترجمې سره خپاره شوي دی. دلته دهغه شعر دري ترجمه چې دافغا نستان په ستاینه کې دی د نمو نې په توگه را اخلو .(او پښتو ترجمه یې هم چې دژ باړونکی له خوا شوې و رسره لیکو.) داشعر د دریم کال په ۲۸ گڼه کې خپو ر شوی دی :

« ۱–افغانستان تو ای سر زمین کشو رهای بلندو تنگ مستحکم »

که بر قلهٔ بلندت عقاب های آزاد تخت نشین اند ،
چسان که در استقبال درخشانت امیدوار یم .
در فراز راهایت فتح وظفر زندگانی میکند.
بلند و عالی باش چون قلهٔ بلندت که بآسمان رسیده است .
ثابت و مستحکم باش در همه انقلابهای زمان چون کوهایت .
خدا تو را محافظه میکند در همه آرزوهای برگزیده و عزمهای ستوده ات.
خوشبختی و تعالی برایت ای افغانستان !
۲— افغانستان که در دشتهای سبز و خرم خود، خود را وسعت داد ،
که دران تیز رفتار چون غزالان سریع و آزاد قدم میزنند،
و در آنکه بدوی ها بزیر چادر اسرار حیات طبیعی مینمایند .
احترام صمیمانه ام تقدیم است برایت ای افغانستان .
بوسعت و فراخی جستجو کن مقتضیات ترقی خود را،
بآزادی و استقلال افتخار کن و این نعمت را محافظه دار ،
به خیالات و افکار خود عزم قوی داشته باش که هرچه فکر کرده ای همه برای منفعت است.
خوشبختی و تعالی برایت ای افغانستان !
۳— افغانستان تو ای سر زمین بساتین سر سبز و خوشنما ،
که اعلی ترین میوه ها را به کثرت حاصل میدهی.
در زیر سایهٔ درخت های سر سبزت انواع گلها به خوشنمایی و هوش‌ربایی مشغول اند .
واه قدرت تراچه نعمت های بزرگ بخشید و به چه صنعت ترا آراسته ،

Property of ACKU

افغانستان‌تو ای‌سرزمین‌خوش صورت آزاده مردان .
دوست باش با کسانیکه برای دوستی به خدمت آمده اند .
دست های برادرانهٔ خودرا به وفاداری بسویت دراز میکنم .
خوشبختی و تعالی‌برایت ای‌افغانستان !»

د دې شعر پښتو منثوره ترجمه:

۱ــ افغانستانه! ته دلوړو او ټینګو هیوادونو سپینه یې ،
چې په لوړو غرو کو کې‌دې خپل واک‌ګوربتان تړلوا کی لري ،
څرنګه چې ستارو نه‌سباته هیله من یې ،
دلارو په کږلیچونو کې‌دې برې او برم ژوندون لري .
لوړاوسر لوړی‌اوسه! لکه لوړې‌څوکې‌دې‌چې هسکمن ته رسېدلې‌دي ،
کلک او ټینګ‌اوسه! دزمانې‌په ټولو انقلابو نو کې لکه غرونه دي .
ښېتن‌دې‌ساتندوی دی‌په ټولو غوره هڅو او ښوا راد و کې !
نیکمرغی‌او لوړ توب‌دې‌وی تالره‌ای افغانستانه!
۲ــ افغانستان چې په خپلو شنو او ودانو دښتو کې ځان پراخه کړ ،
په هغه کې‌لکه‌خپلواکې‌او چالاکې‌هوسی‌غوندې چټک‌چټک‌ګامو نه‌اخلي،
او په هغه کې کوچیان د کېږ د یو په‌سیوري کې طبیعي‌ژوند ون کوي.
دزړه له کومې درناوی در ته کوم اې افغانستانه !
په خوښې‌او سړ دسینه و لټوه‌دخپل پرمختګ‌هیلې ،
په خپلواکۍ او آزادۍ و یاړه او دانعمت وساته .
خپلو افکارو او خیالاتو ته ټینګه اراده ولره، هر فکر دې‌چې کړی ستاد
کلتې‌له پاره دی .

Property of ACKU

نیکمرغه اولوړ اوسې، افغانستانه !

۳ـ افغانستانه! اې دشنو او ښکلو باغونو مځکې چې په زړه پورې سمبوې په زیاته پیمانه درکې موندلی کیږي ٠.

دشنو ونو په سیورې کې دې راز-راز گلونه دښکلا او زړه راښکلو په حال کې ژوند کوي ،

واه! قدرت تاته څه ښکلي نعمتونه دربښلي دي او په څنګه لاس سینگار شوی یې!

افغانستانه! اې ته ښکلیه دآزادو سړو نو هېواده !

دوست اوسه له هغه چا سره چې ددوستۍ لپاره دې خدمت ته راغلي دي ،

خپل ددوستۍ لاسونه په وفادارۍ سره دراوږدوم !

نیکمرغي او لوړتیا دې وي تالره، اې افغانستانه! ).

ددې جریدې دډېرو شعرونو له متن څخه ښکاري چې دوطن غوښتنې، اتفاق او یووالی، پر اختیاراو پر مختګ روحیه پکې ساتل شوې ده ، حتی داجرمني شعر هم له دې خوند څخه بې برخې نه دی او همدا سبب دی چې په جریده کې خپور شوی دی. دځینې شعرونو عنوانونه لکه :«حب الوطن من الایمان»،«حب وطن» (دری) «وطن»(دری) او نور دي.

دطلوع افغان جریدې دځینې داخلي او خارجي جریدو دپېژندگلوی په برخه کې هم هڅه کړې چې دا کاردژورنالیزم دخپرونکو لپاره ډېر گټور دی .

په طلوع افغان کې خپاره شوي اعلانونه دشمېر له مخې ډېر کم دي او هم

Property of ACKU

هيڅ دافکر نه کېږي چې مادي ګټه به ترې تر لاسه کېږي ، بلکه ټول حکومتي اعلانونه دي چې دعلاقه لرونکو دخبر تيا له پاره خپاره شوي دي .

په عمومي ډول بايد وويل شي هر څو سره چې دطلوع افغان عمر زيات شوى هماغو سره يې د متن او اطلاعاتو دتنوع په برخه کې مترقي او د پرمختګ په لور قدمونه اخيستي دي چې داحقيقت دطلوع افغا ن دپيلو - پيلو کلونوله کلکسيونونه څرګنديږي .

په ۱۳۱۱ کال کې کله چې داجريده په پښتو خپره شوې کچه يې لويه او په ځلو رومخونو کې ده او په سر مقالو برسيره اختصاصي : ادبي ، تاريخي ، اقتصادي ، اجتماعي ، علمي او نور ستونونه هم لري او په هره ګڼه کې يې «دکور خبرې» او «دباندينۍ خبرې» عنوانونه خپاره شوي او کله - کله ټوکې او انتقاد هم لري او تحقيقي مقالې يې مخصوصاً په پښتو ادبياتو کې په زړه پورې دي.

له ۱۳۱۱ کال نه راورو سته دې جريدې دهر کال په پاى کې يوه فوق العاده ګڼه درسالې په شکل چې دفلسکيف اندازې پنځو سو مخونو ته رسيدله، هم خپره کړې چې ادبي، اجتماعي ، تحقيقي او سيا سي مضمونونه به يې درلودل .

له دې نه پر ته دطلوع افغان ادارې له ۱۳۱۱ کال نه راورو سته څو مهم کتابونه هم په پښتو خپاره کړل چې له هغې جملې څخه: ملي پسرلى (منظوم) ، دخوشالخان خټک ملغلرې، دعبدالقادر خان خټک ديوان، سپېڅلى پښتو ، دوه توکه پښتو ځود آموز او ددينيات رسالې دي .

**صحافت او مخ تړنه:**

لکه څرنګه چې پخوا هم وویل شول دطلوع افغان دلومړی کال ګڼې په یوه پلیز دول خپرېدلې چې دمخونواو ږده یې په عمومي توګه ۱۶ انچه او سوریې ۱۲ انچه دی. خو کله۔ کله یې د کاغذپه بدلولوسره لکه سور، شین، ژړ چې لکه د «خشکی» کاغذغوندې ؤ په کچه کې هم بدلون راغلی، بیاهم دا کچه ددوهم کال تر لسمې ګڼې پورې په همدې حال و مخو وروسته له هغې داخبار کچه ۱۳×۱۹ انچو ته راټیټېږي او له ۱۱ ۱۳ هش کال نه وروسته بیا په لویه کچه خپرېږي .

دلومړنی نشراتی کال او ددوهم کال دلسو ګڼو مخونه په عمومي توګه دری ستنې لری خو کله په د وو ستنواو ځینې اعلانات مې حتی په یوه لویه ستنې کې هم خپاره شوي دي.

دطلوع افغان خپرېدل تر راو وروسته کلو پورې هم په ډېرښه چاپ وو، خو خطاطی یې په زړه پورې او روښانه لیکل شوې او د سرلیکونو په ترتیب او لیکنه کې زیاته توجه شوې او په لوې لیک لیکل شوی دی، دطلوع افغان ستنې د یوه جدول په وسیله سره بیلې شوې دې؛ډېره په زړه پورې ده چې په دې اخبار کې د کاغذ نه دزیاتی استفادې په غرض دلومړی کال په ډېرو ګڼو کې ځینې مطالب دجریدې په بڼو او کینو لمنو (حاشیو) کې هم لیکل کېدل

ښایی داخبار دښکلاله پلوه یې تاوان درلود خو دعلمي کتې او اطلاعاتو وړاندې کولو له کبله دستاینې وړ کار دی.

بله ښه‌موضوع دا ده چې د دایمي او دوږځپړ د سرلیکو نو لیکنه تو پیر سره

لري، په دې ډول چې دایمي عنوانونه اکثره په نسخ خط لیکل کیدل خو ورځنی

عنا وین دسټن دسبکت سره سم په لوی نستعلیق خط باندې لیکل شوي دي؛ دایمي

عنوانونه یې لکه: «حوادث داخلیه»، «حوادث خارجیه» ، «پښتو» ( مطلب

د پښتو له دایمي ستون څخه دی) وو .

سرلیکونه کله دیوه مطلب یاخبر د پاسه او کله هم دیوه مطلب یا خبر په

سر کې لکه د هغې خبر دیوی فقرې غوندې راغلي دي. کله چې د دوهم کال له

یوولسمې گڼې نه وروسته داخبار کچه وړه شوه په مخونو کې یې د دریو

ستنیو په ځای په دوو ستنیو کې مطالب وړاندې شول او هم یې مخونه له دوو

مخونو نه څلورو ته لوړ شول .

دیادونې وړ ده چې د پښتو او دری دلیکنې په ډول کې یې هم تو پیر موجود

دی، په دې ډول چې د پښتو مطالبو خط نسخي دی چې لا تر او سه هم په پښتو

لیکنو کې دود دی.

داهم باید ووایو چې دداخلي او خارجي مطالبو دخپریدلو په برخه کې

ډیر کم یوه لاره نیول شوې ، یعنې کله به داخلي خبرونه له خارجي خبرونو

نه مخکې خپریدل او کله به بیا د لوسړی مخ په په لو سړی ستون کې د سر مقالې او یاخبر په ځای شعر ونه خپرید ل ، ځینې پر له پسې اوږ ده مطالب به اکثره په ځینې گڼو کې ځنډیدل او د دوو یا زیاتو گڼو وقفې نه وروسته به یې پاتې برخه خپریده له لکه څرنګه چې د افغانستان د اساسی تشکیلاتو د نظامنامې خپریدو د وه کاله وخت ونیو خوچې ترسره شوه.

Property of ACKU

# اتحاد اسلام

ـ یا ـ

بیدار

(*)[*] مخکې له دې چې د اتحاد اسلام دجریدې په باب خبرې وکړو با یدووایوچې د افغانستان داستقلال د ترلاسه کېدو په وخت هغه موقع دی چه شرقي او اسلامي هېوا دو نه تبول په سره ورته شرا یطو کې واقع و واو ټولو د بر طانوي استعمار او نورو ضر بې لیدلې وې ، د ټولو رنځ او دښمن یو ؤ ، نو ځکه هڅه کېدله چې په ګډه سره دوروري او همکارۍ له لارې قدمونه واخلي ،

---

(*) د ابحث د « بیدار » تر کوچنی عنوان پورې د ژباړو نکی له خوا لیکل شوی او په اصلي متن ورزیات شوی دی .

Property of ACKU

د ګاږد دښمن له منګولو نه ځانونه خلاص او د ګډو رنځ د تداوی لپاره لېچې وغړي او د هر راز استعمار او توسعه طلبی له ولکې خخه خانونه و باسیه. همداؤ چې سر بېره په‌نورو کارونې دجرید و او مجلوعنوانونه‌هم‌جامع وو، د: «آزادی شرق»، «نهضت شرق»، «عصر آزادی»، «نهضت اسلام»، «حبل المتین» او نورو اجتماعی او اسلامی نونو نو ترعنوان لاندې بې خبرونی کولې؛ خوان افغانستان هم چې په‌هغه‌وخت کې ترټولو پېشقدم ژاو د آزادی په‌ترلاسه کولو کې د نمونې په‌حیث پېژندل کېده، د همدې اسلامی او شرقی وروری‌دمزی دلا کلکولوله پاره هغه کوله او همداسې بڼې چې دلته هم اکثره جریدې د «اتفاق اسلام»، «اتحا د اسلام»، «اصلاح» او نورو په‌نامه خپر بدلې.

د اتحاد اسلام او ونی جریده‌لو مړی‌ځل د بلخ په‌تاریخی ولایت کې د ۱۳۰۳ ه ش کال د کب په لومړی نیټه (۱۳۰۳ کال د فروری ۱۹) د دوشنبې په‌ورځ خپره شوه؛ د هغه‌وخت دیوه خصوصی رسمی سند دقلمی نقل په‌استناد داتحاد اسلام او اصلاح ــ ښې تفصیل به‌بیا وروسته راشي ــ جریدې د افغانستان خلکو ته په‌خدمت سر بېره د بخارا او فرغانې دخلکو دبېداری او دافغانستان سره د دوی دورورولۍ په‌منظور دافغانستان په‌شمالی سیمو کې خپرې شوې؛ په‌دې سند کې دمطبعې او اخبار د تأسیس خبرې داسې یادې شوې دي «تااقصی الغایه در جلب قلوب اهالی آنسرزمینها به‌افغانستان... کوشش کرده باشند... یک‌پایه ماشین مطبعه در قطغن ومزار تأسیس دادن و بواسطهٔ بعضی محررهای قابل اوراق و رسائل و ابلاغیه‌ها و اعلانهای جالب القلوب اخلاقی و دینی نشر نمودن. این بچه‌میشود؟ بمهارت و قابلیت محررها!...»(۱).

(۱) دا سند د نورو مطبوعو او قلمی اسنادو په جمله کې ترلاسه شوی او د ایکونکی په کتابخانه کې خوندي دی.

Property of ACKU

له‌نیکه مرغه‌دنو رولاس ته‌راغلو جریدوسره داتحاد اسلام د رې ګڼې (دلومړی کال لومړی اویوولسمه اود دوهم کال اوومه ګڼه) هم‌لاس ته‌راغلې چې‌لاندې یې‌دمتن او خبرې په‌باب دهمدې ګڼوپه استنادمعلومات وړاندې کړو .

داتحاداسلام‌نشراتی‌مرام:

اتحاداسلام دخپلې لومړۍ ګڼې (د ۱۳۰۰ ه،ش د کب‌لومړی ،لومړی‌مخ) په‌افتتاحیه مقاله کې د«بسم‌الله الرحمن‌الرحیم» ترعنوان لاندې‌داسې‌لیکي:

« هزاران‌حمدو ثنای نامحدود مرخالقی راسزاست جل‌ذکره که‌خاک‌پاک وطن عزیزومقدس ما (افغانستان)رابه‌تجلی کثیرالالای کمالات (صوری ومعنوی) منور کردن میخواست، یک آفتاب درخشان برافروخت که‌ذره‌-ذره اجزای ملک وملت رابنوایر لمعان آن‌تابان‌ودرخشان ساخت !...»

له‌دې وروسته دوخت‌دپاچاستاینه کوي او بیادخپلې دې‌ارزوبه باب چې داخبارابستل دې‌خبرې ښکاروی او لیکي:

«درشهرمزار فیض آثار... که‌در ا را نحکومه (انن) قطعه (۲) ومرکز ام البلادبلخ است یک‌اداره اخبار مسمی به‌(اتحاداسلام )افتتاح‌نمودم که‌تاابنای فهیم وذهین ملت‌مانیز ازکمالات علمی وفنی‌وادبی بی‌بهره نمانده ازبرکات مقالات علمیه وحکمیه آن فوائد کلی ومنافع عمومی حاصل‌نمایند.»

بیا وروسته داخبارد ګټو په‌باب او داتحاد اسلام‌نشراتی مرام‌په‌پنځو فقرو کې د اسې‌لیکي :

---

(۲)اوس د بلخ، جوزجان، سمنګان اوفاریاب‌په‌څلورګونو ولایاتو ویشل شوی‌دی.

Property of ACKU

«هر چندیکه فوائدافتتاح و انتشار اخبارا ز برای ملت و دولت بیشمار و منافع عمومی آن بسیار است لکن بطور اجمال و صورت اختصار در ذیل چهار پنج قلم برای قارئین کرام و مطالعه کنندگان عظام (اتحاداسلام) ایرادنموده میگذارم:

اولاً: اینکه از تذکار مفیده اش اهالی ملت را وقوفی براحوالات حوادث و عوارض ایام حاصل شده از سلوک ارتباط معاملات نوعی دانسته میگردند.

دوماً: بذرایع مقالات سراسر کمالاتش نوجوانان وطن مقدس ما از هرگونه علوم و فنون متداوله این عصر مطلع گردیده در سبیل تمدن تعاون ملی را لازم میدانند.

سوماً: از بیان حوادث در وقایع و قضایای وطنی هر روزه اطلاعی بهم رسانیده از کوائف منوالات ابنای ملت خود خودها بدرستی باخبر می باشند.

چهارم: از صورت مطالعهٔ اخبارهای رنگارنگ در طریق رسوم و عادات ملل مختلفه تایکدرجه استدراک پیدانموده در شیوهٔ دوست داری ملت و هواداری دولت خودها محبت زیادی بهم میرسانند.

پنجم: از مذاکرات ارباب علم و هنر که در راه ترقی ملت و دولت پروای مال و جان نکرده از بس خدمات شایسته که بکار برده اند نام نامی خودها رادر صحایف تواریخ ایام الی یوم القیام بیادگار گذاشته رفته اند یکشوق و ذوق در قلوب وطنپرستان ملت افتاده بشیوهٔ تقلید و تعصب هریکی خود را فداکار دین و دولت میسازند...»

ددې مرام دوله مقالي په پای کې ویل شوي دي کومې گټې چې په نړۍ کې یې اخبارلري زه هم غواړم چې خپلو وطنوالو ته یې وړاندې کړم.
د اتحاداسلام دنشراتي مرام له لوستلو ښکاري چې دې جریدې هم لکه دوخت

دنورو جریدو غوندېلوی مطلب دخلکو اذهانو تنویر او د دوی خبرول او بېدارول وو.

په دې کښې تر افتتاحیه مقالې را وروسته د «حوادث داخلیه» تر جلی عنوان لاندې د «وروردجناب جلالتمآب وزیر صاحب عدلیه»، «جدول تقسیم اوقات کار جغا برئیس هیئت تنظیمیه...»، «افتتاح مکتب دفتر امانیه» او «افتتاح مکتب مساحت» تروروعناوینو لاندې خبرونه خپاره کړي دي. خبرونه یې دننني خبر لیکنې په خلاف په عمومي توگه تر یوې مقدمې او یو خو ستاینو وروسته شروع شوي او بیا په وروستي برخه کې اصلي مطالب بیان شوي دي.

په لومړۍ گڼه کې یې خارجي خبرونه نشته او دنه خپرېدو په باب یې یو اعتذار خپور شوی چې ښکې ویل شوي ځرنگه چې د جریدې په لومړۍ مرحله کې موږ ته خارجي خبرونه تر لاسه نه شول نو ځکه وعده کوو چې له دې وروسته به لاس ته راغلي خارجي خبرونه هم درانو لوستونکو د استفادې له پاره وړاندې کړي.

د همدې کال په یوولسمه لاس ته راغلې گڼه کې خبرونه هیڅ نه لیدل کیږي او په عوض کې یې د «کلمات منتخبه» تر عنوان لاندې یو څو پښتو خبرې او شاه فردونه او د «ادبیات» تر عنوان لاندې یوه قصیده خپاره شوې دي.

د دوهم کال لاس ته راغلې او ومه گڼه هم په یوه اوږده قصیده شروع شوې بیا د «خصائل جمیله» او «جغرافیا» تر سرلیکو نو لاندې مقالې او د «ترکي» ترعنوان لاندې په افغانۍ ترکۍ یو کوچنی مضمون خپور شوی ؛ یوازې د ځلورم مخ په وروستني یو نیم ستون کې د «حوادث خارجیه» ترعنوان لاندې څو خارجي خبرونه خپاره شوي دي؛ خارجي خبرونه یې لنډ او په

Property of ACKU

ژور نالستي اصولو برابر دی؛ ددې خبرو نو دلو مړی خبر اخیستنځی د «فکر آزاد» په نوم بو د ل شوی خو معلو مه نه ده چې دا اخبار څېرې خپر بده؟ او ددو هم خبر مأخذیي «اتحاد مشرقي» دی. خارجي خبرو نه یې په ملي او آزادی طلبانه موضوعاتو پورې سربوطا دی چې په نمونه کې یې دالاندې خبر چې د«خطو زبان ملي» تر عنوان لاندې خپور شوی و راندې کوو:

«از طرف مجلس کبیر ملی ترک امر شده است که بفاصلهٔ یکماه باید تمام دفاتر و نوشته جات دولتی و تجارتی بخطو زبان ترک نوشته شده استعمال خطو زبان اجنبی بکلی موقوف گردد.»

په اتحاد اسلام کې اعلان:

---

داتحاد اسلام په لو مړی گڼه کې په جلي ډول کې داشتراك په غرض یو اعلان خپور شوی دی، ددې عنوان دخپر یدو شکل هم جالب دی ځکه داخبار په لس سانتي متره ستون کې یې دوه دجدول چوکاټونه سرته جوړ کړي او داعلان متن یې د پنځه سانتي مترو په سور یکې خپور کړی دی چې په لو مړی نظر سړی ور جلبوي. همدارنګه داتحاد اسلام له دې اعلان څخه یوکاپي چې دجریدې اداري دخپل اخبار د تبلیغ او دخلکو دخبر ولو له پاره په یوه بې سارې ابتکار لا س پورې کړی چې د هغه وخت په نو رو جریدو کې تر کومه ځایه چې معلو مه ده، داموضوع نه ده لیدله شوې او هغه داچې داتحاد اسلام لومړی گڼه په وریاتوګه وېشله شوې اوپه اعلان کې ذکر شوی:

«اتحاد اسلام بکمال خرسی و اجلال بر عموم مشترکین کرام خود اعلان می نماید که این جریدهٔ فریدهٔ خود در ادر نشر اول بحکم (نوگل این بوستان تحفه‌دار باشد)

Property of ACKU

بقسم اعلان منتور ا یگان نذرنا ضرین ذی شان کرده میشود ...»

او له دې وروسته یی لیکلی چې که څوک په رضا او رغبت د اشتراک سینه لری نو ژر تر ژره دې په خزانه کې پیسې تحویل کړي او جریده به تر دوهمې ګڼې وروسته ورولېږل شي. په نورو موجودو ګڼو کې یې کوم اعلان و نه لیدل شو.

**داتحاداسلام خپرېدو ژبې:**

داتحاداسلام ددوهم کال له اوومې ګڼې څخه ښکاري چې په دې جریده کې په دری سربېره کله، کله «افغانی ترکی» هم دبلخ او شمالی سیمو دترکی ژبو او سیدونکو داستفادې له پاره خپر بدله.

دترکی دالنډکی مضمون د«ترکی» ترلوی عنوان لاندې د«خدمتګار» په کوچنی عنوان شرو شوی او خپور شوی دی چې د نته یې متن ورا ندې کوو:

« خدمتګار اوچ قسم دور : رقبی، شهوی، طمعی.

اول: رقبی شریعت طرفیدن غلام لیک حکمی نافذ قیلینګان کشینی ایتورلر.

دوم: شهوی شهوت ننګ غالب لیکیدن اذرینی تو تا لماید و رګان کشی نی ایتور. بو طریقه خدمتګا رننګ هیچ مناسب و لایق لیکی یوقدور.

سوم: طمعی انی ایتورلر که بد نی قوی و نفسی ده هیچ برفضیلت حاصل قیلګوویث استعدادی یوق بولسه انداق کشی ننګ طبیعی حیوانات طبیعتګه مشابه دور»

Property of ACKU

**داتحاد اسلام خپره او مشخصات :**

د اتحاد اسلام لومړی گنه په لویه کچه ، په د ربو ستنیو کې چې د هرې ستنې اوږده یې «۳۰» او سور یې «۲۱» سانتی متره دی ، پر سپین کاغذ په دوو مخونو کې خپره شوې ده .

دجریدې په لومړی مخ کې دمزارشریف دشاه اولیاء دزیارت رسم او یو بیرغ په بیضوي شکله دایره کې نیول شوی، ددایرې په برنی پټه یې دوله حلقه کې د « واعتصموا بحبل‌الله جمیعاً و لا تفرقوا » آیت په ثلثی خط لیکل شوی او د دایرې د لاندې پټه یې دوله جدول کې : « مزارشریف » لیکل شوی دی ؛ دهمدې دایرې د لاندې خوانه ښی خوا ته پټه یې دوله جدول غزول شوی او په منځ کې یې « تاریخ قمری ۲۲ ماه جما دی الثانی سنه ۱۳۳۰ » او کیڼې خواته په غزیدل شوې پټه دپاسه د: « تاریخ شمسی اول ماه حوت ۱۳۰۰ » جملې لیکلې شوې دي .

د لومړي‌مخ دنامه دلوحې ښی خواته له پاسه په لاندې لوری په پېلو ـ پېلو کرښو کې :

« سال اول — مدیر و سر محرر — عبدالرزاق خان (۳) — محل اداره باغ

(۳) مرحوم‌جویایی د اومړنی کال مدیران : عبدالعزیز خان محرری ،حافظ عبدالقیوم خان‌او میرزا ثاقب ښودلی (و گوری : مطبوعات و ... کابل‌مجله دو هم کال ۳ گنه ۸۱ مخ ) بناغلی‌آهنگ بی هم‌ددې کتاب په‌دری چاپ کی لومړنی مدیر دعبدالعزیز خان په نامه یاد کړی خودلیند یو په منځ کی بی د : (و یا عبدالرزاق خان ؟ ) هم د سوالیې‌په زیاتو لوسره لیکلی چی د داتحاداسلام‌لومړی گنې‌په کتلوبی دلومړی‌مدیر په‌باب‌دسوال‌ځای‌نه‌پاتې کیږي .

حضور- د ر هر هفته یکبار نشر و طبع میشو د — صورت اشترا کک — بعد ا ز و صول ر سید خزانه قبول کرده — میشود — همه امور تحریر به بنا م مدیر و سر محرر— فر ستا ده میشود . »

عبارات لو ستل کېږ ي او کینې خواته دا عبارات لیکل شوی :

« شمارهٔ اول — صورت اشترا ک — در (مرکز ولایت) :سالانه ٥روپیهٔ کابلی — شش ماهه ۳ رو پیهٔ کابلی — ولایات داخله : سا لانه ۶ ر و پیهٔ کا بلی — شش ماهه ۳ ونیم رو پیهٔ کابلی — ممالک خا رجه : سالانه ۶ ر و پیهٔ ا نگلیسی— شش ماهه ۳ رو پیه ۸ آنه انگلیسی — بخارا ، فر غانه، تاشکند :سالانه . ۳ تنگه بخارا — شش ماهه . ۲ تنگهٔ بخارا » .

خوپه نور و گڼو کې يې شکل تغییر شوی او خصو صاً نوم او مشخصا ت يې په فو لا د ي ډوله رنگ خپاره شو ی چې دوخت په تیر یدو سره يې ر نگ خپل اصلی شکل له لاسه ور کړ ی ، جذب شوی ا و ځنی لو ستلو و تلی د ی .

داتحاد اسلام دلو مړ ی گڼې ددوهم مخ په پا ی کې د « بقلم عبدالصمد خادم حضرت شاه اولیاء» او« استادفضل احمد » نو مو نه لو ستل کېږ ي او ښکاری چې جناب عبدالصمد خان ددې اخبار خطاط او استاد فضل ا حمد يې چا پگر ؤ .

په دوهم کال کې يې کچه و ړ ه شو ې او په څلورو دوه ستو نه مخونو کې په فو لا ی ډوله ر نگ خپور شو ی د ی او هم يې په تند ی کې د مزار شریف د رسم په ځای محراب ا و منبر ر سم شو ی د ي .

داتحاد اسلام نوم د هغه د دریم کال په شروکې د «بیدار» په نامه بدل شو چې بیا په سقوی دوره کې د بېدار نوم په «رهبر اسلام» واوښت، د حبیب الاسلام په قول چلوونکی یې عبدالصمد خان (۴) او دچاپېدو وخت یې په هفته کې یو ځل ؤ (۵) چې دسقوی دزورګیر حکومت په کته یې نشرات کول، تر سقوی دورې وروسته یې نوم بېرته بېدار شو او اوس هم دیوې ورځپاڼې په شکل د «بیدار» په نامه خپرېږي.

بیدار:

اتحاد اسلام ددریم کال له شرونه دری هفتې وروسته په بېدار واوښت، دبېدار د دریم کال ۹ ۲ ګڼه (چهار شنبه، د ۳ . ۱۳ کال د تلې ۹/د ۱۹۲۴ کال د اکتوبر لومړی) دحقیقت د ورځپاڼې د کلکسیون (د کابل د عامې کتابخانې ملکیت) په سر تر لاسه شوه او دهغې په لید لوسره د ځینې مطالبو پته ولګېده چې په دې برخه کې وړاندې کېږي.

په دې ګڼه کې دګوډ ملا دبغاوت او سرغړونې په باب د محمد سرور یو شعر د حقیقت له ورځپاڼې څخه اخیستل شوی چې دبېدار څه کم دوه مخه یې نیولی دی. ددې ګڼې دمتن نور مطالب هم تړول د ګوډ ملا دبغاوت په باب خبرونه

---

(۴) ښاغلی دا به هم هغه عبدالصمد خان وی چې داتحاد اسلام په لومړنۍ ګڼه کې یې ددوهم مخ په وروستیو کرښو کی نوم راغلی او غالباً چې هغه وخت به داتحاد اسلام مهتمم ؤ، دا لیکوال تر ۱۳۱۲ ش پورې هم ژوندی ؤ.

(۵) حبیب الاسلام، لومړی کال، ۲۲ ګڼه.

Property of ACKU

د ی . په دې خبرو نو کې هغه خبرونې راغلې چې دهیواد له بیلو — بیلو بر خو څخه د گوډ سلا دبغاوت د ختمولو په غرض د عسکرو سوقت را ټولول د ي .

د دریم کال د ۳۷ گڼې دمطا لبو سر لیکونه یې طلوع افغان داسې راخیستي د ی : « حوادث هفته ، تنویر افکار عامه ، تنقید ، تردید و تحسین بر خد مات خدمتگاران و نفرین بر خیانت خاینان دولت » (۶) .

دنو سو لیکنو او دیو ې گڼې له متن نه یې معلو مو لا ی شو چې په هغه وخت کې ددې جریدې مطالب : خبرونه ، مقالې ، شعرونه او نورو و چې په عمومی ډول یې پښتو ملي پا ریدنې، یووالی او اتفاق و و او بې له شکه یې په مضا مینو کې یوه پارونکي او له ملي احساسه ډکه روحیه موجوده وه .

دبیدار کچه ( ۸×۱۳ ) انچه وه او په څلو رو مخو نو کې په ډ بر ین چاپ خپر یده او هر مخ یې دوه ستونه درلو دل .

دد ې جر یدې دنامه لو حې دلوسرې مخ څلورمه برخه نیولې او په منځ کې یې دجریدې نوم په لو ی خط لیکل شو ی ، دجریدې دنامه لا ندې ۱۳۰۰ ش کال ( د تأسیس کال یې ) او دا عبارت چې : « برا ی پذیرفتن هر گونه مقالات وار ده حاضر و باصلاح و نشرآن مختار است » اوستل کیږي او ددې عبارت نه لاندې « در هر هفته یک بار انتشار می یابد » جمله خپره شو ې ده .

دنامه دلوحې ښی خواته د جر یدې پته ( مزارشر یف ) د لیکو نکي نوم (محمدجعفرمد یر معارف )او دداخلې مدیر نوم ( میر زا ثا قب ثاقب ) او دا عبارت چې :

---

(۶) طلوع افغان ، دریم کال ، ۳۵ گڼه .

Property of ACKU

«همه امورات تحریریه بنام اداره فرستاده میشود » خپاره شوی دی .

د نامه دلوحې کیڼې خواته دګډون بیه په دې ډول راغلې ده :

| | « سالانه | شش ماهه |
|---|---|---|
| مزار شریف | ۵ روپیهٔ کابلی | ۳ روپیه کابلی |
| داخله | ۶ روپیه کابلی | ۳ نیم روپیه کابلی |
| خارجیه | ۶ روپیه انګریزي. | ۳ ونیم روپیهٔ انګریزی . » |

ددې اخبار چلونه له لوسړنی مدیرنه راوروسته حافظ عبدالقیوم ، مرحوم میرزا ثاقب، نورمحمد ، محمد حنیفه ، غلام حسن غزنوی ، میرحیدر ، عبدالصمد او عبدالرحیم ته یو په بل پسې وسپارله شوه .

Property of ACKU

لوړنی

# اصلاح

اصلاح یوه ورځپاڼه وه چې په لویه کچه او دنړۍ دورځپاڼو د رواجي سطا لپاره درلود لوسره په کابل کې خپرېدله. خوداورځپاڼه په همدې شکل منځ ته نه ده راغلې او پیل یې په پیلهپیله او پیل کیفیت شوی دی، اصلاح دلومړي ځل له پاره د خان آباد په ښار کې خپره شوه بیا را وروسته د پکتیا او کابل اصلاح ګانې خپرې شوې دي.

(*) دلومړنی اصلاح دلومړني ګڼې په لاس ته راتللو سره د دې جریدې په باب زیات معلومات ترلاسه کېږي.

---

(*) له دې نه وروسته مطالب «د اصلاح ۸ م ګڼه» تر کوچنی عنوان پورې دژ باړونکی له خوا ایکل شوی او په اصل متن ورزیات شوی. همدارا ز ددې متن ځینې هغه مطالب چې یاداسنادونه درلود او په اثر غلط اوپا نیمګړي وو حذف شوي دي.

Property of ACKU

ددې جریدې لومړنۍ گڼه د ۱۳۰۰ هـ ش کال د دلوپه ۲ ( جمادی الاول ۱۳۴۰ ق/ د ۱۹۲۱ ع د فروری ۱۸ )نیټه خپره شوې (۱) چې دلو مړنۍ سرمحرراو مدیرنوم یې «شیراحمد» دی (۲) .

د اصلاح نشراتی مرام اولومړنۍ خبرې :

داصلاح دلومړی گڼې پهافتتاحیه مقاله کې چې د«بسم الله الرحمن الرحیم» ترعنوان لاندې شروع شوې ، داصلاح اوورورولی پهباب خبرې شوې او پهدې برخه کې لیکي :

«خداوندتبارک وتعالی برای درست کردن معاملات دینی ودنیوی ملت اسلام در کلام پاک احکام مکمل عطافرموده ، ازان احکام الهی یک امرمقدس اصلاح نیزظاهرمیگردد.»

پهدې پسې لیکل شوي دي :

«پابندی همین احکام الهی برای رفع مرض مهلک بغض، عناد، کینه وفساد یک دوای شافیست، اگرنسخهٔ مجرب اصلاح درمیان نمی بود و تدارک مرض بهمین طور نمیشد از اختلافات جزوی ، عنادبدرجهٔ ترقی میکرد که تاصدهاسال تخم نزاع باقی وازین تخم منحوس فلاکت درقوم جاری وطاری میگشت وخرابی های بی نهایت پیدامیشد...»

لهدې وروسته یې دعربو دپخوانی اوداسلامی تاریخ نمونې ورکړې دي او بیایې دمسلمانانو پهاوسنی حال چې اصلاح کمه پکې پاتې ده ، افسوس ښکاره کړی دی او علت یې دابودلی دی چې مسلمانانو ددې مبارک آیت چې: «انما المؤمنون اخوة فاصلحوا بین اخویکم» دعملی کولونه غاړه غړولې ده اولیکی :

---

(۱) ښاغلی آهنگ یې پهدری متن کې دخپریدواومړی نیټه د ۱۳۰۱ کال جدی ښودلې خو مرحوم جویا همداپورتنۍ تاریخ ثبت کړی دی .

(۲) لومړنی مدیریې ښاغلی آهنگ او مرحوم جویا د « محمد بشیر » او ښو اوی محمد بشیر » په نامه یاد کړی دی.

«رفته – رفته نوبت باینجا رسید که طره امتیاز او همیشه این بود هرفردیکه درحلقهٔ اسلامی داخل میشود تفاوت و امتیاز بریکدیگر نداشتند، همه افراد شکل مساوات راگرفته ، درحلقه اتحاد دست بدست میبو دند ودرهرحا لت شریک همدیگر میشدند ، امروز به تفرقه های گوناگون ، اقوام، نسل، بلاد منقسم شده شیرازهٔ اتفاق خودرا بورقهای نفاق، تنبلی ، عیاشی ، پراگنده کرده خود رانزداعدا خوار وبی اعتبار نمودند؛

اندرطبیعت است که باید شود ذلیل

هرملتی که راحتی وعیش خو کنند »

اصلاح دافتتاحیې په راوروسته برخه کې دحالت بدلون په عمل پورې تړلی بولي او بیا وروسته پسې لیکي :

«اگر مشیت ایزدی به بهتری یک قوم میرود بسرای او یک سری عنایت میکند که صاحب عزم ، دیندار ، جفا کیش ، ملت پرور باشد و بذریعه همان سر شیرازهٔ ازهم پراگندهٔ قوم را متحد و جهالت آنرا به نور عرفان مجلی ساخته صاحب علم وفن و اخلاق حمیده نموده اورا پس به جمله اقوام معزز دنیا میرساند :

سرد بزرگ باید و عزم بزرگتر

تا حل مشکلات به نیروی او کنند»

دا افتتاحیه مقاله چې دلوسری سخ دري واره ستنيې اوددرهم سخ لوسری ستنيې بې نیولې ، له دې وروسته دوخت دپاچاپه وجود ویاړ او افتخار کوي او د دې نعمت په مقابل کې دخدای په شکر سره ختمیږي .

ددې کمې په بله مقاله کې دملت پرور بهای اعلیحضرت غازی تر عنوان لاندې ولایاتو ته ددغه ... دواو ... تحفه او ... کاره شوې او همای

ضمناً په راپوري توګه ولایاتوته دلېږ لونه سخکې هیأت ته د اعلیحضرت توصیې یادې کړې او هیله یې کړې چې دا هیأتونه داعلیحضرت له لارښوونو سره سم دولایاتو تنظیمه کارونه په سم بوزي ، دامقاله هم داعلیحضرت دعمرداوږ دوالی اودتنظیمه هیأتونود کامیابۍ په دعا سرته رسېږي .

داصلاح دلومړنی ګڼې دوروستنی ستون په وروستی برخه کې په یوه خط خطي چوکاټ کې د ننه داصلاح تر عنوان لاندې داصلاح لنډ نشراتی مرام په لاندې ډول تشریح شوی دی :

«هزاران شکر بحضرت بیاز بدرگاه مسبب کارساز ادا کرده دعامیکنم که این اخبار را که مرتبهٔ اولین است که در ولایت قطغن (۳) نشر وتوزیع میشود توفیق بدهد تا وظیفه مقدسهٔ خود را بدرستی ایفانموده همه وقت دربهبود ملت و به اظهار صداقت ثابت قدم باشد .

مقصد اخبار :

(۱) اظهار حوادث داخلیه .

(۲) اظهار حوادث خارجیه .

(۳) حسن خدمت وقبح مامورین واهالی اینولایت را ظاهر نمودن تا در کارنیک دوام و از کار بد اجتناب ورزند .

(۴) نشر معرفت .

(۵) در تجارت ، زراعت ، صنعت وحرفت راه نمائی کردن .

(۶) ذرایع مفیده واسباب علت ولایت مذکور را ظاهر داشتن » .

---

(۳) اوس د بغلان ، کندوز او تخار د ولایاتو په نامه یاد یږي .

Property of ACKU

داصلاح له دې لنډې کې څېړې زړه پورې مرام نه په واضح توګه څرګندېږي چې ناشرېې لکه ننني ژورنالیزم چې غواړي، تر هر څه نه خبرونو ته اهمیت ورکوی او په خبرونو کې هم لوسړی داخلي پېښې مهمې ګڼي او په دوهمه مرحله کې خارجي خبرونه مهم بولي، همدارنګه داخبار د نشراتي مرام له دریمې مادې څخه د ناشر له نظره د انتقاد اهمیت هم څرګندېږي او د سامورینو او خلکو د اصلاح پواز یني لاره انتقاد ګڼي او په دې برخه کې وعده کوي چې په ازاده توګه او جرأت سره به انتقاد کوي، همدار نګه له نورو مادو څخه یې هم بریښي چې داصلاح ناشر دیوې جریدې او اخبار اهمیت پوره درک کړی ؤ او غوښتل یې چې اخبار دخلکو د خدمت له پاره وقف کړي خو د لوسړی کال په شپاړسمه ګڼه کې د لوسړني سر یر په ځای د «حافظ فیض محمد» نوم ښکاروي چې «شیر احمد خان» د یر ژر له خپلې وظیفې څخه ګوښه شوی او هم معلومه نه ده چې دده نشراتي مرام به د اصلاح د نورو چلوونکو له خوا تعقیب شوی وي که نه؟ خو داصلاح د لوسړی کال په شپاړسمه ګڼه کې د «حوادث داخلیه» او «حوادث خارجیه» تر سر لیکونو لاندې د خبرونو راوړل ښیي چې دا مرام څه نه څه تعقیب شوی دی.

داصلاح خبرونه:

داصلاح په شپاړسمه ګڼه کې د «حوادث داخلیه» تر عنوان لاندې د قطغن او بدخشان د مستوفي په نامه د وزارت حربیه د یو مکتوب نقل درج شوی دی، په مکتوب کې څرګنده شوی: د هغو منصبدارانو او عسکرو په باب چې د کمزورۍ او ضعیفۍ په سبب له عسکري خدمت څخه ګوښه کېږي او د خدمت موده یې له شلو کلو څخه زیاته وي تجویز شوی چې ټولي مشر (۳) ته ۱۲ جریبه، بلوک مشر (۵) ته اته جریبه، سر پر لک مشر او

(۳) ننني اصطلاح یې تورن ده.

(۵) او س په برید من او بنتي د ی.

Property of ACKU

پرېکړه شو (٦) ته شپږ – شپږ جریبه او ډلګی مشر او سپاهی ته څلور – څلور جریبه سرکاری محکمه د بخشش په توګه ورکړه شي ... په دې فرمان کې چې شاهي ټولو ولایاتو ته په متحدالمال ډول استول شوی وی زیاته شوې ده که د قطغن او بدخشان کوم منصبدار او یا سپاهی د ضعیفی په اثر د خپلې موقوفۍ سند درووړ نو باید چې د تجویز سره سم ، محکمه ورکړی ؟ !

په همدې ګڼه کې د « حوادث خارجیه » تر عنوان لاندې د « احتمال ناکامی مجلس جینوا » ، « مشکلات مجلس جینوا از باعث سطا لبات بولشویکها » « معاهدهٔ ایطالیا و ترکیه » او د « لندن » په باب خبرونه درج شوی دي . د خارجي خبرونو داخیستلو ځایونه « پاونیر » ، « لیډر » او « زمیندار » اخبارونه ښودل شوي دي ، د اصلاح د خبرو نمونې په حیث د خارجي خبرونو له جملې څخه دا لاندې خبرونه راندې کوو :

« لندن – مورخه ۳ مي ، فیلډ مارشال سر هنري ولس به نمایندهٔ اخبار دیلی میل بیان نمود که مستر لائد جارج در فلسطین و نیز در ترکی مدد مردم نااهل یعنی یونانیها و یهودیها را نموده است. تا وقتیکه ما همراه ترکی دوباره صحبت پیدا نکنیم گاهی در عراق عرب و فلسطین و مصر و هند آرام نخواهیم شد و نیز گفت در فلسطین و عراق عرب قریب است که به مصائب گرفتار شویم و برای تخلیهٔ فلسطین و عراق عرب اصرار نمود . »

د اصلاح خپره او مشخصات :

اصلاح په ژېړ شکری ډوله کاغذ باندې په دوو مخونو کې خپرېدله، کچه یې ۳۳ × ۲۷ سانتی متره وه، په هر مخ کې یې دوې ستنې او هره ستنې یې ۱۷+۷ نیم سانتی متره وه.

(٦) څولا پرېږده کې بال کېږي .

Property of ACKU

داصلاح د لومړۍ گڼې د لومړی مخ په تند ي کې :

« بسم‌الله الرحمن الرحیم »

تر ي لاند ې په ثلاث ډوله خط:

« اصلاح »

بیا « انما المومنون اخوة فاصلحوا بین اخو یکم » آیت او تر ې لاندې دوه لاسو نه د روغبړ په حال کې رسم شوي دي .

دنامه دلوحې ښی خواته داخبار مشخصات په بېله — بېله کر ښه کې داسې لیکل شوی :

« شمارهٔ اول ـ مدیر و سر محرر ـ شیر احمد — محل اداره خان آبا د قطغن — هفتهٔ یك بار بروز شنبه نشر و شایع — میشود — اشتراك بعد از وصول رسید خزانه ـ قبول میشود ـ همه امور تحریریه بنام مدیر و سر محرر ـ فرستا ده میشود. »

او کیڼې خواته یې بیا د گڼون ییه په لاندې ډول درج کړې ده :

« سال اول ـ شرح اشتراک ـ قطغن و بد خشان: سالانه پنج روپیهٔ کابلی ـ شش ماهه سه روپیهٔ کابلی — ولایات داخله : سالانه شش روپیهٔ کابلی — شش ماهه سه و نیم روپیهٔ کابلی — ممالك خارجه: سالانه هشت روپیهٔ کابلی ـ شش ماهه چهار و نیم روپیه کابلی — قیمت یک نسخه در خان آباد ـ هفت پیسه »

دسرصفحې له لیکنو نه را لاندې ددوه خطه جدول کرښه ایستل شوې او د جریدې تاریخ پکې لیکل شوی دی .

« شنبه ۲۹ د لو ۱۳۰۰ — ۲۰ جمادی الاخر ۱۳۴۰ — ۱۸ فروری ۱۹۲۱ عیسوی » .

خو د همدې کال په شپاړسمه گڼه کې داصلاح دسر بسم‌الله ... ته‌لیدله

کېږي ، همدا راز د اصلاح نه را لاندې د آیت په ځای دا بیت لیکل شوی.

« وقت آنست که خود را همه ایثار کنیم

پی اصلاح وطن کوشش بسیار کنیم »

همدا راز د مدیر او سرمحرر په ځای یوازې « سرمحرر » لیکل شوی او د « شیر احمد » په ځای « حافظ فیض محمد » لیدل کېږي او هم په لاندې کوښه کې میاشتنی تاریخ تر لمریز تاریخ نه مخکې نیول شوی دی .

ښکاري چې د اصلاح سرلوحې وخت په وخت تغییر موندلی او هم بې د مدیرانو له ذوق سره سم بدلونونه پکې را غلي دي .

د اصلاح د لومړی کال ۳۸ گڼه :

په دې گڼه کې (۷) د « مکتب قضات » تر عنوان لاندې یو مطلب خپور شوی ، د سرلیک نه پاس د « اشتهار » کلمه ولیکله شوه چې معنی یې اعلان ده . تر دې عنوان لاندې لومړی د علماو پوهنځی په باب خبري شوې او وروسته د دې په باب چې د قاضیانو ښوونځی پرانستل شوی او که څوك په هغه کې د شمول شرایط ولري شاملیدای شي او هم پکې ویل شوي چې : وروسته له دې د قضاتو د ښوونځی له بری لیك نه پرته څوك قاضي یا مفتي نشي کېدلای . او خبر ورکړل شوی چې که څوك د شمول ارزو لري په داروالامان کې دی نوموړی ښوونځی ته ورشي او له ازمویني نه وروسته به پکې شامل

(۷) د دې اخبار یوه گڼه د ښاغلي محمد صالح پروټا په کتابخانه کې خوندي ده او له دې کبله چې ساته یې اجازه را کړه هغه ولولم او خپله د ا یکنه بشپړه کړم ، کورودانی ورته وایم .

Property of ACKU

شي او هم وعده ورکړه شوې وه چې که څوك بیوزلی وی هغوی ته د میاشتې پنځلس روپۍ مدد معاش هم ورکول کیږي .

په پای کې د قضاتو دښوونځی دزده کړې دپروګرام او د شمول دشرطونو په باب په دې ډول مطالب څپاره شوی ، لوسړی د شمول شرط : « در صرف و نحو، مراح الارواح ، هدایت النحو او کنز اول یا قدوری یا مختصر را امتحان بدهند.» او د دې ښوونځی درسی کتابونه داو و : « فصول اکبری، کافیه، شرح ملا، وروستی کنز، لومړی شرح وقایه وروستی هدایه ، دقرآن مجید ترجمه ، له جلالین نه دبقرد سورې تفسیر، اصول شاشی ، نورالانوار ، سراجی ، شرح عقاید ، تاریخ الخلفاء ، شرح تهذیب عمومی جغرافیه ، د افغانستان جغرافیه ، د افغانستان تاریخ ، شپږ ګونی او کسری حساب ، حفظ الصحه ، علم الاشیاء ، اخلاق محسنی ، مکتوبات او فتاوی له املاء او انشاء سره ، تمسك القضات الاماینه ، دجزاء قانون ، اساسی نظامنامه . » په دې مضامینو سربېره یو شمیر نور اختیاری مضمونونه هم موجود وو چې هرڅوك غوښتی وای لوستلای یې شوای .

ددې اعلان په پای کې دوخت د پوهنې دوزیر سردار حیات الله خان (۸) لاسلیك لیدل کیږي.

(*) د اصلاح وروستی عمر :

(۸) دامیر حبیب خان له زامنو څخه دی چې لقب یې لاعضدالدوله و .

(*) له دې نه وروسته داصلاح دبحث تر پایه پوری مطالب دژباړونکی له خوا لیکل شوی دی .

Property of ACKU

که څه هم د اصلاح ډیری کښې په (۹) په لاس کې نشته خو معلومېږي چې د اماني دورې په ټوله موده کې یې په همدې نامه نشرات کړي دي، په سقوي دوره کې د « اصلاح » اصلاح په ځای د « نهضت الحبیب » په نامه یوه جریده خپره شوه، د نهضت الحبیب کښې تر اوسه نه ده تر لاسه شوې خو د حبیب الاسلام چلوونکي مرحوم برهان الدین کشکي یې اووه کښې لیدلې او لوستې وې او په حبیب الاسلام کې یې دیوه تقریظ په ترڅ کې پرې لیکلي :

«نهضت الحبیب اولین اخباریست که درمرکز ولایت قطغن و بدخشان بمقام خان آباد بقلم عالیجاه فضائل آگاه مولوی محمد بشیرخان بیگ قطع مناسب واصول درست درچهار صحیفه ۱۲ پوند درهفته یکبار طبع و انتشار می یابد»

د مضامینو او مطالبو په باب یې لیکي:

«تا هفتم شمارهٔ آنرا خوانده ایم دراسباب وعلل این انقلاب (سقوی اغتشاش بیی –ر) خوب پیچیده وبا حکومت اسلامیه مرکزی خود اظهار عقیدت واخلاص را ابراز داده ضمنا ازبعضی تنقیدات لازمه نیزجلو نگرفته.»

د اشتراک بیه یې داسې ښودلې ده:

---

(۹) تر اوسه د اصلاح یوازې دری کښې تر لاسه شوې چې له ما سره یې دلومړی کال لومړی او شپاړسمه کښې شته او د باختر آهنگ دد و هم کال ۳۸ په لاس کې دی.

Property of ACKU

«بدل اشتراک آن از وزراء سالیانه ۱۵ روپیه کابلی،شش ماهه ۱۰ روپیه کابلی، از رؤساء واعیان وحکام الی درجه ۳ سالانه ده روپیه و ۶ ماهه پنج روپیه،درحوزهٔ خان آباد ۶ روپیه سالانه ۴ روپیه شش ماهه،درممالک خارجه سالانه نیم پوند،۵ کلدار ۶ ماهه» (۱۰)

همدارنګه دحبیب الاسلام په یوه بله ګڼه کی هم دنهضت الحبیب د ذوالحجی د ۲ نیټی د ګڼی په باب (چی غالباً لومړی ګڼه به یی وي) یادونه شوی اودهغی د ا ټکی یی داسی رانقل کړی :

«الحمدلله الذی جعل نهضت الحبیب مفرحاً للقلوب بل وذریعت لاحیاء شریعت المحبوب

خدا کشتی آنجا که خواهد برد

اگر ناخدا جامه بر تن درد

کلید قدرتیست در دست کس

توانا ی مطلق خدا هست وبس

(انا نزلنا الذکر وانا له لحافظون) (۱۱)

---

(۱۰) حبیب الاسلام لومړی کال ۲۲ ګڼه ۳-۳ مخ .

(۱۱) حبیب الاسلام، لومړی کال ۳۰ ګڼه .

Property of ACKU

دنهضت الحبیب په باب نورمعلومات په لاس کې نشته ، تر سقوط دوری وروسته داجریده د«اتحاد» په نامه خپره شوه چې تراوسه په همدې نامه خپرونې کوی او معرفي یې د ژورنالیزم په دوهم ټوک پورې مربوط ده.

Property of ACKU


ابلاغ

Property of ACKU

دابلاغ دلومړی کال د۸ گڼې عکس

# ابلاغ

ښکاري چې دوخت حکومت دخپلو انکشافي اوسلیت غوښتنې دهدفونواو هیلود ښکارولو اوتنه ییم په غرض هڅه کواه چې دخپرونو داسکان ورووسایل په کارواچوی اودورځپانو ،جریدو اومجلو خپریدل تهول ددی خبری شاهد ان ددی خبرښنا یې د اقتصادی ناتوانی له کبله به هرچا نشوای کولای چې داسان افغا ن له جریدی، دافغان له ورځپانې اونورو څخه استفاده وکړی نوځکه تا کل شوی وه چې یوه ورځ ترسنځ (۱) ابلاغ دیوی ورځپانې په توګه خپور شی.

---

۱)سایل دمعرفی روزنامه هاوجراید...رسالې په .۴ مخ کی لیکلی چې ابلاغ یوازی په هغو ورځو کی خپریده چې د جنګګ خبرونه به په زړه پوری شول (؟)

Property of ACKU

دطلوع افغان له اطلاع سره سم دابلاغ ورځپاڼه کندهار ته هم استوله شوې او په همدې ډول دخلکو دلوستلو په غرض دښار په ګڼو برخو کې په دیوالونو ځړول کېدله او دا موضوع سوړته دیوه بل حقیقت لارښودنه هم کوي چې ښايي دهېوادنورو ولایاتو ته به هم استوله کېدله او دپورتني هدف د پرمخ بېولوله پاره به یې کارکاوه.

دابلاغ دتېر لاندېني مطالب درلودل :

۱ـ دنويو ملي او دولتي تجویزونو خپرول او تنفیذول .

۲ـ دسیاسي او اقتصادي مسایلو له پاره دهېواد دزامنو بېدارول .

۳ـ دملیه او دولتیه افکارو سره توحیدول (۲) .

ښاغلی مایل یې له مشن سره داوتباط په برخه کې لیکلي چې ابلاغ دمرکز دخلکو له پاره داستقلال دترلاسه کولو او دجګړې دحالاتو او دمجاهدینو دپرمختګ په باب خبرونه او مطالب خپرول. پدې سربېره نوموړی لیکلي چې ابلاغ دجګړو په وخت کې خپرېده (۳) خو معلومه نه ده چې د نوموړي مطلب کوم سند او مدرک شته؟ که د خپلواکۍ جګړه مطلب وي پښوا سرته رسیدلې او خپلواکي ترلاسه شوې وه او که داخلي اړدوړ مطلب وي هغه هم تقریباً دری کاله وروسته پیښ ته راغلي او په بین المللي ساحه کې هم داوخت کومه داسې جګړه نه وه چې افغانستان په هغې کې ښکېل وي.

(*) په هرحال ابلاغ دافغانستان دوهمه ورځپاڼه ده چې د ۱۳۰۰ هش کال دتلې

(۲) طلوع افغان، لومړی کال ۱۲۰ ګڼه ۲ مخ .

(۳) معرفی روزنامه ها... ۶۰۰ . ۳ مخ (نوموړی دد ې دعوې له پاره کوم سند نه دی وړاندې کړی .)

(*) له دې نه وروسته دابلاغ دبحث ترپایه پورې مطالب دژباړونکي له خوا زیات شوي او دا اصل متن څخه نیمګړي مطالب حذف شوي دي .

Property of ACKU

په لومړی ئیتهه یې په کابل کې په خپرونو پیل کړی دی(٤).

داورځپاڼه په اوله کې په عمومي ډول په دوو مخونو کې د نسبتاً پیر و کاغذ

د پاسه خپرېدله، خو کله کله یو مخیزه او دری مخیزه هم خپره شوې او دلومړی کال

له«۹۱» ګڼې نه راوروسته عموماً یو مخیزه ده، کاغذ یې هم کله کله معمولي او

کله د نورو جرایدو غوندې نری دی(٥).

دابلاغ لاس ته راغلې ګڼې (٦) ښیي چې دا ورځپاڼه په حقیقت کې ددولت

رسمي ژبه وه، یعني دعامو خلکو دخبرتیا له پاره به یې دولتي قوانین، لوایح،

---

(٣) ځرنګه چې دابلاغ دلومړی کال اتمه ګڼه د ۱۳۰۰ ع ش کال د تلې په ۱۷ نیټه خپره شوې او هم د دې ورځپاڼې خپرېدل په هفته کې دوه ورځې دشنبې او چهارشنبې په ورځو وو. نو دغې اتمې ګڼې نه مخکې یې لومړی ګڼه د ۱۳۰۰ کال د تلې له لومړی نیټې او دشنبې له ورځې سره سمون خوري. کله چې په دې باب د ۱۳۰۰ کال چاپي کلیزو کتل شو هلته هم دمیزان لومړی نیټه دشنبې ورځ ده چې په دې وسیله دا اټکل لا پسې قوي کېږي.

(٥) مرحوم جو یالیکي چې دا ورځپاڼه په یوه پاڼه کې په یومخیزه ډول خپریدله خو دابلاغ لاس ته راغلې زیاتې ګڼې په دوو مخونو کې خپرې شوې او هم یې یوه ګڼه چې دافغانستان او انګلستان معاهده یې دهپه دریو بیلوبیلو مخونو کې چاپ شوې ده.

(٦) دابلاغ دلومړی کال ۱۲ ګڼې «۸، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰» او ددوهم کال څلور ګڼې «٥٦، ٥٧، ٥٨، ٥٩» زما لاس ته راغلې چې زما د دې لیکنې ماخذ هم همدا ۱۶ ګڼې دي.

Property of ACKU

مقاصد ې ، فرامین او نورې داسې موضوع ګانې خپرولې (۷) داتحاد مشرقی په جریده کې د « نکاح ، واده او ختنه سوری » (۸) نظامنامه چې له همدې ورځپاڼې څخه اخیستله شوې ثابتوی چې دا ورځپاڼه د دولت له خوا په دې منظور منځ ته راغلې وه چې دولتي قوانین او نورې رسمي ابلاغیې او فرامین په ډېر کم وخت کې خلکو ته ورسوی او په دې ورځپاڼه کې له خپرېدو وروسته یې نورې جریدې او ورځپاڼې اقتباس کړې : په دې اساس دابلاغ ورځپاڼه نه یوازې د خارجي خبرونو په غرض خپرېده بلکه د نظامنامو او نورو رسمي لوایحو په برخه کې د هېواد دنورو جریدو منبع او مرجع هم وه .

دابلاغ ورځپاڼه دلومړی کال تر « ۱۰۳ » ګڼې پورې یوازې د ښار په منځ د حمو ځایونو کې په دېوالو خپرول کېده څو څرګنده چې هر څوک یې په لوستلو قادر نه وو نوځکه یې په خپله پورتنۍ ګڼه کې د یوې اطلاعیې په ترځ کې خلکو ته وعده ورکړه چې ابلاغ به سر بېره پر دې چې په دیوالو خپرول کیږي د ښار په ټاکلو ځایو کې د موظفو اشخاصو له خوا په ټاکلي وخت لوستل کېږي هم .

دابلاغ دخپرېدو ورځې: شنبې ، دوشنبې او چارشنبې ورځې او دلوستلو وختونه

(۷) دابلاغ دمحتویاتو په هکله ښاغلی آهنګ په دری متن ئې لیکلي چې «ورځني خبرونه او دعلاقې وړ مقالې به یې خپرولې» ښاغلی مایل ښیالیکې چې په دې ورځپاڼه کې د جنګ خبرونه او اعلانونه خپریدل (د رهنمای جراید ۰ ۰ ۰ ۰، ۲۰ مخ)، خو د ابلاغ دلاس ته راغلو ګڼو متن ښیي چې دابلاغ ورځپاڼه یوازې او یوازې د دولتي رسمي موضوعاتو له پاره وقف وه او د دولت قوانین او تصمیمونه به یې خلکو ته ابلاغول .

(۸) اتحاد مشرقی، ۲ کال، ۷۷ ګڼه .

يې د همد ې ور څو معين او تيا کلي ساعتو نه وو، په د ې ترتيب : د کابل ايالت په مرکز کې د سهار ۹ بجې ، په سرچوك کې د ما سپښين يو ه بجه ، په شور بازار کې د عليا جوسات سره متصل د غر مې يوو لس بجې او په حضوري چمن کې د مازيگر او و ه بجې .

ابلاغ په همدې کنه کې دابلاغ په تو څ کې د ابلاغ نشراتي مرام هم رو ښانه کړی او ليکي :

« اخوان ذ ی عرفان و هموطنان صفا اذعان را اعلان !

اينك اظهر من الشمس است که واجب والزم هرفردا کمل آنست که از کوائف موجوده وحالات متنوعه ملت ودولت خويش مستحضر وآگاه باشد، از ان است که جريدهٔ ابلاغ اين عهدهٔ جليله را متکفل شده بی ازانکه مبلغی گير د يا پولی خوا هد يك روز بعدچون خزائن واضحه متمکن ديوارها شاه مفت ورا يگان درهای خيلی قيمت دارخود را که عبارت از بيانات قوانين نامه و تنظامات مفيده که از طرف دولت وضع گرديده وحوادثات لازمهٔ اين خطه دلنشين هديه کيسه های قارئين ذی يقين ميدارد . »

اوبيا وروسته دابلاغ دلو ستلو په باب ليکي :

«چون مشاهده ميشود که اکثر شايقين محترم ا زاستحصال مجله جوا هر آبدار بنابرا مي بودن و کم خوانی استفاده نتوانسته مبتلای يأس وحرمان ميگردند ، بناء عليه برای رفع و دورساختن اين طورمشکلات جريدهٔ عاجزا نه صرف همت نموده برانتشار اين چنين اخبار مجبور گرديده اعلان مينمايد که هرکس ا زاميان وکم خوانان آرزو وتمنای باخبری ووقوف کوائف قوانين وطن مألوف خود را غير ازحس تکليفی داشته باشد ميبايد که بقرار پروگرام آتی بوقت قرائت ابلاغ در موضع معينه که داخل جدول مذکوراست حاضرشدن خودرا مضايقه نفرمايند تااز کوائف مندرجه ابلاغ مستحضرشده مستفيد گردند . »

Property of ACKU

دهمدې کښې په تنده کې دالاندې بیت هم خپور شوی :

«من آنچه شرط بلاغ است بتو میگویم
تو خواه از سخنم پند گیری خواه ملال»

دابلاغ متن :

لکه څرنګه چې مخکې هم وویل شول دابلاغ متن په عادی ورځو کې عموماً قوالونو ته وقف ؤ او په پرله پسې توګه پکې خپرېدل ، چې حتی کله به په که کومه نظامنامه ختمه شوه نود اخبار پاتې برخه به دبلې نظامنامې په شرو کولو سره ډکېدله خو په ځینې نورو ورځو کې یې بیا کله ـ کله مهمې معاهدې او تړونونه او هم مهم او ډېر ضروری داخلي خبرو ته خپاره کړې دي .

دابلاغ په لاس ته راغلو (۵۲) ګڼو کې : نظامنامه تشکیلات اساسیه افغانستان، نظامنامه جزای عمومی، نظامنامه مالیه،دستور العمل قواعدحاضری ، نظامنامه اخذ رسوم گمرك ، نظامنامه مراسم تعزیه داری ، نظامنامه تعمیرات دولت ، نظامنامه اساسی دولت علیه افغانستان اوضمیمه نظامنامه مستوفی ها : نظامنامې خپرې شوې دي . دخبرونو په برخه کې یې دلوړې کچې په لسمه ګڼه کې د«حیات علمی »ترعنوان لاندې خارج ته دلوړې زده کړې لپاره د افغانی محصلینو دتګ راپورچې دتګ په وخت کې داعلیحضرت امان‌الله خان له خوا ته هیلې او خدای پاماني ورسره شوې ده ، خپور شوی : په ۱۲ ګڼه کې له ډې کېڅخه دنومړو افغانی محصلینو دخیریت راپوردی چې د «عریضه طلبای‌افغانستان عازم اروپا از سرحد دکه » تر عنوان لاندې نشرشوی‌دی ، په پنځلسمه ګڼه

کې دبخارا دجمهوری حکومت دشوری دوکیلانو دتیا کلورا پور درج دی او په پا ی کې ابلاغ لکه دوخت نورو اخبارونو غوندې تبصره پرې لیکلې ده چې په ۱٦ گڼه کې یې خارج ته دتللیو افغانی محصلینو دری قطعې دسته جمعی عکسونه خپاره کړي چې دوه یې دخدا ی پامانۍ او دریم یې ددوی د سوتر و د حرکت و وخت ښیی (۹) ، دهمدې کال په ۲۸ گڼه کې یې دافغانستان او بریتانیا ترمنځ ددوستۍ دتړون متن په دریو جلا — جلا سخونو کې خپور کړی دی ،همدا راز ددې کال په ۳۷ گڼه کې یې دوخت دعدل وزارت دقوانینو دنه تطبیق کېدو په شکایتنامه خپره کړې او پکې ویل شوی چې که قوانین تطبیق نشي سو ږ به جدي اقدامات و کړو ، دقوانینو د تطبیق په باب یې د بېلو — بېلو قانونو مادې وړاندې کړې او زیاته کړې یې ده چې موږ مجبو ریو د هېواد په گوټ — گوټ کې داخبار و نوا و په نورو وسیلو سره قوانین خواره کړو او دخلکو غوږو ته یې ورسوو، همدا راز په دې شکایت نامه کې دځینې نظامنامو ځینې مادې تشریح شوې هم دی ، په ۴۲ گڼه کې د : «تقسیم اوقات کارهای حضور اعلیحضرت غازی» تر عنوان لاندې دوخت دپاچا دور ځنیو کارو نو تقسیم اوقات د گلونو د چوکاټ په منځ کې خپور شوی دی ، په ۳۰ گڼه کې د ابلاغ په خپرېدلو سر بېره دهغه دوخو په باب اعلان خپور شوی چې متن سو یې مخکې وړاندې کړ .

(۹) د ا عکسونه په بېلو بېلو گڼو کې خپاره شوی او بیا د ابلاغ په پا ته با ندې د سرېښ په وسیله نښلول شوی دی او له دې څخه ښکاري چې ابلاغ به ځینې مواقعو کې عکسونه هم خپاره کړی دی .

Property of ACKU

دابلاغ دمحتویاتونه په واضحه توګه څرګندیږي چې ابلاغ دوخت دحکومت قانوني او رسمي ژبه وه او په دې ورځپاڼه کې قوانین، په قوانینو پورې مربوط تشریحات او توضیحات، رسمي معاهدې او مهم رسمي ګزارشونه خپریدل.

که څه هم دابلاغ ځای تراوسه خالي دی (۱۰) خو د محتویاتو له پلوه اوسنۍ رسمي جریده (۱۱) څه نه څه ورته ده.

دابلاغ خپره:

دابلاغ خپره دوخت له یوه اخبار سره هم سر نه خوري او یوه ځانګړې بڼه لري: دابلاغ په هر مخ کې څلور او مسانتي متره سوروز ستونونه ځای شوي او یوازې دلومړي مخ دسرلوحې برخه یې عموماً په دریو ستنیو کې خپره شوې ده،

(۱۰) ځکه چې: ابلاغ په دې یوا لونو ځپرول کیده او ټولو په ورپاتوګه استفاده ترې کوله، دبیسواد وخلکو له پاره دموظفو رسمي کسانو له خوا لوستل کیده او تشریحات ورکول کیدل څو خلک له قوانینو او رسمي پیښو څخه خبر او قوانین تعمیم شي.

(۱۱) درسمي جریدې لومړۍ ګڼه د ۱۳۲۳ ش کال د ثور په ۱۶ دشنبې په ورځ خپره شوه، ددې جریدې هدف د هغو مطالبو خپرول دي چې د دولت له خوا د خلکو غوږونو ته رسول کیږي لکه: فرمانونه، قوانین، تعلیماتنامې، لایحې، اساسنامې، دوزیرانو دمجلس او اساسي جرګې او مشرانو جرګې پریکړې، بین المللي تړونونه د دولت رسمي اعلامیې او نور... جریده په هر وپنځلسو ورځو کې یو ځل خپریږي او اداره کولای شي چې د ضرورت په وخت کې یې له دې مودې نه په کمو ورځو کې هم خپره کړي (درسمي جریدې په باب معلومات درسمي جریدې پخواني مسئول چلوونکي ښاغلي محمد حسین روستایي راکړل چې په دې وسیله یې مننه کوم.)

Property of ACKU

په دې ترتیب چې دلومړنۍ یوې نیمې ستنې دپاسه داخبار نوم او مشخصات او ددوو نیمونورو ستنیو دپاسه په دوو ستنیو کې د ورځپا ڼې متن شروع شوی چې د سرصفحې ددوهمې ستنې له لو ستلو نه وروسته ، د مطالبو دوام د ابلاغ د نا مه نه رالاندې په لومړۍ ستنې کې تعقیبیږي .

په لومړي کال کې دابلاغ نوم عموما په مشقي نستعلیق خط لیکل شوی خو په دوهم کال کې بیا په جلي نسخي ډول لیکل او بنتی د ی : په ځینې ګڼو کې دابلاغ نوم په نسواري رنګ او متن یې په تور رنګ دی خوځینې نورې ګڼې بیا یاټولې په نسواري او ټولې تور رنګ خپرې شوې دي ، جالبه دا ده هغو ګڼو چې نوم یې په نسواري او متن یې په تور رنګ خپور شوی ، هم یوا زې یو « ډاپ » خوړلی او هغه داچې دچاپ په وخت کې یوازې دچاپ د ډبرې په هغه برخه چې نوم خپروی نسواري رنګ او په نوره ډبره تور رنګ موښل شوی دی چې د متن په ځینې کرښو کې دنسواري رنګ د جذب نه د ا حقیقت څرګند یږي.

ځینې ګڼې چې له قوانینو نه پرته نور فوق العاده مطالب لري پوره مخ یې په یوستونې ډول هم خپور شوی خو د اخبار کچه عموما ۵×۳۵ سانتي متره ده ، تاریخ او ګڼه یې عموما د اخبار د هر مخ د پاسه دیوه دوه خطه جدول نه پاس لیکل شوی : یې خواته « شماره ... » په منځ کې « کابل» او دمخ په وروستی برخه کې « کال ...» چاپ شوی ، دځینې ګڼو « نیټه » دابلاغ دنامه نه لاندې او دځینو بیاد لومړی مخ دجدول د پاسه د کال او ګڼې په څوا کې لیکله شوی ده .

دلومړي کال په ګڼو کې دابلاغ چلوونکی د:« سر کاتب اخبار محمد اکبر» تر عنوان لاندې

معرفي شوي خودد هم کال په ۹ ه ترلاسه شوي گڼه کې بیاد: «مدیرمحمدایوب» په نامه اوښتی دی. همدا راز په لومړی کال کې دابلاغ نه رالاندې د «اخبارمفت دیواری» عبارت په دوهم کال کې د: «اخبار رایگان» په عبارت اوښتی دی «دهمدې » جملو لیکلو مرحوم جویا په دې عقیده کړی چې ابلاغ داخبار مفت دیواری او اخبار رایگان په نوم هم یاد کړی (۱۲)

دابلاغ دمتن خط په ډیر ښکلی نستعلیق سره دوتلو خطاطانو په وسیله لیکل شوی او هم فکر کیږي چې داخبار چلوونکی به په عین حال کې خطاط هم ؤ لکه د لومړی کال اودوهم کال په گڼو کې چې د میرزا محمد اکبرخان او محمدایوب خان دمدیریتو په وخت کې خپري شوي . ــ د خطو ز یا ت تو پیر سره لید ل کیږی اوهم مرحوم جویا لیکلی :

«مؤظف به ترتیب وانتشار آن بدو آقای سید محمد اکبرخان سر کاتب دار التحریر شاهی وبسا لهای سوم آن اقای سید ایشان خطاط بوده...»(۱۳)

او هم څرنگه چې د کوم خطاط نوم نه یکې لیدل کیږي اوبل دا چې مد ېر د ېد مطالبو دتهیه کولو ضرورت نه درلود دا اتکل لا پسې قوي کوي. په هر حال خط یې ډیر ښکلی، واضح اولوی لیکی دی چې د کم سوادلرو نکي هم لوستلای شوای، دلو مړی کال خط یې ټول نستعلیق دی په دوهم کال کې یې نوم په نسخی او ثلثی خط هم لیدل کیږي .

که څه هم دابلاغ په کومه گڼه کې دمطبعې نوم نشته خود: «هدایت کشت گلها و

(۱۲) جویا، . . ، مطبوعات ونشریات ما ( کابل مجله، دوهم کال، څلو رمه گڼه.

(۱۳) همدا مخکینی مأخذ .

قلمه ها وحبوباب وغیره» نوسي رسالې (۱۴) دپښتې له دې جملې څخه: «د رسطبع ابلاغ

طبع شد» ښکاري چې دابلاغ و رځپانې ځانګړې مطبعه درلوده.

## دابلاغ وروستی عمر:

دابلاغ وروستی عمر معلوم نه دی خو ښاغلی آهنګ په دری متن کې یې له دې چې خپل سندونه یې لیکلي: چې تر ۱۳۰۵ ش (۱۹۲۵) کال پورې یې نشراتو دوام کړی دی (۱۵).

له دې څخه چې ابلاغ په عمومي توګه رسمي نظامنامې اوقوانین خپرول نو څرنګه چې د استقلال د ترلاسه کېدلو په لومړۍ مرحله کې د نظامنامو په جوړولو هم لاس پورې شو او تر ۱۳۰۳ کال را او روسته تقریباً ټولې نظامنامې بشپړې او خپرې شوې او په راوروسته کلونو کې ډېره کمه پېښېدله چې کومه نوې نظامنامه جوړه شي یوازې کله - کله نظامنامې یا په خپل پخوانی شکل او یا له لږ و تعدیلاتو سره دوهم ځل خپرې شوې نو فکر کېږي چې ابلاغ به د نظامنامو د جوړ بدو تر بشپړ بدو وروسته نشرات نه وي کړي.

همدا راز د ۱۳۰۶ هش کال د ثور په نهمه نیټه د مشورې د مجلس او دولت د شورې په باب پوشاهي فرمان د ماشین خانې په مطبعه کې په یوه لویه پاڼه کې

---


(۱۴) دا رساله چې ۱۶۴ مخونه او کوچنی کچه لري او په ۱۳۰۰ ش کال خپره شوې د ښاغلي محمد حسین «نایل» د کتابخانې د مچی ماته یې د استفادې په غرض را کړې وه او په دې وسیله[1] کوروډانې ورته وایم.

(۱۵) ښاغلی آهنګ د کتاب له خپرېدو وروسته په یوه سرکه کې وویل چې دا موضوع مې په شوروي اتحاد کې لیکل شوې دافغانستان تاریخ نومې کتاب په استناد لیکلې ده.

خپورشوی او په پیل کې یې د «ابلاغ» کلمه په لوی لیک خپره شوې خوځرنګه چې له یوې خوا کال اوګنه نه لری او له بلې خوا دیوه فرمان متن پکې خپورشوی نو فکر کېږي چې دلته «ابلاغ» کلمه به په عامه معنی وی نه د «ابلاغ» د اخبار په معنی (۱۶).

Property of ACKU

(۱۶) دا پاڼه د میهن کتاب پلورنځي مالك ښاغلي محمد احسان د استفادې له پاره راکړې چې په دې وسیله مننه ترې کوم .



شماره (۱۶) سال اول صفحه (۱)

ارشاد النسوان

قیمت سالیانه

محل اداره کوچه سرای کابلی

یوم پنجشنبه (۲۳) ماه سنبله سنه (۱۳۰۰)

فصل احکام شرعی و سیاستی و تجارتی اجرا گردد

(افغانستان)

ما بعد از شماره گذشته (۱۵)

Property of ACKU

دارشادالنسوان دیوی گڼی اومړی مخ

# ارشادالنسوان

## په افغانستان کې د ښځمنو لومړنی جریده

په افغانستان کې د ښځمنوله پاره د خپرونو او تبلیغ چارې او ددوی په ژوند پورې مربوط مطالب د سراج الاخبار د خپرېدو په وخت کې شروشول، په دې ډول چې په دې اخبار کې د «عالم نسوان» ترعنوان لاندې یو ستون پرانستل شو او لکه څرنګه چې د سراج الاخبار په برخه کې پرې وغږېدو په دې ستنې کې د ډیرو نوی ژونداود نامتو سړومنو په باب خبرې کېدلې، دې مفکورې په راوروسته کلونو کې پراختګ وکړاو حتی د دې ضرورت پیداشو چې د ښځمنوله پاره ځانګړې جریده خپره شي.

ارشادالنسوان(۱) یوه اوونیزه جریده وه چې د ۱۲۹۹ کال په کب کې

---

(۱) د دې جریدې دلومړي کال دریمه ګڼه (پنجشنبه د ۱۳۰۰ کال دوري ۱۱) د جناب محمدصالح پروننتا په کتابخانه کې موجوده او سا نه یې د مطالعې په غرض را کړه چې د دې سرستې یې زیاته مننه کوم؛ همدارا زد لومړي کال ۵، ۶، ۱۱، ۱۲، ۱۳ ګڼې یې د کابل پوهنتون په کتابخانه کې خوندي دي (او د همدې کال پنځلسمه او شپاړسمه ګڼه د ژباړونکي په کتابخانه کې شته چې د زیاتونو په برخه کې استفاده ترې شوې ده. (رفیع).

Property of ACKU

دافغانستان دمطبوعاتو په هسک وځلېده (۲)، څرګندهده چې داجریده دافغانی ښځمنود زده کړې اوتنویر په منظورتأسیس شوې وه ، دجریدې دمدیرې نوم په مخفف ډول (ا ـ ر) داخبار دنامه دلوحې لاندې راغلی دی. خپورشوی چې دمحمود طرزی بوه او پیاوړې مېرمن اسما رسمیه چې په «بي بي عربي» مشهو ره وه تر ې مطلب ده . دسر محرر نوم یې هم په مخفف ډول (ر ـ ا) لیکل شوی چې مطلب ترې مېرمن روح افزاد خازن الکتب جناب محمد زمان خان لور او دحبیب الله خان طرزی خور وه چې په «منشیه» معرو فه وه .

زما په لاس کې ګڼو په استناد د دې جریدې په متن کې په عمومی ډول لاندې مطالب لیدل کېږی : خبرونه ( کور نی او بهر ونی) مقالې او تبصرې اودښځو په باب خاصې خپرو نې. له دې مطالبو څخه څرګندېږي چې نومو ړې جر یده په خپل ډول کې دښځمنو دنړی یوه عمومی جریده وه ځکه مطالب یې په داسې ډول سره خپرول او و راندې کول چې بې له شکه دټولو ښځمنوله پاره په زړه پو رې وو ، خوداچې دنشر ساحه یې ترڅه حده پراخه وه ، ښایي اټکل و کړای شو چې څرګندچې دښځـو ز ده کړه اوتدر یس په هیواد کې نوی شر و شو ی وونوځکه به یې دنشرساحه دومره ویره نه وه . په هر حال هرڅه چې وو یوښه پیل ؤ .

(۲) ښاغلی آهنګ په دریمتن کې داوشادالنسوان د تاسیس نیټه د ۱۳۰۰ کال د و ری میاشت ښللې خو څرګنده چې له یو ی خو اده په لاس کې ګڼه د ... کال دریمه ګڼه ده اود ۱۳۰۰ کال دو ری په ۱۱ خپره شوې نوځکه یې دوی اومړی او دوهمې ګڼې دوا ړې دوري په میاشت کې نه دی خپری شوې اوهم اروا ښاد چو یالیکلی چې داجریده د ۱۲۹۹ کال د کب په ۲۷ نیټه خپره شوې چې په دې حساب یې بایددوهمه ګڼه د ۱۳۰۰ کال دحمل په ۳ خپره شوې وی، نو په دې اساس د د ری متن پو ر تنی تېر وتنه سمه او دارشاد النسوان دخپریده اصلی تار یخ ولیکل شو . ر فیع.

Property of ACKU

ددې جريدې دښې پېژندگلوی له پاره په هغو بېلو-بېلو برخه (کتنه گوريو) چې مخکې يادې شوې، خبرې کوو .

خبر ونه :

---

ارشادالنسوان په خلورم مخ کې د «خبر هاي داخلی» او «خبرهای خارجی» رو ښانه سرليکونه لوستل کېږي چې دهر يوه نه لاندې مربوط خبرونه را غلی دي .

داخلي خبرونه ټول د نوروز د مېلې (چې د بابرشاه په باغ کې به کېدله) د پېښو په باب دی، خو څېره په اړه پورې داده چې همداد نوروز په مېلې پورې مربوط خبر هم له پېښېدنو سره اړه لري، په دې ټول چې لومړی ددې ورځې دلمانځلو به باب خبرې شوې اوو روسته ليکي :

« بنابراعلانی که يک رو ز پيشتر شده بود ـ جمله طائفه نسوان شهر کابل جنت نشان ازوقت شش بجه صبح جوق ـ جوق و فوج ـ فوج بسوی باغ بابرشاه که ازباغهای تاريخی شهر عزيز ماست رهسپا رگرديده بودند و باغ را که مشاطه باد بهاری به گلهای شکوفه وسبزه های ترو تازه آراسته و پيراسته کرده بود ، پر نمودند ـ در احاطه چهارديوار باغ بسيار کلان دکانها و بازارهای زنانه از هرصنف وهرقسم ترتيب شده بود که فروشندگان همگی نسوان وخريداران نيزاز همان جنس لطيف النسوان بودند . »

په نوروخبرو کې په بشپړ ډول سره درسمی مقامانو او د مستورا تو د ښووڼې د زده کوونکو راتګ، دسات ټيری دوسايلو، دخوراک ښبا کث، دښځودسازاوسروداونورو په باب مطالب په ډېر ونښکلو عباراتو وړ اندی شوی او په پای کې ليکی :

«الحاصل تاچها ربجهٔ عصراين ميله سعادت اندوزدوام نموده ميله بانجام رسيد وزنان ملت نجيبهٔ افغانيه بجهان ـ جهان شادمانی و سرورودعا های عمر واقبال . . .

Property of ACKU

اعلیحضرت حامی اعظم مهربان خودشان . . . عودت نمودند .»

په همدې ډول خارجي خبر یې چې دقاهرې د«چهره‌نما» له جریدې څخه اخیستل شوی دعثماني دولت د پوهنې دوزیر په حیث دخالدې په نامه د یوې ښځې دټاکل کېدو خبر دی.

په دې ترتیب ولیدل شول چې حتی په خپلو خبرونو کې یې هم هڅه کړې چې د ښځو له نړۍ سره اړه ولري .

مقالې :

په دې برخه کې (په لاس کې ګڼه کې) یوه مقاله د «سلسله واقعات عصرانیه» ترعنوان لاندې لیدله کېږي چې ښکاري اوږده مقاله ده ځکه چې د تېرې ګڼې نه پاتې ده او په دې ګڼه کې هم نه ده تمامه شوې . په هرحال د دې مقالې متن د اسارت دلغو کېدلو په باب دی ، د مقالې په یوه برخه کې د اسلامي شریعت سره په ارتباط لیکل شوي :

«هرفرد انسان که کلمه طیبهٔ بگوید وبدل‌بران ایمان بیاورد آزادمیباشد. یعنی درقید بندگی هیچکس نمی‌درآید وخرید وفروش نمی‌شود .»

په دې مقاله کې په غرب کې د غلامانو خرڅولو په باب مفصلې خبرې شوې او پسې لیکي :

« . . . برده فروشی دراسلام خیلی ساده وخاص یک چیز بوده است که هیچگاه به برده فروشي فرنگیان . . . مشابهت بهم‌نمیرساند .»

(*) همدارازد : «یک تجویز وجیزدرخدمت قرآن حکیم عزیز » ترعنوان لاندې په

(*) د اسطالب «د ښځو د نړۍ خاص مطالب » ترعنوان پورې د ژ باړ ونکي له خوا لیکل شوي، که څه هم ښاغلی آهنګ د طلوع افغان په حواله په دې باب یوه لنډه یادونه کړې وه خو د جریدې په ترلاسه کېدلو سره زیات معلومات ترې را واخیستل شول او د ښاغلي آهنګ لنډه یادونه حذفه شوه .

هند کې دقرآن کریم دچاپ‌شو یو درسی سیپارو دچاپي غلطیو په باب معلومات و وړاندې کوي نوله یوه تمهیدنه وروسته موضوع په لاندې ډول دېځو له نړی سره مربوطوی :

یک معلم — بشاگرد میگوید : (وما بضارین ) بخوان .

معلم دیگر : میگوید ( و ماهم بضارین ) بخوان .

بر ین محاوره گفتگوی هر دو معلمه طول کشیده بایـن مدیـرهٔ عا جـزه مراجعت نمودند ، مقصود دعوای هر یک از ین دو معلمه ها پاره ها ی چاپی بود که بدست داشتند . پاره ها را گرفته ملاحظه کردم در پارهٔ که در مطبعه نو لکشور لاهور چاپ شده بود ( وماهم بضارین ) نوشته شده بود به مراق افتا ده دیگر پاره ها ی مطبوعه را که در دست طالبه‌ها بود جمع کرده بعدازملاحظه و تدقیق معلوم گردید که در پارهٔ مطبوعهٔ مفید پریس لاهور تنها ( ۱۸۰ ) غلطی و در پارهٔ مطبوعه فرما یش چهجو سنگهـ ( ۸۰ ) جا غلطی، در پارهٔ مطبوعهٔ مطبعهٔ راجپوت پر یتنگ لاهور ( ۳۸ ) جا غلطی بنظر م خورد ...

بیا وروسته لیکل شوی دي. نوله دې سببه تجویز نیول شوی چې درسي پارې په خپله مې چاپ کړو او سرله دې کښې خخه مو پر دهغه چاپ په ټولاره کې مرستې ته حاضرو ی. نوسونه او د مرستې اندازه خپروو. دد ې مضمون په وروستی برخه کې دهغه ې منظور له پاره د لو سړی مرستې و ر کوونکو دنوموړو لست هم خپور شوی چې په لوسړی قلم کې یې دوخت دپا چاپنځه زره افغانی ، د مستوراتو د زده کوونکو دری زره افغانی ،دخا رجه چارو دوزیر محمود طرزی یو زر افغانی، دارشادالنسوان دمدیرې دوه سوه افغا نی او

Property of ACKU

دیو شمېر نورو کسانو حتی تر یوې افغانۍ پورې اعانه هم درج شوې ده. (۳)

د ښځو دنړۍ خاص مطالب :

په دې برخه کې د : سرکو، اخلاقو، پخلی، گنډلو، ماشوم روزلو، کورنیو چارو، راشې درشې او نورو یا دو نه کو لا ی شو، کوم سرلیکونه چې په دې برخه کې د ارشاد النسوان په ۱۱ گڼه کې موږ، دا دی:
« خوی بها ی خوب زنان »، « حکایت دخترك قارك »، « حسن و جمال »،
« کار ها ی خانگی »، « نخها و سوزنها ».

د « خو ی ها ی خوب زنان » تر سر لیک لاندې مطالبو د خپرولو نه هدف لکه څرنگه چې په نورو پرې اخبار کې لیکل شوی هماغه د وړو تجو نو خصوصا د دستور اتودزده کونکو اخلاقي روزنه وه. د «حسن او جمال» ترعنوان لاندې د ظاهری او باطنی ښکلا په موضوع خبرې شوې. ظاهري ښکلا ستایله شوې خوبی له باطنی ښکلا ( ښې روحیې او ښو اخلاقو )څخه یې ارزښته یلله شوې او په همدې ډول خپلې خبرې پسې اوږدې کړې او لیکي :

« ای د ختران پاک وطن صفا ناک ! ما طایفه نسوان بیچاره همگی به مقبولی ساختگی یعنی استعمال رنگ و روغن مبتلا هستیم و تجربتا عرض میکنم که همین سرخیها و سفیده ها ... که از خارج بوطن عزیز ما میایند و به عوض آن زر و دینار ... ما را می برند بجز از ضرر و خسارات دیگر هیچ فایده ندارد .» او په پای کې لیکي :

« پوست خلقتی چهره ها و سیماها ی خدا داد ... را با چنین رنگهاوبوهای ضررناک مؤقتی خراب نسازند. »

(۳) ارشاد النسوان ، لومړی کال ۱۶ گڼه .

## اداره جریده ارشاد النسوان

۱

جریده ارشاد النسوان یک جریده عاجزانه ایست که در هفته یکبار
عرض انظار بحضور اولی الابصار نموده و از هر گونه احوالات داخلی
و خارجیه و مقالات فنی بحث میراند و علی العموم آن گونه مقالاتی را
که مفید برای [illegible] نسوان وطن عزیزش باشد جریده عاجزانه نذر حضور
آقایان قارئین محترم [illegible] اخوات قارئات عالیات مینماید

و این را نیز برای قارئین سعادت قرین و قارئات عفت آیات
وعده میدهد که جریده ارشاد النسوان بوقت [illegible] بحضور مشترکین خویش رسیده و
دست سعادت پیوست شان را میبوسد

قیمت این جریده در یکسال (۵) روپیه کابلی و در [illegible] (۳) روپیه کابلی است
اگر خیال اشتراک را ذوات محترم داشته باشند قیمت یکساله یا ششماهه [illegible] نقد باداره
ارشاد النسوان و یا دیگر وافسرای [illegible] ارسال داشته اسم شریف خود را در زمره مشترکین جریده
داخل نموده هفته وار اخبار بحضور شما میرسد و از مضامین شیرین آن مستفید خواهید شد

امضاء

دارشاد النسوان داداری یو اعلان

د « کارخانگی » ترسرلیك لاندی دخیاطۍ او د هغې د کټو په باب خبری شوې او زیاته شوې ده :

« برای مردمان قلم و شمشیر اسباب زینت و فضیلت شمرده میشود برای طایفه نسوان، تار و سوزن .»

او بیا د گنډلو د دولونو نومونه اخیستل شوی چې عبارت وو له : « کوک، آجیده، کورنجیه، طور نجیه، و لدوزی، شبکه، سرکځ »او نور. په همدې ډول د «نخها و سوزنها » ترعنوان لاندې دتار او ستنو د ډولو په باب معلومات وړاندی شوی او سربېره پر دی دتارونو او ستنو د استعمال په باب پوره تفصیلات ور کړل شوی دی.

څېړه او صفحه بستی :

---

دارشادالنسوان دجریدې دنامه په لوحه کې له بنی نه کیڼې خوا ته د ا مطالب لیدل کېږی : لومړی یو سمبول چې په منځ کې یې کتاب، توره او مشوانۍ دغنمو په دوو وږیو کې نیول شوی ، خپور شوی ، دد ې پیلو و نکې نښې نه لاندې دجریدې نوم په نسخې خط لیکل شوی دی ، او کیڼې نه را وروسته د نوموړې جریدې دنامه په لوحه کې سمبول نه لیدل کېږی او هم یې نوم په منځ کې خپور شوی .

دوهم : داخبار بیه لوستله کېږي ، په دی ډول :

« د ارالسلطنهٔ کابل و اطراف دا خلیه مملکت ۵ روپیهٔ کابلی درخارج مملکت ۷ روپیه کابلی .»

دېې نه را لاندې دا عبارت : « هفته یکبار نشر میشود » لیدل کېږي .

دریم : داداری ځای یې : « ده افغانان کابل » ښودل شوی او وروسته

یې د مدیر ې او سرمحرر ې نومونه په مخففو تورو لیکل شوي او دد ې تولو نه لاند ې دا عبارت لوستل کېږي: « همه امورات تحریریه بنام مدیر فرستاده میشود . »

داخبار د نېټې په کرښه کې د تاریخ په راوړلو سربېره چې له : «پنجشنبه (۱۱) حمل سنه ۱۳۰۰ شمسی » څخه عبارت دی ، لاند ې بیت هم راغلی دی:

« خامه ام ارشاد نسوان میکند
اینقدرها وصف عرفان میکند »

دارشادالنسوان کچه په اوله کې ۱۰ × ۵ انچه وه او هر مخ یې د ری ستونه درلودل ، خو له یوولسمې گڼې نه وروسته یې کچه ۱۱ × ۹ انچو ته راټیټه او د مخو تو شمېر یې اته مخه شو .

ارشاد النسوان په ډېرېن چاپ خپرېده کاغذ یې نري او پسته یې رنگ یې ډ رلود ؛ سرلیکونه یې په روښانه او لوی نستعلیق خط لیکل کیدل :

(*) که څه هم د دې جریدې خپرېدل اکثره نامنظم او یې ترتیبه وو خو په عمومي توگه یې د نشرېدلو ورځ پنجشنبه وه؛ د دې جریدې اکثره گڼې حتی د یوې، نیمې میاشتې په فاصله خپرې شوې دي چې د دې قول ثبوت د دې جریدې د لومړی کال «۱۵»او«۱۶» گڼې دي چې پنځلسمه گڼه یې د ۱۳۰۰ کال د سرطان په دوهمه، او شپاړسمه گڼه یې بیاد همدې کال د سنبلې په «۲۳»نېټه خپره شوې ده خو په همدې گڼه کې یو اعتذا رهم خپور شوی چې په هغه کې لیکل شوي :

«چون از اول انتشار جریدهٔ ما تا حال بواسطهٔ بعضی ایام ها (کذا) تعطیل وانتظامات نواقصات ادارهٔ جریدهٔ عاجزانهٔ ما از موعد انتشار خود پس مانده بود ،لهذا

---

(*) دا مطالب د ارشاد النسوان د بحث تر پایه پورې د ژباړ ونکې له خوا زیات شوي دي.

Property of ACKU

تکمیل نواقصات (کذا) ادارهٔ خود را نموده و این شمارهٔ خود را از تاریخ یوم پنجشنبه ۲۳ سنبله انتشار نمودیم و در آینده مسلسل بموعد خود نشر شده برای قارئین و قارئات کرام میرسد و این راهم میگوئیم که سالیانهٔ آن که «۴۸» شماره میشود کامل باز یافت دارند.»

له دې خخه ښکاري چې سمکن وروسته له دې به دارشادالنسوان جریده په منظمه توگه خپره شوې وي او هم له دې اعلان خخه معلومېږي چې ارشادالنسوان اساساً په هفته کې یوځل او هره پنجشنبه خپرېده خو د ځینې معاذیرو په اساس کله ـ کله په اوږده فاصله کې خپره شوې ده.

مرحوم جویا لیکي چې ښایي دې جریدې پنځه شپږمیاشتې نشرات کړي وي(۴) او هم آریانا دائرة المعارف په قطعي توگه لیکي چې ارشادالنسوان شپږمیاشتې نشرات کړي(۵) خو د امان افغان له هغه اعلان خخه چې د خپل دوهم نشراتي کال په موده کې یې د ښځو په خلورمه مخ کې د افغانستان د جریدو په باب خپراوه، ښکاري چې د دې جریدې خپرېدل له یوه کال نه زیات دوام کړی دی ځکه چې د امان افغان د دوهم کال په ۲۴ گڼه کې چې د ۱۳۰۰ کال د سرطان په ۲۳ نېټه خپره شوې لا هم دارشادالنسوان داشتراک اعلان شته خو د دې کال په ۳۳ گڼه کې چې داسد په ۲۴ خپره شوې دا رشادالنسوان نوم ایستل شوی او نورجراید په ځای دي(۶).

---

(۴) جویا، ...، مطبوعات و...، کابل مجله، دوهم کال، ۳ گڼه، ۷۱ مخ.

(۵) پښتو آریانا دائرة المعارف، دوهم ټوک، ۸۲۱ مخ

(۶) دامان افغان د دوهم کال کلکسیون، د ښاغلي غلام حیدر مدرسي د کتابخانې، چې ما ته یې داستفادې له پاره را کړی ؤ په دې و سیله یې د زړه له کومې مننه کوم.

Property of ACKU

د ارشاد النسوان په هغه اعلان کې چې د اداري له خوا په یوه یوه مخیزه پاڼه کې د ژړ بخون کاغذ د پاسه خپور شوی، د ارشاد النسوان د معرفي په بر خه کې ځیني خبرې شوې چې راوړل یې بې ګټې نه دي :


«جریدهٔ ارشاد النسوان یک جریدهٔ عاجزانه ایست که در هفته یکبار عرض انظار بحضور اولی الابصار نموده از هر گونه احوالات داخلی و خارجی و مقالات فنی بحث مینماید و علی العموم آنگونه مقالاتی را که مفیده برای نسوان وطن عزیزش باشد جریدهٔ عاجزانه نذر حضور آقایان قارئین محترم و اخوات قارئات عالیات مینماید . واین را نیز برای قارئین سعادت قرین وقارئات عفت آیات وعده میدهد که جریدهٔ ارشاد النسوان بوقت معهود بحضور مشترکین خویش رسیده و دست سعادت پیوست شانرا میبوسد» .

چې و روسته یې د ګڼون بیه، شرایط او پته موږ ته ښودل شوی دي او په پای کې یې په سره رنګ د مدیرې لاسلیک دی چې دلته یې هم لکه د جریدې په سرلوحه کې خپل نوم په مخفف ډول «ا — ر» لاسلیک کړی دی.

د ارشاد النسوان په ګڼو کې د کومې مطبعې نوم چې پکې خپرېدله، نه دی ښودل شوی خو د «زیور زنان» د رسالې (۷) له دې جملې ښکاري چې «در مطبعهٔ ارشاد النسوان طبع شد» ښکاري چې شاید ارشاد النسوان به خصوصي مطبعه هم درلوده او پکې خپرېدله به.

---

(۷) دا رساله د افغان د ورځپاڼې مدیر ښاغلي محمد جعفر کندهاري لیکلې او په ۱۶ کوچنیو مخونو کې خپره شوې چې د لیکوال نکل په کتابخانه کې خوندي ده .


مجموعه عسکریه

فهرست مضامین

کابل

د مجموعه عسکریه لومړی گڼه

Property of ACKU

# مجموعهٔ عسکریه

داختصاصي خپرونو په لړ کې د ۱۳۰۰ کال دعقرب په لومړۍ نیټه د حرب دوزارت له خوا هم یوه مجله دمجموعه عسکریه په نامه تاسیس او خپره شوه .

په اوله کې دد ې میاشتنی مجلې مسؤول مدیر ښاغلی عبداللطیف غنډمشر(۱) و او وروسته یې مدیریت او سر محرري محمدگل خان مومند ( چې په هغې وخت کې غنډ مشرو )ته وسپارل شول . له هغې وروسته ښاغلی عبدا لحمید خان غنډ مشر ، بیا محمد عمرخان غنډ مشر، دترجمې دڅانګې مدیرانو محمد یعقوب خان او محمداکبرخان وار په وار د مجموعه عسکریه مدیریت تر سره کاوه (۲) .

---

(۱) د غنډ مشر کلمه اوس په ډګرمن اوښتې .

(۲) کابل کالنی ۱۳۱۱ کال ، ۱۵۰ مخ .

Property of ACKU

مجموعه عسکریه له ۱۳۰۹ کال نه وروسته د مجموعه اردوی افغان په نامه (۳) خپره شوه او اوس د اردو په نامه خپرېږي .

مجموعه عسکریه د و همه اختصاصي مجموعه وه چې د مجلې په ډول خپرېدله ، ښکاره ده چې په مجله کې داسې مطالب خپرېدل چې خاص حربي موضوعات او د وخت د حربي وزارت په باب به یې معلومات درلودل . د لیکو نکي په لاس کې ګڼو (۳) کې د مطالبو په فهرست کې بېل – بېل حربي موضوعات راغلي دي خو له دې سره — سره د لومړي کال په ګڼو کې یې د ترو نو ستنو نه ، د حربي د وزارت نظامنامه د « ګلهای حکمت » تر عنوان لاندې مطالب او هم « حفظ الصحه » راغلي دي او د شپږم کال په ګڼو کې یې هم د « نبذهٔ از علم و آداب معاشرت » تر سرلیک لاندې مطالب په هره ګڼه کې راغلي دي ، تر دې عنوان لاندې د خبرو د آداب، په مېلمستیا ؤ ، نورو مراسمو لیدنو کتنو ، سیاحتونو ، سفرونو او په ځای کې داورګاډي په وسیله د سفر

---

(۳) ښاغلی ما یل (معرفی روزنامه ها ... ۲۰ مخ ) لیکلي چې په اوله کې د مجموعهٔ اردو په نامه یاد یده خو حقیقت دا دی چې په اوله کې یې نوم مجموعهٔ عسکریه ؤ او بیا وروسته په مجموعهٔ اردو او وښت .

(۳) د شپږم کال ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳ ګڼې ښاغلي حبیب الله رفیع له خپلې شخصي کتابخانې نه د استفادې په غرض را کړې چې په ډیره مننه مې د خپل ماخذ په حیث استفاده تري وکړه . همدا راز د لومړي کال کلکسیون یې جناب محمد صالح پرو ښتا را کړې چې د ګڼو له متنو نه یې زیاته استفاده وشوه .

کولو دادابو په باب خبري شوي دي. تر پورتنيو عنا وينو لاندي په هره برخه کي پوره مطالب وړاندي شوي او دد ي ستنيي د ليکلاو هد ف لکه څرنگه چي د هغه ليکونکي ښاغلي محمدشريف وېلي ؤ، دا ؤ چي:

«ضابطان شرافتمند اردو ... اين فقرهٔ مهم درس اخلاقي را بحسن تلقي مطالعه و به محاسن اخلاق تهذيب فرمايند.»

داختصاصي مقالو څخه نور ليکونه دنمونې په ډول ليکو: «يک تد قيق در بارهٔ حرکت هاي حرب در کوه»، «تاثير غاز هابه حيوانـها»، «يک نظر عمومي به تاريخ عسکري ايران» او نور. دليکونکو په ډله کي يي دښاغلي محمدشريف او شوکت بيگ ضياءبيگ نومونه ډېر ليدل کېږي.

څېړه او مخ تړنه:

---

دمجلې دپښتي کاغذ دمتن له کاغذ نه لږ څه پېړ دی اوپه لومړی مخ کې يي دمجلې نوم، د مطالبو فهرست، دمجلې دخپرېدو نېټه، نشراتي کال، دهغې مطبعې نوم چې پکې خپرېده او د گڼون بيه يي راغلې دی. د لومړی او شپږم کال پښتي يي په سره رنگ چاپ شوي دي، د مجلې نوم په ثلثي خط دمخ په برنۍ برخه کې راغلی او د هغه نه پاس يو نښان ليدل کېږي چې ښايي دحرب د وزارت نښان به ؤ، دمجلې دنامه ښي خواته دا جمله لوستله کېږي: «امورتحريريه‌و اداره ازشعبهٔ‌دوم‌رياست‌اركان‌حربيه عموميه‌اجرا‌ميشود.» اود نامه کين‌لوری ته‌يي کلنۍاشتراك په ۸، ۹، ۱۰ او ۱۱ گڼو کې شپږ روپۍ او ديوې گڼه بيه‌ښودل شوي‌خوپه راورو سته‌گڼو کې يي‌شپږمياشتنی اشتراك د رې نيمې‌رو پۍاوپه‌د با ندي هيواد و کې پو ستي له محصول سره را غلی دی.

مجموعهٔ عسکريه دحرب دوزارت او شرکت رفيق په‌مطبعو کې‌په ۹ نيم × ۶ انچه کچه‌لو مړی په ډېرين او بيا به حروفي چاپ خپرېده او دننه مخونه‌يي

یو نیم ستونه دي چې ۳ نیم انچه سور او ۹ انچه اوږده لري. د متن د مخونو حاشیه په یوه ډبل او یوه نري جدول بېله شوې او د جدول نه پاس د مجلې کڼه، د مخ شمېر او نشراتي کال یې په هر مخ کې لیدل کېږي ، په لومړي نشراتي کال کې جدولونه نشته. د مطالبو د سر لیکونو توري د متن تر تورو یو نه لوی دي او په سرلیکونو کې هم د حروفو تنوع لیدله کېږي .

د مجلې متن د ځینې عکسونو په خپرولو سره هم ښکلی شوی ، عکسونه هم کله په عمومي ډول د ځینې مراسم ښیي خو کله بیا د حربي مطالبو د پوهېدو په غرض عکسونه خپاره شوي دي ، لکه څرنګه چې د ښارو یو د پاره د غاز د ماسکې په کارول ( د شپږم کال ۸، ۹ کڼې له ۱۳ مخ نه وروسته ) په عملي ډول رسم شوي او د مضمون په ملتیا خپاره شوي دي ، عکسونه په عمومي توګه په څلا لرونکي کاغذ خپاره شوي . د یادولو وړ ده چې په موجودو کڼو کې ۸، ۹ او ۱۰، ۱۱ کڼې په یوه — یوه پښتي کې خپرې شوې دي .

د مجلې د چاپ شمېر په ۸، ۹ او ۱۰، ۱۱ کڼو کې پنځه سوه ټوکه ښودل شوی خو په ۱۳ او ۱۴ کڼو کې بیا اووه سوه کڼې راغلی دی، د لومړي کال په کڼو کې د چاپ شمېر نشته.

د مجلې د مخونو په شمېر کې هم یوه له بلې سره توپیر لري لکه څرنګه چې ۸، ۹ کڼې یې په یوه پښتي کې ۵۲ مخه لري خو ۱۳ کڼه یې په یوازې ډول ۶۷ مخه ده، د لومړي کال په کڼو کې یې هم د مخونو شمېر توپیر سره لري چې له (۲۵) مخونو نه نیولې تر ۳۲ مخونو پورې رسېږي . ښایي دا هم زیاتونه کړو چې د مجموعهٔ عسکریه د لومړي کال کڼې څرنګه چې په ډبرین چاپ خپرې شوې نو ځکه یې خطاطي د حافظ حیدر علي احراري په لاس کېدله ، د نوموړي خطاط نوم د پښتي په څلورم مخ کې راغلی دی.

د مجلې د ګڼون بیه د لومړي کال په لومړۍ کڼه کې داسې راغلې ده :

«سالانه چهار روپیه شش ماهه دو نیم روپیه
سه ماهه سه قران قیمت شماره اول ۹ شاهی»

Property of ACKU




دحقیقت دورځپاڼې لومړۍ ګڼه

Property of ACKU

## حقيقت

له اتحاد مشرقي ، افغان او ابلاغ نه وروسته حقيقت څلورمه ورځپانه ده (١) چې په کابل کې په هفته کې دری ځلې خپرېدله . حقيقت کاليزې ځل له با ره د ١٣٠٣ کال د زمرى په ٢٢ نېټه ( له ١٩٢٣ عيسوى سره سم ) دخداى بښلي برهان الدين کشککي په چلونه په خپرونو پيل وکړ .

دحقيقت ورځپانې داسې وخت په خپرونو پيل وکړ چې د خوست ملا بغاوت دهېواد يوه څنډه نا آرامه کړې وه . دا ورځپانه د دې پېښې د څو بنو په وخت کې دخپرېدو ډگر ته راووته او دعمر بې لا لږ وخت نه و ووتلى چې

(١) ښاغلي آهنگ په دری ستن کې حقيقت دريمه ورځپانه بللې ده خو څرنگه چې له حقيقت نه مخکې د اتحاد مشرقي ، افغان او ابلاغ ورځپاڼې خپرې شوې نو ځکه حقيقت د هېواد څلورمه ورځپانه وبلله شوه .

Property of ACKU

نوموړی اړدوړ د گوډ ملا او دده د ملګرو په نیول کېد لو سره پای ته ورسېد .

د ډېر و رڅپانی لومړنی مقاله هم د همدې بغاوت په باب ده چې په هغه کې بې د بغاوت منشأ او شروع ، جریان او محرکین یې د حکومت د فعالیت او تدبیر و نوسره یو ځای په تفصیل سره خپاره کړي دي (۲) . په حقیقت کې ددې مقالو لومړی برخه په لومړی گڼه کې خپره شوې او لیکوونکی له دې کبله چې په لاس کې کلکسیون کې لومړی گڼه نه وه ، و نه کړای شوه چې لومړی برخه یې ولولي خو په دوهمه گڼه کې ( د ۱۳۰۳ کال د زمرې له ۵ ۲ سره سم ) د مقالې دوهمه برخه را غلې چې د هغې په لوستلو سره د لومړۍ برخې د مطالبو رنوا هم سړي ته معلومېدای شي .

لکه څرنگه چې د نورو گڼو متن ورکتل شوی اکثره داخلي مواد او مطالب یې د گوډ ملا د بغاوت د ختمولو په غرض د حکومت د تاکتیکي فعالیتونو په باب دي او په دې سربیره په دې هکله وینا وې ، موعظې او لارښوونې هم خپرې شوې دي .

د حقیقت د ور ځپانې په متن کې په عمومي ډول مقالې ، خبرې ، بیانوې ، خبرونه او شعرونه خپاره شوي دي .

کومې مقالې چې په دې اخبار کې راغلې زیاتې یې خبرې دي او د ورځې مهمې پېښې پکې څېړلې شوې دي او د دین دوستۍ او د وطن پالنې ،

(۲) د حقیقت د لومړی کال کلکسیون (تر لومړی او دوولسمې گڼې پورته) تر ۱۳۰۰ گڼې پورې په عامه کتابخانه کې خوندي دي .

Property of ACKU

وروریاو اتفاق ، تشویق او ترغیب روحیه پکی لېدله کېږي . دلیکونکی دنامه دنه څرګېدلو په سبب مشکله ده چې ووېل شي مقالی په خپله دمدیر په قلم لیکلی کېدلی که دېل چا ؟ دځینی مقالو په څنګ کی دلیکونکی نوم په مخفف ډول راغلی دی چی ددې لیکونکی هم سم نه څرګندېږی .

دداخلی پېښواو دورځی دخبری مقالو په څنګ کی دنړۍ دچارو په باب هم ځینی معلوماتي مقالي لیدلی کېږي چی په دی برخه کی په ۳۵ ګڼه کی دمصر د یوه پخوانی ښار د کشفیدو په باب یوه مقاله خپره شوی ده او دد ی مقالی سره یوځای دهمدغې ځای دوه عکسونه هم لیدل کېږی چی یو یی د « توت غنج آمون » تمثال او بله یی ددی پاچا په قبر کی یوه ګلدانی ده .

دحقیقت دورځپاڼې په ۷۵ ګڼه کې ددې دوو بیتو ترسرلیک لاندې یوه مقاله خپره شوې ده :

همه اغراض خودراسی پرستیم ز رند باده کش تا شیخ و زاهد

این دردرا علاج بجز اتحاد نیست

ترپورتنی عنوان لاندې دګوندونو اودګوندونود شمېر په باب څو خبرې شوې او زیاته شوې ده چې :

«متأسفانه درمملکت عزیز ما کلمه حزب، وجمعیت هم مبتذل ګردیده و مانند سایر مقتبسات دراکثری ازموارد سوء استعمال شده است . »

په دې مقاله کې دګوندونو اوډ لوزیا توالي یو ډول نفاق بلل شوی او په دې برخه کې خارجي لاس دهغوی د ګټو په غرض پکې ښودل شوی دی .

داخبار دمقالو په جمله کې یوه هم داوږدې کال په ۷۱ ګڼه کې تر لاندې عنوان لاندې و لیدله شوه :

Property of ACKU

«یک ملاحظه سرسری بر تنبلی خویش و عزایم و مجاهدات اغیار، بخت؟ طالع؟ ادبار؟ سعی! عمل! جد! جهد، عزم و ثبات.»

په دې همدا یو سر لیک نه بیږي چې د مقالې متن څنګه مطالب ته اندې کړی، په متن کې د افغانستان د خاورې او خلکو د وروسته والي په باب خبرې شوې او د دوی د تنبلۍ او تن پروری موضوع څېړل شوې او هم په همدې مقاله کې د سبا رکو آیتو نو او لویانو دوینا وو په استناد د سعی او عمل موضوع ته ټینګار شوی او ټینګار شوېدی: بې علمۍ او د لوړو معلوماتو نه درلودل د بدبختۍ سبب ګڼل شوي او په مقاله کې د پوهنې پرمختګ حتمي او جدي بلل شوی دی.

درسمي وینا ؤ او خبرونو په باب باید و وایو چې اکثره یې په اسان افغان کې هم خپریدل چې د اسان افغان په برخه کې یې یادونه و شوه.


د حقیقت د ورځپاڼې خبرونه لکه د هغه وخت د نورو اخبارونو غوندې د داخلي او خارجي پېښو په باب وو، په کورنیو پېښو کې ډېر کمرنګي خبرونه لیدل کېږي چې بې د مفکورې له پوهاوی کېدلو څخه خپاره شوي وي. لکه څرنګه چې سراج الاخبار لیکلی (۳) د خبرونو په خپرېدو کې د تلقین، وعظ او لار ښوونې لاره نیول شوې ده. د نمونې په توګه د لومړی کال په ۸۱ ګڼه کې شوروی ته د پیلوتۍ د زده کړې په غرض د یو شمېر زده کوونکو د لېږلو خبر خپور شوی دی.

په دې خبر کې د یو شمېر حقایقو له راوړلو نه وروسته داسې ویل شوي دي:

«امید است این طلبه افغانیه بیک فرصت مختصر در تعلیمات لازمه و عملیات

(۳) [illegible]

Property of ACKU




دحقیقت دجریدې یوه پښتو برخه

Property of ACKU

ضرورية هوا پیمایی وطیاره رانی کامیاب گردیده از ثمرات تعلیم خویش برای ملت ومملکت ووزارت حربیه خویش خدمات شایانی بنما یند.»

همدارازدلوسړی کال په ۸۸ گڼه کې د «مدیر معارف سمت مشرقی» ترعنوان لاندې يوخبرخپور شوی او په هغه کې له تمهید نه وروسته څرګند ه شوې:

«درزمان مدیریت شان یک روح تازه وامید ترقیات بی اندازهٔ عرفانی سمت مشرقی مشهودومحسوس شده ...»

داعبارت په خپله يوه موضوع ده چې په تبصره او مقاله کې ځای لري خو دلته د خبر په دول راغلې ده چې دخبرې روحیې په خلاف ده.

په حقیقت کې په اوله کې خبرخپریدل کم لیدل کیږي او داخبار دمتن اکثره خبرې دګونو ملاقاتونو په باب په پاړ ووزکې په دول شوې خوهر څومره چې دورځپاڼې عمر زیاتیږي دخبرونو زیاتوالی ته هم پاملرنه کیږي مخصوصاً د لوسړی کال په وروستیو ګڼو کې خارجي خبرونه زیات لیدل کیږي خو ټول یوه کې دیاد وړ دی. چې په خارجي خبرونو کې داسکان ترحده خبری روحیه ساتل شوې ده او داهم ښایي له دې کبله وي چې له خارجي جریدو او ورځپاڼو څخه اخیستل کیدل.

دخبرونو اخیستنځی که داخلي دي یاخارجي کم ښودل شوی خو دهغه وخت دخبرلیکني دعمومي روحيې په بنا په ښایي چې دې ورځپاڼې هم لکه د وخت دنورو ورځپاڼو غوندې خپل زیات خارجي خبرونه د خارجي و رځپاڼو او جریدو څخه اخیستل، خوځیني داخلي خبرونه يې داخبار دمخصوص خبریال په وسیله ترلاسه کیدل او هم ښایي چې ځیني به يې د رسمي مقاماتو په وسیله و رلیږل کیدل.

په دې ورځپاڼه کې په زړو پوري موضوع د شعرونو خپریدل دی چې په بیلو بیلو ګڼو کې په پښتو

یادری ژبو خپاره شوی دی، په دې اخبار کې خپاره شوي شعرونه حماسي او پارونکي شعرونه دي چې تربیتي، اجتماعي، دوطن پرستي، اتحاد او اتفاق روحیه لري او په پښتو او دري ټولو شعرونو کې یې دا مطالب شته. په حقیقت کې د دې شعرو نو خپرېدل د شخصي عقا یدو ښکارول وو چې د نظم په شکل راښکاره شوي دي.

د ورځپاڼې دلیکو نکو په ډله کې د شاعرانو نومونه په ځرگنده ډول را غلي دي میرزا محمد دلاور، محمد عمرخان بلبل افغان، ملا محمد عمرخان لعل پوری د پښتو شعرونو نکو له ډلې څخه وو چې نومونه یې له شعرونو سره یوځای خپاره شوي دي . همدارنګه میرزا شیر احمدخان جلال آبادی، محمدسرور خان، سید محمدصادق خان میرزاغلام خان، میرحسین او تاج الحکماء د دری ژبې له هغو شعر ویونکو څخه وو چې شعرونه یې د حقیقت په ورځپاڼه کې خپاره شوي دي.

مخ تړنه :

---

د حقیقت ورځپاڼه په څلورو مخونو کې خپرېدله او هر مخ یې دوه ستونه لري ، د ستنیو اوږ ده یې دوولس انچه او سور یې ۳ نیم انچه د ی . دا اخبار کچه په عمومي توگه (۱۳×۸) انچه ده . نوموړی اخبار په سپین کاغذ په ډېر ښه چاپ خپرېده .

سرله دې چې د عنوان ایښود او په برخه کې یې ځینې کمزوري لیدلی کېږي خو ځینې ډېر په زړه پورې سرلیکونه پکې راغلي دي. په عنو انونو کې یې په زړه پورې عبارات او نیښو رې کلمې راوړلې چې د ې کار دلو ستونکو په تشو یق کې ډېر زیا ته مرسته کوله . د نمو نې په ډول دلوسړی کال په ۸۱ گڼه کې (۲ مخ) دا سرلیک ډېر په زړه پورې دی:

«گر تمدن این بود لعنت براو»

یاد ۷۰ گنی دځلورم مخ داعنوان :

«قهر خدا به جان ملا»

اویاد ۳۲ گنی دلومړی مخ داسر لیک :

«درین جشن ملت خزان چون بهار است»

وروستنی سرلیک دیوی مقالی له متن څخه غوره شوی او تړلی وروسته بل عنوان په دې عبارا تو دی :

«مراسم افتتاحیهٔ جشن استقلال بروز جمعه یکم عقرب ۱۳۰۳»

دا دواړه عنوانونه بېل مطلبونه ا دا کوي او هر یو په ځا نګړ ی ډ ول هم یو بشپړ سرلیک دی .

ډېره په زړه پورې ده چې په ترتیب او شکل ترنه کې تر ډېره حده ژورنالیستکی اصول په نظر کې وو . په دې ترتیب چې دعناوینو په ټېټه کې دا مکان ترحده د ذوق نه کار اخیستل کېده دا وږدو مطالبو له پاره په کوم ځا ی کې چې فرعی عنوان لازم و ترمتن نه په لوی خط لیکل شوی . د متن په مطالبو کې هم کوم ځای چې مهم ګڼل کېده ترمتن نه په لږ لوی خط لیکل شوی ، له متن نه دفرعی عناوینو د بېلولو له پاره مغه خط کښونه چې په یوه قایمه زاویه غوځېږی ، راغلی د ی .

د ښتو اودری درسم الخط ترمنځ یې توپیر هم وجود دی په دې ډول چې پښتو په نسخی اودری په نستعلیق خط لیکله شوې ده .

دحقیقت دورځپانی د نوم لوحه چې تقریبا دلومړی مخ یو په دری برخه یې نیولې دا مطالب لری :

په منځ کې د ورځپانې نو م په لوی او ښکلی خط لیکل شوی ترې پاس سمبول

Property of ACKU

اویا داخبار نښه چې دوه دوړ یوځانګې په سر کې سره یوځای شوې اویوه دا یوه غوندې یې جوړه کړې ده ، دداېرې په منځ کې دوې تورې ېود بلېد پاسه په چلیپایي ډول ایښودلې شوې چې دتوړو په بزنې زاو یه کې یوه جیغه لرونکې خولۍ رسم شوې ده.

دوهم ځانې دنامه ښۍ خواته لوسړی داشتراک بیه په دې ډول لیکل له کیږي:

| | «ششماهه | سالانه |
|---|---|---|
| دارالسلطنهٔ کابل | ۵ روپیهٔ کابلی | ۹ روپیه |
| داخلهٔ افغانستان | ۷ روپیهٔ کابلی | ۱۱ روپیه |
| ممالک خارجه | ۸ روپیه کابلی | ۱۵ روپیه |
| وزراء وسفراء | ۱۱ روپیه کابلی | ۲۰ روپیه |

قیمت یک شمارهٔ آن یک شاهی است»

داشتراک له بیې نه وروسته دالیکنې راغلې:

«برای سادات و علماء و طلبه و مکاتب منا صفه قیمت معاف است. کتب خانه های ملی وناسه نگاران راسقت ورا یگان تقدیم میشود ، تبادلهٔ جراید شرقی مخصوصاً اخبارات اسلامی راخواستاراست.»

دنامه کینې خواته د« قواعد و ضوابط» ترعنوان لاندې داعبارات راغلي :

«بدون ازایام تعطیل روزنامهٔ هذا درخوددارالسلطنه یکروزبعدنشروشایع میشود بدیگر حصص افغانستان وممالک خارجیه منتظماً درهرپست ارسال میگردد. امور تحریریه تماما بنام نگارندهٔ حقیقت درکابل ارسال ومقالات واصله ازاداره واپس نمی شود.جریده درا ندراج واصلاح وعدم انتشارش آزاداست . اشتراک بتوسط خزاید دولتی وبه صورت نقدی ازهمه جاقبلاً دریافت میشود.»

Property of ACKU

اوترې لاندې په یوه بله کربنه کې: «نګارنده (برهان الدین کشککي)» لیکل شوی دی.
دحقیقت ورځپاڼې یوازې یو کال عمر درلود(۴) ځکه دلوسړی کال په ۱۳۹ ګڼه کې یې چلوونکی د«الوداع» ترعنوان لاندې دورځپاڼې دتاسیس دهدف ترسره کېدو اوبې له ځنډه اوځنډه په هفته کې ددریو ورځو خپرېدواونو روښراتې چارو په باب مطالب وړاندې کړي اودلیکوالو اورسمي مقامونوله سرستې څخه یې خوښي ښکاره کړېده. په پای کې یې ویلي چې له دې وظیفې نه په خدای پامانې اخېستلو سره به د خپلې اصلي راسپارلې شوې وظیفې په پرمخ بیولو کې هڅه کوم. دورځپاڼې «۱۴۰» ګڼه هم دحقیقت دوداعیه ګڼې په نامه خپره شوې چې په هغې کې دمحمدسرور یوه اوږده بولله راغلې اودحقیقت دخدمت په هکله یې دشعر په چوکاټ کې مطالب وړاندې کړي دي، دنوموړی قصیدې کسردادی:

«حقیقت» ای عزیز یاروا غیار تراهر کس بجان ودل خریدار»

اودبوللې دوه وروستي بیتونه داسې دي:

«کنون من میروم وقت شما خوش وداع بادازشما یاران به تکرار
قلم در کش مګو حرف جدایی به هجران ساز سرور چارناچار»

---

(۴) دحقیقت دورځپاڼې دمنځ ته را تګ اومنځ نه تګ علت دلیکوونکي له نظره دادی چې په حقیقت کې نوموړی ورځپاڼه دګود ملادبغاوت درامنځ ته کوونکو سره د مبارزې په منظو رمنځ ته راغلې وه چې دا بحران حل شواود دې بغاوت عاملین ونیول شول اوخپله سزایې ولیده نودحقیقت دورځپاڼې وظیفه هم ترسره شوه.

Property of ACKU

(*) د حقیقت او مجموعه عسکریه ارتباط :

مجموعه عسکریه له دری کلو نشراتو نه وروسته د رست په هغه موقع چې په جنو بي کې د گوده ملا بغاوت رامنځ ته شو ، له نشرنه پاتې شوه او په عوض کې یې د حقیقت ورځپاڼه په هفته کې دری واره خپره شوه خو کله چې نوموړی بغاوت ختم شو نو حقیقت هم چې مخاص د همدې منظور له پاره خپرېده بند شوا و بیرته مجموعه عسکریې په نشراتو پیل وکړ. د مجموعه عسکریې او حقیقت په هکله دا حقیقت د مجموعه عسکر یې د پنځم کال لومړۍ گڼې را لوړ کړا و د توجه وړ خبره لادا ده چې د حقیقت د جریدې یو کلن نشرات د مجموعه عسکریې د څلورم کال د نشراتو په ځای حساب شول او مجموعه عسکریې د دریم کال له ختمیدو او یو کال تعطیل نه وروسته په خپل پنځم نشراتی کال پیل وکړ.

په دې باب د مجموعه عسکریې د پنځم کال د لومړۍ گڼې د پښتې په دوهم مخ کې داسې لیکل شوي دي :

«سنه ئیکه اخبار حقیقت دران طبع و نشر شده بتعداد سال مجموعه عسکریه محسوب وگرفته شده است ، ازانروسنه گذشته را که حقیقت جریان داشت سال چارم اعتبار کرده و بالای سال مجموعه عسکریه افزوده وآغاز شرا از سال پنجم نمودیم.»

د مجموعه عسکر یې د دې لیکنې په استناد ویلای شو چې نه یوازې دا چې د حقیقت جریده د حربیې له وزارت څخه خپریده بلکه د مجموعه عسکریه له اداری څخه را وتله نو سره له دې چې د حقیقت په جریده کې د لیکوالو نومونه نه دي ، خو له قرینې څخه ښکاری چې په مسلکی موضوعاتو کې به د همدې مجلې همکارانو او کار کوونکو سره ورسره کوله .

د حقیقت د ورځپاڼې وظیفه د گوده ملا د بغاوت له ترسره کېدو سره ختمه شوه او په

---

(*) دا مطالب د حقیقت د بحث تر پایه پورې د ژباړ وتکي له خوا لیکل شوي دي .

دې هکله د مجموعه عسکریه د پورتني یادې شوې ګڼې په سرمقاله کې داسې لیکل شوي دي:

« به قارئین محترم مجموعه عسکریه توضیح میشود باعث تعطیل مجموعه عسکریه که از تاریخ ماه سرطان سال گذشته الی حال که شایع نگردیده قدری تفصیلات عند اللزوم عرض میشود که: درپیش آمدن معامله اسی آور اغتشاش سمت جنوبی وزارت حربیه رسانیدن اطلاعات مفصله آنولا را بسرعت سریعه لازم دانسته تصمیم او بتوسط اخبار حقیقت منتظماً درهفته سه بار اشعار نمود . »او هم زیاتوي چې:« بنابر مشغولیت مطبعه بطبع جریدهٔ حقیقت وغیره مطبوعات لازمه وگرفتاری هیئت تحریریه آن به امورات متفرقه نیز نشر آنرا تعطیل داد. اکنون که از توجه شهریاری معامله مذکور حسب المطلوب انجام گشته اختتام پذیرفت جریدهٔ حقیقت نیز نظر به اتمام معاملهٔ مذکوره اطلاعات خود را اختتام نمودایکه که مجموعهٔ عسکریه مجددا به نشر آغاز کرده به شمارهٔ هذا مجموعه ماه سرطان سال گذشته را تعقیب نموده برای ملاحظه قاریین کرام تقدیم میشود.»

له پورتني لیکنې ښکاره ده چې د مجموعه عسکریه او حقیقت د ارتباط په هکله حقیقت را لوڅیږي بلکه د حقیقت حقیقي مقصداو نشراتي مرام هم رابرسیره کوي چې هغه ژرترژره خلکو ته د جنوبي د پېښې په هکله د اطلاعاتو او معلوماتو رسول او د خلکو خبرول وو چې البته خلکو ته د اطلاعاتو ژرترژره رسول او خبرول د ژورنالیزم مهمه وظیفه او لوی هدف دی .

همدا راز د دې ګڼې په خپرېدلو سره چې د دریو کلو نشرانو او یوه کال تعطیل په موده کې یې چلوونکي او تحریریه هیات تجربه کړې وه، د مجموعه عسکریې په نشراتي مرام کې هم تغیر او په زړه پورې مثبت بدلون راغی او هغه دا چې داوردو تعلیمنامو او نورو چې په مخکنیو کلو کې به پرله پسې خپرېدل اوسترې کوونکي وو، مخنیوی وشو او په عوض کې یې تصمیم ونیو چې له همدې ګڼې څخه دا ردو د صاحب منصبانو د افکارو د تنویر او معلوماتو د زیاتو الي او د حربي نویو بدلونو نو په باب

نشرات او خدمت وکړی او هم په هغه مدی کښې چې د اردو صاحب منصبانو ته ډېر و رکړ چې د دوی مقالې او افکار په په ډېره مننه خپروی.

دا هم باید وویل شی چې د دې کښې قطع تر پښخوانیو کښې لوی وه او ۱۵×۲۱ سانتی متره وه (۵) خو طبع یې حروفی او د مخونو شمیر یې «۷۵» ته رسیږی نوم یې د پښخوا په خلاف په شکلی نسخی ډوله خط خطاطی او کلیشه شوی دی. متأسفانه له دې نه وروسته د دې کال نوری گڼې په لاس کښې نشته.


په راوروسته کلونو کښې چې په مجموعه عسکریه کښې د حقیقت کومه نښه پاتې شوه هغه یوازی او یوازی هغه سمبول دی چې د خولې خلاصی دا یروی و ریو په شنخ کښې دوې یو په بل د پاسه د چلیپا غوندې ایښودل شوې توري او له هغه د پاسه جیغه لرونکې خولی ده.

مجموعه عسکریه هم لکه د هیواد ځینې نور نشرات غوندې د داخله اغتشاش په موده کښې له نشر نه پاتې شوه (۶) خو په نادری دوره کښې یې بیا بېرته په همدغه نامه او مشخصاتو او هماغه کچه د ۱۳۰۸ کال د جدی په لومړی نیټه په خپرونو پیل وکړ، داخل یې د مخونو شمیر «۲۸» ؤ او د چاپ شمیر یې له «۷۰۰» نه «۱۰۰۰» نسخو ته لوړ شو، همدارنز دا گڼه د «سال اول» په نامه خپره شوه خو په دوهمه گڼه کې یې بیر ته سال نهم ولیکل شول داخل مجموعه عسکر یه یوازی دری گڼی خپره شوه او بیا یی سقوط وکړ (۷) خو د ۱۳۰۹ کال د اسد په لومړی نیټه په جیبی کچه د «مجموعه اردوی افغان» په نامه خپره شوه چې معرفی یی د ژور نالیزم د تاریخچې له دوهم ټوک سره اړه لری او په خپل وار به راشی.

(۵) د پښخوانیو گڼو کچه یې ۱۶×۲۳ سانتی متر ده.

(۶) جویا . . . مطبوعات . . . ، کابل مجله د و هم کال شپږمه گڼه ۷۶ مخ.

(۷) دا دری گڼی له ما سره شته او مرحوم جویا هم لیکلی چې یوازی دری گڼی خپری شوی دی.



سال اول

اول قوس ۱۳۰۳

ثروت

محرر صلاح الدین السلجوقی

جریدهٔ پانزده روزهٔ اقتصادی تجارتی و دینی سیاسی

شماره (۱)

بتاریخ اول برج قوس سنه ۱۳۰۳ شمسی مطابق ۲۵ شهر ربیع الثانی سنه ۱۳۴۳ هجری قمری

بسم الله الرحمن الرحیم

عرض مقصد

الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدنا محمد وعلی المؤمنین والمؤمنات وعلی المسلمین والمسلمات

یک سوال یا یک فکر است که اسلام ترک دنیا را توصیه نموده است ... و قرآن حکیم غنی را از دنیا بیشتر اهمیت ...

یا توانگر شدن خوب نیست، فقر را فخر باید شمرد، و توانگری را افساد!

این سوال یا فکرها واقعاً ... اسلام ...

Property of ACKU

د ثروت د جریدې لومړی ګڼه

# ثروت

(*) داختصاصي خپرونو په ډله کې دثروت پنځاس ورځنۍ جریده لو مړی ځل د ۱۳۰۳ش کال دلیندی په لومړی نیټه په کابل کې د مرحوم علامه صلاح الدین سلجوقي په محرری خپره شوه ، خوځرنګه چې په افتتاحیه مقاله کې یې دنیمچه ملا یا نو یادونه شوې وه، ددا سې اشخاصو داعتراض په اثر د مطبوعاتو دنظامنامې تر خپر یدو او نافذ یدو پورې له نشرنه پاتې شوه (۱) او بیا یې د ۱۳۰۴ کا په اول کې بېر ته په

Property of ACKU

(*) دثروت بحث په دری متن کی په دی سبب چی دثروت کومه ګڼه د لیکوال تر لاس کی نه وه دآئینه عرفان په حواله لیکل شوی او نیمګړی دی څرنګه چی ماو کړای شوه د ثروت لو مړی ګڼه تر لاسه کړم نو ځکه می ددی ګڼی په استناد دثر وت بحث ولیکه او د دری متن بحث می د نیمګړ تو ب په اثر حذف کړ «رفیع»

(۱) امان افغان ، شپږ م کال، شپږمه ګڼه ۱۳۰۴ کال د ثور ۱۹ .

نشرا تو پیل و کړاو غالباً چې دوهمه اوډ ریمه کښه به یې د ثور په اول او پنځلسم خپرې شوې وي . ځکه چې د م ۱۳۰ کال د ثور په ۱۹ نیټه امان افغان تقریظ پرې لیکلی او دهغه د تعطیل او بیا خپرېدو جریان ته یې اشاره کړې ده .

د امان افغان دا یادونه چې د ثروت نشرات د مطبوعاتو د نظامنامې تر خپرېدو وړاندې خپرې شول او د ځینو نورو خپرو له جملې دا فکر پیدا کوي چې دا جریده به شخصي وه او د حکومت له خوا نه تمویلېده، او که داوسنله شي چې ثروت شخصي جریده وه نو بیا په افغانستان کې د ملي نشراتو شروع کېدل څو کاله مخکې کېږي او د افغانستان لومړی ملي جریده به ثروت بولو نه انیس .

د ثروت مطالب:

د ثروت په لومړي ګڼه کې د «غرض مقصد» تر عنوان لاندې لومړی د اسلام له نظره ثروت تحلیل شوی او ویل شوي چې اسلام ثروت هله بدګڼي چې د معبودیت او پرستش درجې ته ورسېږي او مقصود بالذات وګرځي، په دې برخه کې اروپا د نمونې په ډول یادوي او وایي چې د دوی په نظر کې اول ثروت دی او بیا اخلاق یعنې نیکي او بدي ، نتیجه یې لومړی عمومي جګړه ښیي چې د بشر د تباهۍ سبب وګرځېده او زیاتوي چې امپریالیزم یا کپیتالیزم او سوسیالیزم دواړه د ثروت پرستش کوونکي دي. وروسته د قرآني آیاتو په استناد وایي چې په اسلام کې نه ثروت د معبودیت درجې ته رسول شوی او نه هغه بد بلل شوی نو ځکه د نیا د آخرت مزرعه ګڼل شوې او که دنیا نه وای آخرت به نه و چې په دې اساس ثروت د پاک خدای له نعمتو څخه دی ، یو ځل طبیعت ته نظر واچوی پاک خدای د سرو زرو ، سپینو زرو ، جواهرو او نورو کانو نه ډکه اندیاره پیدا کړې؟ له یو ډول غنم نه په سلګونو غنم ولې زرغونوي؟ او د سا لونو

تبادله يې دتولنې اساس اود انسان مدنيت ولې گرځو لې ده؟... آيا نه و ينو چې په قرآن کې تجارت هرځای دفضل په لفظ يادشوی، له دې وروسته ليکی:

«علاوه برين ، امروز ديگر روز است ، مخالفين اسلام زيادو قوی هستند، مقابله آنها وتهيهٔ جهاد حفظ استقلال بی قوت ممکن نيست وقوت بی ثروت محا ل ا ست ، علی الخصوص قوت بمقياسها وپيمانه های امروز ! يك طياره ـ يك تانك ـ يك يا تری توپ هر كدام به هزا ر طلا ! بلك ها روپيه ! بخريم يانی؟ اگرنخريم ا ستقلال، آزادی خود را چطور محافظه وحقوق خود را چطور مدافعه كنيم؟ اگر بخريم كوثروت؟ حكومت يك حصهٔ ثروت اهالی است ، اگر ثروت اهالی كم شده رفت ثروت حكومت كم شده ميرود واگر ثروت اهالی زياد شده رفت، ثروت حكومت زياد است وزياد شده ميرود . »

په همد ی تمهيد ی مقاله کې چې په حقيقت کې دثروت دجريد ې نشرا تی مرام تشکيلو ی ، دسياسي استقلال په څنگ کې اقتصاد ی ا ستقلال مهم رکن او حتی حقيقی مستقل توب بولي او ليکی :

« اينست كه جريدهٔ نو ما ميخواهد كه ديروز بر تخت طاوس نشسته، تا ج « كوه نور » بوسر داشت و امروز پا: خط راه آهن كشيده نميتوانند ، حس « ثر و ت طلبی » توليد و علم تحصيل ثروت عصری را به آنها آشنا سازد ، تا ا گر اراده آن راز ق مطلق جل و علی رفته باشد ، بموجب ليس للانسان الا ماسعی ايشعی اثر ی بخشدو اينملت استقلال اقتصاد ی خود را هم حفظ و تأمين نمايند د ر حيات فرد ی و ملی خود راه صرف ثروت و استحصا ل آ نر ا ياد گر فته عملی كنند ، و آ نو قت ا ز احتياج بيگانگان وار سته بمعنی حقيقی « مستقل » باشند.

Property of ACKU

این کلمات فوق نشان میدهد که هدف از نشر ثروت چیست ؟ »

کله‌چې خپله اقتصادي تنګ لاره روښانه کوي نو بیا عقیده ښکاروي چې اقتصاد دین اداره کوي او سیاست اقتصاد چې دا یو دبل لازم او ملزوم دي نو ځکه موږ د خپلې جریدې په تنه د دیني او سیاسي کلمې هم لیکلې دي.

وروسته په افغانستان کې د اقتصاد دریګوني منابع داسې ښیي :

« ثروت در مملکت ما منابع سه گانه دارد ، معادن ـ زراعت ـ تجارت لهذا از ارباب علم و قلم که شوق معاونت داشته باشند ، در موضوع های حالت موجودهٔ آنها چاره ها ی رفع نقصانات آنها ، راه های ترقی نها معلومات علمی در باب آنها متشکراً مقالات می پذیریم ، موضوعها ی دیگری هم مختصراً عرض میشوند که با ثروت وابسته هستند :

(۱) علم ادارهٔ منابع ثلاثه مذکوره و استفاده از انها ( در دنیا در افغانستان ) .

(۲) اخلاق اقتصادی درملت ( بعنوان حیات اقتصادی ) .

(۳) صنایع افغانی و اصلاح و ترقی انها .

(۴) محاسبه و مالیات .

مواد مختلفهٔ دیگری مثلاً در باب نرخها ی مسکوکات و اشیاء و اموال تجارتی ، در کابل ، پشاور و مزار شریف و بمبئی و تاشکند و مشهد و کاشغر و اطلاعات تجارتی، احصائیه‌ها ی لازمه ، افکار و نظریات مشهور اقتصادیون ، ترجمه ها ی ابواب و فصول لازمهٔ کتب اقتصاد ، را نیز « ثروت » اگرزنده بود بتدریج یگان ـ یگان عرض نموده خواهد رفت ».

د تمهید په دوهمه برخه کې د « وقایع مهمه » تر عنوان لاندې خپله تگ لاره داسې بیانوی :

« ثروت همه حوادث خارجیه را که بر اقتصادیات مؤثر مهم باشد ، تحت عنوان فوق برای قارئین گرام ( گرامی یا کرام ـ ر ) خود نقل خواهد نمود، و اوقات مهمهٔ این روز ها عقد معاهدهٔ تجارتی انگلیس و روس ، کنفرانس مجمع بین المللی وضع اسلحهٔ عمومیه ، مسئلهٔ افیون میباشد . ثروت اینها را یگان ـــ یگان درج نموده معلومات داده خواهد رفت . »

بیا وروسته د « حوادث محلیه » تر عنوان لاندې له یوه اوږده تمهید نه وروسته د جنوبي د سنگلو دبغاوت د پېښې په باب خواشیني ښکاره شوې او دا ارتجاعی عمل دافغانستان د سعادت او نیکمرغی دد دښمنانو تحریک بلل شوی او پکې ویل شوی : « نیم ملا خطرهٔ ایمان است » او ددې بر خې په پای کې یې پېښنها د کړی چې د ملا یانوا و نیمچه ملا یانو تر منځ توپیر وله وا یستله شي او پرېښودل شي چې هرڅوک د علما ؤ لباس واغوندی او خلک د دین په جامه کې غلطی لارې ته تشویق کړي او بیا یې زیاتوی :

« ثروت بر خسارات اقتصادی که با فغانستان در نتیجهٔ این فتنه رسید . اگر چه کم باشد بازهم مخصوصاً متاسف است ، اناالله وانا الیه راجعون ، و صورتهای تلافی آنرا هرقدر که بفکر محرر رسی رسد در شماره های آینده وعده میدهد انشاء الله تعالی و نیز بر شبهه هائی که از نظا مناسه برخاسته افکار قاصرانهٔ خود را برای دور کردن اجنبیت آنها از طبایع ملت عزیز ، شرح و

Property of ACKU

بسط خواهد داد و همهٔ علمای حق گوی و حق شناس داخل و خارج وطن را باین جهاد مقدس که برعلیه بطلان جاری میکنیم دعوت میدهیم که بامقالات فاضلانه انصار ما شوند و یک آن زود تر ریشه دسایس وو ساوس شیاطین جن وانس را بر کنند.»

چې د اسان افغان د لیکنې په اساس په ثروت کې د همدا نیټې ملایانو یاد د ځینو کسانو د اعتراض او د ثروت د موقتي تعطیل سبب گرځیدلی دی.

د ثروت په اووم مخ کې د حاجي غلام محمد توخي چې د کندهار لوی تاجر و په سرلیکنه تاثر ښکاره شوی دی.

په همدې مخ کې د «نرخنامه» تر عنوان لاندې لیکل شوی:

«و یکی از مواد دایمی «ثروت» نرخنامه است قسط اول که خوردترین اقساط است تقدیم حضور قارئین گرام (کذا) میدار یم، نامه نگار ما امید است که زیاده تر اطلاعات بهتر سانده برود و ما نشر کرده برویم.»

له دې وروسته د پېښور نرخنامه د ۱۳۰۳ کال د میزان له اوومه را وروسته درج شوې ده.

د ثروت په اتم او وروستي مخ کې د ایران او روس د تجارتي معاهدې متن خپور شوی دی.

د پورتني تفصيل په اساس ویلی شو چې د ثروت ټول مطالب د اقتصاد د په شا او خوا څرخي چې حتی د ننگلو په پېښه کې هم د هیواد اقتصادي خسارې یاده شوې او حتی فوتي خبر یې هم په یوه تاجر پورې اړه لري. د ثروت تمهید په چې د دې جریدې نشراتي مرام تشکیلوي، په واضح ډول ښکاروي چې د دې مسلکي جریدې په ملي او بین المللي سویه نشراتو ته ملا تړلې وه

Property of ACKU

خوښکاره نه ده چې د دې کمهورۍ جریدې په ترکومه دوام کړی او د له منځه تګ علت به يې څه وی ؟ .

د ثروت خبره :

---

دثروت لوړی ترلاسه شوې کڼه اته مخونه لري ، دهر مخ سور ۲۲ او اوږده ۳۵ سانتي متره دی ، په هر مخ کې دوې ستنيې دي چې دهری ستنيې سور ۱۰ او اوږده ۳۰ سانتي متره دي .

دثروت په لوړی مخ کې ددوه خطه بار يك جدول دپاسه ښی خو اته شماره «۱» ، په منځ کې يې « سال اول » او تري لاندې په لينديو کې (۱) چې مخ تری مراد دی او د کرښې په پای کې « اول قوس ۱۳۰۳» لوستل کېږي .

له جدول نه لاندې ښی خواته په ترتيب سره :

قيمت

| | |
|---|---|
| اشتراك سالانه | ۶ ماهه |
| کابل سه نيم و پيه | دو روپيه |
| ولايات داخله هفت روپيه | چهارر وپيه |
| ممالك خارجه هشت روپيه | پنجروپيه |

قيمت يك نسخه در کابل هشت پيسه »

ليکل شوی دي

دمخ په منځ کې «ثروت» په لوی نستعليق خطايکل شوی او تری لاندې په دوو کرښو کې:

Property of ACKU

جریدهٔ پانزده روزهٔ اقتصادی
تجارتی، دینی، سیاسی»
لید ل کېږي
او کینې خواته داعبارات چاپ شوی:
«مدیر
صلاح الدین سلجوقی
اداره:
مطبعه تجارتی - کاظمی
متصل باغ عمومی
شماره (۱)

له دې نه را لاندې دوه دوه خطه جدول او نو په منځ کې د جریدې د خپرېدو تاریخ داسې درج شوی دی:

«بتاریخ اول برج قوس سنه ۱۳۰۳ شمسی مطابق ... شهر ربیع الثانی سنه ۱۳۴۳ هجری قمری.»

Property of ACKU

جلد دوم ، سال دوم

مقالات وارده به اداره است ، دارالتألیف آنرا پس نمیگرداند

اداره حق اصلاح ، و درج مقالات را دارا است

مجموعهٔ

تاریخی ، علمی ، ادبی ، اجتماعی ، اخلاقی ، تربیوی

# آئینهٔ عرفان

باحث از مساعی علمی و اکتشافات مدنی امت که بادارهٔ سی و هشت

تحریریهٔ دارالتالیف وزارت در هر ماه یکبار نشر میشود .

محل اداره : کابل - بستان سرای - وزارت معارف - دارالتالیف

برج جدی ، قوس ۱۳۰۳ ش

دارالسلطنهٔ کابل مطبعهٔ وزارت

دآیینه عرفان دمجلې دیوی گڼې لومړی مخ

Property of ACKU

# آئينهٔ عرفان

دې مجلې په حقيقت کې د معرف معارف د جيبي مجلې په ځای د پوهنې د وزارت له پلوه په خپرونو پيل وکړ، معرف معارف په ۱۲۹۸ ( له ۱۹۱۹ ع کال سره سم) کال کې سنځ ته راغلې وه او له دريو کالو خپرېدونه وروسته په ۱۳۰۰ ه (۱۹۲۲) کال له خپرېدو پاتې شوه.

د پوهنې دار وښا نه ډېر دوو کالو له پاره سره پاتې شوه او وروسته له هغه د ۱۳۰۳ کال په جوزا کې (۱۹۲۴ ع) بېرته د آئينهٔ عرفان په نامه بله شوه او په ډېر ښايسته ډول بې بوځلې رڼا خپره له خوښ رنګه چې د نوې جريدې، مجلې او ورځپاڼې په بوله پسې خپرېدله او کې مطبعه د پوه اساسي عامل په حيث ستره برخه لري نو ځکه د مطبعې ته د راوډل اړتو ر عوامل ددې باعث شول چې د آئينهٔ عرفان خپرېدل وځنډېږي او دوهم ځل له پاره په ۱۳۰۵ کال بوازې د ...

Property of ACKU

خپره شوه (۱) ترڅو چې په نادري دوره یعنې د ۱۳۱۰ کال په وروستیو کې لومړی په هماغه خپل پخواني نامه (آئینهٔ عرفان) او له هغې وروسته د «عرفان» په نامه خپره شوه او تراوسه خپرېږي.

ترکومه ځایه چې د آئینهٔ عرفان د مجلې لومړی مسؤل مدیر به څوک وو؟ ځکه د مجلې په پاڼو کې د مدیر یا سرمحرر نوم نه لیدل کېږي (۲) خو دومره ښکاره شوه چې د پوهنې وزارت د دارالتالیف ریاست د لیکوالو په همت له خوا خپرېدله (*). خو کله چې په ۱۳۱۰ کال کې بېرته راژوندۍ شوه او په خپرونو یې پیل وکړ، اروا ښاد هاشم شایق دې وظیفې ته اوږه ورکړه. په حقیقت کې له دې وخت نه را وروسته دا مجله په داسې ډول او بڼه خپرېدله چې له دې مجلې او خپرونې سره ورېږي. په دې کې شک نشته چې په اوله کې هم د نو موړې مجلې د نشراتي روش له پاره سم بنسټ ایښو دل شوی و. چې د لومړی کال اوومې او اتمې گڼې یې چې دواړې په یوه ټوټه کې خپرې شوې ـ دا مطالب خپاره کړي دي:

«فخررازی، سقراط، فلسفهٔ تربیه، استشهاد، انسان عالم صغیر است، برف ژسرما، حفظ الصحه، بنات النعش.»

نو موړې گڼې چې د مجلې لیکوالان اروا ښاد صلاح الدین سلجوقي، محمد زمان

---

(۱) جویا، سرور، مطبوعات و نشریات ما. کابل، ۹۰ گڼه، دوهم کال، د ۱۳۱۰ کال دلیندۍ لومړی (۱۹۳۹ کال دنومبر ۲۲) ۸۳ مخ ته.

(۲) د لومړی کال په ۸،۷ گڼه کې یې چې لیکوونکي ته ترلاسه شوی کوم نوم و نه لیدل شو.

(*) د آئینه عرفان له کلکسیون څخه ښکاري چې دا مجله له هماغه پیل نه دا روا ښاد هاشم شایق په څارنه خپرېدله. رفیع.

خان (طرزی ـ معروف په خازن الکتب) عبدالحق معلم ، قاری عبد الله معلم ، ظهورالدین او عبدالجبار و . (۳)

د نوموړو کسانو متن‌ښيي چې دلیکنو په خپرولو برسیره ځینې ژباړنې هم په آئینهٔ عرفان کې خپرېدلې، چې دده ي کتهود حفظ الصحي او بنات‌النعش مضمرتونه د واړه ژباړل شوي دي، په هرحال که تالیف دی یا ترجمه تر ډېره حده علمي دي چې د ښتیا هم د مجلې نشراتي لارې او سبک د هغې خپرېدل غوښتل د آئینهٔ عرفان په متن کې ځینې شعرونه هم ولیدل شول چې شعرونه یې غالباً علمي او تربیتي دي .

صحافت او مخ تړنه :

آئینهٔ عرفان په ۵م مخونو کې د پوهنې وزارت په مطبعه کې په ډبرین چاپ خپر یدله، مخونه یې یوه ستنیې لرې چې او ږده یې ۹ نیم انچه او سوریې‌ خلور انچه‌ ؤ.

د مجلې کچه په عمومي توگه (۸×۹) انچه ده ، د متن خط نستعلیق دی او سر لیکونه یې هم په لوی نستعلیق خط لیکل شوي دي .

د ائینه عرفا ن د پښتي په لومړي مخ کې دا لاندې مطالب لیکل شوي: د مخ د برني برخې په منځ کې د پوهنې نښان ( چې کتاب، مشواڼی اوتوره د دوو گلدارو و ډ یو په منځ کې ده ) راغلی او ښۍ خو اته یې دا عبارت خپور شوي : « مقالات وارده برباست ـ دارالتالیف آمده پس نمیگردد. » او کیڼې خواته یې دا عبارت کښل شوي : « اداره حق اصلاح و درج مقاله را دا را ست » ، له هغې وروسته د « مجموعه » کلمه او ترې لاندې د : « تاریخي ، علمي ، ادبي ، اجتماعي ، اخلاقي ، تربیوي » جملې لوستلی کېږي ؛ په‌دې کلماتو

(۳) عبدالحق معلم ، وروستني ملک‌الشعراء بیتاب. او قاري عبدالله هم د هېواد نامتو ملک‌الشعراء دی چې اوس دواړه وفات شوي دي .

پسې د مجلې نوم ( آئینه عرفان ) لیکل شوی دی ؛ د مجلې د نامه نه لاندې دا مطالب راغلي دي : « باحث از مساعی علمی و اکتشافات مدنی است که به همدستی هیئت تحریریه دارالتالیف وزارت ( معارف) در هر ماه یکبار نشر میشود » . « محل اداره : کابل — بستان سرای — وزارت معارف دار التالیف».

په تر لاسه شویو گڼو کې (۴) د مجلې د خپرېدو نیټه داسې راغلې ده :

« برج جدی — قوس ۱۳۰۳ ش »

د مجلې د مطالبو فهرست د پښتې په دوهم مخ کې خپور شوی دی . د پښتې په څلورم مخ کې یو اعلان د مجلې د اشتراک په باب لیدل کېږي او بل اعلان په مجله کې د اعلان ورکولو په هکله خپور شوی دی چې لیکي :

« اشتهارا را تیکه بهت علوم و فنون باشد به هر پنج کلمه یک پیسه اخذ شده درج خواهد یافت، اشتهارات یک مضمون از سه دفعه زیاده درج نخواهد گردید.»

له دې اعلان څخه څرگندېږي چې د آئینه عرفان نشراتي روش په مجله کې د ننه د اعلان خپرېدلو اجازه ورکوله .

د مجلې اشتراک :

| | |
|---|---|
| « سالیانه در داخل | هشت روپیه کابلی |
| سالیانه در خارج | شش روپیه کلدار یا دو ربله |
| یک جلد در داخل | ۳ / ۴ روپیه (۴۵) پیسه |
| یک جلد در خارج | یک روپیه با قیمت پشتی آن . » |

برای اهل علم و نویسندگان مجله رایگان .

برای معلمین ، معلمات طلاب و طالبات نصف قیمت . »

(۴) د آئینه عرفان د لومړی کال ۷ او ۸ گڼې ښاغلي حبیب الله رفیع لیکوال ته وسپارلې چې په ډېره مننه سې استفاده تری وکړه.

Property of ACKU

## مجموعهٔ صحیه

مجموعه صحیه هم داختصاصی خپرونوله ډلې څخه وه او په میاشتنی ډول لو سړی ځل د ۱۳۰۶ کال د لیندۍ په اوومې نیټه (۱۹۲۷) د روغتیا دمستقل مدیریت له خوا خپره شوه (۱).

دمجلې مسئول مدیر او لیکو نکی خدا ی بښلی حسن سلیمی و ، دا مجله چې د « خادم حیات و صحت عموم طبقات جامعه » تر شعار لاندې خپریدله ، کته مته لکه آئینه عرفان غوندې دیوې تختی کاغذ په خلورمه برخه ۱۶×۲۳ سانتی مترو په کچه وه ، . دمخونو شمیر یې ۳۲ ته رسیده ، لو مړی او د وهمه گڼه یې د رفیق په مطبعه کی په ډبرین چاپ خپرې شوې او و روسته له هغې له ۳–۱ گڼې پورې دامان افغان په حروفی مطبعه کې خپر یدله ، دری وروستنۍ

---

(۱) جو یا ، مطبوعات و نشریات ما ، ۷۳ ، ۸۳ مخونه.

Property of ACKU

ګڼې یې همدشرکت رفیق په مطبعه کې خپرې او خورې شوې (۲) .

وایه شي چې نوموړې مجله په وړیاتوګه لوستونکوته وېشله کېدله او مقالې یې اکثره د طب دډاکترانو په وسیله لیکلې کېدلې (۳) .

مجموعه صحیه په ۱۳۰۷ کال کې له خپرېدو څخه پاتې شوه خو د ۱۳۱۰ کال دجوزا له ۳۰ نېټې نه بېرته را ژوندۍشوه او دمرحوم عبدالرشید لطیفي په سرمحرریت یې دانیس په مطبعه کې خپلو خپرونو ته دوام ورکړ . د دې مجلې په راوروسته کلو نوکې د پیام تند رستي او بیا روغتیا په نامه دپه زړه پورې او ګټوروصحي لارښودنو په خپرولو سره خپله وظیفه ترسره کړې ده .

(*) ښاغلی آهنګ له زیات لټون سره — سره نه ؤ بریالی شوی چې د«مجموعه صحیه » دامانی دورې ګڼې ترلاسه کړي خو اوس چې ما د دې مجلې د وې ګڼې اویوه فوق العاده تر لاسه کړې دي، ګټو له مخې معلومات وړاندې کوم: دسامخې ته د « مجموعه صحیه » دلومړي کال شپږ مه او واتمه (۴) ګڼه پرتې دي ، ددواړو کچه ۱۳×۲۰ سانتي متره ده لکه ښاغلی مایل چه لیکلي ۱۴×۳۳ سانتي متره او هره ګڼه یې ۴۲ مخو نه لري .

د پښتې په لومړي مخ کې له برې خوا څخه له ۴سانتي متره سپین والي څخه

---

(۲) مایل ، معرفي روزنامه ها... (۵) مخ .

(۳) جویاء مطبوعات و نشریات ما ، کابل ، ۸۰مخ. دمجلې دخپرېدو وتاریخ نه جویا لیکلي او نه په کابل کالنۍ کې راغلي دي .

(*) نوردي وروسته مطالب د«مجموعه صحیه» ترپایه پورې دڅېړونکي له خوا لیکل شوي دي.

(۴) دمجموعه صحیه اتمه ګڼه ښاغلي محمداکبر عشیق له خپل ځاني کتابتون څخه را کړې چې په دې وسیله دده له دې مرستې د زړه له کومې مننه کوم .

را لاندې د « مجموعهٔ صحیه » نوم په تزیینی خط لیکل شوی، ترې لاندې په ۱۶ بندې تورو «سال تاسیس ۱۳۰۶ » لیکل شوي او ترې لاندې په یوه بله کرښه کې په همدې تورو « ازطرف مدیریت مستقله طبیهٔ درهر ماه نشرو مجانا توزیع میشود » . بیا دټول مخ په ساره دد وو جدولو ترسنځ :

شمارهٔ — ۶ سال اول

لیکل شوی دی، له جدول نه را لاندې د مجلې « مندرجات » په دې ډول را غلی :

آلکل بقلم آقای دکتر حیدر عصمت بیک

ارضاع شیر دادن بقلم آقای دکتر رفقی کامل مشاورطبیه

پرهیز نامه بقلم آقای دکتر یونس خان

طبیب سفارت افغانی درطهران

بیا یو جدول غزول شوی او تر جدول لاندې لیکل شوی :

« اول ثور — ۱۳۰۷ — کابل — مطبع امان افغان »

دپښتې دوهم او دریم مخونه دتعامل سره سم سپین دی او دپښتې په څلورم مخ کې په شپږمه کښه کې د « تشکر او قدر دانی » تر عنوان لاندې یو بیا د ونه را غلي او د اتمې کښې په دې مخ کې د « تصحیح » تر عنوان لاندې داووه کښې یو مطلب تصحیح شوی دی .

دمتن ترتیب یې داسې دی چې دهر مخ په پیل کې یو جدول اچول شوی دجدول دپاسه په ترتیب لو سړی شماره، په منځ کې دمخ نومره او د جدول دوړو ستې برخې دپاسه نشراتی کال ښودل شوي دي ، دمقالو عنوانونه په لویو تورو ترتیب شوي دي .

Property of ACKU

ځینې مقالې د صفحې له پیل څخه او ځینې نورې بیا د صفحې له منځ څخه پیل شوې دي .

**د مجموعه صحیه مطالب :**

د مجموعه صحیه مطالب لکه له نامه څخه یې چې ښکاري د طب او طبي لارښوونو په باب دي .

په تېرلاسه شویو دوو ګڼو کې د « تأثیرات الکول و عواقب و خیمهٔ آن» « ارضاع » ، « پرهیز نامه » ، « خنک زدګی - قابل توجه اهالی قندهار» ، « ارضاع صناعی » ، « بازګشت صدای مجموعه صحیه ما » او « اغذیه » تر سرلیکونو لاندې مطالب خپاره شوي دي .

څرنګه چې مجله د ټولو له پاره وه نو ځکه یې تر ډېره ځایه د مضمونو ژبه ساده او عام فهمه ده ، خو ځینې مقالې یې بیا د زنې او له مسلکي لغاتو څخه ډکې دي چې دا کار د ضرورت له مخې شوی او د طب زیات اصطلاحات دي چې په عامه ژبه نشي اړول کېدلای .

د « بازګشت صدای مجموعه صحیهٔ ما » تر سرلیک لاندې چې د دې مجلې په اتمه ګڼه کې ځینې مطالب خپاره شوي د مجلې د کار او د صحیې د مدیریت د کار په باب په زړه پورې معلومات لري چې موږ یې د لته مهم ټکي را اخلو .

د مجلې دفتر ته په هند کې د افغانی ژنرال قونسلګرۍ له خوا یو لیک راغلی چې دوی له یوې مقدمې او یوې تبصرې سره خپور کړی دی. د مجلې اداره د لیک له متونه و ړاندې لیکي :

« خیلی خوشو قتیم ا زینکه بو سیلهٔ نشر مجموعه صحیه یک قسمت از

وظایف رسمی و یک حصه از آرزو های حکومت متبوعه خود مان را عملی نمودیم همه میدانیم که قبل از همه چیز برای مردم صحت لازم است. ترقی و آبادانی مملکت ووطن مربوط به بازوان توانا و جسد های سالم است. آیا اگرقبرستانی را پر ازگل و لاله و ریحان و سنبل بسازند ، بحال مردگان و خفتگان ابدی آن ناحیه فایدهٔ خواهد داشت؟ مسلماًنی ! مدنیت امروز اروپا اگر بنظر تدقیق بنگرید خواهیدد ید که شالودهٔ آن روی سعی و عمل گذاشته شده ...»

بیا پوښتنه کوی : چې هانداو هغه په کوم ملت کې لیدل کیږی ؟ او ځواب ورکوي : په هغه ملت کې چې غړی یې ناروغ نه وی ، غړی یې په پیاو ړو ستو او روغ تن په اجتماعی ه گړکې په کار او زیار بوخت وي او هانداو هغه رښتیا هم په داسې ملت کې لیدل کیږي او ناسونشي کولای له داسې ملت نه چې زیاته برخه غړي یې په ډول ډول رنځونو اخته وی او عموما له مورنه نا روغ زیږي دزیار او هانده‌یله ولري. او ور پسې لیکې :

« در روی همین پرنسیب و نظریه بود که مدیریت مستقله طبیه اقدام به نشر یك مجله صحی نمود . مجموعه صحیه درین قسمت وظیفه مهمی دارد و حتی الوسع کوشش نموده است که اقلا بوسیله مندرجات نافعی اهالی را به زندگانی صحیح و صحی آشنا نمایند . البته از طرف دیگر مدیریت مستقله طبیه درحدود اختیارات رسمی و قانونی کوشش نموده است که وسایل وسایل جلوگیری از امراض را بتوسط تأسیس شفاخانه ها ، استخدام دکتر های متخصص و وارد کردن ادویه لازمه و غیره امور متعلقه خود تهیه نماید . »

ور پسې په هند کې دافغانی قونسلگری له خوا راغلی لیک په دې ډول پیلیږی:

« مجموعه صحیه که در هرماه از طرف آن مدیریت محترم یکبار نشرومجانا توزیع میشود ، به ماهم رسیده موجب تشکر و امتنان ما میگردید و مضامین مندرجه آن خیلی اعلی و بفارسی زود فهم و ساده نوشته شده مجموعه مذکور برای مطالعه هر عایله بسیار مفید است ، ما این تشبث و جدیت حضرت عالی و اولیای امور آن دایره را در امور صحیه افغانستان به نظر های تقدیر دیده برای موفقیت های بزرگتر شما دعا و بر تأسیس این مجموعه نافع تبریکات صمیمانهٔ خود را بشما می فرستیم . »

په لیک کې وروسته د گرځندو روغتونو په باب والاسی خبرې شوې او د افغانستان له پاره ضروری بلل شوې او په پای کې له دې کبله چه په افغانستان کې د روغتونو ټول لگښت د دولت په غاړه دی او خلک برخه نه پکې لری هغه پیشنهادونه چې په زړه کې یې وو گرځېدلی دی پرېږدی او ترې تېرېږي .

له مکتوب نه وروسته د مجلی اداری خپله مننه په دې ډول څرگنده کړې ده :

« ما از ژنرال قو نسلگری افغانی مقیم هند متشکر یم که بنام معاونت اجتماعیه از اظهار امداد و کمک خود داری نکرده اند ، و امیدواریم از توجهات اعلیحضرت ملت دوست غازی که مرحمت خاصی نسبت به این مؤسسه دارند . ( چنانچه در ایام مسافرت ذات شاهانه در اروپا با وجود مشغولیتهای زیاد یک مبلغ مهمی را ادویه لازمه برای شفاخانهای وطن عزیز امر خریدن فرمودند . ) مدیریت مستقله طبیه موفق به انجام بهترین

Property of ACKU

خدمت گردد و یک قسمت از آرزو های شاهانه را راجع به اصلاح امور صحی عملی سازد . »

د تبصری په ورو ستی برخه کی یی د گرځندو رو غتونو د جوړو لو په باب و عده و رکړی او تبصره یې ختمه کړې ده .

همدا رازمانه دد ې مجلې یوه فوق العاده گڼه چې « علاوهٔ مجموعهٔ صحیه » بلله شوې هم لاس ته را غلې ده ، د دې گڼې کچه ۱۶ نیم × ۱۰ سانتی متره ده ، د پښتې کاغذ یې زړ شکری ډوله نری کاغذ دی چې د سراج الاخبار او امان افغان د پښتې پاڼې ته ورته ښکاري ، د متن کاغذ یې سپین ، چاپ یې حروفی ، د مخونو شمیر یې ۳۲ او د شرکت رفیق په مطبعه کې خپره شوې ده .

دد ې فوق العاده ی متن د ورزش او د هغې د گټو په باب د ی او دورزښت په باره کی د هغه کنفرانس په تعقیب چی په وخت د تولوا لکه اعلیحضر ت غازی امان الله خان له خوا د پغمان په « صحنه تمثیل » کې و رکړ شوی ؤ ، خپره شوې ده .

په د ې باب دد ې علاوې په لومړ ی مخ کې د « یادداشت » ترعنوان لاندې لیکل شوی :

« البته قارئین محترم چند روز قبل نصائح و اندرز ها ی پدرانه اعلیحضرت محبوب غازی را راجع به ورزش وفوائد آن در « صحنه تمثیل » پغمان شنید ند .

« ادارهٔ مجموعهٔ صحیه در اثر آن فرما یشات قیمت دار خواست یک علاوهٔ بز بان ساده و عا میا نه بطور هدیه بخوا نند گا ن خو د تقد یم کند .

« اینک مؤفق به نشر یک مجله کوچک گردیده و امیدوار است خوانندگان عزیز هرچه زودتر برای سلامتی وجود و جلوگیری ازین رخاوت و تنبلی که سراسر این محیط را فرا گرفته بر توسعهٔ این عمل مفید و مستحسن همت گماشته و فرمایش ملوکانه را آویزهٔ گوش خود ساخته، دیگر پی استراحت مطلقه و سکونت همیشگی نگردند. تا با بازوان توانا و پنجه فولادین در میدان مبارزه حیات داخل شده و بتوانند با ملل زنده و نیرومند عالم همسری کنند. (اداره) »

د علاوې په ډول په همدغه ګڼه کې د وخت د پاچا د هغې وینا چې د پغمان په صحنه نمایش کې یې د سپورټ او ورزښت په باب په عامیانه ژبه کړې وه او خپور شوی، دده وینا لنډیز چې د ۱۳۰۷ کال د سرطان په ۲۳ نیټه یې کړې دا دی:

« من می بینم که غالب اهالی کابل مخصوصاً مامورین چون بیماران مزمن گاهی از خانه بیرون نمی شوند و هیچ میلی به گردش و هواخوری و تفریح ندارند، سرکها و خیابانهای کابل و دارالامان و پغمان بکلی خالی از عابرین است.

« این وضع تنبلی ملت را نمایش میدهد درصورتیکه آرزو دارم، ملت افغان در میان ملل دیگر خطاب « سپورتنگ » را داشته باشند. با ید عملیات ورزش در هر صورتیکه ممکن است در میان شما رواج پیدا کند.

« و اقلاً اگر هیچ کاری کرده نمیتوانید، راه رفتن و دویدن و تیز زدن و امثال این حرکات عادی را عار نه پنداشته، از زمین رخاوت و سستی خود را نجات بدهید. »

« دد ې کڼي په دریم مخ کې اصلي متن چې د « ورزش و فوائد آن » عنوان لري خپور شوی دی ؛ په پای کې یې د وه صحي خبرونه چې یو د وخت پاچا له خوا په ګرد یز کې د « حلیمه خانم » په نامه د یوه روغتون د بنسټ ایښودلو په باب او بل یې دهیواد دلوېرنی ستنا تو ریم نهد خلوېښتم کلیزې د نارو غانو د وتلو او د نه کېدلو په باب دی چې د « مژده برای مسلولین » تر عنوان لاندې خپور شوی دی .

د دې علاوه د ټولنې په لومړي مخ کې دا لاندې لیکنې هم ښکاري :

لومړی : « علاوهٔ مجموعهٔ صحیه » غالباً په ۱۸ ټکي حروفو ؛ بیا « ورزش و فوائد آن » غالباً په ۲۴ او یا ۳۰ ټکي حروفو ، بیا وروسته له یوه برنجي تزئیني جدول نه لاندې : « از طرف مدیریت مستقله طبیه مجاناً نشر گردید » غالباً په ۱۶ ټکي حروفو ، ورپسې : « در مطبعهٔ رفیق به طبع رسید » په ۱۶ ټکي حروفو او د پای په کرښه کې : « اسد — ۷ — ۱۳۰۳ » خپاره شوې دی.

د ټولنې دوهم ، دریم او څلورم مخونه سپین دي .

د مجموعهٔ صحیې د تر لاسه شوو ګڼو او فوق العاده ګڼو د مشخصاتو او متن په رڼا کې دد ې مجلې په باب دا لاندې خبرې تر لاسه کېږي :

— د مجموعهٔ صحیې ټول مطالب د روغتیا او روغتیا ساتنې سره مربوط معلومات او په باب وو .

— ژبه یې تر ډېره حده عامیانه او د خلکو په سویه وه .

— د دې مجموعې په پای کې په صحي مضمونو برسېره خبرونه هم خپرېدل

— خلکوته ورياوروښلل کېدله .

— په عادي ګڼو سربېره يې کله — کله فوق العاده ګڼې هم خپرولې.

— کچه يې کوچنۍ او جيبي وه .

— طبع يې حروفي وه .

— د چاپ ځاى يې د شرکت رفيق مطبعه وه .

— د طبيبي د مستقل مدير يت له خوا خپرېدله .

— د مدير يا محرر پته يې نه لګى .

— په هره مياشت کې يو ځل خپرېدله .

Property of ACKU

# پښتون ږغ

د پښتون ږغ مجله په ۱۳۰۷ ه کال کښې (۱۹۲۸ ع) هره میاشت په پنځلسو مخونو کښې د امان افغان په مطبعه کښې په حروفي چاپ خپرېدله؛ مرحوم جویا د «ملي» کلمه دد ې مجلې د نامه سره یوځای لیکلې ده خو معلومه نه ده چې رښتیا هم لکه انیس، نسیم سحر او نورو ورځنو ندې په خصوصي او شخصي ډول خپرېدله او که نه؟ خود «ملي» له کلمې څخه چې څه ترلاسه کېږي دا دی چې په خصوصي ډول به خپرېدله.

مرحوم جویا یې مسئول مدیر د فیض محمدخان ناصري په نامه ښودلی(۱) او زیاته کړې یې ده چې د مجلې نیمایي مخونه په دري او نیم نور یې په پښتو خپرېدل او هم یې نشراتي هدف د ملي حقوقو، ملي ادبیاتو او ملي اقتصاد

(۱) د ۱۳۱۱ کال کابل کالنۍ هم همدا سړی ښودلی، ۱۰۶ مخ.

Property of ACKU

پهٔ هکله ښودل شوی. دمجلې لوی نشراتی هدف د دری ژبې دلیکنې اووینا د سبک لارښودنې او د پښتو ملي ژبې را ژوندی کول وو.

د ۱۳۱۱ کال د کابل کالنی او د مرحوم جویا دلیکنو له مخې د پښتون ږغ په نشراتي چاروکې میر سید قاسم او ښاغلي عبدالهادی داوی هم برخه درلوده.

د پښتون ږغ مجله د خپلې لومړی گڼې له خپرولو نه وروسته لـه خپریدو څخه پاتې شوه (۲).

(*) استاد داوی د دې مجلې په باب د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: د پښتون ږغ مجلې تر راوتلو مخکې د دې مجلې په باب یو مجلس جوړ شوی ؤ چې زه هم پکې وم، لومړی د مجلې له پاره یوازې د «پښتون» نوم پیشنهاد شو خو ما د دې پیشنهاد په برخه کې و ویل څرنگه چې د «پښتون» په نامه مجله په پېښور کې د خان عبدالغفار خان له خوا خپرېږي نو ځکه د دې مجلې نوم باید له هغه سره توپیر ولری، هماغه ؤ چې د مجلې نوم پښتون ږغ ومنل شو. استاد داوی زیاته کړه چې فکر کوم دا مجله به تر خلورو گڼو پورې خپره شوی وی او ښایي کومه گڼه زما په کتابتون کې هم وی خو موندل بې را ته مشکل دی. د وی هم د مجلې چلوونکی فیض محمدخان ناصری وبود.

(۲) مرحوم جویا (مطبوعات ونشریات ما، کابل، دوهم کال، ۹ گڼه، ۸۰ - ۸۱ مخونه) لیکلی دی چې د شینوارو د کورنی اړدو ړیه شر و کی له خپریدو څخه پاتې شوه، او کابل کالنی (۱۳۱۱ ش ۱۳۶ مخ) وایي چې د مشرقي د لوری له انقلاب نه وروسته یې سقوط وکړ خو یوه هم نه ده څرگنده کړی چې دمجلې سقوط له اغتشاش سره څه اړه درلوده؟
(*) دا برخه دبحث تر پایه ژباړونکي لیکلی ده.

Property of ACKU

# جریده مکتب (*)

دا جریده په ۱۳۰۸ (۱۹۲۹) کال کې د پوهنې د زده کوونکو له پاره تأسیس شوه او دا سانیه د ښوونځی له خوا د ښوونځی د زده کوونکی ښاغلی جلال الدین په چلونه خپرېده .

دا علمی ، ادبی ، تربیتی اوفکاهی جریده په اوله کې په تیږو مخونو کې په حروفی چاپ دانیس په مطبعه کې خپرېده .

(*) څرنګه چې د مکتب دجریدې کومه ګڼه په لاس کې نشته نو ځکه معلومه نه شوه چې دا جریده رښتیا هم په ۱۳۰۸ کال خپره شوې او که له هغه نه مخکې ؟ خو که په دې کال خپره شوې وي نو بیا د امانی دورې په خپرونو کې نه شمېرله کېږي - رفیع .

Property of ACKU

د مکتب جریده له پنځلسمې گڼې نه وروسته په مؤقتې ډول له خپریدو څخه پاتې شوه . د ځنډ یدو علت د مطبعې تهیه کېدل ښودل شوی خو خرگنده نه شوه چې مطبعه یې پیدا کړه او بیر ته یې په خپرو نو پیل و کړ که نه ؟ و س یې پته نشته .

Property of ACKU

شلورم څپرکی



خصوصي جريدې

Property of ACKU

## خصوصي جريدې

د ۱۹۱۹-او-۱۹۲۹ع (۱۲۹۸-۱۳۰۷ ش) کلو ترمنځ د هېواد په مطبوعاتي نهضت او پراختيا کې يو بل نوی ګام هم اخستل شوی دی. په همدې وخت کې و وچې ملي يا خصوصي جريدې (۱) منځ ته راغلې او د دولتي ورځپاڼو او جريدو په څنګ کې يې په خپرونو پيل وکړ.

که د هغې ورځې ملي او نړيوال شرايط په نظر کې ونيسو نو د دې ډول جريدو خپرېدل او تأسيس له ضرورياتو څخه ګڼل کېږي، ځکه په همدې

(۱) «ملي» نوم له همدې دورې څخه هغو جريدو ته اخيستل کيده چې په آزاد او شخصي ډول بې د حکومت له پولي ملاتړ څخه خپرېدلې؛ نو که له دې اصطلاح څخه شخصي او يا لکه څرنګه چې په خپله دا نيس مديرليکلې خصوصي يا تجارتي مراد شي ښه به وي.

دوره کې سربېره پردې چې په نظري ساحه کې قانون جوړولو دوام درلود، د دې قانونو د تطبیق او عملي کولو له پاره هم په هېواد کې هڅې روانې وې لکه چې د صلاحیت لرونکو کسانو (د دولت د وزیرانو په مشوره تر ریاست لاندې د هېواد داخلي چارو د سمون او تنظیم له پاره هیأتونه تعیین او د هېواد د ولایاتو ته ولېږل شول چې امان افغان، اتحاد مشرقي، طلوع افغان او نورو جریدو د افعالیتونه په بشپړ او پوره ډول لیکلي او د هغوی هڅونه بې څرګند کړي دي او هم یې د سربوطو هیأتونو د انتظامي کړو جریان په خپل خپل وخت خپراوه.

پوهنې پرمختګ کړ، نوي فکرونه له داخل او خارج څخه د اطلاعاتو د وسیلو په ذریعه خواره شول، د هېواد ځینې روڼ فکره کسان له هغو جریدو او ورځپاڼو څخه چې په نورو هېوادو کې خپرېدلې خبر شول او له دې ټولو نه چې تېر شو په خپله حکومتي جریدو هم د فکر او مطبوعاتو د آزادي په څرګندولو کې کوله؛ لکه چې امان افغان(۲) په دې باب پوره خبرې کړې دي او په دې سربېره د هغه وخت اساسي قانون د مطبوعاتو په برخه کې داسې وایي:

«چاپي کتابونه یا پاڼې یا اخبارونه په دننه افغانستان کې هم له خپلو نظامنامو سره آزاد دي، خپرول او جاري کول د اخبارونو له حقوقو څخه د حکومت یا د رعیتو د افغانستان دي، د خارجه مطبوعاتو په باب کې لوړ دولت د افغانستان څه شرطونه او قیدونه ایښودای سي.» (۳).

(۲) امان افغان، دوهم کال، ۲۶ ګڼه

(۳) اساسي نظامنامه د لوړ دولت د افغانستان، د ۱۳۰۲ کال دوړی ۹ (۱) پښتو اصل، ۶ مخ، ۱۱ ماده.

Property of ACKU

دمطبوعاتو نظامنامه هم ترتيب شوه او دجريدو ، ورځپاڼو او لازمو خبرونو دخپرېدو شرايط يې په بېلو-بېلو برخو کې څرګند او څرګند کړل(٣)

په دې دوره کې افغانستان نه يوازې ديوه آزاد هېواد په توګه نړيوالو ته وروپېژندل شو. بلکه دداسې هېواد په توګه چې داصلاحاتو او ديموکراسۍ په لورېې ګامونه اوچتول هم ورمعرفي شو. د «اخګر»، «حبل المتين» ، «چهره‌نما» ، «آزادئ شرق» او نورو جريدو په دې برخه کې مقالې خپرې کړې او دافغانستان دنهضت په بېلو-بېلو برخو يې پوره رڼا اچولې ده ؛ هغه زده کوونکي چې دزده کړې له پاره خارج ته تللي وو ددې دورې په وروستيو وختو کې يې ځينې لانويو افکارو سره بېرته هېواد ته راغلل او سربېره پر دې‌دنړۍ له هېوادو سره دافغانستان اړيکې ددې سبب شوې چې ځينې خارجي متخصصين او پوهان ياد کارونو ته سره کولو او ياد خپلو هېوادو دسياسي چارو دپرمخ بيولو له پاره افغانستان ته راشي چې دې هم تر يوې اندازې په هېواد کې د نوې او تازه مفکورې په منځ ته راتګ اغېزه درلوده .

شک نشته چې داوخت ځينې اروپايي هېوادونو او امريکاد خپرونو او

(٣) دمطبوعاتو نظامنامه دتحريرات حضور او دوخت دوزيرانو دعالي مجلس ددايرې په مطبعه کې د ١٣٠٣ کال دجدي په ١٠ نېټه‌دوه زره توکه خپره شوه(چې‌متن يې دهمدې اثر دنښلونو په برخه کې راغلی . رفيع ).

Property of ACKU

اطلاعاتو په نړۍ کې یوه نسبي آزادي تر لاسه کړې وه (۵) چې دهغې په رڼا کې ځینې مؤسسو او اشخاصو په آزادانه ډول دخپرونو په کار کوټې پورې کړې وې چې حتی دژورندانه دکولو او دمادي ګټې دوسیلې په توګه یې استفاده ترې کوله او دهمدې پخوانی توب او ورو مبنې پیل په اثر دی چې لا تر اوسه هم په لویدیځ خصوصاً امریکا کې نشراتي کمپنۍ زیاته ګټه او کار له دې لارې څخه په لاس کې لري .

دپورتنیو دلایلو په اساس (چې دبرلنډ یادشول) په افغانستان کې هم یوه داسې روحیه راښکاره نه شوه چې ځینې کسان داجتماعي چارو او دورځنیو پېښو دجریان په خپرولو او خورولو په آزادانه ډول لاس پورې کړي .

لکه کله چې ارواښاد محي الدین انیس، دانیس جریده خپروله د: «چرا جراید ساسقوط میکنند؟» تر سرلیک لاندې یې او ږده مقاله خپره کړه (۶) په دې مقاله کې یې چې په دې ترڅ کې دلایل وړاندې کړي، څرګنده کړې ده :
«سر ادا زجراید درین بحث (رقم) ملی یاتجارتی است، یعنی همان جریدهٔ که یك و یاچند نفر سرمایهٔ آنرا تعیین داده ،بخواهند بمانند یك تاجر به فلسفهٔ تبادل احتیاجات ایمان داشته بعملیات تبادل اقدام میکند و هم درعین زمان موفق و کامیاب می آید ، نیز اینها احتیاجات فکری و ذهنی عموم راتهیه داده

(۵) امان افغان، ۳ کال، ۹—۱۰ ګڼه. اخبار لیکنه یې تر تولو حیواد و په امریکا کې وړاندې لیکلې ده.

(۶) انیس، ۲ کال، ۳۵ ګڼه ۲—۸ مخ. د ۱۳۰۷ د لیندۍ ۳۱

Property of ACKU

بالمقابل از ایشان به قرار همان فلسفه که اساس العمل تاجراست فایده میگیرند . » .

په همدې ترتیب او دهمدې اساس له مخې د ۱۲۹۸-۱۳۰۸ (۱۹۱۹-۱۹۲۹) کلو ترمنځ موده کې په افغانستان کې درې جریدې منځ ته راغلې چې له انیس (۱۹۲۷-تراوسه پورې)، نسیم سحر (۱۹۲۷-۱۹۲۸) او نوروز (۱۹۲۸-۱۹۲۹) څخه عبارت دي .


نوموړو جریدو د ستن او هدف له پلوه بېلې -بېلې لارې درلودې چې وروسته به پوره څېړې وکړو خو کوم څېز چې غواړو دلته یې یادونه وکړو، دادی چې دخپلوالکېنې او فکرې او عرفانی خدمت له پلوه انیس ترټولو وړاندې ؤ، څکه چې انیس له یوې خوا دټولو له ذوق سره د سمې جریدې په توګه خپل ستن عمومي مسا بلوته وقف کاوه چې دې کار په خپله د تیرا ژ په داوړ و الی او د لوستو نکو په ډیروالی اغیزه درلوده او له بله پلوه یې مسؤول مدیر هم داسې سړی ؤ چې دترسره کړي کار په کتلو سره یې دخپل وخت دډېر ښه لیکوتکې او ژورنالیست په توګه پېژندلی شو، او له بل لوری همدا انیس ؤ چې دنسبتاً پوره تخنیکي وسا یلو په درلودلو سره یې دخان له پاره طباعتي دستګاه جوړه کړه او د یوې په خپلو پښو ولاړې مؤسسې په توګه یې خپلو نشراتو ته ادامه ورکړه .

په دوو نورو پاتې جریدو کې ډېره سخته ده چې یوه یې له بلې نه ښه وبولو څکه هرې یوې یې د خپل مسلک په چوکاټ کې داجتماعی ژوندیوه لړۍ هدف ته کلې وه او دهغې په شاو خوا کې یې خپرونې کولې . یوه خبره چې ددوا ړو په برخه کې د تأثیدوړ ده داده چې رښتیاهم ددې جریدو منځ

ته راتګ هېوا دوالو ته دخدمت او ددوی د ذوق او هیلو د ترسره کېدو له له پاره ډېر ضروری او لازم ؤ او باید ته تراوسه پورې ددې جریدو خپرېدل ډېر په ځای او مناسب وو.

د لته مخکې له دې چې د دې جریدو په پېژندګلوی کوټې پورې کړو دیوې مهمې موضوع یادونه ضروري ده او هغه داچې ددې ټولو جریدو او اخبارو خپرېدل دافغانستان دمطبوعاتو په تاریخ کې دیوه نوي فصل پیلېدل دي، چې دانوی فصل دآزادو او خصوصی جریدو له خپرېدلو څخه عبارت دی او دا باب دو مخلې نور هم زیرو په تاریخ کې تکرار شوی یو په ۱۹۵۳-۱۹۵۴ کلو کې او وروستي دوره ۱۳۴۴ ش کال له او اخرو څخه.

Property of ACKU



امتیاز و سر محرر مسئول

(مراسلات بنام سر محرر فرستاده شود)

عنوان مراسلات

کابل اداره انیس جاده ولی

شماره ٤٤

انیس

تأسیس

علمی قانونی اجتماعی

ادبی صحی

فکاهی

٧ ١٤ ٢٫٠ ٢٨

هر ماه شمسی نشر میشود

نمبر ٢١ مجلد دوم

(٥ شنبه ٧ سنبله)

٥

(٣٠ برج آگست)

مقررات لویه جرگه

که در [illegible] بپاله

تشکیل شورای ملی

مصوبه [illegible] شنبه ٦ سنبله

شورای دولت بشورای ملی تبدیل گردید.

شورای ملی مشابه

قانون جداگانه خود اعضای وظیفه بی نماید

عفو مجازات مجرمین نسبت

به آثار صلاح وتوبه

مصوبه روز ٥ شنبه ٧ سنبله

دوائریکه قبلاً صلاحیت منظوری آثار توبه و صلاح را داشتند بعد ازین اختیارات شان سلب گردید عفو مجازات سبب از حقوق جلیله پادشاهیست.

تشکیل دایره تفتیشیه عمومیه

برای تفتیش اجراآت وزارت خانه ها یک دائره تفتیشیه عمومی تشکیل [illegible].

این دائره دائماً عضو هایونی مربوط و مسئول بوده عندالزوم بارادهٔ سنیه و یا بنابر پیشنهاد شورای ملی، پس از اجازه هایونی به تفتیش اجراآت وزارت

ها و یا دوائر مربوطهٔ وزارات مطابق قانون مخصوص خود میپردازد.

تقرر یک هیئت تفتیش مرکزی هر وزارت

و دائره مستقله علیحده

در مرکز هر وزارت و دائره مستقله یک یک هیئت تفتیشیه مقرر گردید هر وزیر و یا مدیر مستقله که عندالزوم و یا وقتاً فوقتاً تفتیش دوائر مربوطهٔ خود را لزوم ببیند

این هیئت ها بامر رئیس الوزرا و وزیر یا مدیر مستقله منسوبه آن مطابق نظامنامهٔ جداگانهٔ خود به تفتیش [illegible] میپردازند.

تأسیس دارالعجزه ودارالمجانین

مصوبه روز ٧ سنبله

تأسیس یک یک دارالعجزه و دارالمجانین در مرکز هر ولایت و حکومت اعلی منظور است.

ولی مصارفات اینها مطابق جداول علیحده که از جانب وکلای لویه جرگه و سایر جمعیت منتخبه تعین شده و وکلای علت [illegible] افغانستان [illegible] ویزنی افزود وقبول کرده اند برداشته میشود. عجزه و مجانین مطابق قوانین مخصوصهٔ شان بصفات و شرایطی که تصریح و محدود خواهد شد بدارالعجزه

دانیس دملی جریدی یوه گڼه

Property of ACKU

# انیس

**اهداف او لوستونکي:**

**«انیس طفلک نوزاد دست د رعالم مطبوعات، میخواهد در اوقات فراغ ندیم درساعتهای کار معاون، در امور مشکله مشاور، در حالات غم و اندوه سمیر والحاصل درحیات فکری و عملی عموم مخصوصاً فریق مامورین مونس و خدمتگار گردد»**

**د پورتني مطلب په لیکلو سره انیس د ۱۳۰۶ کال د وری په ۱۵ نېټه (د ۱۹۲۷ د مې پنځمه) د یوې خصوصي او آزادې جریدې په توګه (اوس ورځپاڼه) د مرحوم محی‌الدین انیس په امتیاز او مسئولیت په خپرونو پیل وکړ (۱).**

---

(۱) ښاغلي غلام‌عمر شاکر د انیس د خپرېدو په باب لیکلي: کله چې انیس وغوښتل جریده خپره کړي نو په خپلو موجودو پیسو یې رنګ او کاغذ تهیه کړل او خپله لومړنی ګڼه یې د کاربن پیپر په وسیله د انیس په نامه خپره کړه، د لومړنی ګڼې شمیر یې ۵۴ نسخې و ...

مرحوم محی‌الدین انیس هم اخبار لیکونکی، هم خپرونکی او هم وېشونکی و ،... (شاکر غلام‌عمر: انیس درسی و هشت‌سال ۱۳۰۶—۱۳۴۴ — د انیس فوق‌العاده رساله چې د بېلو—بېلو لیکوالو مقالې لري) خو حقیقت دا دی او د انیس د لومړي کال کلکسون ثابتوي چې د انیس لومړنی نسخې د شرکت رفیق په مطبعه کې په حروفي طبع خپرې شوي دي او تیراژ یې هم ۵۴ ګڼې د منلو وړ نه دی. رفیع .

Property of ACKU

لکه چې د جریدې د امتیاز خاوند او مسئول مدیر څرګنده کړې ده . د انیس اساسي هدف د ټولو خلکو او مخصوصاً د ماموریتو د خبرېدو په غرض د علمي، قانوني، روحي او ادبي مطالبو خپرول وو ؛ یادو شوو مطالبو په هر وخت کې د ماموریتو له ژوند سره اړه درلوده. د دې هدف په نظر کې نیولو سره او د ارو اښاد انیس د څرګندونې له مخې د انیس (۲) د متن موضوعات عبارت وو له :

مقالې : هغه لیکنې چې د ماموریتو د روحي ،اجتماعي او حیاتي موضوعاتو په شاوخوا کې به یې بحث او خبرې کولې .

قانون : تر دې عنوان لاندې عموماً لکه د اداري حقوق، د قانون علمي بحثونه د قانون فلسفه او اساسات، د قانون شرح، د قانون تفسیرا صول، تطبیقي قوانین، قانون او په قانون پورې مربوطې نورې خبرې خپرولې د پورتنیو مطالبو له خپرولو نه مطلب داؤ چې مامورله هغه نه پوره ښه وپوهېږي او د قانون په چارو کې ګټه واخلي .

د پارلمان خبرونه: سره له دې چې په دې سرلیک کې د خبر کلمه په ښکاره و بله شوې خو څرنګه چې ویل شوي دي لوی هدف داؤ چې د تېر شوی قوانینو د اصولو شرح او تفسیر د لوستونکو د خبرتیا له پاره خپاره کړي.

علمي او فني خبرونه او ادبیات: لکه چې له دې سرلیک څخه هم ښکاري په دې برخه کې هغه مطالب راتلل چې یا یې د علمي اطلاعاتو بڼه درلوده او یا هم یو ختونکي وو.

متفرقات : تر دې عنوان لاندې د جریدې د مدیر له توضیح سره سم د داخلي تشکیلاتو ، د ماموریتو د تاکلو ، د سیاسي خبرونو او د هیواد او هیوادنه د باندې د بیلو ـ بیلو پېښو په باب خبرې کېدلې .

(۲) انیس، محی الدین: «انیس» لومړی ټوک، لومړی ګڼه ۱ ـ ۲ مخونه.

Property of ACKU

د کور چارې(تدبیر منزل) : په دې ستون کې د روغتیا، روزنې، خوړو ، جامو ، کور، ګینې او نورو په باب خبرې کیدلې؛ د دې مطالبو د خپرولو نه هدف نه یوازې د کور ښځې وې بلکه د کور نارینه هم په نظر کې نیول شوي وو.

انیس یوه عمومي جریده وه:

کله چې دانیس شپږ ګونې هدفونه په غور سره تر څېړنې لاندې ونیسو، دې حقیقت ته رسېږو چې دجریدې په متن کې غیر خبري مطالب ډېر زیات وو، همدا راز په مشکله سره داجریده اختصاصي(۳)جریده بللای شو، ځکه چې دمتن مطالب یې دمسئوول مدیر له خوا ګڼدونې سره سم دمامورینو داستفادې له پاره خپریدل ، خو که غور وشي دا کار هم د یوه عاقلانه نشراتي تدبیر په ګوله سره شوی ؤ، ځکه ښکاره ده چې هغه وخت هېواد اکثره باسواده طبقه مامورینو تشکیلوله . نو په دې ډول کله چې دجریدې هدف دمامورینو داستفادې په غرض وټاکل شو نو ښکاره ده چې مامورینو به یې په اخیستلو، اشتراک کولو او لوستلو کې زیات تمایل ښکاره کوله. له دې هدف سره سره دانیس دجریدې دمتن مطالب د ټولو خلکو داستفادې او علاقې وړ هم ګرځیدلای شو ای، ځکه اکثره مطالب یې دانسانانو دژوندانه داساساتو او ښو روزلو په ګټور ډول تر څېړنې لاندې راتلل او خپریدل مثلاً د«قوانین»(۴)تر سرلیک لاندې لومړی تر یوې سریزې وروسته دحکومت په باب اطلاعات ورکړل کېدل چې دا اطلاعات نه یوازې مامورینو ته ګټور دي بلکه ټول خلک دحکومت دسنخ ته راتګ، د

(۳) له اختصاصي نه مراد دادی چې لوستونکي یې یوه خاصه طبقه وي.
(۴) انیس، لومړی کال، لومړی ګڼه، ۵–۸ مخونه.

Property of ACKU

حکومت د حکومتو تاریخ او نورو معلوماتو ته اړتیا لري. همدا راز د «خواب و بیدار خوابي» عنوان یوه هغه موضوع ده چې د ټولو خلکو له پاره په زړه پوري ده، په دې مضمون کې د خوب د ګټو، بې خوبۍ او د هغې د ضررونو او د خوب د سببو په باب بشپړ معلومات وړاندې شوي دي په همدې ډول د «دهن، صدا، خنده مثلثات» عنوانونه دي (۵).

یا د شوی مطالب له هغو سوادو او اطلاعاتو څخه عبارت دي چې په له شکــه له ټولو خلکو سره اړیکي او د ټولو له پاره په زړه پوري دي .

همدا راز راځي چې د «اسرار ترقي و نهضت و یا فلسفه اتحاد و اتفاق» (د له مړي کال، ددو همې ګڼې په ۸ مخ کې) «از عناصر مدنیت است فن احصاء» ، (د لو مړي کال په دریمه ګڼه کې)، «علامات قابلیت ملت به ترقي » (دلومړي کال په څلورمه ګڼه کې)، تر عنوانو لاندې موضوعات هم په دې برخه کې ولو لو چې بیا هم داټول موضوعات له عامو بشري مسایلو سره اړه او ارتباط اري .

په دې توسن پرته له دې چې خبرونه په دې جریده کې خپریدل که نه (۶)؟ کولای شو نو سوړې خبرونه د ټولو د علاقې وړ جریده وبولو.

له ننیو نشراتي هدفو نو سره د انیس د هدفو نو جو تړنه :

کله چې دا نیس د جریدې نشراتي هدفونه په عمومي توګه په نظر کې ونیسو او د نن ورځې د نشراتي وسایلو له څلورګونو دندو سره یې پرتله کړو نو ښه ډیر ښه پول به راته ښکاره شي چې له هغو سره یې مطابقت موجود دی چې لاندې بې له نمونو سره وړاندې کوو :

(۵) انیس ، ۱ کال ، ۰ ګڼه ، ۱۱ مخ .

(۶) تر ۱۹۲۸ . ۱ ګڼو وروسته څیني خبرونه لیدل کیږي .

لومړنی هدف: داطلاعاتي وسایلو څلورګوني هدفونه سومخکې دسراج الاخبار په برخه کې هم یاد کړل، خو دېرتلنې په غرض یې بیاهم را وړوچې له خبرورکولو، تعلیم ورکولو، هڅولو او بوختولو څخه عبارت دي.

لومړنی هدف کولای شوچې دانیس په«خبرهای پارلمان» خبرهای علمی، فنی و ادبیات»او« متفرقات» سرلیکونو کې و پلټو. په بل عبارت په انیس کې داطلاعاتو برابرولو وظیفه ( چې مراد ترې خبر دی ) همدی دریو یادو شوو موضوعاتو ترسره کوله . دنمونې په ډول دپارلماني خبرونو په برخه کې دنظامنامو، د هغو د ضمایمو او تعدیلاتو په باب خبرونه وړاندې کیدل.دمامورینو درخصتی دنظامنامې ضمیمه د انیس دلومړی کال، دلومړی ګڼې په ۸مخ کې خپره شوې ده په همدې ډول دلومړی کال د دریمې ګڼې په ۸ مخ کې دنظامنامو دضمیمو او تعدیل په باب پنځه بیلې بیلې موضوعګانې خپرې شوې دي او دادول نور اطلاعات دجریدې په نورو بیلابیلو ګڼو کې لیدل کیږي.

دعلمی او فني خبرونو په برخه کې د«فن چاپ کردن در چین»،«تشریح جسم انسان بعداز مرگ»، «منز له متهم نزد قوانین عالم» ،«تعداد دموترها در عالم»(۷) ترعناوینولاندې مطالبویادونه بایدوکړو. دنمونې په ډول ددې خبرونو څخه دیوه خبریوه برخه راوړو:«عجب ترین امو ریکه مدقق آنهارا از تاریخ چین دریافت مینماید همین است که در دوران مدنیت خود تقریباً اسرار و ابداعیات هرګونه مخترعات و اکتشافات رادریافت توانسته اند و لی هیچ یک از آن اکتشافات ابتدایی را با تمام و بدرجه که بیشتر محل استفاده شود نرسانیده اند . . .

(۷) انیس، ۸، ۹ ګڼه، لومړی کال، ۲-۱ ۳مخونه.

Property of ACKU

فن طبع کردن را کشف نمودند ولی هیچ آن فن را به حد یکه متیوانند از او استفاده نشریات عمومی مانند چاپ کردن جراید و کتابها باشد نتوانستند.»

همدارازد «مقاومت مگس»، «قوی ترین عضلها» او «بعد ازسن چهل وپنجاه سالگی» ترعنوانو لاندې خبرونه له هغو مطالبو څخه دي چې دعلمي او فني خبرونو په ډله کې شمیرل کیدای شي (۸) او همدارازد اسې خبرونه په نورو گڼو کې هم خپاره شوي دي.

د «متفرقات» ترعنوان لاندې بیلابیل او د بیلا بیلو متعدد و نو د راو د و نکی مطالب خبریدل، لکه «عضلات تبسم و عبوست»، «عقل سلیم در جسم سلیم»، «محصولات ذهنی»، «پختن بذریعه برق» (۹) دېو رتنیو مطالبو له ډلې څخه و روستنی مطلب یو ه خبری موضوع ده څکه چې دا مطلب له یوې علمي مجلې څخه چې گڼو راطلاعات یکې دي اخیستل شوی دی. په دې خبر کې یې د بریښنا په وسیله د پخلی د گټو او ښه توب په باب خبرورکړی. همدارازد لومړی کال پنځمې گڼې د «متفرقات» په برخه کې د زمکې دعناصرو په باب معلومات چې د داسې یکا له سا ینټفیکت مجلې څخه اخیستل شوي، خپاره کړي دي.

په هر حال اطلاعي او خبری عنصر و نه ځای په ځای دانیس په بیلو – بیلو گڼو کې په زیات شمیر لیدل کیږي خو داعنصر مخصوصاً د ۸، ۹، ۱۰ گڼو څخه را و روسته لا پسې زیاتیږي. دانیس دلومړی کال په گڼو کې لکه د امان افغان، سراج الاخبار او نورو جریدو غوندې کوم عمومي عنوان لکه داخلی، خارجی

(۸) انیس، ۱۲ گڼه، لومړی کال، ۸ مخ.

(۹) انیس، ۷ گڼه، لومړی کال، ۱۰–۱۱ مخونه.

Property of ACKU

او تلگرافي خبرونه نه لیدل کیږي خو په دوهم کال کې د «خبر های داخلي» او ځینې نور سرخطونه خپاره شوي دي.

د انیس د لومړي کال په لسمه ګڼه کې د «انیس و سیاست عالم» تر عنوان لاندې یو مطلب خپور شوی دی چې دلته یې ټکي را اخلو:

«تبصره: شاید مطالعین گرام ملاحظه فرموده باشند که جریده انیس در موضوعات سیاسي عالم تا الحال کمتر مداخلت دارد. برای اینکه علت این عدم مداخلت به ذوات محترم آشکارشود به نقشه ایکه جریده در ین باب مد نظر دارد ذکر مینمائیم.

بهتر معلوم است که اهمیت خبرهای سیاسي وابستگی به تازگی و سرعت آنست از ین باعث اداره تشبثات زیادی در باره اشتراک با تلگرافهای خارجی عالم دارد و ممکن است باین زودیها بتوانیم با یکی از کمپنی های اعتمادی و خوش معامله اشتراک کرده، بعد باب سیاست را در جریده افتتاح خواهیم نمود فعلاً نظر به اینکه از مصادر معتبر ترجمه میکنیم اکتفا شده البته امید است که این عذر ما به نظر خوانندگان موقع قبول افتد.»

په پورتني مطلب کې څو ټکي د څیړنې وړ دي:

۱) د «موضوعات سیاسي» له فقرې څخه د انیس دلیکونکي مطلب همغه خارجي خبرونه دي په دې دلایل سره چې د دې مطالبو اهمیت یې په نوي والي او ژر رسوالي پورې مربوط ګڼلی او هم یې د دې مطالبو تر لاسه کول په خارجي تلګرافونو کې ګڼون کول ښودلي.

۲) د خبر لیکنې په اهمیت د انیس د لیکونکي په خبرتیا ترې څرګندیږي څکه چې د خبرو اهمیت یې د هغو په نوي والي او ژر رسوالي کې ښودلی یعنی کټه مټه هغه موضوع چې نن یې ژورنالستان د نورو خبري عناصرو په ډله کې د ډېر زیات اهمیت وړ بولي.

Property of ACKU

۳) خپل خارجي خبرونه یې له باوري منابعو او مدرکو نو څخه ژباړل او بیایې خپرول. په دې اساس خبري مطالب چې په انیس کې لیدل کیږي له خارجي منابعو څخه ژباړل شوي او خپاره شوي دي. ددې له پاره چې ددې ډول خبرونو نمونه ولو لو دادې یو خبریې دلته کټ مټ راخلو:

«المانها از مزاحمات اقتصادي و یا تجارتی فرانسه هیچ بیم ندارند. چنانچه یک اختلاف بین این دوملت ظاهر نیست. تنها مسئله (الزاس ولورین) که آلمانها این سرحدرا در معاهده سنه ۱۸۷۱ بزمین خود ملحق ساخته بود و فرانسه آنهارا در معاهده ۱۹۱۹ یعنی بعد از شکستگی آلمان درجنگ عمومی آنها را گرفته است و اگر فرانسه این دوحدود را بالمان بگذارد متفق شدن این دو ملت خیلی آسان و قریب میشود.» (۱۰).

د کورنیو خبرونو په باب باید وو ایو چې له ۸۰م گڼو نه راوروسته څینې داډول خبرونه لیدل کیږي. په ۸۰، ۹ گڼه کې دخپلواکۍ د تلین په باب یوا وږد خبر خپور شوی دی، په همدې گڼه کې د«صفحه‌ای از تاریخ اصلاحات دا خلی» تر سرلیک لاندې دگردیز داصلاحاتو په باب یو خبر وړاندې شوی دی. په ۱۶ گڼه کې دهرات دقوماندانی دپلټنې په باب یو خبر په دې ډول خپور شوی دی:

«مسموع است که در اطراف اجراآت قوماندانی هرات شکایات و اشتهاهات پیدا شده است و آقای حسین خان اعضای (عضو) دارالتحریر شاهی و آقای فیض محمد خان برای تفتیش به ذریعه طیاره به ترمیز و از آنجا به هرات خواهد رفت.»

دانیس دلو مړی نشراتی کال په اولسو کې دهیواد دوخت پاچا دنړی په

(۱۰) انیس، ۱۰ گڼه، لومړی کال، ۹ مخ.

Property of ACKU

سفر بوخت ؤ ، انیس بې د«افغانستان در خارج» تر عنوان لاندې په مفصل ډول خبرونه او راپورونه خپرول .

همدارازدانیس ددوهم نشراتی کال په پای کې د کابل ښاروالی او ده ورا د په څېنې نورو برخو کې اړدوړ موجودؤ ،نوموړی جریدې ددې اړدوړ خبرونه هم ترتیبول.

په هرحال دانیس د کورنیو او باندنیو خبرونو شمیر په دوهم نشراتی کال کې ترپخوا زیات شوی او داپه ښکاره ډول راښیی چې انیس دیوه اخبارد اساسی هدف په لوری( چې دخبرونو خپرول یې اساسی وظیفه ده)روانؤ ،خو دومره چې دخبرونو شمیر ډیر یدو په همغه اندازه څینې مطالب لکه«قوانین»،«تدبیر منزل»او نور مخ په کمیدو و و.

دوهم هدف: ددوهم هدف (تعلیم و ر کول ) په باب باید وو ایو چې دانیس په بیلو —بیلو موادو کې داهدف شته. چې د«قانون» ،«مقالات»او «تدبیر منزل» تر سرلیکونو لاندې تعلیمي او تربیتي مطالب ورلاندې شوي دي.په حقیقت کې د«قانون» په ستون کې لوسړنی خبرې دحکومت ترعنوان لاندې دي، و روستي دقوانینو دعلم تمهیدونه،تفسیر او شرح او نور داسې معلومات دي چې دلوستونکو د علمی او حیا تی اړتیا ؤ دزده کړې په برخه کې زیاته مرسته کوي. دنمونې په ډول دقوانینو دتفسیر په هکله داسې لیکل شوي دي :

«تفاسیر قانون رانوعاً به سه‌قسمت باید دانست اول تفسیر علمی ،دوم تفسیر قضایی ،سوم تفسیر قانونی ، اعتبار هریك ازین اقسام تفاسیر از نقطه نظر اعتماد و استناد درجات متوالی دارند» (۱۱) .

(۱۱) انیس،۳۰ کنهه،لومړی کال،۳مخ.

Property of ACKU

د «مقالات» په ستون کې هم تعلیمي سترې په زیاته اندازه موجوده ده لکه چې د «ازعناصر مدنیت است فن احصاء» (۱۲) تر عنوان لاندې مقاله کې لومړی د سر شمېرنې او سروې د فن په باب مطالب وړاندې شوي ، بیا ددې فن تاریخي سوابق خپر ل شوي او بیا یې د هغه گټې شمېرلې او په دې برخه کې یې گټور علمي معلومات وړاندې کړي دي . همدا ډول یې د « تعلیم و قیمت انسان » (۱۳) تر عنوان لاندې مقاله خپره کړې ده چې په هغه کې لیکوال کې ثابتوي چې لکه څرنگه چې انسان دژوند کولو په غرض ما دي خوړو ته اړه لري نو د خپلې فکري او ذهني پراختیا په غرض روحي خوړو یعني ښوونې او روزنې ته هم اړ دی .

د «علوم او علماء» ستون هم تعلیمي مطالب لري ، د استون خصوصاً دانیس د دوهم نشراتي کال په گڼو کې په منظم ډول لیدل کېږي .

د «تدبیر منزل» دستون په باب باید ووایو چې دانیس د مخونو له پېرو گڼو ر و ستونو څخه ؤ ، څکه دې ستون د لوستونکو ا نو لو هوا د وا لو له ژ و ندسره نژ دې اړیکه درلوده ، ددې ستون مهمه مساله په څپه دپو رتنی ستون په ډېر گڼوراو ماهرا نه تو گه وړا ندې کول شوي . کوم مطالب چې په دې ستون کې وړ اندې کېدل له «طریق تنظیم بودجه منزل» ، «نظام دخل و خرچ و اصول ثبت آن» (۱۴) او نورو څخه عبارت وو ، تر دې سر لیکو نو لاندې لومړی لنډه شرح وړا ندې کېده او بیا موضوع په مفصل ډول څېړله کېده له

(۱۲) همدا گڼه ، ۱—۳ مخونه .

(۱۳) انیس ، ۲—۳ گڼه .

(۱۴) انیس ، ۲ گڼه ، ۱ کال ، ۱۱—۱۲ مخونه .

Property of ACKU

او په پای کې ددخل او خرڅ دجدولونو نمونې ،لګښت او نورو واندې کېدل. په راورو سته کلنو کې د«شئونات منزل ،فاسدشدن اغذیه ، صحت و آشپز خانه، دردچشم ،اسباب شقاوت زوجین ،مقاومت ګرمی ،سعادت زوجین نصایح برای مالکهٔ خانه و نصایح برای شوهر» او نورو سرلیکونو لاندی مطالب لیدل کیږی ،ددې ډول مطالبو یوه نمونه لاندې راوړو :

«نصیحت برای مالکهٔ خانه .۱) اسراف نکن چه هر سر دطبعاً خواهش دارد که در خانهٔ خود استقلال اقتصادی داشته باشد اگر مصرف باشي طبعاً میل و همت شوهرت درمیدان عمل و زحمت کاسته میشود زیرا می بینید پولی را که به زحمت و جان کنی پیدا کرده است بدون تدبیر و اعتنا صرف شده میرود .»

«نصایح برای شوهران ۱) بخیل و پول پرست نباش چه اولین کسی که بر تو حق امور اعانه و ترقیه دارد عایله است و اگر بخواهد میتواند خودش بهتر از تو معتقد گردد .» (۱۵) .

دریم هدف : انیس دخپلو لوستونکو او هېوادوالو دتشویق او ترغیب له پاره دمناسبو کارونو په سرته رسولو او دخپل ملي هیواد ترسره کولو په غرض په زره پورې برخه اخیستې ده او د کورنیو چارو نه نیولي ترمقالو او قوانینو پورې یې په دې هدفو نو خبرې کړې . د کورنیو چارو په برخه کې مخکې وغږېدو خو دمقالو په برخه کې زیاتې نمونې موموو لکه د «اسرار ترقی و نهضت و یا فلسفهٔ اتحاد و اتفاق» ترسرلیک لاندې یو مضمون خپور شوی چې دافرادو او ټولنې ترمنځ داتفاق او اتحاد او دپرمختګ او پراختیا په باب یې بشپړې خبرې کړې چې دا کار پر ته له دې چې د لوستونکو

(۱۵) انیس،شپږمه ګڼه،لومړی کال،۹مخ .

معلومات زیاتوی تشویقی روحیه هم پکې نغښتې ده . « دورهٔ نهضت ماست ـ پس چه باید کرد ؟ » (۱۶) دیوې بلې مقالې سرلیک دی چې په هغه کې د تاریخي اسنادو او شواهدو او دموجودو دلایلو په رڼا کې په دې باب کټور معلومات وړاندې شوي دي ، ددې مقالې په پای کې داسې ویل شوی : «امروز دوره نهضت ما ست یعنی همان دورانتقال است که باید به نشاط و حرارت و استعدادخیلی جدی عادت و الفت را ازچشم دور ساخته وآنچه که برای پیشرفت ما لازم باشد مجرداشاره شدن بطرف تعمیل آن بشتابیم . »

د«ترقي » (۱۷) ترعنوان لاندې په دې برخه کې یوه بله مقاله هم موږ ، چې په دې مقاله کې لومړی د ترقي تعریف شوی،وروسته دافغان ملت د پخوانیو بې اتفاقیو ، کورنیو جګړو او بدمرغیو یادونه شوې او زیاته شوې چې افغانستان خپلواک او آزادشوی دی او هم داستبداد او نفاق دوره سرته رسېدلې نو اوس دافغان ملت هرغړی ددې ذلت او وروسته پاتې توب د تلافي په هڅه کې دی،دبې شمېره تاوانو نو یادونه کوي او داقتصادي سیاسي ،روحي ، اخلاقي او ملي چارو دپرمختګ او پراختیا په لاره کې ځانګړې او زیار باسي ...«وطن چیست ؟ وطن پرست کیست؟ » (۱۸) دبلې مقالې سرلیک دی او د امې لیکنه په خپله ځرګندوي چې لیکوونکی لومړی وطن معرفي کوي او وروسته دوطن پرستۍ او دهغه دضرورت په باب مطالب کاږي او لیکي : «امروز روز تنبلی نیست،سهل انگاری نیست .. . بلکه روز اتفاق ،

(۱۶) انیس،۱ ۲ ، ۲۲ ، ۳ ۲ کنې،۱ ، ۲ مخونه .

(۱۷) انیس،۳ ، ۲۳ ، ۲ ، ۲۵ کنې .

(۱۸) انیس،۸ ، ۲۹ ، ۲ کنې .

و اتحاداست ،روز اخوت،صمیمیت ،معاونت و خدمت بوطن‌است تا کی... بوده وطن پرست،نوع‌دوست و مسلمان حقیقی نباشیم . ».

مطلب‌داچې «انیس»د دوهم نشراتي کال په ګڼوکې په تشویق او ترغیب پورې مربوطې مقالې په زیاته پیمانه خپرې کړې دي .

څلورم هدف : څلورم هدف‌دعلمي او فني خبرونو، ادبیاتو او متفرقاتو په برخه کې پەلوره‌پیمانه‌لیدل کیږي‌او په‌دې سربیره‌د لومړي کال د رووشنی ګڼې و روسته د«بزرگترین فاجعه های‌تاریخ باقر با نیهای تخت‌و تاج‌و طمع» ترسرلیک‌لاندې‌مطالب‌دانیس په‌هره‌ګڼه کې خپاره‌شوي‌دي‌چې ریښتیا هم‌ددې‌هدف په ترسره کیدو کې برخه‌لري.ددې‌سرلیک لومړني مطلب د «ساری‌ستوارت» په باب‌دی .

دادبیاتو په برخه کې دځینې اشعارو په خپرېدلو سربېره ځینې د بې توټې لکه : «دختر روستایی » او نورې هم دانیس په بېلو-بېلو ګڼو کې خپرې‌شوې‌دي چې دلوستونکو په بوختولو کې ښه برخه لري .

انیس د «سوالهای‌دوکتور»ترسرلیک‌لاندې‌ځینې مطالب خپاره کړې دي چې په اطلاعي او تعلیمي ارځښت سربېره دلوستونکو په مشغولولو کې هم ستره‌برخه‌لري ،لکه‌چې دطبیعیاتو ترعنوان لاندې‌داپوښتنې شوې دي : «میدانی چرا نلهای آب‌در زمستان میکفد؟قانون فشارچیست؟چرا چوب روی آب‌می ایستدوآهن فرومیرود ؟ » (۱۹) او داسې نور .

ځینې‌نورنو نه‌د«از هرطرف»او «لطایف‌و فکاهیات » ترسرلیکونو لاندې دی او داسې مطالب یکې راغلي چې تول په زړه پورې او د لوستلو وړ دي

(۱۹) انیس،۳ګڼه،لومړی کال،۷ مخ .

Property of ACKU

لکه د «ازهرطرف» تر سرلیك لاندې دا مطالب را اخلو: «قوی ترین عضلات جسم دل انسان است در یك دقیقه بین ۳۰ و ۱۳۰ نبض میکند .... و متوسط وزن دل در مرد بین ۱۷۰ و ۱۳۳ درهم و در زن ۹۹۶ و ۱۷۰ درهم است(۲۰).

همدا راز د لطایفو له عنوان نه یو مطلب را اخلو :

«بی‌بی و نوکر» :

بی‌بی: از خانه ای که پیشتر نوکر بودی چرا برآمدی ؟

نوکر: یکدفعه چوچه مرغ مرده بمه خوراندن دگه دفعه گوسفند مرداز گوشتش خوراندنم این دفعه بی‌بی کلان ناجور شد از ترس گریختم » (۲۱) .

کله کله یې ځینې متلونه هم د او ستونکو د مشغولو لو له پاره خپرول چې دلومړی کال په ۸۶ ګڼه کې ځینې ایتالیایی متلونه خپاره شوي دي :

«خودنمایی و غرور زادهٔ جهل است بهترین وسایل جهت مدح و تعریف مردن است و برای آموختن هرچیز معلم بکار است . » .

اعلانونه:

په نني خبر لیکنه کې د اعلان له خپرولو نه پرته د خبرونو او آزادو جریدو خپرول لږ څه مشکل دي . په بل عبارت د ورځپاڼې او جریدې لګښت په لومړۍ درجه کې باید د اعلانو نو له لارې تر لاسه شي او په دو همه درجه د اخبار خرڅلاو په دې برخه کې مرسته کوي.

انیس د خپل لومړنی نشراتی کال په ګڼو کې اعلانونه نه دي خپاره کړي او

(۲۰) انیس، ۶ ګڼه، ۱ کال، ۱۰ مخ .

(۲۱) انیس، همدا ګڼه، ۱ مخ .

Property of ACKU

له‌دې څخه ښکاری چې لګښت یې تو ل د ناشر په غاړه ؤ او یا یې هم یو ه برخه (او یا یا څه زیات) اقتصادی او تیاوې د جر یدې د خر څلاو له لارې تر سر ه کیدلې. خو د اعلان ځیر یدل یې (په مصنفه ډو ل) د دو هم نشر اتی کال په ګڼو کې لیدل کیږی چې د دو هم کال په ۲ ه ګڼه کې یې څلو ر اعلانو نه خپاره شوي ، تر دې ګڼې و روسته د هرې ګڼې و روستنی مخ بشپړ یو ه اعلان ته پر یښو دل شوی چې «د مو ټر چلو ونې د شرکت» له خو اد «فالکن‌نایت» او «دیلس‌نایت» مو ټر و د خر څلاو په باب د ی سر بیر ه پر دې اعلان په متن کې یې هم یو اعلان خپو ر شوی دی .

داعلانو نو دځیر و لو بیه دجر یدې په لو مړی مخ کې په دې ډو ل خپر ه شوې ده :

«قیمت اعلانات

سطری نیم افغانی

اگر بر ای یکسال یاشش ماه لازم باشد

با خو دادار ه مذا کر ه شو د.»

په هر حال کو م اعلانو نه چې په انیس کې خپر یدل د جر یدې د څیر و نو پ...ه تناسب ډ یر لږ و و او په هیڅ ډو ل نشو ای کو لای انیس دګټو ن کو ونکو او خصو صاً دحکو متي لو یو کسا نو له سر ستې څخه بې نیاز ه کړي، لکه د دو هم ...م کال د ۳۶ ګڼې په ۲ ، مخ کې یې د «تر قی بطو ر دایمی همیشه نصیب انیس» تر سر لیک لاندې یو مضمو ن خپو ر کړی چې په هغه کې یې د دې جر یدې خپنې نشر اتي ټکو ته داشا رې په ترڅ کې داسې لیکلي: «چو ن ذات شاهانه بنام بخشیدن حیات باین مو سسه و جه اشترا ک سال جاری راعوض هر افغاني هز ار افغانی یعنی دو ازد ه

هزار افغانی ازعین المال شاهانه شان عنایت فرموده اند» دانیس داخبره په ښکاره ښیي چې که په مستقیم ډول (لکه ځینې نورې جریدې غوندې) دحکومت له سرښتې څخه برخې ؤ خو په غیرمستقیم ډول او داشتراک د بیې په نامه سرسته ورسره کیدله ، دا کار ښیي چې جریدې به هم شایي دحکومت د پلانونو او هدفونو سره تائید خپلو نشراتو ته ادامه ورکوله ، لکه دجریدې متن هم ښیي چې په دې برخه کې یې خال نه دی دریغ کړی، د ۱۳۰۷ کال دلومړي جرګې (۲۲) مطالب او خبرونه چې په انیس کې ددوهمې جرګې په نامه یاده شوې (۲۳) راغلي او ځینې نور مطالب ټول څرګندوي چې انیس دحکومت دنظریو ملاتړ ؤ (*) مخصوصاً دهیواد دلومړني شخص وینا وې، پیشنهادونه او پلانونه یې د کلک ملاتړ او باور په لهجه خپاره کړي دي .

په هر حال په هر ډول چې وو انیس تر دوو کالونه په کمه موده کې داشتراک له پیسو نه د مطبعې او دهغه دلوازمو خاوندشو ، لکه چې په خپله لیکي:

«اداره با لفعل درظرف این مدت و از پول مشترکین یکنیم ساله خو دمالک

(۲۲) داخبرونه او مطالب ددوهم کال له ۱۸ ګڼې (د ۱۳۰۷ کال دچونګاښي ۷) نه پیل شوي او تر ۲۲ ګڼې پورې دوام کوي .

(۲۳) په حقیقت کې دادریمه لویه جرګه ده، لومړۍ لویه جرګه په ۱۳۰۱ کال په جلال آباد کې جوړه شوې وه او دوهمه لویه جرګه په ۱۳۰۳ په پغمان کې جوړه شوه .

(*) داحکم سل په سلو کې دمنلو وړ نه دی ځکه موږ دانیس په انتقادی لوجه او سجاکمه کې وینو چې دمسالم انتقادته زیات ارځښت ورکاوه او د حکومت ټولې چارې په پټو سترګو نه تائیدولې. رفیع .

یک مطبعه مکمل است که بهترین اعتبار را در حسن طبع وحسن معامله دارد . مطبعه عبارت از چهار پایه ماشین و چندین دسته حروف و لوازمات (لوازم) مطبعی مهیا شد... » په همدې مضمون کې خرګنده شوې چې دمشتر کینو شمیرې تر هغې جریدې زیاتدی (۳۲).

مخ تړنه (صفحه بندی):

دانیس جریدې په اوله کې ۲ مخونه درلودل او په هرو پنځلسو ورځو کې یو ځلې خپریدله خو د دوهم نشراتي کال له پیلیدو سره یې داوونې جریدې په توګه خپلو خپرونو ته دوام ورکړ . همدا وخت ؤ چې داشعارهم دجریدې تر نامه لاندې خرګندشو : «جریدهٔ ملی آزادو خادم نهضت» په دوهم کال کې هم د جریدې دمخونو شمیر عموماً ۲ و خو کله ــ کله ۳ او ۶ مخونو ته هم لوړیده .

په لومړیو پنځو نشراتي کلونو کې ددې جریدې کچه تل ۱۱ × ۸ نیم انچه وه ، په هر مخ کې یې دوه ستونه خپریدل چې دهر ستون اوږدوالی ۹ نیم او سور یې دری انچه ؤ .

انیس په اوله کې دشرکت رفیق په حروفی مطبعه کې خپریده خو دوهم نشراتي کال په اواسطو کې یې په خپله مطبعه تاسیس کړه او هغه ته په خپریده . داهم بایدوو ایو چې دشرکت رفیق په مطبعه کې خپریده دبیلو ــ بیلو مخونو د مضمونو په عنوانونو کې یې تنوع او بدلون لیدل کیږی، چې په ځینې سرلیکونو کې ان له دری دوله تورو څخه کاراخیستل شوی، خو کله یې چې نشر

(۳۲) انیس، ۵۷ ګڼه، ددوهم کال ۳۳ نمبر، ۱۰ مخ .

په خپله دانیس په مطبعه کې شروشو دا تنوع کمه لیدله کېږي او څرنګه چې د مطبعې نوی کار پیل کړی و تر اوسه یې راز — راز توری نه وو ترلاسه کړي.

په هرحال دانیس د خپنې مطالبو په عنوانونو کې د نوروجریدو په تناسب به ډېر نوي ليدل کېږي چې خپنې سرلیکونه یې په خپله خبري کوي او یو مطلب ته ګوته کوي لکه: «تقدم و پیشرفت متوالی نصب‌العین انیس‌است»، «نامداران تاریخ افغان»، «افتتاح شرکت تجارتی روس»، «دوره نهضت ماست یعنی د ړند و رانتقال هستیم» او نور تول.

هغه سرلیکونه دي چې اکثره یې بشپړې جملې دي او یوه معنی ښندي خو بیا هم په ځینې ګونګو او بې روحه سرلیکونو سترګې نښو پېتولای.

بله مهمه موضوع چې دانیس د متن په برخه کې د یادولو وړ ده دیو: مضمون د عبارتونو په نږدې فاصلو کې د بندونو (پاراګرافونو) په نښه کول دي او هم په کوم ځای کې چې د مخکنیو او یا وروستیو عباراتو په نښلولو کې بدلون راغی د ټکی لیکنې (نقطه‌گذاری) اصول سراعات شوي چې داپه خپله په موضوع باندې د پوهېدو او درکولو په برخه کې د لوستونکی کار اسانه کوي.

دانیس د نامې لوحې نږدې دیوه مخ څلورمه برخه نیولې ده او دامو ادیکې راغلي، په منځ کې د جریدې نوم په نسخې خط لیکل شوی چې ترې لاندې د تأسیس په کال (۱۳۰۶) سربېره دا عبارت هم لوستل کېږي: «مجموعهٔ علمی، قانونی، اجتماعی، ادبی». د نامې ښی خواته دامتیاز د خاوند او مسؤول مدیر نوم د خپرېدو ځای او پته یې لیدل کېږي او کینې خواته د انیس د اشتراک بیه داسې راغلي ده:

Property of ACKU

«قیمت اشتراک یکسال

| | | |
|---|---|---|
| در افغانستان | ۱۰ | افغانی |
| برای طلبهٔ معارف | ۶ | افغانی |
| ممالک خارجه | ۱۲ | شلنگک |
| قیمت یک شماره | | نیم افغانی » |

داشتراک په بیه سربیره داعبارت هم دنامه کینې خوا ته خپریده :

«مراسلات بنام محرر فرستاده میشود . »

انیس دد وهم نشراتی کال ترتیبولو وروسته دکورنی اړدوړ په یه وخت کې چې دافغانستان ټولې علمي، فرهنگی ،سیاسی او اقتصادی مؤسسې ګډې و ډې شوې له یوې لارې وقفې سره مخامخ شو. په همدې دوره کې یې څه وخت مسؤول مدیر حبیب الاسلام دخپرولو وظیفه درلوده او یوڅه نوروخت یې داغتشاش د پېښو په راغوند ولو او ترتیبولو کې کې تېر کړی چې ددې ژیار نتیجه یې د «بحران و نجات » په نامه دیوه کتاب لیکل او تألیف دی .

دکورنی اړدوړ په تېر بدلو او داسن او آرامی په بېرته راګرځېدلو سره انیس هم بېرته په خپرونو پیل وکړا و داخل داد علم او پوهې ډېوه بیانه ده سره شوې (*) بلکه په ګړندیو ګامونو سره لامخ ته ولاړه .

(*) د کتاب ددرې ستنو تر چاپېدلو وروسته دشاهی نظام و روستیو و رانیو دا خپرونه هم له منځه یوړه او د ۱۳۵۲ کال دغبرګولی په ۲۶ په اصلاح کې مدغمه شوه خو دجمهوریت په لومړیو میاشتو کې د ۱۳۵۲ کال دو بې په ۱۷ بېرته دپخوا په شان خپره شوه — رفیع.

Property of ACKU

حقیقت دادی چې داغتشاش نه راو روسته دانیس په باب څه ویل دد ې کتاب ددې توکت کار نه دی ځکه چې شرایط او ښتی او افغانستان دکورنی سولې او امنیت او خارجی سیاسی او اقتصادی چارو کې نوې لاره نیسي چې داپه خپله باید په بېل توکت او بېل څېړکي کې ترڅېړنې لاندې راشي او په دې سربېره انیس هم په خپله نشراتی موده کې بدلو نونه او اوښتنې لیدلي چې هغه باید په ژور ډول سره وڅېړل شي .

Property of ACKU


نسیم سحر
۱۳۰۲

Property of ACKU

د نسیم سحر اومړی ګڼه

## نسیم سحر

نسیم سحر یوه اوونی جریده وه چې په خصوصي او آزاده توګه یې د ۱۳۰۶ کال دسلواغې په ۷ نیټه (د ۱۹۲۸ جنوری ۲۷) په کابل کې په خپرونو پیل وکړ (۱) .

ددې جریدې دامتیاز خاوند او مسؤول مدیر اروابناد احمد راتب خپلې خبرې د «هو المعین» تر سر لیک لاندې شروع کړې، دو رخپانه لیکنې د ستونزو او ددې ډول جریدې د خپریدو په باب یې دخپلې هیلې دخرګند ولو په

---

(۱) ددې جریدې لهلومړۍ تر پنځلسمې ګڼې پورې دپوهاند عبدالحي حبیبي په خانګي کتابتون کې خوندي دي داو ددې خپرونې په بشپړتابه کې مې زیاته استفاده ترې کړې نو ځکه له جناب پوهاند حبیبي څخه د زړه له کومې مننه کوم چې په لورینه یې دا ګلکسون را کړ .

Property of ACKU

هکله څو خبرې کړې او لیکلې یې دي : «گرچه عنوان روزنامهٔ من ادبی است و در اول مرحله هر خواننده را باین طرف متوجه میسازد که موضوعات آن همیشه ادبی خواهد بود ولی چون تنها موضوع مخصوص ادبی را همیشه تعقیب کردن علاوه از مشکلاتی که ما آنرا دراول حال بنابر عدم وسایل لازمه آن چاره ای نمیتوانیم بر ذوق قارئین که هنوز یک موضوع را برای قرائت خود اختصاص نداده اند نیز ناگوار است از بعضی مسایل دیگر درین جریدهٔ کوچک بحث خواهد شد. و رفته رفته ابحاث خود را به دایره اصل موضوع محدود خواهیم نمود. در عین حال بسیار کوشش میکنم که حتی اگر مسایل سیاسی بنویسیم در لباس ادبی آنرا آراسته کرده و بشما تقدیم نمایم » .

د «نسیم سحر» د مسؤول مدیر له لیکنې څخه په څرگند ډول ښکاري چې دا جریده په لومړۍ درجه کې ادبي وه او د دې برلیکې راز - راز و الی له پاره یې د ادبیاتو تر څنگ ځینې معلوماتي غیر خبري مطالب هم وړاندې کول . او هم د جریدې د پنځلسو گڼو متن په څرگند ډول ښیي چې جریدې په عمده ډول په دوو ډلو مضامینو بشل شوی او د دوو هدفونو د ترسره کېدلو له پاره ټاکل شوی و :چې له هغو ونکو او بوختوونکو موضوعاتو څخه عبارت وو . تر دې وړاندې چې په بشپړ ډول داد بیاتو او بوختوونکو مسایلو په موضوع و غږیږو ښه ده و وایو چې د ادبیاتو په جامه او د ادبي او اطلاعي عباراتو په ترڅ کې یې د خلکو د ژوندانه په زړه پورې او ضروري چارې یادې کړې او خپل نظر او انتقاد به یې له دې لارې خپلې مرجع ته

Property of ACKU

رسالو ه، چې له اوومې ګڼې نه یې د «انعکاس مدنیت اروپا» ترسرلیک لاندې اوه مفصله مقاله خپره کړې چې آن په پنځلسمه ګڼه کې هم «نوربیا» وه، په دې مقاله کې دې خبرې ته نغوته شوې چې داروپا مدنیت زموږ هېوادته راغی خو یې نه کړای شول چې دلته ټېکانه وکړي نوځکه بېرته پاریس او لندن ته ستون شو. لیکوونکی زیاتوي چې: «درینجا دیګر آنچه ثروت های هنګفت که ګذشته هابطور مشروع یا غیرمشروع جمع وذخیره کرده بودندو بمایه ارث رسیده بود و می بایست که امروز در راه تعلیم و تعلیم و آبادی مملکت صرف شود دعوض آن درقمارخانه ها و میخانه های پاریس و لندن به خرج رسید.» (۲).

په همدې ډول ددې مقالې په نورو برخو کې هم په دې باب چې موږ داروپا دمدنیت په پلمه غولیدلي یو، حتی دمستنې د جوړولو نه یو خوا اروپایي جامه اغوندو او دنورو په باب جملې او پارا ګرافونه کښل شوي دي. چې دا په حقیقت کې دتشویق او هڅولو یوه برخه اساسي وظیفې ترسره کول وو چې په غاړه یې اخیستې وو، په همدې مقاله کې د اقتصاد دموضوع ته دمدنیت او پرمختیا داساس او بنسټ په توګه ارزښت ورکړل شوی. په نوموړې مقاله کې طبقاتي روحیه په ډېر څرګند ډول لیدله کیږي، چې په یوه برخه کې یې لیکي:

«امروز ثروت ما که درجیب چندنفر رشوت خوار رفته است همهٔ آن ثروت به ممالک خارجیه برای تجارت رفته و عوض آن پودر و عطر و کلاه

(۲) نسیم سحر، ۸ ګڼه، لومړی کال، لومړی مخ د «انعکاس مدنیت اروپا» دوهمه برخه.

Property of ACKU

های سرخ و سیاه وارد شده .... سروصورت یکعده قلیلی رازینت میدهد.

«فکر کنید : تمام ملت مارا امروز افراد غریب و زحمتکش ،یابه عبارت بهتر طبقه سوم ،تشکیل میدهد و تمام این طبقه چه زحمات جبران ناپذیری رامتحمل میشوند . »

«علت بزرگ این بدبختی افراد طبقهٔ سوم ،دیگر عامل مؤثر نداردبغیر ازآنکه ثروت مملکت به چنداشخاص معدود اختصاص دارد. وسرمایهٔ مملکت هم درجیب چند نفر رشوتخوار شکم پرست رفته ....»

دادبیاتو په ستون کې معمولاً افغانی شاعران معرفی شوی چې ددوی دویناؤ نمونې هم ورسره راغلې او دفکر او نظر پر اختیاا او دمعلوماتو احاطه یې هم پکې څېړله شوې ده .دولی طوائف په باب په څو ګڼو کې پرله پسې بحث شوی او هم گل محمدبیګ افغان ، آتشی بند هاری ، عایشه درانی او نور په بېلو ،بېلو ګڼو کې معرفی شوي دي ، همداراز کله ـ کله د شایق جمال او ځینې نورو شاعرانو شکلی شعرونه په دې ستون کې خپرېدل . یوه بله موضوع دښاغلی عبدالهادی داوی په قلم د «تتبعات ادبی» تر سرلیک لاندې راتله چې په هغه کې گرامری موضوعات او د ژبې قواعد څېړل کېدل . د نسیم سحر دادبیاتو دبرخې دایمی او علاقمند مستی شایق جمال ، اروا ښاد، غ.سرور او اروا ښاد محمد حسن سلیمی وو،دنمونې په توګه د هغه سبارکی یوه برخه چې ښاغلی شایق وراستولې رااخلو :

«اوه....نسیم سحر

«ای شیرازه بند اوراق خاطره های پریشان! ای قاصد مکتوب مرغوب گلستان !

Property of ACKU

څو چې دا ښه ده چې دا رنګ رو من ګردیده    خاطر از مقدم زیبای تو ګلشن ګردید

تو صاحب ادبیاتي او زه صاحب ادبیات ! زه تا ډېر دوست دارم او وجود دې راته عزیز شمارم!

ای نسیم سحر از ګلشن یار آمده‌ای    همره قافلهٔ مشک تتار آمده ای
راست بګو از خبری که بپایم از خاطر من    مګر از جانب سلطان بها ر آمده‌ای
بوی آن زلف ... بادی بمن و زنده شدم    تا زه باشی که دم مرګ بکار آمده‌ای

تر څو چې وایي:

رو نمایت غزلی میدهم و بس خجلم    که به بیت الحزن شایق زار آمده‌ای»

پاته دې نه وي چې په نسیم سحر کې ډېر زیات مسایل او داسې څه موضوع له پاره هم له څو ونکي او هم له نوي لوستونکي دو لسره اړه نو سي. داوو ی کنې په دو هم مخ کې د «ستونوعه» تر سر لیک لاندې د مطالب و ایدل شو له « نهضت نسوان در ژاپون»، «سر داسین امستردام»، مطبوعات در انګلستان »، « کلانتري تر ین شرکتهای عالم» په دې تو ګه تر دې سرلیک لاندې د نړۍ د تولو برخو په باب د انساني علاقې وړ کو چنی خبرو نه را غونډ ولې او وروسته په دلیکه چې دجر یدې په ۱۰-۱۵ ګڼو کې هم څیني مطالب وینو: «در توان بهشت و یک لندن چه میشود ؟»، «اول زن که قضاوت کرده» « تعارف ادبا» او نور.

صحافت او مخ تړنه :

«نسیم سحر» له لومړۍ ګڼې نه تر وروستۍ چاپ د امان افغان په مطبعه کې خپور شوی او دو مخه یې د رلو دل خو تر ۱۳ ګڼې وروسته ځای پر ځای شوه. هر مخ یې په عمومي ډول که دو مخونه لري، د نسیم سحر ګڼه ۱۳ نیم ×۸ نیم انچه ده.

Property of ACKU

په متن کې بې معلومه ده چه له تورې کارول شوي چې يو يې دمتن توري دي او بل د سرليکونو توري. چې تل يو ډول دي او د ۲ بڼې ورو له ډوله څخه دي. د جريدې نوم د نامه په لوحه کې په او ږدو خطي ايکټ ډبلول شوي.

نو نامه لاندې د تاسيس سنه (۱۳۰۶) هم شته . د نامه ښۍ خوا ته د مسئول مدير نوم او داداري ځاى «د افغانستان كابل» راغلى او كيڼې خوا ته يې د اشتراک

بيه په دې ډول راغلې ده :

| | | |
|---|---|---|
| قيمت اشتراک سالانه | کابل | ... افغانی |
| | سایر ولایات | بعلاوه اجرت ارسال |
| | خارجه | «ده شلنگ» |

(*) د نسيم سحر بند يدل :

د نسيم سحر جريدې وازې پنځلس گڼې خپرې شوې ، بيا د پارونكو او توندو مضمونو نو خصوصي صاف «ازېكا س مدنيت اروپا» له امله بند او مدير يې تر پو بنتنې لاندې و نيول شو .

كله چې په ۱۳۰۷ كال كې جريده تر تحقيقاتو لاندې ونيول شوه ، د جريدې چاپونكي د خپلو مشتركينو د خبرتيا په غرض دا لاندې اعلان په امان افغان كې خپور كړ :

«اطلاعيه (بمشتركين محترم جريدهٔ نسيم سحر)

معلوم است كه جريدهٔ ما نسبت به بعضي موانعات از چندي تعطيل و با وزارت جليله [داخله گفتگو درجريان است، اينكه بمشتركين خويش اطلاع ميدهيم كه اميد است عنقريب موانع رفع شده و جريدهٔ ما دوباره نشر شود»(۳) .

(۳) امان افغان ، ۶۳ گڼه ، ولږه ۲۳۳ ، (۱۳۰۷) کال د غبرگولي ۲۰ .

Property of ACKU

خو تر څو چې په امان افغان کې دا اعلان د ۱۳۰۷ کال د غبرګولې په ۳۲ خپور شوی، زړ فکر کېږي چې نسیم سحر به هم په همدې میاشت کې له خپرېدو څخه پاتې شوی وي.

همدا راز دامان افغان د ۱۳۰۷ کال د تلې د ۱۲ په ګڼه کې د نسیم سحر د مدیر له خوا یو بل اعلان په دې ډول خپور شوی:

«یادداشت: پانزده شماره نسیم سحر را هر شخص مرتب داشته باشد و به آدرس ذیل بفرستد، آبونه یک ساله نسیم سحر برایش داده خواهد شد. باغ علیمردان، کابل، احمد راتب»(۳).

له دې اعلان څخه یو دا تر لاسه کېږي چې نسیم سحر یو ازې پنځلس ګڼې خپور شوی او بل دا مطلب ښکاروي چې د ۱۳۰۷ کال د غبرګولي له څلور و پښتنو ګڼو نه ډیر ... د تلې تر یو و پښتم پورې د نسیم سحر «په باب پر یکړه شوې او هغه یې په دې بوده کې په مصادره کېدو محکوم کړی دی او هم له دې اعلان څخه ښکاري چې له نسیم سحر سره خلکو ډوره علاقه درلوده چې په دفتر کې یې پیغې ګڼې نه وې پاتې او هم دا اعلان ښیي چې د نسیم سحر خپرېدو نړ... غو ښتل چې د مشتر ګینو احسان پرې پاتې شي او ورته وو ایې چې د پنځلسو ګڼو په بدل کې دې ز مونږ یو کلنی پیسې و ګرځولې! نو څکه که هر چا

---

(۳) امان افغان، ۶ یم کال، ۲۳ ګڼه، بر له پسې ګڼه ۳۵ (۱۳۰۷ کال د تلې ۱۲)

Property of ACKU

غو ښتنې وای چې خپلې یو کلنۍ پیسې و غواړي ده د خپلو پنځلسو کلنو په بدل کې داپیسې بېرته و رکولې او په دې سر بېره په اسان افغان کې د دې اعلان خپرول هم کندوی چې په هغه و خت کې د ملي او دولتي خپرو و نو تر منځ همکاری روحیه ډېره پیاو ړې وه.

Property of ACKU



مورخه ... جمعه ۱۵ ... ۱۳۰۷ هجری شمسی

مصادف ۲۲ ... الاول ۱۳۴۷ هجری قمری

## لویه جرگه

خویش سنجیده میتوانند ... ملت نجیبه خود را از کیف
درایت ... که خطه و ... از اوقات عزیز
خود را ... از بهبود ملت ... دارد ...
... از تشریف آوری ... قبل از ... کرده
مسافرت خواست همه افراد ملت خود را بامورات ...
وتصویبات آینده مطلع ... سازد و آن ...
فرموده ... ملت ... بود بناءً علیه ...
... حق از هر علاقه داری ... هم ...
... طلب فرموده ...
لویه جرگه ... انعقاد فرمودند .

Property of ACKU

دنوروز دیوی ګڼی لومړی مخ

# نو روز

نو روز پنځلس ورځنی جريده وه چې په ۱۳۰۷ هـ ش کال کې له سرېخل دافغانستان دژورنالیزم په هسکک کې په ورانګو خور ولو پیل وکړ (۱) ددې جريدې مسئوول مدير اروابناد محمد نور روزنۍ (۲) او دليکنې چارې يې اروابنادمير زامير غلام تر سره کولې .

---

(۱) ددې جريدې نه کنې (لەلو سرې تر نهمې) دښاغلی فدا محمد صابر په کتابتون کې خوندي دي. داچې نو موړي ښاغلی دا کنې داستفادې له پاره را کړې دزړه له کوسی مننه ترې کوم. ددې جريدې په باب زماد تحقيق يواز ينۍ مرجع همدا کلکسيون دی .

(۲) بيلابيلی دولتی دندې يې ترسره کړې چې وروستی وظيفه يې داولسی جرګې مشر توب ؤ.

Property of ACKU

دجریدې لومړنی گڼه د «باعث اسم نوروز» په سرلیک ارزونکی مضمون پیلیږي. په دې مضمون کې کښل شوی څرنگه چې دد ې اخبار د خپرېدو وخت یعنې د ۱۳۰۷ کال دژمری لومړی نیټه د اروپا له سفرنه دوخت د پاچا دبیرته راتللو له ورځې سره سمه وه نو ځکه یې نوم «نوروز» کېښودل شو. په دې مضمون کې ترډېره رواسته چې دا دې ورځې په نیکمرغۍ خبرې شوې. د جریدې هدفونه یې په څلورو لاندینیو سادو کې تاکلي چې د لته یې کټې مټ راخلو:

«۱ــ او هام پیمایان ناعاقبت اندیش را باصل مقصد دانا و نا یمین بلدای تبلی را بیدار کار آگاه گرداند شرع رابه عقل تطبیق وصنع و حرف را رفیق طریق نماید.

۲ــ از هار ادب را به آب و تاب تازه هنگام افروز عند لیب و هزار و نو باوه های سکاکی و سیبویه را از اعراب در کوهسار عجم شاداب و کبک دری را در گفتار بیاورد. اصول ادب را بی تعصب در لسان قدم سر آید.

۳ــ شمیم اخبار اخبار رابه مشام جان ارزانی و قانون اداری گلبن معاشرت و زندگانی را مهر بانی کند.

۴ــ از درچنان ترقی خواهی چمن اجتماعی قدم نهد که از دستبرد خزان مصئون و در پیش قدمی زهمکنان افزون باشد. ازین نوجهات دا یه کان جرایدطفلک نوروزی در بدو تلفظ تکلم بمدد ایح اعلیحضرت غیور غازی خود به چنان یک خطابه شیرین مینماید که از مطلع الی مقطع حتی تسمیه خاتمه و هر فقره منثور و هر مصرع منظوم آن به حساب جمل به تناسب یا تفاول روزافزونی تاریخ جلوس قمری آن استخراج گردیده عبارت آن سلیس و روان و مضامین آن نفس الامر و بری از افراط و زیان باشد.» رښتیا هم په دې ستاین لیکنه کې چې ۳۲ کرښې لري، هره فقره دابجدیا جمل دشمیر له

Property of ACKU

مخ ۱۳۳۷ د سیاستیز لیږ دی کال کېږي اویا، د نمونې په توګه عنوانونه یې داسې دي: «بسم الله البر الحمد الخبیر» (=۱۳۳۷)؛ «قارئین دیانت قربن» (=۱۳۳۷ هق) همدا راز هغه نظم چې په دې برخه کې دې تر دې عنوان لاندې دی: «نظم علیم زمان جلوس» (=۱۳۳۷، کال)، «خادم شرع و نایب احمد» (=۱۳۳۷)، «غالب بي علی بجب سند» (=۱۳۳۷). په زړه پورې دا ده چې د دې نظم ټول بیتونه پر ته له دې چې له وزن او قافیې څخه وو زي د جمل په حساب (۱۳۳۷) کېږي.

د لوړ سړي کې نې دریم مضمون د «تشریف شریف اعلیحضرت غازي» تر سر لیک لاندې دی. په دې مضمون کې تر دې وروسته چې د اعلیحضرت په تشریف راوړلو خبرې شوې، دده له واکمنۍ وروسته کارونو اجرآتو او کارونو یادونه یې هم کړې ده.

نور سر لیکونه یې یو هم «شرع و عقل» بل یې «ادب» او دریم یې د «صنعت او حرفت» په نامه وو. په راوروسته ګڼو کې یې د «تاریخ آزادی و حیات ملیه» «لویه جرګه» او «نامه نګاری» د یادولو وړ سرلیکونه دي.

د اخبار په وروستنۍ مخ کې یو دوه خبرونه هم خپاره شوي او هم د دې اخبار د خپرېدو او د لیکوالو د راجلبېدو په باب یو اعلان لري:

لکه چې د جریدې له نورو ګڼو څخه بریښي هغه مضمونونه او نشرې چې عموماً تعلیمي او تشویقي روحیه لري پکې خپرېدل، خو د خبرو د خپرېدو له پلوه کمزوري ښکاري او همدا راز اعلانونه هم کم پکې لیدل کېږي او که کوم اعلان خپور شوی هم دی په خپله د اخبار د چارو په باب دی.

د دین او فلسفې او د دینې چارو د واقعیتونو په باب زیات مطالب پکې راغلي او د دې مطالبو له منځه داسې ښکاري چې بانې د هغه وخت د نوي پېر و ګراو

Property of ACKU

او تجدد پسندی په ضد ناوړه تبلیغات کېدل نو ددې لپاره چې د دې ناوړه تبلیغ د له منځه وړلو له پاره یې گام اوچت کړی وی دینی مسایل یې دو اقعیت او د حقه د ثابتولو له مخې خپرول.

جریدې مطالب د لیکلو په برخه کې کتابی او زړه لاره نیولې وه خو له دې سره یې ادعا کړې چې داولس په ژبه خبری کوي چې له دې ادعا نه یې مطالب داؤ چې د خلکو له سویې سره سمې دی. خو په دې کې شک نشته چې زیات لوستونکی یې په لیکنو نه پوهېدل، زیات عبارتونه یې مغلق وو او تر ډېره حده له لفاظې څخه کار پکې اخیستل کېده.

ښکاري چې زیات مطالب یې د ناشر او مدیر په وسیله کښل کېدل ځکه چې د لیکوالو نوم معمولاً له مضمونو نو سره نه وینو. البته یو دوه نو مونه یې په ځینو گڼو کې و لیدل شول چې له سید زکریا او طاهر جلال آبادی څخه عبارت وو.

ددې جریدې کچه ۱۸×۱۲ انچه وه او دوه ستونه یې درلودل چې د هر ستون اوږدوالی ۹ نیم انچه او سور یې دری انچه و.

د جریدې داشتراک بیه په دې ډول وه:

| | |
|---|---|
| دار السلطنه کابل | ۹ افغانۍ |
| در اطراف داخله | ۸ افغانۍ |
| در خارج | ده شلنگه |

د جریدې لوړې گڼه اته مخه لری، خو لکه چې و لیدل شول د مخونو شمېر یې په ټولو گڼو کې ثابت نه دی ځکه ځینې گڼو یې لس مخه او بوې گڼې یې حتی یوولس مخه درلودل.

ددې جریدې داداری ځای په اوله کې د سردار جانخان کوڅه وه خو وروسته د کتابفروشی بازار ته ولېږدیده.

Property of ACKU

# حبیب الاسلام

داجریده په اوونیز ډول د ۱۳۴۸ کال د روژې په ۱۷ چې د ۱۳۰۷ کال د کابل له ښاره سره ؤ تأسیس شوه، لومړنی مدیر یې د «سر دبیر» په نامه «غلام محی الدین» ؤ. دا اخبار د نامه په لوحه کې په منځ کې د دستور یو په یوه ډېل جدول کې د «حبیب الاسلام» نوم په لویو تورو غالباً هم بنټ تورو راغلی، ښي خوا ته یې د اداري ځای، د سر دبیر نوم او داعبارات چې: «همه امور تحریریه و حسابیه بنام اداره فرستاده شود اداره در انتشار اصلاح مقالات و اراده مختار است، درهرهفته یکمرتبه صبح پنجشنبه نشر میشود» او «اوراقیکه درج نشود اعاده نمیشود» راغلي دي. کیڼې خوا ته یې د اشتراک بیه په دې ډول راغلې ده:

| | |
|---|---|
| «قیمت سالانه | قیمت شش ماهه |
| در داخل پنج افغانی | ۳ افغانی |
| در خارج ۱۵ شلنگ | ۸ شلنگ» |

تر لوحې پاسې خواته د صفحې نوم ره او کیڼې خواته د اخبار پر له پسې نومره راغلې، او په منځ کې یې د: «جریده هفتگی حبیب الاسلام» عبارت له کال او گڼې سره یې راغلی دی. او همدا راز د: «واعتصموا بحبل الله جمیعاً و لاتفرقوا» آیت داخبار تر لوحې لوړ لیدل کېږي او دا آیت یې په ټولو گڼو کې شته چې مایې ۳۱ گڼې لیدلې دي .

حبیب الاسلام په څلورو مخو کې خپرېده او هر مخ یې څلور ستونه درلودل داخبار اوږده ۱۸ انچه او سور یې ۱۲ نیم انچه دی، د ستو نو سور یې دری انچه او د هر ستون اوږده یې د منځ په مخو کې ۱۶ نیم انچه خو په لو مړی مخ کې ۱۳ نیم انچه دي .

په لیدل شو یو گڼو کې یې د ریو مدیر انو یاسو د بېرانو دا اخبار چلو لې : لکه چې ووېل شول لو مړنی مدیر یې غلام محی الدین ؤ، د شپږ مې گڼې له پېل نه سید محمد حسین او تر ۲۱ گڼې و روسته برهان الدین کشککی د دې اخبار د مدیر په نامه داخبار نشراتی چارې پر مخ بېولې . داخبار د نورو لیکوالو نومونه ډېر کم لېدل کېږي. دار و اښاد هاشم شایق او میر محمد شریف خان نومونه څو ځل ولیدل شول .

Property of ACKU

متن:

دحبیب الاسلام متن کوز لای شو، په دې لاندې برخو کې وځېږو: سرمقالې، خبرونه «کورنۍ او باندنۍ»، دمسایل دیني تر سرلیک لاندې ستون، حکومتي اعلامیې دا اعلانو سر کاري» تر عنوان لاندې، له بیلو-بیلو ولایاتو څخه اطاعت نامې.

سرمقالې: سرمقالو یې دیني او هیوادني موضوعات درلودل چې کله به لنډې وې خو زیات وخت به یو مخ کې او اوږدې تر دوه مخ نه زیاتو ستونو کې خپرېدلې، لومړنۍ سرمقاله یې د «انقلاب» تر سرلیک لاندې خپره شوې او د هغه وخت دارډو ړ په باب یې مخالفې او موافقې نظر یې او نصیحتونه خپاره کړي دي.

دوهمه سرمقاله د «از اهل غرض احتیاط باید کرد» تر عنوان لاندې ده په دې سرمقاله کې دحکومت ضد مشکوکو یادونه شوې، خلک یې والي او بو لاسوالي ته راغوښتل شوي دي. په همدې ترتیب نورې سرمقالې هم ددینی اجتماعي، سیاسي او دورځې دنورو مسایلو په باب دي.

خبرونه:

خبرونه یې معمولاً کورنۍ او دباندنۍ وو، دکورنیو خبرونو خبرخای ډېر لږ ښودل شوي چې دا په خپله ښیي یا په خپله داخبار په وسیله راغوښتل شوي او یا داچې دهیواد په بېلو بېلو برخو کې حکومتي ادرو راتولول. ځینې دولایاتو خبرونه دهغه و خت له ولایتي جریدو څخه اخیستل کېدل چې دجریدې نوم دسرچع په توګه ښودل کېده. خو دلومړی ګڼې په څلورم مخ کې یو اطلاع خپره شوې چې بکې شو ښتل شوي کله چې داخبار خبریال دولتي دایرو ته ورځې

هیله ده چې د سر بو طو خبر و په برخه کې په لازم تو ضیحات و رکړل شي څو اخبار کو ونکي پېښې ډېرې و لري.

دخارجي خبر و په باب بایدو وایو چې کله به لیکل کېدل« از اخبار خارجی » او کله به د جریدو نوم لیکل کېده لکه: «روزنامهٔ شفق سرخ»، «تایمز لندن» «اطلاعات ایران» او نور .

و اقعیت دادی چې تر لو مړی او دو همې ګڼې پر ته په پاتې ګڼو کې خارجي خبرو ته ډېر کم ځېر بدل او معمولاً داخبار زیاته برخه داخلي مسایلو نیوله .

دیو ه خارجي خبر یوه برخه چې په او له ګڼه کې خپو ر شوی دی :

«اختلاف بین حکومت عراق و نمایندهٔ انگلیس .

در بین حکومت عراق و حکمران انګلیس که به جهت اداره و مراقبت عراق موجو داست مخالفت واقع شده است، که اصل منشاء این خلاف راجع به بعضی معاهده تازه ایست که بین حکومت انگلیس و حکومت عراق عقدشدنی است که مواد مذکو ر باختیارات داخلی حکومت عراق علاقه داشته اسباب مختاریت و تقویت حکمران دولت انگلیس در عراق میگردد.»

د دیني مسایلو ستون:

د دې ستون په پیل کې و یل شوی څرنګه چې دا خبار خپر بدل د خپل ځای او وخت تابع دی نو ځکه د حبیب الاسلام جریده لکه لنامه ښخه بې چې ښکاریلو ټولو ني خدمت د دین په لاره کې خپلو لوستونکو ته ترسره کوي او په دې سربېره ځینې داخلي او خارجي پېښې او د خارجي هیوا دو سیاست هېوادوال و ته و رسوي. د دیني مسألې چې په دې جریده کې خپرېدل تولي د سراج الارکان اسلام له کتاب څخه چې دامیر حبیب الله خان په وخت کې تألیف شوی ؤ

رااخیستلې کیدې ، لومړنی موضوع چې ترې را خو ښه شوې او په لومړ گڼه کې خپره شوې درو ژې دسیاستې په باب ده. په همدې ډول په نورو او روسته گڼو کې يې د اسلام د پاتی ارکانو لکه لمونځ او نورو په باب مطالب ترې رااخیستل شوی او خپاره شوي دي. خو په وروسته گڼو کې د استون له منځه تللی و.

له دې سرمسره د مقالو ، سرمقالو او نورو ستونونو نه هم د اسلامی مسایلو او د اسلام په لاره کې د تبلیغ او تشویق درلودونکي وو. اديا د ولوو ړده کله چې دینی ستون خپرېده په هغه کې بیتونه هم وو چې د لغاتو او اصطلاحاتو شرح يې سر بوطو برخو په پای کې راتلله.

سرکاری اعلانونه:

---

سرکاری اعلانونه (حکومتی اعلامیې) کله په بسم الله الرحمن الرحیم پیل شوې دی، بیا به چې هرچا ته متوجه وو هغه به يې سرليک کاوه او اعلان به يې وړ ته اوراوه. د نمونې په توگه په دوهمه گڼه کې يې (۳ مخ) تر سرکاری اعلانا لاندې د اعنوان و لیدل شو : «بر ضمایر علماو سادات و مشایخ و خوانین و سایر رعایای قطغن و بدخشان مخفی نماند.»

د شپږمې گڼې په دریم مخ کې بیا هم سرکاری اعلانونه لیدل کیږي چې په هغو کې تولو موټر لرونکو موټر سیکل لرونکو او گاډي لرونکو ته خبر ورکړل شوي چې د خپلو عرادو محصول ورکړي او هم په یوه بل اعلان کې د کابل له خلکو نه هیله شوې چې د «صفایې» محصول ورکړی او په دې ترڅ کې يې د خلورو تیرو کلو محصول وربښلی دی . د ۱۳ گڼې په ۳ مخ کې د نوټ (کاغذی پیسو) د چلند تصویب خلکو ته رسوای او ... او

Property of ACKU

دود به لو یې خلک خبر کړي دي، په دې ترتیب هر هغه څه چې نوی سنځ ته راتلل او باید لیدل خلک له دې لارې پرې خبر و ل کېدل .

دحبیب الاسلام مخ تړ نه:

لکه چې و ویل شول داجریده له پیله بیاتر پایه پو رې په څلورو مخو نو کې خپر بده چې هر مخ یې څلو ر ستو نه درلودل (یو ازې دجشن گڼه یې اته مخه و ه) .

داخبار ستو نونه په عمو مي ډول د پیر ړ و جدو لو په و سیله سر ه بېلېدل او مطا لب له لو مړ نی نهی ستو ن څخه پیلېدل په تر تیب سر ه دو هم او در یم ستو ن ته (دمضمو ن داو ږ د تا به له مخې) غز و ل کېدل، داخبار سر لیکو نه تل یو ستو نیو و خو کله دو ه ستو نه عنو انو نه هم لیدل کېږي.

حبیب الاسلام څکه چې زیات و خت د اسې مطالبو ته و قف کېده چې او ږ ده به و و نو عناو ین لې پکې ر اتلل او له همدې کبله کله یو نیم مخ تر یو ه یادو و عنوا نو ز یات نه لري خو دعنو ان د تر تیب او لیکنې له مخې دااخبار و ړ اندې ښکاري. یو ډېر په زړه پو رې عنو ان د جر یدې په ۲۸ گڼه کې په دې ډول لیدل شو :

»۱ـــ مارا از ین معاصر ماابن گمان نبو د

تنفر از افکار غر ض آلو دجر یدۀ حبل المتین کلکته

۲ـــ باصاف دل مجادله باخو یش دشمنی است.

هر کس کشد بر آینه خنجر بخو د کشد.

۳ـــ هر ات جز لا یتجز ای افغانستان است .«

داعنو ان له لا ندې نه مخ پو ر ته د یو ه خطی ، ز ینه یی ا و مستقیم ډو ل په تو گه و یشل کېږي . او هر یو یې له خپله ځانه بشپړ عنو ان دی، حر کت او فعل لري او هم یو مطلب افا ده کوي .

داچه ولسر لیکو نه کله کله په دې جریده کې لیدل کیږي خو په عمومي توګه دې دسر لیکو نو بڼه په هماغه زاړه تر تیب بې له فعله څخه د یوی فقرې په دول لیدل کیږي. لکه: «نماینده ابن السعود در لندن»، «سا نو رهای انګلیس»، «بر تانیه و چین»، «سامیین سر کت سازی» چې د ۲۷ کڼې په سخ کې و لیدل شو ل او یا په ۱۵ ګڼه کې د «صحر ات» «خبراو نو رسر لیکو نه له ۲، ۸ ، ۱۳ ، او ۱۲ بڼې تو رو څخه تر تیبیدل.

ددې اخبار دخبر و نو او مطالبو په لیکنو کې له خاصوقاعد و او سبک څخه کار اخیستل شوی په دې تر تیب چې د جریدې له عمومي هدف او غایې سره سم چې تو ل اهداف یې اسلامي و و او په دې برخه کې تبلیغ تر هر څه و ړا ندې ؤ نو ځکه یې اکثره مطالب په بسم الله، کوم قرآني آیت، یا نبوي حدیث او لږ تر لږه په عربي عبارت سر و کېدل او له دې تلقین نه استفاده کېدله .

په عمومي توګه باید و وایو چې د ننني خبر لیکنې لاسخې او د اطلاعاتو د وسا یلو د عمومي او اساسي غا یو په رڼا کې حبیب الاسلام دوې سهمي او اساسي برخې در لودې چې داله سفکو رېدې (لکه سرمقالې او تبصرې) او تشو آقې او هڅو و نکو مطالبو څخه عبارت دي ،یوه دو همه درجه کمه ګو ری (چې نن لو مړی درجه ده) یې هم خبرو نه دي ،و اقعي اعلان لکه څنګه چې لازم دی او د بو ختو و نکو مطالبو هیڅ نښه هم پکې نشته .

همدار از په دې اخبار کې عکسو نه نه و وخو له دې سو ضوع سره دار تباط له مخې باید و وایو چې په اخبار کې یو معذرت خپو ر شوی او په هغه کې د ژ نکو ګرافي د وسا یلو د نیمګړ تیا له امله دعکس نه چاپیدل یا د شوي .

Property of ACKU

د دې دورې نورې خپرونې او جریدې :

سره له دې چې د اجتماعي وضعې او موجودو شرایطو له مخې دا دوره د یوه بحران، تشتت او تشنج دوره بللای شو خو بیا هم د مطبوعاتو د پوهنې او غلي شوي او د هېواد په څنډو خو رګو کې جریدې په دوه ډوله خپرېدې. یا هغه جریدې وې چې د مرکز د زورګیر حکومت په پلوۍ یې خپل نشرات کول او یا هغه خپرونې وې چې د سقاوي ړلي په ضد او د هېواد د «نجات» له پاره خپرېدلې.

په عمومي توګه باید ووایو چې هغه جریدې چې په اماني دوره کې په ولایاتو کې خپرېدې لکه: اتفاق اسلام، طلوع افغان (دا دوره په وخت کې مؤید الاسلام). بیدار (رهبر اسلام) او نورې د مرکزي زورګیر حکومت په ګټه خپرېدل او له دې حکومت سره سم یې مطالب خپرول. خو ځینې نورې جریدې لکه: «اتحاد افغان»، «د کورغم»، «غیرت اسلام» او نورې د خلکو د تنویر او د هېواد د نجات له پاره خپرېدې او ویشلې کېدلې.

۱ — یوه جریده د رهبر اسلام په نامه . (په حقیقت کې د بیدار په ځای) په مزار شریف کې خپرېدله او د نورو نورو جریدو موجودیت د حبیب الاسلام د ۸ ګڼې ۲ مخ موږ ته راښيي چې په دې ګڼه کې یو مضمون هم ترې را اخیستل شوی او خپور شوی دی. مضمون د هغه وخت د اجتماعي او سیاسي اقداماتو او دیني مسایلو په باب خپور شوی دی. همدا راز مرحوم جویاد دې جریدې یادونه کوي.

۲ — دوهمه جریده چې موجودیت یې موږ ته د حبیب الاسلام د ۱۳ ګڼې دوهم مخ راښيي د «الایمان» جریده ده.

دا جریده د ننګرهار د سره رود د بابړ یوه کلي کې د مولوي محمد ابراهیم خان کاموي په لیکنه خپرېده لکه چې د دې جریدې په هدف کې څرګنده شوې عمومي

Property of ACKU

پنځم څپرکی



# ژورنالیزم رکود

Property of ACKU

هدف یې ښلو ربرخې درلودې یعنې دایمان اصول ، دایمان فروع ، کورنی پېښې او باندنی پېښې او هم څرګنده شوې چې په دې سر بېره دا تحاد په باب هم مقالې یکې خپرېدې چې دا کته نوری یې ښایې د دې اخبار مفکورې وې کته کوری وبولو (۱) . لوسری ګڼه یې د ۱۳۴۷ کال دمیانې په میاشت کې خپره شوې ، دا ټو ګڼو پر خپرېدو وروسته له منشر څخه پاتې شوه .

۳—د هېواد دشمالي سیمو کې په خان آباد کې هم یوه جریده د «نهضت — الحبیب» په نامه خپرېدله .

دا اوونی جریده د مولوی محمد بشیر خان په مدیریت په ښلو روسخو کې خپرېدله دجریدې په متن کې داخلي او د باندنیو پېښو او دیني مسایلو خپرېدل . دجریدې اشتراک په دې ډول ؤ :

| | سالانه | ششماهه |
|---|---|---|
| وزراء | ۱۵ روپیهٔ کابلی | ۱۰ روپیهٔ کابلی |
| رؤساو اعیان و حکام | | |
| نادرجه ۳ | ۱۰ روپیهٔ کابلی | ۷ روپیهٔ کابلی |
| درخان آباد | ۶ روپیهٔ کابلی | ۳ روپیهٔ کابلی |
| درخارج | نیم پوند | ۵ کلدار |

۴—اتفاق اسلام : یوه جریده وه چې د پخوا په شان په هرات کې خپرېده مدیر یې غلام سرور جویا او دجریدې کچه د حبیب الاسلام په اندازه وه . د دې جریدې د خپرېدو وخت په هفته کې یو ځل د چارشنبې په ورځ ؤ او داشتراک بیې په لاندې ډول وه .

(۱) د دې او را تللونکو جریدو په باب د حبیب الاسلام د ۲۲ ګڼې له دوهم او دریم مخ څخه معلومات تر لاسه شول .

Property of ACKU

سالانه

| | |
|---|---|
| هرات | شش روپیه |
| ولایات و خارج | ۱۵ قران |
| افراد عسکری | ۱۱ قران |
| طلاب معارف | نصف قیمت |

۵— دا جریده په کندهار کې خپریده چې په حقیقت کې د طلوع افغان په ځای خپریده او نوم یې «د جریدالاسلام» ؤ.

۶— اتحاد افغان: دا یو مهمه جریده ده چې داغتشاش په وخت کې په ځانګیو کې د شاه محمود خان تر نظر لاندې خپریده ددې اخبار چلونه د ښاغلي یعقوب حسن په غاړه وه.

۷— دوې نورې جریدې «د کورغم» او «د غیرت اسلام» په نامه په ننګرهار کې خپرېدې. «د کورغم» چلولو چارې سید حسن خان او د «غیرت اسلام» داداري کار ښاغلي عبدالحکیم خان کاوه.

Property of ACKU

PROPERTY OF ACKU 32299

Property of ACKU

د تاریخ ټولنې له خوا

۱۳۵۶ کال د زمري د میاشتې ۱۵

مهتمم: حبیب الله رفیع

دولتي مطبعه

پەدوو وروستیو پیړیو کی دپښتودچاپ شوو
آثارو دسیمینار پە ویاړ خپارەشوی کتابونـــە

- دافغانستان لنډ تاریخ
- گلشن روه
- کلید افغانی
- کریستو ماتی
- درحمن بابا دیوان
- دپښتونخوا دشعر هار اوبهار
- دستیج څخه ترتلویزیون پوری
- پەافغانستان کی دژورنالیزم تاریخچه
- داحمدشاه بابادا شعارو پښتوشرحه
- فرهنگ زبان وادبیات پښتو
- دزیری فوق العاده گڼه ۶۰مخه
- دقلندر اپریدی دیوان
- سەختەن رەرف پښتو .
- دپښتنو تاریخ
- گلدن شتیت
- دطالب داشعارو مجموعه
- دافغانستان نومیالی
- پښتو کتاب ښود
- پښتو څیړنی
- پښتو پانگه
- پښتو خپرونی
- اولسی پوهه
- معرفة الافغانی
- سپوږمی
- نوی اندیښنی
- دنغمو کاروان

Property of ACKU